# وزیرستان: وروستی تمځای

لیکوال: نذیراحمد سهار

(دویم چاپ)

بسم الله الرحمن الرحیم

## وزیرستان: وروستی تمځای


لیکوال: نذیراحمد سهار

خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی

چاپگنه:۲۴

د پښتی طراح: عصمت الله احراري

لومړی چاپ: ۱۳۹۳ل

دویم چاپ:۱۳۹۴ل کال، وری

بیه: ۲۰۰ افغانۍ

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی



**لومړۍ څانگه: کابل پوهنتون لویدیځ سرک**

**دویمه څانگه: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ**

**ټیلیفون شمیرې:**

**+۹۳(۰)۷۹۸۹۸۹٦۹٦\+۹۳۲۰۲۵۰۴٦۵۲**

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

F\aksos books store

## نوملړ

**لومړی څپرکی**
یاغي طبیعت/ ۲۴مخ
**دویم څپرکی**
تاریخي مزل/ ۳۲ مخ
اسلامي پیر/ ۳۴ مخ
مغولي چپاو/ ۳۷ مخ
د وینبتابه مبارزې/ ۴۱ مخ
ابدالیان او وزیرستان/ ۴۴ مخ
پر بنو او داوړو د سیکانو یرغل/ ۴۵ مخ
د انګریزانو لښکرکشۍ/ ۴۷ مخ
د وزیرستان پر لور د انګریز واکمنۍ غځېدل/ ۴۹ مخ
**دریم څپرکی**
د مشرۍ او مبارزو محور/ ۵۷ مخ
«امارت» او «مَلَکِي»/ ۵۸ مخ
طالبان او پښتون نشنلیزم/ ٦۲ مخ
مسید محوره مبارزې/ ٦٦ مخ
«د طالبانو بادشاه»/ ۹۰ مخ
د وزیرستان د تصفیې هڅې/ ۹۹ مخ
وزیر محوره مبارزې/ ۱۱۵ مخ
د افغان حکومت د منځګړتوب هڅې/ ۱۳۰ مخ
**څلورم څپرکی**
د استخباراتي جګړې منځی/ ۱۴۰ مخ
انګریزي ځارګري/ ۱۴۰ مخ
په قبایلو کې د روسي ځارګرو نفوذ/ ۱۴۵ مخ
جرمنی ځارګر « شامي پیر»/ ۱۴۸ مخ

## ډالۍ:

د وزیرستان
مظلوم، خو په دین
او خپلواکۍ مین ولس ته!

# د خپرندوی یادښت

وزیرستان؛ هغه سیمه، چې ډېرې د وحشت، ترور او جګړې د مرکز په توګه را پېژندل کیږي. هغه خلک، چې ډېر ځله ورته په شعوري یا غیر شعوري ډول د «وحشي وزیرستانیان»!! اصطلاح کاریږي.

خو ایا ددې سیمې خلک رښتیا هم وحشتپالي دي؟! ایا دلته د جګړې اوسنی تولیدي ماشین پخپله د سیمې خلک پرمخ وړي ؟ جګړه دوی صادروي او که حاکم سیاستونه او سترې لوبې ددې لامل ګرځېدلي؟!

دغو او دې ته ورته په لسګونو نورو پوښتنو ته ښاغلی نذیر احمد سهار په «وزیرستان: وروستی تمځای» کتاب کې ځوابونه لټوي. په دغه کتاب کې د وزیرستان تاریخ، جغرافیه، د نن او پرون پرتلنې، پر دې سیمه پرونی او اوسنی حاکم سیاست، د ټولنې قبیلوي جوړښتونه، د تشدد او سخت دریځۍ عوامل، محرومیت او ګڼ نور مسایل په خورا خوږه ژبه تحلیل شوي دي. ددغه کتاب یوه غوره ځانګړنه داده، چې لیکوال یې پخپله مسید دی، ددې سیمې اوسېدونکی پاتې شوی او په تاریخ لیکلو کې یې د تحقیق او تحلیل له ترکیبه کار اخستی دی.

اکسوس کتابپلورنځی وياړي، چې «وزیرستان وروستی تمځای» کتاب د دویم ځل لپاره چاپ کوي. د کتاب لیکوال ته د لا ډېرو بریالیتوبونو غوښتنه کوي او لوستونکو ته ددغه کتاب د لوستلو سپارښتنه کوي.

درناوی

اکسوس کتابپلورنځی


ایپي فقیر او جرمني- ایټالیایي څارګري/ ۱۵۱ مخ

**پنځم څپرکی**

انګلیسي مرمۍ او روپۍ/ ۱۶۱ مخ

«سنډیمن» او «د روپۍ سیاست»/ ۱۶۵ مخ

**شپږم څپرکی**

د سیاسي قبلې بدلون/ ۱۷۷ مخ

**اووم څپرکی**

د تخت ګټنې جګړې/ ۱۸۲ مخ

سقاو ضد پاڅون/ ۱۸۹ مخ

په وزیرو کې د افغان حکومت مخالفان/ ۱۹۸ مخ

**اتم څپرکی**

د «خولې» او «وسلې» ستراتیژي/ ۲۰۰ مخ

باچاخان او ایپي فقیر/ ۲۰۱ مخ

**نهم څپرکی**

ډیورنډ د غومبسو په ځاله کې/ ۲۱۱ مخ

د افغانستان ښی مټ غوځیږي/۲۱۵ مخ

**لسم څپرکی**

د مقاومت وروستی تمځای/ ۲۱۸ مخ

**یوولسم څپرکی**

د امارت راستنېدل/ ۲۲۷ مخ

سخت دریځي او طالبان/ ۲۳۲ مخ

**دوولسم څپرکی**

تحمیلي ځنګلي ژوند/ ۲۴۰ مخ

د قبایلي سیمو حقوقي حیثیت/ ۲۴۷ مخ

ایا د قبایلو مډرنایز کول شوني دي ؟/ ۲۵۱ مخ

**دیارلسم څپرکی**

روزي په ټوپک کې/ ۲۵۸ مخ

د وسلو د صنعت او قاچاق عوامل/ ۲۶۵ مخ

ضمیمې/۲۶۸-۳۰۰مخ

چې وزیرستان د اور او وینو پر تبۍ اوښتی دی، یو چا ته په تمه وو، چې دغه سیمه راوپېژني او هغسې یې راوپېژني چې وه به، وه او ده. دادی ځوان ژورنالیست او لیکوال گران نذیر احمد سهار راپاڅېد او ددغې اسطوره یي زمکې د راپېژندلو یوه بریالۍ هڅه یې وکړه.

د گران سهار ددې کتاب لاندینۍ ځانگړنې دیادونې وړ دي:

کتاب دیوې ټاکلې بشري جغرافیې تاریخي حدود او صغور، بشري جوړښت، تاریخي- سیاسي پېښې او لاملونه یې، مشاهیر، ننی وضعیت او قبیلوي ترکیب راپېژني. په دې څېړنه کې دلیکوال حب یا بغض ډېر نه دی خرگند او هڅه یې کړې ده موضوع د یوه څېړونکي له لیدلوري راوپېژني. تر ممکنه بریده یې له دقیقو سرچینو څخه کار اخیستی او د سیمه ییزو مفاهیمو، اصطلاحاتو او نوموونو د راپېژندنې هڅه یې کړې ده. زموږ ځوان څېړونکي هڅه کړې ده، چې د بشرپېژندنې، تاریخ، فرهنگپوهنې او اتنوگرافیکي پوهنو له مبادیو څخه گټه پورته کړي او خپله څېړنه بشپړه کړي. د ځایونو، ټبرونو او خاصو نومونو پېژندنه یې کړې ده او د تاریخي پېښو، راویانو او یاهم انگېرنو په اړه یې ځان له وروستۍ پرېکړې ساتلی دی، مانا د قضاوت پر گډۍ نه دی ناست او دا کار یې لوستونکي ته پرېښی دی. په ځینو برخو کې یې د څېړنې له پرتلیز میتود څخه کار اخیستی او په دې توگه یې د لانورو پلټنو لاره پرانیستې پرېښې ده. ژبه یې روانه، خوږه او روښانه ده. د څېړنې بیان یې وچ او ستومانوونکی نه دی. دا کتاب په تېره بیا هغه مهال خپل نومهالی ارزښت لا پسې ډېروي، چې د وزیرستان ننۍ پېښې هم په کې څېړل شوې دي، ددې پېښو تاریخي ریښې هم ښوول شوې دي او لوستونکي ته دا هم ښیي، چې اوسمهالې بدمرغۍ ټولې پر دغې ښکلې سیمې او د هغوی پر ښکلیو خلکو ورتپل شوې دي، بلکې ددې جنتي زمکې بېوزله اوسېدونکي د نړیوالو سیاستلوبو لومړني قربانیان دي.

زه باور لرم ، چې که څوک وغواړي د وزیرستان د ژغورلو هڅه پیل کړي، چې نور نو دغه ښکلې سیمه د بنسټپالنې، وروسته ساتنې، بېوزلۍ، نالوستۍ او د نورو د گټو

## سوزېدلې زمکه

زیږه جغرافیه، ښکلي مناظر، هسک غرونه، ساده خو پیاوړي خلک؛ هوډمن، دنگ او بې پروا نارینه، ښکلې او شرمناکې ښځې....

څه کم یوه نیمه پېړۍ وړاندې یوه انگریزي سیلاني د وزیرستان ستاینه داسې کړې وه. (وزیرستان) له اوږده تاریخه ترننه پورې د اسیا پر ملاوستني پروت هغه ستراتیژیک نوم دی، چې هم دانگریزي ښکېلاک پرمهال دلندن سرخوږی و او هم نن د(ترهگرۍ !) په وړاندې جگړه کې د نړیوالو د بدلې سر دی.

وزیرستان د تاریخي افغانستان هغه غړی دی، چې دډېورند په خونړۍ چاړه ورڅخه پرې کړای شو، خو دې زخم هېڅکله خوله ونه گنډله، همداسې خونړی پاتې شو، چې دادی څړیکې یې نن هم د ټولې سیمې بلکې نړۍ په زړه - زړه کې احساسیږي.

ډېر ځله اورو، چې د نړۍ گڼ شرخوښوونکي همدلته راټول شوي دي، دقفقاز او سایبیریا له څنډو له چیچین او داغستاني یاغیانو یې راونیسه د سنکیانگ ترچینایي تورکانو بیا له تاجیک و اوزبیک جگړه مارو نیولې تر عرب و افریقایي ډلو پورې ټولې همدلته راغونډې ښکاري. د نړۍ د ډېرو خونړیو پېښو پل، چې پسې واخلې نو یوه کربڼه یې خامخا تر همدې زیږې جغرافیې پورې رارسول کیږي. ولې ؟ دلته څه پېښ دي او دا سیمه چا دومره توره او تیاره کړې ده ؟ تاریخي لاملونه یې څه دي ؟ اوس هلته څه تېرېږي؟ ایا د سیمې خلک یې همدا غواړي ؟ ایا دا هرڅه پرې تپل شوي ؟.... د وزیرستان په اړه گڼې داسې پوښتنې په ذهنونو کې شته او لاراشنې کیږي. دا ځو کلونه

لپاره له ترېښو لاندې کېدلو نه خلاصه شي، د سهار صاحب کتاب به يې د لارې مشال وي. تاسو به ددې کتاب په لوستلو وپوهيږئ، چې د سيمې او نړۍ د ثبات لپاره دا په کار ده چې د تاريخي افغانستان له وجوده پرې کړای شوي غړي بايد بېرته له خپل اصل سره وصل شي او که نه دا زخم به همداسې تازه وي او نړۍ به يې د څرېکو له لاسه په ارامه خوب ونه کړي.

د دې سوزول شوې زمکې اوسيدونکي که انسانان ګڼل کيږي، خو بايد ورته د انساني ژوند کولو حق ورکړای شي، د دوی هويت، د دوی تاريخي هېواد، د دوی اقتصادي سرچينې، د دوی پوهنه، ددوی فرهنګ، ددوی ژبه او بالاخره د دوی افغاني پېژاند بايد بېرته ورکړل شي، ايله به نړۍ د ارامۍ ساه بيا راکاږي.

زه د افغانستان د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز د مسئول په توګه ددغې څېړنې ارتيا پېژندلای شم، موږ ته ښه څرګنده ده، چې د اوسمهالي بحران په بهير کې زموږ د چم ګاونډ تر ټولو مهمه ستراتيژيکه برخه لاهم نه ده راپېژندل شوې. دافغانستان په ډيپلوماسۍ پوهنځي- امنيتي ستراتيژي جوړونه، قومي او ولسي پريکړو او اړيکو کې دسيمو او ولسونو په اړه بشپړ معلومات لومړني ضرورتونه دي. د همدې لپاره د ښاغلي ليکوال دا هڅه خورا پرځای او ګټوره بولم او خپرېدل يې ده او افغان ولس ته ښه زيری ګڼم .

له اور څخه د وزيرستان د ژغور او د قدرمن ليکوال د لانورو برياليو هڅو په هيله

څېړندوی عبدالغفور لېوال

د افغانستان د علومو اکاډمۍ

د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز رئيس

۱۳۹۲ - سلواغه ، کابل

سريزه:

# وزيرستان، د تاريخ تکرار

پښتانه قبايل د خپلې سياسي او ستراتيژيکي جغرافيا له امله په ټول تاريخ کې د هند پر لور د لښکرکشيو قربانيان پاتې شوي دي. برېټانيا دغه سيمې د افغانستان او هند پر لور د روسيې، جرمني او ايټاليا د پرمختګ د مخنيوي په موخه کارولې، روسيې مرکزي اسيا ته پرې د برېټانيا د نفوذ د ډب کولو او د هند پر لور د پرمختګ په برخه کې کار اخست ، پاکستان او امريکا د شوروي اتحاد پر وړاندې د ډال په توګه وکارولې او امريکا ترې اوس په ټوله سيمه، په ځانګړې توګه د روسيې، چين او ايران د نفوذ د مخنيوي او د منځنۍ اسيا پر لور د ټوپ اچونې د تختې په توګه کار اخلي .

له ۱۹مې پيړۍ راهيسې، چې وزيرستان د استخباراتي جګړو مرکز پاتې شوی، ترننه پورې دغه لړۍ روانه ده. د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې برېټانيا، روسيې، جرمني او ايټاليا ټولو وزيرستان، يو بل ته د ضربې رسونې په موخه د خپلو استخباراتي هڅو ډګر ګرځولی و. وزيرستان هغه وخت د برېټانيا د خوږ ګوټې حيثيت درلود، چې نه يې غوځولای شوای او نه يې د رغېدن هيله درلوده. د بلشويکي روسيې او وروسته د جرمنيانو د پرمختګ د مخنيوي لپاره برېټانيا ته افغانستان له ستراتيژيک لحاظه مهم و. له افغانستان سره لومړۍ او دويمه جګړه په واقعيت کې له سند نه د افغانستان پر لور د پولې رانږدې کول و. په دې جګړو کې افغانانو په ښکاره بری ترلاسه کړی، خو له بده مرغه تريخ واقعيت دادی، چې افغانستان په هره جګړه کې د خپلې خاورې يوه ستره برخه له لاسه ورکړې ده. د پرون او نن پرتلنې ښيي، چې د پښتنو، په ځانګړې توګه قبايلي سيمو په تړاو د برېټانيې او پاکستان پاليسۍ د ځنځيز په شکل پرمخ ځي. قبايلي سيمې لا هم له مرکزه د والي او اجنټانو له لارې اداره کيږي او ملتپالو ګوندونو ته لا هم په قبايلي سيمو کې د فعاليت اجازه نه ور کول کيږي.

پاکستان په تېرو څو لسیزو کې له دې سیمې نه په افغانستان کې د خپل نفوذ لپاره کار اخستی او افغانستان هم دا سیمې په تېر کې د برېټانیایي ځواکونو او په وروستیو کې وخت ناوخت د پاکستان پر وړاندې د فشار د یوې وسیلې په توګه کارولې دي. لکه څنګه، چې په شلمه پېړۍ کې وزیرستان او قبایلي سیمې د ستراتیژیکو او جغرافیایي سیاستونو قرباني وې، نن هم د سیاسي او ستراتیژیکو ګټو لپاره د یوې متشنجې او بې برخلیکه جغرافیا په توګه کارېږي او ساتل کیږي .

تاریخي بهیر ښیي، چې د وزیرستان د هرې مبارزې او جګړې بیز خوځښت عامل د ډیورنډ کرښې په دوو اړخونو کې د دوو قوتونو له سیاستونو او دریځونو سره تړلی پاتې دی. په بله وینا، د ډیورنډ کرښې پر دوو غاړو د «سیاست» او «جغرافیا» د تعریف قرباني دی. د نولسمې پېړۍ له نیمایي نه د یوویشتمې پېړۍ تر دویمې لسیزې پورې «اسلام» او « خپلواکي» لا هم په دې سیمه کې د تحرک او انقلاب زېږونې اصلي عوامل دي. وزیرستان د یوې داسې سیمې په توګه، چې برخلیک یې د کابل او اسلام اباد ترمنځ په یوه ځوړند حالت کې واقع دی، د دغو دوو عواملو په پام کې نیولو سره لا هم د کابل او اسلام اباد دواړو د «اسلامي تخت ګټې» او «پاچاګردی» پیاوړې جبهه ده .

په نولسمه پېړۍ کې، چې پاکستان نه و او په سیمه کې انګرېزان واکمن وو، د وزیرستان د اسلامي وررولۍ اړیکي له کابل سره ټینګ وو، څکه هلته حاکم د اسلام بادشاه ګڼل کېده او د انګریز پر وړاندې ددوی د مبارزې ملاتړ هم د کابل پر ملاتړي محور ولاړ و. برېټانیایي هند پر قبایلي سیمو او وزیرستان د خپلې واکمنۍ تر پایه له افغان امیرانو څخه له دې امله سترګه کوله، چې د وزیرستان جبهه یې په لاس کې وه او دوی، چې نامسلمان وو، له دې جبهې یې د کابل پر وړاندې ګټه نه شوای پورته کولای. سیاسي حالاتو دغه معادله هغه وخت بدله کړه، چې په کابل کې د امان اللّٰه خان پر وړاندې په اصطلاح د هغه د « غیر اسلامي» اصلاحاتو پر خلاف یولړ پاڅونونه وشول. وزیرستان که څه هم ددغو پاڅونونو په مخالف اړخ کې و، خو پاڅون انګرېزانو ته دا واک



ورکړ، چې د کابل د اصلاح غوښتونکي پاچا پر وړاندې د جنوبي ولایتونو د پښتنو اسلامي ګروهه وکاروي. له سیمې نه د انګریزانو تر وتلو وروسته، چې د اسلام په نامه پاکستان منځ ته راغی، د «سیاست» او «جغرافیا» پر بنسټ حاکم تعریفونه وپایېدل، خو په دومره توپیر، چې د کابل اسلامي شعار ځای «پښتون ملتپالنې» ته پرېښود. د کابل تېرو سیاستونو ته په پام سره، چې نادري کورنۍ د قبایلو احساساتو ته پکې پام نه و کړی، د کابل د ملتپالنې شعار هغه ځای ونه موند، کوم، چې «دین پالنې» نیولی و. نور له همدې ځایه تاریخ معکوس پرمخ لاړ. نن اسلام اباد د انګریز پر وړاندې د کابل د «دین پالنې» پرونی سیاست د کابل پر ضد کاروي، څکه په کابل کې د څو لسیزو لپاره داسې حکومتونه رامنځته شوي، چې د بهرنیو تر ملاتړ لاندې انګیرل کیږي. پاکستان شاوخوا څلور لسیزې کیږي، چې د پښتنو پر اصلي نبض لاس ایښی. افغانستان او په پښتونخوا کې ملتپاله ګوندونه له هغو وسله والو ډلو سره مخامخ دي، چې پاکستان یې د اسلام تر چتر لاندې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د خوندیتوب لپاره کاروي.

په ۲۰۰۹ کال کې، چې له پاکستان سره د افغان حکومت د سولې او جوړجاړې هیلې وشلیدې، کابل، په ځانګړې توګه حامد کرزي او د هغه د ملي امنیت ادارې یوځل بیا هغه سیاست ته مخه کړه، چې په دې وروستیو کې افغانستان لرې او ډېر هېر کړی و. دغه سیاست د پاکستان پر ضد د وزیرستان د جبهې احیاء کول و. حکیم اللّٰه مسید په پاکستاني طالبانو کې د پښتون ملتپالنې او اسلامپالنې ترکیب رامنځته کړی و. دغه ترکیب د افغانستان خواخوږو ته دا توان ورکړی و، چې په وزیرستان او قبایلي سیمو کې نفوذ وکړي او د اسلام اباد په لاس بل شوی اور، تر لاهور او کراچۍ و رسوي. دغه سیاست پاکستان د ګړنګ پر غاړه ودراوه او داسې اټکل کېده، چې که دغه ستراتیژي دوامداره پاتې شي، پاکستان به له منځه وچوي، خو دې ستراتیژۍ څکه ریښې ونه کړې، چې د لوبې اصلي لوبغاړي (سي آی اې) پکې ځان ګټندوی نه باله. پاکستان د خپل زېږون له ورځې تر ننه په سیمه کې د امریکا ستراتیژیک ملګری پاتې شوی او تر افغانستان زیات د معاملې او راکړې ورکړې د سیاست ظرفیت لري. برعکس افغان

حکومت تراوسه په دې نه دی بریالی شوی، چې ځان د پاکستان د متبادل په توګه ثابت کړي، یا لږ ترلږه په سیمه کې د روانو سیاسي لوبو د سهمدار په توګه ومنل شي. بده لادا، چې د حامد کرزي د حکومت په اوږدو کې له کندهاره تر کونړه غځېدلې هغه شبکه هم وشړېده، چې پاکستان ته یې د سر په کاسه کې اوبه ور کړې وې. دا لکه د ۱۹۴۲ کال پېښو تکرار. د ۱۹۴۲ز کال د مې پر ۲۵مه افغان حکومت د برېټانیا په غوښتنه په کابل کې د جرمني او ایټالیا شاوخوا سل جاسوسان ونیول. په دې کې هغه پنځوس زره افغانۍ هم ضبط شوې، چې یوه ایټالیایي ځارګر (غلام عمرخان پیلوټ) باید ایپي فقیر ته رسولې وای. دې نیونو له ایپي فقیر سره د جرمني او ایټالیا اړیکي تر جولای میاشتې وځنډول. جرمني ددې چارې په غبرګون کې د افغان اردو د زړو وسلو د پېرنې پر سر له کابل سره پیل کړې خبرې بندې کړې. افغان حکومت په دې سر نه خلاصاوه، چې څنګه د انګریزانو پر وړاندې د هغوی ددښمنانو له امکاناتو ګټه واخلي او څنګه انګریزان ددغه فشار له لارې د کابل د عملي کېدا وړ غوښتنو منلو ته وهڅوي.

د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر پر پنځمه په لوګر ولایت کې عبداللطیف مسید او د هغه ملګرو ته هغه څه ور پېښ شول، چې په ۱۹۴۱ کال کې دوو جرمنیانو ته ورپېښ شول.پر شوروي د جرمني له برید سره هممهال، د جرمني د ځارګرې اداري (ابویر) د ۱۱مې ورانکارۍ ډلې مشر د ۱۹۴۱ کال د جون پر ۲۴مه په کابل کې د جرمني سفارت ته امر وکړ، چې په وزیرستان کې اوربلوونکي عملیات پیل کړي. جرمني ځارګرې ادارې خپلو دوو ځریو (اوبردورفر او ډاکټر فرد براندت) ته سپارښتنه وکړه، چې ایپي فقیر ته وسلې او پیسې ورسوي. له دې سره هممهال باید هغوی وزیرستان ته تللي وای او هلته یې په سپټمبر میاشت کې پر برېټانیایي هند د جرمني پوځیانو له برید سره سم، له ایپي فقیر سره یوځای پراخ عملیات کړي وای. په کابل کې جرمنیان وزیرستان ته د تګ په حال کې وو او د بنو یوه افغان ډګروال میرصاحب خان یې همکاري کوله. انګریزان او شورویان وزیرستان ته د جرمني جاسوسانو پر تګ خبر وو، ځکه په اوربلوونکو عملیاتو کې داسې کسان هم شامل وو، چې د جاسوسانو رول یې لوباوه. جرمنیانو ایپي فقیر ته له برلین نه



انګریزي ټوپک، لاسي بمونه، د زغره والو ګاډو ضد وسلې او د الوتکو ضد توغندي غوښتي وو، خو دا، چې جرمني جاسوسان او د هغوی وزیرستاني بدرګه وال د لوګر په پل علم کې ونیول شول، ایپي فقیر ته دغه وسلې ونه رسېدې. له دوی نه څو تومانچې، کارتوس، درې سوه زره افغانۍ، څه باندې لس زره هندي روپۍ او د قبایلي سیمو نقشې ترلاسه شوې. په دې پېښه کې یو جرمنی ځری اوبردورفرو ووژل شو او وروسته په کابل کې امنیتي ځواکونو ګڼ وزیر او مسید ونیول. ددغو دوو پېښو پرتلنه موږ ته د وزیرستان او کابل ترمنځ د اړیکو څرنګتیا او په سیمه کې غوړېدلی استخباراتي جال رابښودلای شي .

د لطیف مسید له نیول کېدو او د ۲۰۱۳ کال د نومبر پر دویمه د حکیم الله مسید له وژل کېدو وروسته، پاکستان یوځل بیا د ژوند ساه واخسته او له درنګ پرته یې په شمالي وزیرستان کې د پاکستان ضد طالبانو پر وړاندې مرګوني عملیات وکړل. دا، چې پاکستان د لطیف الله مسید د ورسپارل کېدو او وزیرستان د عملیاتو په مقابل کې امریکا ته څه ومنل ، وروستي تحولات یې لږ ترلږه دا درک را کولای شي، چې امریکا منځنۍ اسیا ته د جنګیالیو د انتقال په پروژه کې د پاکستان ملاتړ ترلاسه کړی .

**سرچینې:**

د وزیرستان په تړاو څېړنیز اثار موندل د مرغۍ په پیو پسې ګرځېدل دي.

پر دې سیمه که څه ویل شوي، د انګریزانو له عینکو ورته کتل شوي، یا د پاکستان متعصبو او د وزیرستان له واقعیتونو ناخبره لیکوالو پرې څه لیکلي دي. هر چیرې، چې استناد شوی د پوځي جنرالانو نظر او د هغوی تجربې پکې مطرح شوې. هیڅ داسې کتاب او څېړنه نشته، چې د وزیرستان اصلي تصویر او د پېښو حقیقي هینداره واوسي. وزیرستاني لیکوالو، چې څه لیکلي ټول په هغو ګزارشونو متکي دي، چې له انګریز مامورانو نه په ارشیفونو او ګزارشي کتابونو کې راپاتې دي. په دې منځ کې د لایق شاه درپه خېل کتاب «وزیرستان» که څه هم په ورته ګزارشونو متکي دی، خو د پېښو او کرکټرونو د دقت او کره توب څرک پکې ډېر دی. د اولف کارو، ایولین هاویل

(Evelyn Howel)کتابونه او لیکنې د هغوی د شخصي لید او دې تیوری د تثبیت په لټه کې دي، چې پښتون د کابل او لاهور ترمنځ وېشل شوی. د سټالین افغاني جګړه په دې منځ کې له دې امله راښکونکی دی، چې د استخباراتي معلوماتو د تبادلې له ارزونو او مستندو متونو ټوکېدلی دی.

په «وزیرستان: وروستی تمځای» کتاب کې کاریدلې سرچینې څو ډوله دي:

**لومړی**: هغه کتابونه، چې په وزیرستان کې په ماموریت بوختو انګریز افسرانو او نورو لیکوالو کښلي.

**دویم**: د انګریز واکمنۍ د ماموراتو په لاس لیکل شوي رپوټونه، یادښتونه او خاطرې.

**دریم**: په ارشیفونو او ډیجیټل کتابتونونو کې خوندي اسناد

**څلورم**: د وزیرستان دسپین ږیرو او مشرانو شفاهي څرګندونې، چې د شته معلوماتو په رڼا کې ارزول شوې او تر کره توب وروسته د «اضافي او بشپړوونکو معلوماتو» په توګه کاریدلې دي.

وزیرستان دلته په څو دورو کې در پېژندل کیږي. تر اسلام وړاندې د سرداویدهوګرث د سکندر کتاب له «ګوګمل» او د اریایي پېر د ویدي سندرو له «ګماتي» سیند نه، چې دواړه د ګومل تاریخي وجود ثابتوي. تر اسلام وروسته له لومړۍ هجرۍ سپوږمیزې پېړۍ نه تر مغول پاچا ظهیرالدین بابر پورې، چې د پریغل د منو په ستاینه پیلیږي او د روښانیانو په غورځنګ او مبارزو بشپړیږي. تر مغلي وحشت وروسته په ابدالي پېر کې د وزیرستان د نسبي ارامۍ دور پیلیږي، خو بنو ته د سیکانو او انګلیسي امپراتورۍ په غځېدو سره وزیرستان بیرته د مقاومت دورې ته داخلیږي. د انګریزانو پېر، چې له ۱۸۹۴ز کال پیلیږي او تر ۱۹۴۷ کال پورې د پاکستان تر رامنځته کېدو پورې له ولسي مقاومت سره مل دوام کوي، ددغه کتاب د محتوا ستره برخه جوړوي. پر دې دوره د ډېر تمرکز یو لامل د تحقیق او تحلیل لپاره د ډېرو موادو موجودیت او بل له دغه پېر سره د پښتنو او وزیرستان د سیاسي او جغرافیایي وضعیت



تړاو دی. له ۱۹۴۷ کال وروسته وضعیت په لنډو ټکو کې سپړل شوی، خو په یو شمیر هغو عواملو هم بحث شوی، چې هم د انګریز پرمهال او هم په اوسني پاکستان کې، د وزیرستان د بدمرغیو لامل ګرځیدلي.

درناوی

نذیراحمد سهار

کابل، ۱۳۹۴ کال، وری

لومړی څپرکی

# یاغي طبیعت

خوندور شمال او شنې درې پر ټوله لار څوساعته سفر څو شیبو ته را لنډوي. ټانک ته، چې رسیږې د مسیدو او بېټنیو څېرې ترسترګو کیږي او څومره، چې د ټانک-وانه پر لار ډیرېږې، منځی، مرتضی او چنډولي(جنډولې) ته نږدې کیږې، د وزیرستان ځیږ او یاغي طبیعت پرمخ درځي. چنډولی د بېټنیو او مسیدو ترمنځ وروستی پوله ده.

بنو هغه ښارګوټی دی، چې شمالي او جنوبي وزیرستان له ډېره اسماعیل خان، کوهاټ، پېښور او افغانستان سره نښلوي. دلته وزیر، بنوځي او په کم شمېر مسید اوسیږي. ډېره، بنو، ټانک، میرانشاه او وانه پنځه هغه نقطې دي، چې پر وزیرستان د کنټرول او اتصال لپاره په تېرو څو پیړیو کې په پرله پسې توګه کارېدلې دي. دمګړی هم، چې وزیرستان د پاکستان تر واک لاندې سیمو کې شامل دی، دغه نقطې پر وزیرستان د کنټرول لپاره کاریږي. دغه لار د کندهار او پنجاب، کابل او پنجاب او دغسې نورو ولایتونو او د هند د لویې وچې ترمنځ د سوداګریزو توکو لپاره د تاریخ په ټولو دورو کې کارېدلې ده. له کابل نه ډیره اسماعیل خان او پنجاب او له پنجابه غزني او کابل ته له همدې لارې توکي لیږدیدل.



وزیرستان له کورمې ایجنسۍ، د بلوچستان له ژوب (مرنیو)، بنو، خوست او پکتیکا سره ګډې پولې لري. وزیرستان ټول ۱۱۵۸۵ کیلومټره مربع مساحت او ۷۹۱۰۸۷ تنه نفوس لري. په شمالي وزیرستان کې، چې مساحت یې ۴۹۶۶کیلومټرو ته رسیږي ۳۶۱زره او ۲۴۶ تنه او په سویلي وزیرستان کې په ۶۶۱۹ کیلومټره مربع مساحت ۴۲۹زره او ۸۴۱ تنه اوسیږي.

وزیرستان یوه بشپړه غرنۍ سیمه ده، چې په ځنګلونو پوښلې ده.

په غرونو کې یې ډېرې څیړې، لمنځې، نښتر او داسې نورې ونې موندل کیږي. ځنغوزي، ماټک (چار مغز)، منې، انګور، مندتې(زردالو)، الوبخارا، ګورګورې، خجورې، الوګان، جوار، مزري ددې سیمې میوې او کرکیله ده. د میرانشاه په مرکزیت په شمالي وزیرستان کې ډېری وزیر او داوړ قبیلې اوسیږي، خو اکثریت پکې اتمانزي وزیر دي. دغه قبیله د توچي، شوال، خیسوره، کیتو او د کورمې سیند په غاړو کې اوسیږي. داوړ د توچي سیند پر دواړو غاړو اوسیږي. په شمالي وزیرستان کې ملکشي ، ګوربز، خرسین او سیدګي قبیلې هم اوسیږي. شمالي وزیرستان په درې سب ډویژنونو او نهو تحصیلونو (علاقه داریو) وېشل شوی دی. د میرانشاه په ډویژن کې مرکز میرانشاه، غلام خان او دته خېل تحصیلونه، د میرعلي په ډویژن کې میرعلې، سپین وام او شیوه او د رزمک په ډویژن کې پخپله رزمک، دوسلي او ګریوم تحصیلونه شامل دي. شوال په ۲۰۰۳ز کال کې د یوه بېل تحصیل په توګه منځ ته راغی.

پولیټیکل اجنټ د ایجنسۍ د مشر، همغږي کوونکي، قاضي او څارنوال په توګه کار کوي. د بېلابېلو ادارو ترمنځ همغږي او د بیا رغونې د پروژو او نورو سیاسي او ټولنیزو پرمختګونو د څار او کنټرول چارې هم د سیاسي استازي پرغاړه وي. دغلته اداري چارې او حکومتولي د ملکانو، لونګي مشرانو او خاصه دار ځواکونو له خوا پرمخ وړل کیږي، خو په دې وروستیو کې پر سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو مسایلو پوځ مسلط دی. په سویلي وزیرستان کې د سیاسي استازي رول خورا مهم دی، ځکه دلته دوه سترې،

خو سرکښې قبیلې اوسیږي، چې یونیم ځل د حکومتي سیاستونو په پایله کې د یوې او بلې پر وړاندې دریږي. سیاسي استازی پر قومي مشرانو او نورو بانفوذه کسانو د خپلو سیاسي اهدافو په خاطر د پیسو د پټ ویش دنده هم پر مخ وړي.

رزمک، شوال او میرانشاه د شمالي وزیرستان مشهورې سیمې دي. رزمک د شمالي وزیرستان خورا شنه او سمسوره سیمه ده. په سویل کې یې سپین کمر، ختې غر، توده چینه مسید میشتې سیمې دي. د شوال سیند د ۱۱زره فټه لوړ غره په لړۍ کې له ډیورنډ کرښې اته میله د ختیز پر لور بهیږي او له مایزر نه دوه میله لویدیز خوا له توچي سره یوځای کیږي. د شوال په ختیز کې رزمک، شویدر غر او د بېرمل سیمې پرتې دي. په سویل کې یې موسی نیکه ( نیکه بند) او درې نشتر او په شمال کې یې منظر خېل دره او د مایزر مداخېل وزیر پراته دي.[1]

په شوال کې ډېری کابل خېل، بکاخېل، جاني خېل، ملکشي، په شکي کې میامي، ملکشي، شادیکي، خونیاخېل، بدین خېل، هاتي خېل، سپېرکي، سدن خېل او د مسیدو د بهلول زیو او علیزیو ښاخونه اوسیږي. په بېرمل کې کابل خېل، پیپلي، سیپلي وزیر اوسیږي. په رزمک کې ممیت خېل او توري خېل، په شم کې ممیت خېل او بوهیم خېل، په خیسوره کې ممیت خېل، توري خېل او وړوکي، په شیرنه کې مداخېل، خدرخېل، منظرخېل، په شرکي او شکتو دره کې توري خېل، عمرزي او پلو ته یې مسید اوسیږي. په شیره تله او شاوخوا کې ممیت خېل، توري خېل، حسن خېل، مداخېل، کابل خېل، ملکشي او زلي خېل اوسیږي.

په سویلي وزیرستان کې مسید او احمدزي وزیر اوسیږي. پر دې دوو قبیلو سربېره دلته ورمړ، دوتاڼي، سلېمان خېل او غلجي هم اوسیږي. مسید د سویلي وزیرستان اکثریت نفوس جوړوي. د مسیدو په دریو خواوو کې درویش خېل وزیر اوسیږي او ختیز پلوته یې ټانک، ډېره اسماعیل خان او بنو پراته دي، چې بیټني، مسید، بنوڅي، وزیر، داوړ او نورې قبیلې ګډ سره پکې اوسیږي.



سویلي وزیرستان په دریو برخو یا ډویژنونو کې اته تحصیلونه لري. د وانه په تحصیل کې مرکز وانه، برمل او توی خوله، د لادا په ډویژن کې لادا، ساړه راغه او مکین او د سرویکي په ډویژن کې پخپله سرویکی او تیارزه تحصیلونه شامل دي. وانه د سویلي وزیرستان مرکز دی، چې غوڅ اکثریت پکې احمدزي وزیر اوسیږي. پر وانه سربېره کاڼیګروم (شوره)، شکی، مکین او لادا د سویلي وزیرستان مشهورې سیمې دي. د وانه په ډویژن کې ډېری وزیر اوسیږي، خو په دوو نورو ډویژنونو کې غوڅ اکثریت مسید دي.

په وانه کې زلي خېل، ګنګي خېل، خجل خېل، توجیاخېل، هاتي خېل، سرکي خېل، بیزن خېل، پاینده خېل، خونیاخېل وزیر او په مرکز کې یوڅه دوتاڼي اوسیږي.په لادا کې، چې وانه ته د ټانک له لارې د غځېدلي سړک په ښي اړخ کې پرته سیمه (سب ډویژن) ده، لنګرخېل، پټوني، شابي خېل، بیبي زي، خدرخېل، خون خېل، ترګډي، مل خېل، وزیرګي، سلطاني، ایشنګي، مالای، چرخېل، خلیلخېل، سرنګ خېل، عمرخېل، ورمړ، کیکړي، ګریړي، شمیري، شمن خېل، ملکشي، برومي خېل، محمدي، مړیڅي، تره کي، بدینزي (او نور)، په مکین کې عبدلي، ایشنګي، بندخېل، نانوخېل، لالي خېل (او نور)، په ساړه راغه کې ګلیشي، شمن خېل، چرخېل، ګریړي، خالي خېل، هیبت خېل، کایخېل، بدیوي، ګوري خېل، چونډخېل، هیبل خېل، ملکشي، شمن خېل، ایشنګي، شمیري، ګوري خېل، ګلیشي، منزي، سیدان، فریدي، خانخېل، ګلي خېل، عبدلي، بندخېل، ګریړي، لنګرخېل، بهادرخېل (او نور) ، په سرویکي کې منزي، بهلولزي، شمن خېل، په تیارزه کې نیکزن خېل، ګیګاخېل، مچن خېل، کیکړي، ورمړ او نور ښاخونه اوسیږي.[2]

توچي، ټانک زام، ګومل، کیتو، سپلیتوی، خیسوره، وانه توی، شوره او شینکی د وزیرستان مشهور سیندونه او لګړونه دي. ټانک زام سیند په دوه توی سیمه کې د تودې چینې او بدر توی له یوځای کېدو څخه سرچینه اخلي. پرېغل (پیرغر، پرې غر) د وزیرستان تر ټولو لوړ غر دی، چې د سمندر له سطحې ۱۱۰۰۰ فټه لوړ پروت دی. پر

دې سربېره شویدر، نېشه، ګبر غر، جاني میله، کوټکوم، کونډېږ غر، ګرنی سر، خواجه حیدر، بیبک او خړ کمر د وزیرستان نور غرونه دي.

ورمړ یا برکي قبیله، چې ډېری افراد یې ځانونه په مسیدو کې شمېري، په کانیګروم سیمه کې اوسیږي. ددوی یو شمېر خلک له بېټنیو سره یوځای هند ته هم کډوال شوي دي. ددې قبیلې څه وګړي د لوګر د بره کي برک په مرکز، بره کي راجان او سرخ اباد سیمو کې او یو شمېر هغه یې د پېښور د ځمکنیو او شمشتو سړک په اوږدو کې په ورمړو تمځي کې اوسیږي.

## کډوال شوي مسید او وزیر

مسید او وزیر پر وزیرستان او پاکستان سربېره، په افغانستان کې هم اوسیږي. په افغانستان کې میشت مسید او وزیر په څو بېلو پړاوونو کې دلته میشت شوي دي. افغانستان ته د مسیدو او وزیرو د راتګ اصلي محرکات د انګریزانو خلاف د هغوی مبارزې، د افغانستان د خپلواکۍ جګړې، د سقاوي اړودوړ خلاف جګړې او شخصي دښمنۍ دي. ډېری هغه مبارزان، چې د انګریز خلاف په جګړو کې بوخت وو، د انګریزانو د ظلم او وحشت له امله د افغانستان پر لور کډوالۍ ته اړ وتل. لکه نن، چې ګڼ مسید، وزیر او داوړ له وزیرستان نه د پاکستان بېلابېلو سیمو او خوست او پکتیکا ته کډوال شوي، د برېټانیایي هند او انګریز واکمنۍ په وخت کې هم له انګریزانو سره جنګېدونکي وزیرستاني مبارزان اړ وو، چې دارالاسلام ( افغانستان) ته په کډه لاړ شي.

افغانستان ته پر لومړي ځل د ۱۸۹٦ ز کال د جولای پر ۲۲مه له ملا پیونده مسید سره د وزیرو، داوړو او مسیدو څلور زره کسان راغلل. دوی لومړی بېرمل او یوه اوونۍ وروسته پلازمینې کابل ته لاړل. له دوی سره ښځې او ماشومان هم وو. د دغو کسانو له ډلې او بیا وروسته د امیر حبیب الله خان په وخت کې کډوالو شویو مسیدو او وزیرو ته په بېلابېلو ولایتونو کې ځمکې ورکړل شوې. په دوی کې د غزني د غوزېې



میاجي(۱) او د وردګو د بکسمند سیمې ځګړ (۲) خالو، بالیچ او د هغه نور ملګري شامل وو. د میاجي او ځګړ تر مشرۍ لاندې مسید، چې د ملا پیونده مسید اصلي جنګیالی ځواک یې جوړاوه، په غزني او وردګو کې ځای پرځای شول.

دغو خلکو ته په پیل کې افغان حکومت غله دانه ورکوله، خو وروسته یې ځمکې ورکړې. په دوی پسې د امیر حبیب الله خان، امان الله خان او نادرخان په وختونو کې نور مسید او وزیر راغلل، چې ډېری یې په لوګر، وردګو او یو شمیر نورو سیمو کې ځای پرځای شول. د لوګر د څرخ، بره کي برک، واغجان، سرخ اباد، کیشم کلا، شاهي کلا، سفیدسنګ او د وردګو د ظریف، بکسمند، بدکول، ګوډا او ګډلي مسید پر ۱۹۱۹ز کال د امان الله خان او پر ۱۹۲۹ز کال د نادرخان د واکمنۍ پر مهال له وزیرستان نه راغلي دي. د څرخ مسید د غلام نبي خان څرخي(۳)په سلا هلته میشت شوي، ځکه هغه په وزیرستان کې د پخواني پاچا امان الله خان په پلویتوب تر اوږدې مودې پورې د مسیدو او وزیرو د ملاتړ ترلاسه کولو هڅې کولې. د لوګر په کیشم\کیشن او شاهي کلا کې میشت یو شمېر مسید د موسی خان مسید (۴) او شاه دوله خان(۵) تر مشرۍ لاندې لومړی سرخاب او بیا دې سیمې ته راغلي دي. له دوی سره ډېری هغه مسید راغلي وو، چې د ۱۹۱۹ ز کال په جګړو کې یې په وزیرستان کې دده، موسی خان او رمضان خان مسید (٦) تر مشرۍ لاندې د انګریزانو خلاف مبارزې کولې. لوګر ته یو شمېر مسید د سقاو د زوی پر ضد د جګړې په کلونو کې راغلي دي. د مسیدو هغه سرتېري، چې په وزیرستان کې یې د شاه دوله خان او جنرال موسی خان تر مشرۍ لاندې د انګریزانو خلاف د واڼه، سرویکي، تیارزې او ټل په جګړو کې برخه درلوده، انګریزانو تر فشار لاندې راوستل. هغوی خپلې ستونزې په کابل کې له امان الله خان سره شریکې کړې، خو د سملې تړون له امله هغه د انګریزانو پر وړاندې څه نشوای کولای. وروسته یې هغوی ته په سرخ اب کې ځمکې ورکړې، خو هلته د یولړ ستونزو له امله ډېر پاتې نه شول او د محمداغې ولسوالۍ کیشم او شاهي کلا سیمو ته لاړل. د جنرال موسی خان تر مشرۍ لاندې مسیدو ته هم په سرخاب ، محمداغه او نورو سیمو

کې ځمکې ورکړل شوې او ښکارکلا یې هم دده په نامه ونوموله.

په افغانستان کې د وزیرو او مسیدو دریم پړاو میشتېدا د سقاوي اړودوړ پر وړاندې د نادرخان له لښکرکشي سره یوځای پیلیږي. له نادرخان سره په لښکر کې له وزیرستان نه شاوخوا څلورزره تنه مسید، وزیر، ورمړ او داوړ ملګري وو. د هغوی یو شمېر کسانو ته په لوګر، وردګو ، غزني او نورو سیمو کې ځمکې ورکړل شوې او یو شمېر نور بېرته وزیرستان ته لاړل. ځینې هغه مسید او وزیر، چې ځمکې ورکړل شوې وې، په دویم ځل سروې کې ترې ځمکې بېرته واخستل شوې، ځکه دوی وزیرستان ته تللي وو. مسید او وزیر په مني کې په افغانستان کې اوسېدل، خو په څرمونې کې به د انګریز خلاف د مبارزو په موخه بېرته وزیرستان ته کوزېدل. په څلورم پړاو کې مسید او وزیر په شخصي دښمنیو کې افغانستان ته کډوال شوي دي.[۲]

پر لوګر، غزني او وردګو سربېره، په خوست، کابل، پروان، بغلان، کندز، سمنګان، تخار، کندهار، هلمند، ګردیز، سمنګان او نورو سیمو کې هم خواره واره مسید او وزیر پراته دي، چې په څو لاملونو هلته تللي دي. یو هغه مسید او وزیر مبارزان، چې انګریزان ترې ډېر په عذاب وو د وزیرستان په ګاونډ کې له میشتېدا وروسته د انګریزانو د شکایتونو پر بنسټ د افغانستان شمالي ولایتونو ( ترکستان) ته واستول شول. دویمه ډله هغه وزیر او مسید دي، چې د نایب الحکومه محمدګل خان مومند د پلان له مخې د ناقلانو په ډله کې شمالي، کندوز او بغلان ولایتونو ته لاړل. دریمه کټګوري هغه مسید او وزیر دي، چې د اقتصادي او معیشتي عواملو له مخې په انفرادي ډول یادو سیمو ته تللي دي.



دویم څپرکی

# تاریخي مزل

د اریایانو په ویدي سندرو (ریګ ویدا) کې د دریو سیندونو نومونه یاد شوي، چې کرومو، ګوماتي او یویواتي دي. دوه هغه یې د وزیرستان له ځمکې تېرېږي.[٤]

یویواتي (د ژوب سیند، چې له ګومل سره یوځای کیږي) او ګومل (ګماتي) سیند، چې د وزیرو له ځمکې تېرېږي. دریم سیند یې د کورمې سیند دی، چې د بنو په شمال کې له عیسی خېلو نه اباسین ته تویږي. د ګومل په شمال کې وزیر او په جنوب کې یې مرېي او مندوخېل قبیلې پرتې دي. د ویدي کتابونو له مخې، ګومل درې زره کاله مخکې شنې درې درلودې او په وزیرستان کې د یو شمېر پخوانیو زړو کلاوو نښې ښيي، چې په باختر- یوناني پېر کې دلته پوځ او یا هم ښار اباد و. د ګومل او توچي پر لاره ترلسمې میلادي پېړۍ پورې سوداګریزو او پوځي قافلو تګ او راتګ کاوه. غوري او غزنوي لښکرې له همدې لارې هند ته تللې او د دراني امپراتورۍ بنسټګر احمد شاه بابا هم له همدې لارې پنجاب ته ځان رساوه. د اسلام تر راتګ مخکې په وزیرستان کې بودایي مذهب او سانسکرټ ژبه دود ول. د وزیرستان په سپین وام او یو شمېر نورو سیمو کې بودایي سټوپې اوس هم شته دي. هغه اثار، چې له شیره تله سیمې ترلاسه شوي، د کوشانیانو او پارتیانو- هیپتالیانو د دورو نښې نښانې ښیي. د داریوش په هخامنشي دوره کې د لوی افغانستان ۱٦ سیمې شاملې وې، چې یوه پکې ته ته ګوش

Thattagushوه، چې د کوهاټ او د بنو ورځېرمه وزیرو او داوړو سیمې پکې راځي.

*هیروډټ (۴۲۴ق م مړ) په خپل۴۴۴ کتاب کې لیکي:*

*«داریوش دریاب ته د سند رود د ګډېدو د ځای کشفولو لپاره یو یوناني امیرالبحر، چې سکیلاکس Skylox نومېد او د کاریاندار هېواد و، له ځو باوري کسانو سره په بېړۍ کې کېنېناوه او د یاد کار لپاره یې واستاوه. دغه ډله د کسپاتورس له ځمکې (ښاره) او د پکتویک Paktuike له ځمکې وخوځېده او دریاب ته ورسېده».*[٥]

دا، چې په ویدي سرودونو کې ګومل او کورمه سیندونه یاد شوي او تاریخي بهیر ښیي، چې د سند او هند نیمې لویې وچې پر لور ډېرې قافلې او لښکرکشۍ د کورمې او ګومل له لارې کېدې، غالب ګومان دادی، چې پکتیک به اوسنۍ پکتیا، خوست او پکتیکا وي، چې له وزیرستان او کورمې سره ګډه پوله لري. کورمه مشهور سیند لري او په غالب ګومان پاسنی دریاب، «ایریاب» یا اوسنی اریوب سیمه ده. یو شمېر تاریخپوهان Paktuike په پېښور تعبیروي، خو د کوشاني پاچا کنیشکا په پاچاهۍ کې پېښور ته د پوروشاپوره ( او ساساني پېر کې پشکي باوره) نوم کارېده. د هغه د ژمي مرکز پېښور او د دوبي کاپیسا و. د کسپاتورس اصطلاح، چې یو شمېر پوهانو د چارسدې لپاره کارولې، د کاپیسا له نامه سره نږدیوالی لري او تر ټولو مهم دا، چې په کوشاني پېر کې کاپیسا او پېښور د هغوی دوه پلازمینې وې.

*سرداویدهوګرث د سکندر په کتاب کې وایي: «د ګوګمل په جګړه کې، چې د دریم داریوش او سکندر ترمنځ پېښه شوه، د یوناني مورخ اریان له نومل‌ر سره سم، پښتانه او د هندوکش د غرو خلک د داریوش په لښکرو کې شامل وو».*

ګوګمل یا اوسنی ګومل د وزیرستان مهمه سیمه ده، چې د ژوب پر لور لاره لري او سند



او ملتان له بلوچستان او کندهار سره نښلوي. پر دې سربېره په پېښور موزیم کې درې هپتالي ډبرلیکونه شته، چې د وزیرستان په توچي کې موندل شوي دي. یو ډبرلیک په منګولي او دویم هغه په یوناني لیکدود لیکل شوی دی.

تاریخي اسناد ښیي، چې وزیرستان ته د اسلام سپېڅلی دین د لومړۍ هجري پېړۍ په دریمه لسیزه کې راغلی. د شمالي وزیرستان د درپه خېلو په یوه کلي کې ترلاسه شوې کتیبه د ۱۰۰ هجري سپوږمیز کال تاریخ راښیي، چې په سانسکرټ او عربي ژبو لیکل شوې ده. دغه کتیبه، چې عربي متن یې په کوفي لیکدود لیکل شوی، دمګړۍ د لاهور په موزیم کې ده. د شمالي وزیرستان د سپین وام په شیره تله سیمه کې د کریشندي په نامه سره یو کمپ دی، چې ویل کیږي د دریم خلیفه حضرت عثمان رض د خلافت پرمهال، د هغه د یوه جنګي قوماندان مجاش بن مسعود د ورور پوځي کمپ و. د لومړۍ هجري پېړۍ په دریمه لسیزه یا ۳۲ سپوږمیز کال کې، چې له ٦٥٢ میلادي کال سره سمون لري، د وخت خلیفه حضرت عثمان رض د ایران د کرمان سیمې د بیا نیونې په موخه مجاش بن مسعود رالیږلی و، چې په غالب ګومان ورور یې هم په همدې کلونو کې په شمالي وزیرستان کې سوبې کړې دي.[٦]

په ٦٥٦ کال، چې ۳۴ سپوږمیز کال کیږي، د حضرت عثمان (رض) د خلافت په وخت کې عبدالرحمن ابن سمره پر کابل، غزني، کوټه او د بلوچستان پر نورو سیمو لښکرکشۍ کړې دي. د عرب لښکرو دغه قوماندان د کابل او غزني تر سوبو وروسته په غالب ګومان د ګومل له لارې وزیرستان او بیا له دې ځایه ژوب ته تللی او هلته یې د کوټې او کلات خانان ترخپل یوغ لاندې راوستي دي. د پېښور میوزیم په ۴۱مه نومره ډبرلیک کې، چې له توچي سیمې موندل شوی، په کوفي لیک د الله (ج) او محمد (ص) نومونه هم ترسترګو کیږي. ددغو ډبرلیکونو نېټه (۲۴۳هجري، د جمادي الاول میاشت، ۸۵۷ز) ده. توچي دغه مهال له غزني او ګردیزه د هند پر لور د سوداګریزو کاروانونو او لشکرکشیو لاره وه او یاد ډبرلیکونه ښیي، چې په اتمه میلادي پېړۍ کې

وزیرستان ته اسلامي فرهنګ او عربي ژبه راغلې ده.[۷]

په اسلامي تاریخونو کې د داور ( داوړ) کلیمه ډېره کارېدلې ده. په ۴۳ هجري (۶۶۳ز) کال حضرت معاویه ددویم ځل لپاره عبدالرحمن بن سمره د سیستان واکمن وټاکه او هغه تر ۴۴ هجري کال پورې د افغانستان او پښتنو ټولې ناامنۍ کرارې کړې. هغه له بست وروسته کش، داور او رخج ته لاړ او د زور تر غره پورې یې لارې وکړې. د افغانستان په لنډ تاریخ کې کش د کندهار کشک نخود، داور زمینداور، رخج اراکوزیا او ارغنداو سیمې او زور د زمینداور او غور ترمنځ یو غر ښودل شوی، خو که د هغه وخت جګړه ییز مسیر او د سیمې جغرافیایي سکښت وکتل شي، داسیمې په همغو نومونو په وزیرستان کې موندل کیږي. سیستان دغه مهال د اسلامي لښکرو د بریدونو اصلي منځی و او زابل د بلوچستان د ژوب له لارې له وزیرستان سره نښلېده. داور یا داوړ د شمالي وزیرستان یو میړنی پښتون ټبر دی، چې د استوګنې په سیمه کې یې د هپتالیانو او عربي واکمنو کتیبې هم موندل شوې دي. په شمالي وزیرستان کې د کش (پښتو کڅ او انګلیسي Kach، چې په عربي کې یې چ پر ش اوښتې) په نامه دلته خجوري کڅ، بیچه کڅ، او ثو نور کڅونه هم شته. په اسلامي تاریخونو کې د کوهژ کلیمه د رخذ/رخج سیمې یوه برخه ګڼل شوې او بیا عبدالرحمن بن سمره له دې سیمې زور ته تللی دی. په شمالي وزیرستان کې رغزی (رخج او رخذ)، کژه (کوهژ، کوهک) او ژور – ژور میله، منځ ژور، تنګی ژور، زو ژور(زور: په عربي کې ژ په ز بدله شوې ده) پر یوه کرښه پرتې سیمې دي. له دې اخوا د زور په نامه د لکي مروت پر خوا هم یوه سیمه پرته ده. اسلامي تاریخونه وایي، چې عبدالرحمن بن سمره د غزني له لارې کابل ته تللی دی. ښونې ده، چې نوموړی غزني او کابل ته په کورمه او ګومل تللی وي او (کلات) ژوب او وزیرستان ته هم پر ۳۴سپوږمیز کال له زابل نه راغلی وي. د وزیرستان بر داوړ په بویه کلي کې د غونډیو پر سر د هغه وخت د کفارو او مسلمانانو د جګړو ځلي او اثار اوس هم ترسترګو کیږي. یو شمېر څېړونکي په دې باور دي، چې د عراق په پلازمېنه بغداد کې بویه شاهان (The rulers of Boya) د وزیرستان له بویه سیمې تللي او بغداد یې ولکه کړی، خو



داسهي نه ده، ځکه بویه کورنۍ په معتبرو تاریخونو کې د ایران د ګیلان اوسېدونکي ګڼل شوي، چې لومړی یې اصفهان او اهواز ونیول او وروسته نورو سیمو ته پسې خپاره شول. دا احتمال کېدای شي، چې بویه سیمه د ال بویه د کوم واکمن پر وخت په دې نامه نومول شوې وي، ځکه ال بویه په عراق کې لومړني واکمنان ول، چې د شیعه مذهب پیروانو ته یې ازادۍ ورکړې او د ایران او نورو هېوادونو پر لور استول شویو استازو یې هڅې وکړې، چې خلک شیعه مذهب ته وبولي. که د شمالي وزیرستان بویه سیمه دغو واکمنو اباده کړې وي، په کورمه، ټل او هنګو پښتني سیمو کې د شیعه مذهب خپرېدل به هم له بویه واکمنانو سره بې تړاوه نه وي.

په بغداد کې د برمکیانو د واکمنۍ په وخت کې پر ۱۵۴ هجري کال د وزیرستان په رزمک کې سلیمان برمکي حکومت کاوه، خو وروسته، چې عباسي خلافت او په سر کې هارون رشید برمکي واکمنان له تخته وغورځول، د سلیمان برمکي له لاسه هم واکونه واخستل شول. دوه نورې کتیبې، چې په پېښور موزیم کې خوندي دي، په شمالي وزیرستان کې موندل شوې دي. یوه په ۲۳۴ سپوږمیز (۸۵۷ میلادي) کال کې په عربي او سانسکریټ متنونو د ټانک ښار د رغونې په تړاو لیکل شوې او دویمه یې په (۵۶۵ میلادي او (۶۳۵ باختري) کال په عربي او بکټرین\باختري متنونو لیکل شوې ده. دویمه کتیبه د متن د ګرېږېدو له امله په سمه توګه نه ده سپړل شوې، خو د لومړۍ کتیبې د عربي متن له ژباړې داسې ښکاري، چې د وزیرستان توچي سیمه د «حی بن عمر» په نامه د یوه عرب جنګي قوماندان له خوا کنټرولیده. حی بن عمر د وزیرستان په لومړنۍ دروازه « ټانک» کې د خیر ښېګړې ګڼ کارونه او ددغه ښار د رغونې چارې ترسره کړې دي. په بله وینا، د ټانک سیمې لومړنۍ بنسټګر حی بن عمر دی.[۸] په ۲۴۳ هجري سپوږمیز کال له توچي کلي نه په عربي او سانسکریټ ژبو ترلاسه شوې کتیبې ښیي، چې د غزنوي محمود له واکمنۍ مخکې دلته په دې ټول وخت کې مسلمانو واکمنو حکومت کړی دی. تر عربي مخکې په دې سیمه کې په رسمیاتو کې سانسکریټ ژبه چلېده او ډېر خلک بودایي مذهبه وو. له ۲۴۳ هجري سپوږمیز کال وروسته هم، چې

اسلام په سيمه کې په پراخه کچه خپور شوی و، لا هم ډېر خلک بودايان وو او په خپلو کې په سانسکريټ ژبه غږېدل.[۹]

تاريخ د مغولي پېر په تړاو وايي، چې ظهيرالدين بابر وزيرستان ته د پېښور، کوهاټ او بنو او دغه راز د غزني- گومل له لارې راغلی و. بابر په خپل کتاب کې د پرغل د منو، برمل، بغړ او بنگښو سيمې ستاينې کړې او وايي، چې د کوهاټ او بنو له لارې غزني ته تللی دی. توچي سيند د برې پښتونخوا د مرغې او مستونې له سيندونو پر ارگون راځي او د وزيرستان په دوه توی کې سره يوځای کيږي. د بنگښات اصطلاح په هغو نقشو کې، چې د روسيې له ارشيفونو تر لاسه شوې، د وزيرستان او کورمې ټولې سيمې په بر کې نيسي او بابر، چې بنگښ يادوي احتمالا دا ټولې سيمې يې ترې هدف دي.

> *بابر وايي:«د کابل په ولسواليو او اړوند سيمو کې پرغل، گرديز او بنگښ ارزښتناک ځايونه دي، په ځانگړې توگه د پرغل منې ډېرې مشهورې دي، دا منې هندوستان او ملتان ته صادريږي».*[۱۰]

د پرغل په نامه په لره او بره پښتونخوا يا غزني او د بنگښو په شاوخوا کې کومه سيمه نشته، خو د وزيرستان په شوال سيمه کې د پرېغل\پرغل (پرې غر، پير غر) په نامه د وزيرستان تر ټولو لوړ غر شته دی، چې په غالب گومان بابر د همدې سيمې دمنو ستاينه کړې ده. د وزيرستان منې، په ځانگړې توگه «کُلو» منې اوس هم په سيمه کې ښه نوم لري او د پاکستان بېلابېلو سيمو ته صادريږي.

هغه بل ځای وايي: *«...زموږ بريدگوان د سپند تر سينده پورې يرغلونه وکړل او يوه شپه وروسته راسره يوځای شول. کله، چې زموږ لوټماران بېرته راغلل او دوه شپې مو په کوهاټ کې تېرې کړې، سلامشورې مو وکړې، چې بل گام به مو څه وي. پرېکړه وشوه، چې د بنگښو پر افغانانو او د بنو په گاونډ يرغل وکړو او بيا د نغر يا فرمل له لارې کابل ته لاړ شو».* بل ځای وايي: *« برمل يو بل تومان او نسبتا خوار ځای دی، خو منې*



*يې، چې هندوستان ته ليږل کيږي، بدې نه دي. د شيخ محمد سلمان اولاد شيخ زاده گان، چې په هند کې يې د افغانانو په دور کې ډېر قدر لاره، د همدغه ځای و».*

د البيروني په الجواهر رساله، ظفرنامه او بابرنامه کې دغه کليمه د تغر او نغر په نامه له فرمل سره يوځای راغلې ده، خو له اره دا دوه سيمې د جنوبي وزيرستان له مرکز وانه نه ۳۵ کيلومتره لرې د برمل او بغړ سيمې دي. بغړ د برمل علاقداری اړوند سيمه ده، چې پر ډيورنډ کرښه پرته ده.

> *بابر د وزيرو او بنگښو غندنه کړې ده او وايي: « د وزيرو قبيلو د خراج په ورکولو کې ناغيړي کوله، د اپريديو خلاف د عملياتو له هوډ وروسته د وزيرو عقل سرته راغی، غوږونه يې ور تاو شول او له خند او ځند پرته يې درې پسونه نذرانه کړل...».*[۱۱]

د گورگاني مغل اورنگزيب دويم زوی *شاه عالم بهادرشاه*، چې په ۱۱۱۰ هجري کال د خپل پلار او په هند کې د شپږم گورگاني امپراتور اورنگزيب *عالمگير* له خوا د کابل د والي په توگه وټاکل شو، محمد حسين او د خوشال خان خټک زوی بهرام خان يې د خپلو سلاکارانو په توگه وټاکل. د بنو او شاوخوا سيمو په تړاو معلومات بهادرشاه ته بهرام خان ورکول او همدا هڅونې وې، چې د بهادرشاه پښې يې تر وزيرستان او بنو و رسولې.

پر ۱۱۱۰ هجري کال بهادرشاه له خپلو دوو افسرانو محمد حسن او راجابشن سنگ سره يوځای په توچي درې بنو ته راغی.[۱۲] له گومل او توچي پر بنو او وزيرستان د بريدونو، يا په لويه کې له هند سره د کابل د نښلونې په برخه کې ډېره گټه اخستل شوې ده. گومل، توچي او کيتو په تېرو زمانو کې له کابل او غزني نه د ديره اسماعيل خان او ملتان پر لور مهمې سوداگريزې او د لشکرکشيو لارې وې. بهادرشاه د توچي پر لار د سيمې خلکو ته د زياتو سرو زرو او انعامونو د ورکړې په پايله کې د ځان پر وړاندې ولسي مزاحمتونه کم کړل. وروسته يې د اورنگزيب عالمگير په حکم د کورمې سيند په شمالي

غاړه کې جنډوخېلو سیمې ته نږدې یوه شاهي کلا ورغوله. بهادرشاه کابل ته تر ستنېدو مخکې په داوړو او بنو کې اصالت خان ګګړ د حاکم په توګه وټاکه. ګګړ له دې مخکې د هزاره ولسوالۍ په پکلي کلي کې د لښکرو قوماندان و. مغل شاهزي ژمی په بنو کې تېر کړ او وروسته یې د کابل پر لور د تګ هوډ وکړ، خو په حسن تنګي کې وزیرو، داوړو، مسیدو او د نورو پښتني ټبرونو جنګیالیو یې لاره نیولې وه. بهادرشاه واردمخه خپل سرټېري ور واستول، چې ویې ځپي، خو پښتنو قبیلو هغوی ته سخته مرګ ژوبله ور واړوله. شاهزي د خپل پوځ د زیاتې مرګ ژوبلې د مخنیوي او لارې پرانېستو په موخه، هغوی ته بې دریغه سره زر ورکړل، وزیرستانیانو لاره پرانېستله، خو شاهزی او لښکر یې له وسایلو پرته لوڅ لپړ کابل ته لاړ.[۱۳] بهادرشاه وروسته په شمالي وزیرستان کې یو تن جنګي افسر سید حسن د داوړو قبیلې د حاکم په توګه وټاکه او پر هرې قبیلې یې د هغه وخت ۱۲۰۰۰ روپۍ خراج ومانه. نوی حاکم د داوړو او وزیرو په غلي کولو کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان و، ځکه ددې سیمې خلکو خراج نه مانه او، چې لږ فرصت به یې موند له مغولي واکمنانو سره به یې شخې او شولانګې کولې. وروسته، چې د مغل واکمنۍ مدیریت کمزوری شو، د وزیرستان خلکو یې ځانونه له یوغ نه وژغورل. بهادرشاه وروسته د بنو ولایت ته اصالت خان وګوماره، خو څنګه، چې دی له بنو ووت، بنوڅیو، داوړو (د وزیرستان خلکو) او مروتو یې پر وړاندې بغاوت وکړ او په کلا کې یې له سرټېرو سره یوځای محاصره کړ. اصالت خان له وزیرستاني او بنوڅي جنګیالیو سره تر څو ورځو پورې وجنګېد، خو وروسته یې امان وغوښت او له ساتونکو سره یوځای د میانوالي معظم نګر سیمې ته لاړ. د اصالت خان د ماتې خبر په۱۱۱۲ هجري کال ( ۱۶۹۹ میلادي کال) په داسې حال کې بهادرشاه ته ورسېد، چې دغه مغل واکمن په جلال اباد کې و. بهادرشاه اصالت خان ته خبر ورکړ، چې دده تر مرستې پورې په تنګي دره کې پاتې شي. بهادرشاه د بنګښ قبیلې لښکر مشرانو میر ابراهیم او فاخرخان ته یو شاهي فرمان واستاوه، چې د محمد افضل خان خټک په مرسته د بلندخېلو له لارې بنو ته لاړ شي او د اصالت خان بېرته راتګ ته لاره پرانیزي، خو کله، چې دغه مشران بلند خېل



سیمې ته ورسېدل، د داوړو قبیلې د حاکم سید حسن له خوا خبر ورغی، چې دی هم تر محاصرې لاندې دی او دوی باید په خورا احتیاط سره سیمې ته لاړ شي. د کورمې لاره د بلندخېلو پله سیمې نه تر خواجه عبدالله زیارت پورې کابل خېلو وزیرو بنده کړې وه. په لښکر کې ګډوډۍ راغله او بنو ته ونه رسېد. دا خبر په کابل کې بهادرشاه ته ورسېد. هغه اضافي مرسته ور ونه لیږله، خو خپلو قوماندانانو ته یې امر وکړ، چې د بریدکوونکو پر وړاندې خپلې وړتیاوې وکاروي او د هغوی ملاتړې له منځه یوسي.[۱۴]

پر ۱۱۱۵هجري کال بهادرشاه پېښور او له هغه ځایه کوهاټ ته لاړ او اوړی یې د کورمې په زري کلي( زیړان، اوسني یوسف خېلو) کې تېر کړ. دلته هغه پر بنو د برید پلان طرح کړ او هوډ یې وکړ، چې له زري کلي نه د ګندمګ پر لور یوه لاره وباسي، خو دغه مغول شاهزی په خپلو دې موخو کې بریالی نه شو. په مني کې بهادرشاه د اصالت خان د ورور مبارزخان ګګړ او خپل سلاکار محمد حسن د ورور علي رضا په مشرۍ د بلندخېلو له لارې راولپنډۍ ته یو لښکر ولېږه، خو دوی بنو ته پر لاره روان ول، چې کابل خېلو وزیرو تر بریدونو لاندې راوستل او لښکریانو تېښتې وکړې. د لښکر قوماندان د وزیرو مشرانو ته د سولې او پخلاینې وړاندیز وکړ، خو دوی پر خپلو ژمنو عمل ونه کړ، ځکه له ملکانو یې وسلې واخستې او ټول یې ووژل. وزیر په دې کار سخت غوسه شول او په غبرګون کې یې په بلندخیلو کې پر لښکر خورا سخت بریدونه وکړل. د علي رضا او مبارزخان ګګړ لښکرې ماتې شوې او بېرته ستنې شوې. شاهي قوماندان علي رضا وروسته د هنګو درسمند ( سمند درې) ته وتښتېد. کله، چې بهادرشاه له دې پېښې خبر شو، خپل قوماندانان یې کابل ته ور وغوښتل او غوړونه یې پرې ور تاو کړل. د ۱۷۰۱ او ۱۷۰۲ز کلونو په مني کې بهادرشاه وزیرستان ته د خوست له لارې راغی، خو لږ، چې مخکې لاړ، وزیرو، داوړو او مسیدو پرې لار ترلې وه. بهادرشاه د لارې پر خلاصون بریالی نه شو، خو ځیرک پوځي قوماندان محمد نصیر خان یې د خبرو اترو او پخلاینې له لارې مرسته وکړه او په بریالیتوب سره یې تر بنو ورساوه. په بېرته ستنېدو کې بهادرشاه دا ځل د داوړو او خوست له لارې غزني او بیا کابل ته لاړ، خو په شواک دره کې د پښتنو

جنگياليو د بريدونو له امله دوې مياشتې پر لاره وځنډېد. د بهادرشاه تر تگ وروسته په بنو او داوړو کې ناصرخان له خلکو ماليې ټولې کړې او له خپلو ملگرو سره يوځای کابل ته لاړ. په بنو کې محمد افضل خان خټک هم تاب رانه وړ او لتمر ته لاړ.[15] مبارزخان گگړ بنو ته له راتگه انکار وکړ، ځکه هغه په تېرو ځلونو کې د سيمې له خلکو سختې ماتې خوړلې وې او ددې سيمې کنټرول ورته ستونزمن و. بنو او وزيرستان د ايراني نادر افشار تر راتگ پورې د بهرنيو يرغلگرو له يرغلونو په امن کې وو.

د مغولو پر وړاندې د مبارزې او ويښتابه لومړنی منظم غورځنگ په وزيرستان کې را وټوکېد. بايزيد روښان، چې د پښتنو له ورمړ قبيلې سره يې تړاو درلود، خپلې مبارزې د وزيرستان له کانيگروم سيمې پيل کړې. د کندهار په سفر کې پير روښان د مغولو درباري قوانين او پر پښتنو د هغوی ظلمونه ونه زغملای شول او په زړه کې يې د هغوی پر وړاندې د کرکې څپې راپورته شوې. بايزيد په خپل رياضتي ژوند کې د تفکر، پلان، عمل او له مغولو سره له څو اړخونو د مبارزې لار طرح کړه او له «شريعت» يې تر «مسکنت» پورې خپله نقشه و ابسته. هغه خپله بلنه او تلقين چارې له خپلې کورنۍ او شاوخوا خپلوانو پيل کړې.[16] بايزيد له خپلې طريقې پرته نورې ټولې لارې ناسمې وگڼلې او دغه انحصار په کانيگروم او وزيرستان کې د هغه پر وړاندې د نورو ديني عالمانو او خپل پلار قاضي عبدالله غبرگون را وپاراوه. پير روښان داوخت په داوړو کې د خپل تره زوی شيخ اسماعيل د ځايناستۍ له لارې ډېر نور مريدان موندلي وو او کله يې، چې له پلار او د سيمې له خلکو سره اختلاف اوج ته ورسېد، داوړو او وريسې بنو، بنگښو، اورکزيو، اپريديو، مومندو، داودزيو، خوږيانيو، يوسفزيو او ساپيو ته لاړ. هغه په دغو سيمو کې گڼ مريدان وموندل او نور د وزيرستان له قبيلوي دايرې راوتلی و. د خليلو د سيمې خانانو له بايزيد سره مخالفت درلود او د پېښور حاکم جانس خان او د کابل مغول والي مرزا حکيم ته يې دده د «گمراهۍ» شکايتونه وکړل، خو دواړو د ده پر وړاندې له اقدام کولو ډډه وکړه. بايزيد په خليلو، هشنغر او نورو سيمو کې له خانانو او ملکانو سره خيښۍ وکړې او په دې توگه يې په ولسونو کې خپلې ريښې لا ټينگې کړې. بايزيد



روښان د بلنې په موخه خپل شيخان او خليفه گان کابل، بدخشان، بلخ، بخارا، پنجاب، قصور، ډيلي او گڼو نور سيمو ته واستول او اکبرپاچا ته يې خپل ليکلی کتاب صراط التوحيد وليږه. اکبر پاچا په لومړي سر کې د بايزيد د استازي هرکلی وکړ، ځکه د مذهبي تعدد د نظريې پر بنسټ يې غوښتل دغه مذهبي لارښود له ځان نه خوښ وساتي. ويل کيږي په ١٥٨١ز کال کې له نوي ډيلي نه د کابل پر لور د روانې يوې سوداگريزې قافلې توکي د بايزيد مريدانو د اسانو تر پښو لاندې کړل او دې مسالې د کابل والي دې ته اړ کړ، چې د بايزيد د توی سيمې مريدان په خپل ٥٠٠ کسيز پوځ وځپي. دغه پوځ په لومړي بريد کې ماته وخوړه، خو په دويم بريد کې يې د توی قبيلې گڼې ښځې او ماشومان کابل ته د اسيرانو په توگه بوتلل. بايزيد له دې پېښې وروسته د کابل والي ته د بنديانو د خلاصون په تړاو يو گواښونکی ليک واستاوه، خو دغه ليک پر والي ښه ونه لگېد او د پېښور حاکم ته يې امر وکړ، چې بايزيد لاس تړلی ور ولي. د بايزيد او مغولو ترمنځ دا لومړنۍ جگړه او په سيمه کې د سياسي او پوځي نفوذ په موخه د ده لومړنی گام و. وروسته د بايزيد او مغولو ترمنځ د يوسفزيو گلپانې ته نږدې په شهبازگړۍ کې جگړه ونښته. په دې جگړه کې د پېښور د مغولي حاکم معصوم خان ځواکونو ماته وخوړه او بېرته پېښور ته وتښتېدل. بايزيد د جگړې پر ډگر د اغازپور نوم کېښود او په دې جگړه کې برخه وال ٣١٣ سرتېري يې اغازپوريان وبلل. هغه له دې جگړې وروسته د مغولو دښمن وگرځېد او په تيراه کې يې د اپريديو په مرسته گڼې سيمې ونيولې. له کابل نه يې مقابلې ته مغول چارواکی محسن خان راغی، خو له ماتې سره بېرته لاړ. څه وخت وروسته د بايزيد مريدانو په خيبر دره کې د بدخشان د والي مرزا سليمان پر کاروان بريد وکړ، خو مغولو يې په غبرگون کې له پېښور نه پوځ وغوښت او د دواړو خواوو ترمنځ سختې نښتې وشوې. مغولو په دې جگړه کې ماته وخوړه، خو په غچ اخستونکي دويم بريد کې يې روښانيان مات کړل. له دې جگړې وروسته پير روښان يوسفزيو ته لاړ او دلته له مغولو سره تر يوې سختې جگړې وروسته گرمۍ وواهه او د ٩٨٢هـ س کال په شاوخوا کې په حق ورسېد.

بايزيد د روښاني غورځنګ په اړانه کې په پښتنو کې د سياسي، فرهنګي او ټولنيزې بيدارۍ يو داسې فکري بنسټ کېښود، چې اغېزې يې تر اوسه هم جوتې دي. هغه د وزيرستان د نورو مذهبي او مبارزاتي مشرانو په څېر يوازې په وزيرستان کې پاتې نه شو، بلکې د پښتون ولس د بيدارۍ لپاره يې خپلې هڅې نورو پښتني سيمو ته هم پراخې کړې. د پير روښان تر مرګ وروسته، د هغه زوی شيخ عمر او د کورنۍ نورو غړو دده غورځنګ تر څو پيړيو جاري وساته. روښاني غورځنګ د خپل متنوع بنسټ له مخې په سياسي، مذهبي، فرهنګي او ټولنيزو برخو کې پراخ ګامونه واخستل او د لومړي ځل لپاره يې ښځو ته د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې پراخې ونډې ورکړې. دغه غورځنګ د پښتو الفبا، ادب، موسيقي او پښتني دود او کولتور په دود کېدو کې د يوې خورا رغندې او بډايې دورې رول ولوباوه.

وزيرستان د درانيانو او سيکانو دورې هم تجربه کړې دي. د احمدشاه بابا له واکمنېدو سره سم، بنو ته د هغه يو تن جنرال سردارخان راغی او وزيرستان د ابدالي واکمنانو ولکې ته ورغی. له دوی مخکې په ۱۷۳۸ز کال د نادرشاه پوځ پر هند د بريد لپاره له وزيرستان (داوړو) نه تېر شوی و او په دې سفر کې يې په بنو او داوړو کې خلک خورا ځورولي وو. لس کاله وروسته دې سيمې ته د احمدشاه بابا ځواکونه ننوتل او له همدې لارې په کالاباغ کې له اباسين تېر شول. د احمدشاه بابا پر وړاندې د وزيرستان د خلکو چلند دوستانه او د هغه د رعيت په ډول و. احمدشاهي ځواکونو دلته ميشت ګګړ، چې د هند په حکومت پورې تړلي وو، د اباسين له څنډو وشړل. دغو ځواکونو په بنو کې د معظم نګر په نامه يو ښار اباد کړ او تر اويا کلونو پورې دلته د درانيانو واک چلېده. د ابداليانو په واکمني کې لومړی کس سپهسالار سردارجهان خان و، چې په ۱۷۴۹ کال د شمالي وزيرستان د داوړو له لارې بنو ته لاړ. هغه دلته د بازار احمد خان د ملک شاه بزرګ له لور سره واده وکړ او پر خلکو يې کلنۍ ماليې وضع کړې. تاريخي اسناد ښيي، چې د احمدشاه بابا په وخت کې مسيدو او وزيرو د هغه د لښکرو پر وړاندې مقاومت ونه کړ. دغه واقعيت له دې مسالې هم را برسېره کيږي، چې د ابدالي پاچا د لښکرو ګڼ



سرتېري مسيد او وزير وو. پر ۱۷۶۰ ميلادي کال احمدشاه بابا په وزيرستان کې د سرشمېرنې چارې بشپړې کړې او په پايله کې يې ثابته شوه، چې ۶۰ زره وزير، ۱۸ زره مسيد او ۱۲ زره بيټني او داوړ دي. يو شمېر کسان دغه سرشمېرنه يوازې په جنګي سرتېرو (مېړو ) پورې تړلې ګڼي، چې ۳۰ زره ته اتمانزي او ۳۰ زره احمدزي وزير ول، دغه راز ۱۸ زره جنګيالي مسيدو ورکړي وو او پاتې ۱۲۰۰۰نور داوړ او بېټني وو. دغه وېش اوس هم په وزيرستان کې د وزيرو او مسيدو ټبرونو د نارسمي سرشمېرنې لپاره کاريږي.

احمدشاه بابا د خپلې واکمنۍ په وخت کې بنو (او وزيرستان) ته دوه ځله په ۱۷۴۹ ميلادي او ۱۷۵۳ ميلادي (۱۱۶۶ او ۱۱۷۳هجري) کلونو کې سفرونه کړي دي. د سيمې خلکو له احمدشاه بابا سره ښه اړيکي درلودل او د هغه يې خورا درناوی کاوه.[۱۷] د ابدالي واکمنۍ نور واکمنان تيمورشاه، شاه زمان، شاه محمود، وزير فتح خان، سردار محمد عظيم، شيردل خان او په ۱۲۳۶ هجري کال يارمحمد خان بارکزی هم دې سيمې ته راغلي، خو هيڅ يې پر وړاندې بغاوت نه دی کړی. د ابدالي واکمنۍ پر وخت تيمورشاه په توچي کې يو شمېر وزير له دې امله غوړتاو کړي وو، چې ددوی يو کاروان يې لوټلی و.

په ۱۷۷۳ ميلادي کال د احمدشاه بابا له مړينې وروسته، د وزيرستان پر لور تر بنو پورې د سېکانو لشکرکشۍ پيل شوې. سکان د لومړي ځل لپاره پر ۱۸۱۹ز کال له لاهور نه د عيسی خېلو پر لار د مهاراجه رنجيت سنګ تر قوماندې لاندې بنو ته راغلل او تر ۲۷ کلونو پورې په دې سيمه کې پاتې شول. په دې ټولو کلونو کې وزير، بنوڅي، مروت او عيسی خېل له سيکانو سره په جګړه کې بوخت ول، خو تر پايه يې د وزيرستان پر لور د پرمختګ جرات ونه کړ. په ۱۸۳۲ ز کال ګنډاسنګ او فتح خان ټوانه، دې سيمې ته راغلل. په ۱۸۳۴ز کال کنورنهال سنګ او راجا سوچيت سنګ راغلل او په سيمه کې يې پر خلکو سخت ظلمونه وکړل. دوی په ۱۸۳۸ز کال هم بنو او شمالي وزيرستان ته راغلل او په سيمه کې يې د غوښې پر خرخلاو بنديز ولګاوه. دا وخت هيڅا غوښه، په ځانګړې

توګه د غویانو غوبنه نه شوای خوړلای. سوچیت سنګ د غوا د حلالولو له امله د کوټکي اللّٰه داد (سوراني) سیمې شاوخوا څلورسوه تنه شهیدان کړل.[۱۸] نونهال او راجه سوچیت سېنګ د خلکو له سرونو مینارونه جوړ کړل، خو خلکو ددوی ددغو ظلمونو او وحشت پر وړاندې د تسلیمۍ غاړه کېښنبوده.

د ۱۸۳۸ ز کال د جون پر ۲۵مه انګریز استازي لارډ اوکلنډ د یوې طرحې له مخې د شاه شجاع او رنجیت سېنګ ترمنځ د دوستۍ او ملګرتیا یو داسې تړون لاسلیک کړ، چې د لومړۍ مادې پر بنسټ یې کشمیر، اټک، چیچ، هزاره، امب، پیښور، د یوسفزیو سیمې، خټک، اشنغر، میچنۍ، کوهاټ، هنګو، بنو، داوړ (د وزیرستان یوه برخه)، ټانک، کالاباغ، خوشالګړ، دیره اسماعیل خان، دیره غازي خان او ملتان سیمې سیکانو ته پرېښودې. دا په سیمه کې د برېټانیا د نفوذ او پرمختګ پالیسۍ لومړنی ګام و، څکه برېټانیایان پوهېدل، چې د سېکانو سیاسي او پوځي زور په ویلي کېدو دی او داسیمې په راتلونکي کې عملا دوی ته پاتې کیږي. د داودشاه تپې مشر ملک دل اساخان له خپلې کلا څخه د سکانو پر ضد کلک ټینګاو وکړ او دوه سوه سکان یې له تېغه تېر کړل. بنو ته د سکانو په نتوتلو سره وزیرو او بنوڅیانو خپلمنځي شخړې پرځای پرېښودې او د سیکانو پر وړاندې یې د مبارزې ګډه جبهه پرانېسته. په سر کې بنوڅیو فکر کاوه، چې هغوی د کم وخت لپاره راغلي، خو کله یې، چې اهداف روښانه شول، مبارزانو پرې خپل بریدونه پیل کړل.

په ۱۸۴۰ ز کال کې مسیدو پر ټانک برید وکړ او یو شمېر سېک پلوه اهداف یې په نښه کړل. په ۱۸۴۲ او ۴۳ کلونو کې عیسی خېلو، نواب احمدخان او دلاساخان پر سیکانو او د هغوی پر یوې امنیتي حوزې سخت بریدونه وکړل. کله، چې دلاساخان د سیک قوماندانانو کنور کړک سینګ او سردار فتح سنګ پر وړاندې کمزوری شو، د وزیرستان له خلکو یې مرسته وغوښته. د وزیرستان خلکو د دلاساخان مرستې ته ودانګل، خو په دې کار سیکان سخت غوسه شول او پر حیدرخېلو، ملاګان او ایپي کلیو د برید



په هوډ یې وزیرستان ته د دیون تره چند تر مشرۍ لاندې پوځیان واستول، خو ډېر ژر پر لاره تر بریدونو لاندې راغلل او تر ګڼو زیانونو او مرګ ژوبلې وروسته بنو ته وتښتېدل. داوړو د سیکانو پر پوځي مرکزونو، قشلو او پوستو د دلاساخان تر مشرۍ لاندې بریدونه جاري وساتل. په ۱۸۴۴ میلادي کال کې د رام سنګ تر مشرۍ لاندې د سیکانو یو زر کسیز لښکر د توچي پر لور راووت، خو کله، چې د ټپي سیمې ته ورسېد، د قاسم خان او ګل بندخان ترمشرۍ لاندې د وزیرو او داوړو تر بریدونو لاندې راغی.[۱۹]سیکانو ماته وخوړه او داوړو ته ګڼې جارحه وسلې او نور توکي د غنیمت په توګه په لاس ورغلل. له دې برید وروسته سیکانو بیا جرات ونه کړ، چې د توچي او وزیرستان پر لور لشکرې وباسي. په ۱۸۴۴ز کال جنرال کوردت سنګ او اوګنت ترای او دیولیهای دې سیمې ته راغلل، خو له خلکو سره ددوی چلند د نورو سیکانو په پرتله متفاوت و او ددې یو لامل داو، چې دوی په خپلو تېرو دورو کې په دې وپوهېدل، چې د وزیرستان او بنو سیمې په زور نه شي ایلولای. سیکانو خپل زور یوازې تر ډېره اسماعیل خان، بنو او ټانک پورې محدود وساته، خو له داوړو پرته نور وزیرستان ته پورې نه وتل.

پر ۱۸۳۹ ز کال د رنجیت سنګ تر مړینې وروسته، د سېکانو حکومت کمزوری شو او په ۱۸۴۶ز کال یې د انګریزانو په لاس ماته وخوړه. دا وخت په پنجاب کې د انګریزانو سیمه ییز استازی هنري لارنس او د رنجیت سېنګ زوی دلیپ سنګ د پنجاب والي و، خو واک د انګریزانو په لاس کې و. سېکانو په ۱۸۴۶ز کال په لاهور کې له انګریز استازو کاړلنډ او تورن ایډوارډ سره یو داسې تړون لاسلیک کړ، چې له مخې یې بنو د برېټانیایانو تر ولکې لاندې راغی. ایډوارډ له دلیپ سنګ سره یوځای د ۱۸۴۷ز کال په فبروري میاشت کې بنو ته راغی، څکه هنري لارنس سپارښتنه کړې وه، چې له بنوڅیو او داوړو نه مالیې ورټولې کړي. هغوی د ۱۸۴۷ کال د مارچ پر ۱۵مه بنو ته لاړل او د سفر موخه یې له سېک دربار سره د بنو او وزیرستان تړل و. کله، چې تورن ایډوارډ په بنو کې خپل ځان ټینګ کړ، توچي کلي ته یې لاسونه وغځول. د داوړو له قبیلې نه یې د معلوماتو په موخه هلته سیکان او هندو مذهبیان د جاسوسانو په توګه وګومارل. تورن

ایډوارډ د سیمې د کلیو نفوس، د جنګیالیو، مهماتو او نورو څیزونو په اړه خپل ټول معلومات بشپړ کړل. اوس د ایډوارډ لومړی کار له دلاسه خان سره خبرې اترې وې، خو سره له دې، چې دغه مبارز له ځوانۍ غورځېدلی و، د انګریزانو او سیکانو ملګرتیا یې ونه منله. ایډوارډ وروسته د وزیرستان داوړو ته ورغی، خو په لاره کې یې ولیدل، چې هر کور ځانګړې کلاوې لرې او دا کلاوې هره یوه د انګریز پر وړاندې د جګړې سنګر و. ایډوارډ د سیمه ییزو ملکانو او یو شمېر ملایانو په مرسته ۴۰۰ کلاوې ونړولې. دا کلاوې له ۲۵ کلونو راهیسې په بنو کې ولاړې وې. ایډوارډ امر وکړ، چې ملکان دې خپلې کلاوې پخپله په ۱۵ ورځو کې ټیټې کړي. ایډوارد لومړی هغه کلاوې ړنګې کړې، چې لرې پرتې وې، وروسته نور خلک هم اړ شول، چې د کلاوو لوړ دیوالونه ونړوي. هغه دا کار ددې لپاره کاوه، چې دغه کلاوې د انګریزانو پر وړاندې د مقاومت پیاوړي مورچلونه وو. وروسته یې د سیمې سروې وکړه او په کوټکي او بریړه کې یې د کلا او چاونۍ لپاره ځای وټاکه. ورپسې یې د بنو ښار هم ورغاوه. له دې مخکې د سیمې اصلي بازار احمدخان و. ایډوارډ دغه ښار ایډوارډ اباد ونوماوه او سیمه ییز هندوان یې پکې میشت کړل، خو دغه نوم د سیمې خلکو ونه مانه.[20]

ایډوارډ د ملک سوهان خان وزیر او یو شمېر نورو ملکانو په مرسته په ګیمبتي کې پوځي مرکز ورغاوه او ده او یو شمېر نورو ملاتړو ملکانو ته یې سرې سر معاش ورکاوه. په مې میاشت کې وین کوراټلسن د ډېره اسماعیل خان حاکم شو او بنو، مروت، عیسی خېل، ټانک، درابن او دیره فتح خان سیمې یې په دیره اسماعیل خان پورې وتړلې.[21] د ۱۸۴۷ کال د فبروري میاشتې په پای کې په ملتان کې د وانزاګینو او اندرسن وژنو د دیوان ملراج په مشرۍ سیک پوځیان را وپارول. ایډوارډ، تورن رنل جورج ټیلر ته دنده وسپارله، چې د دیوان ملراج بلوا کراره کړي. هغه خپل یو سرتېری فتح خان ټوانه د دلیپ ګړ امر وټاکه او پخپله د ملتان د حاکم د مرستې په موخه ملتان ته لاړ. سیکان، چې په دلیپ ګړ کې د ملتان له بلواوو خبر شول، دلته یې د فتح خان ټوانه پر وړاندې پاڅون وکړ. ټوانه لس ورځې له خپلو مسلمانو سرتېرو سره د هغوی پر وړاندې وجنګېد،



خو کله یې، چې غلې دانې او اوبه ختمې شوې، د کلا دروازې یې پرانېستې او په مخامخ جګړه کې ووژل شو. سېکانو په کلا کې ټول توکي چور کړل او څو سیمه ییز مشران یې د بندیانو په توګه له ځانونو سره د جهلم جګړې ته یووړل.

د سکانو افسر رام سنګ کلا میرعلم خان ته پرېښوده. میرعلم ( په غالب ګومان په بنو کې د خوست میشتي منګل ټبر یو مشر و) په خوست کې د امیر دوست محمد خان زوی سردار محمد اعظم خان ته پر بنو د برید بلنه ورکړه او بنو د افغان امیر تر واک لاندې راغی. د ۱۸۴۹ز کال د فبروري پر ۲۱مه د ګجرات د سېکانو له ماتې وروسته دغه کلا بېرته د انګریزانو لاس ته ورغله او د محمد اعظم خان ملګري جلا وطنه شول.د ۱۸۴۷ کال په ډسمبر کې، چې سیمه ییز انګریز چارواکی جنرال وین کوټ لنډټ بنو ته راغی او د مالیې راټولولو چارې یې پیل کړې، د وزیرو لوی ملک سوهان خان د جنرال وین کوټ لنډټ پر دې چارې نیوکې وکړې او د مالیې له ورکولو یې ډډه وکړه. لنډټ د ملک سوهان اعتراض د ډسمبر میاشتې پر ۱۱مه د لاهور مرستیال حاکم هربرټ اډوارډز ته ورساوه او هغه د وزیرو د ویرولو په موخه د یوې اعلامیې په ترڅ کې څو داسې ټکي په ډاګه کړل، چې سوهان خان او هلته میشت یو شمېر وزیر یې زړه نازړه منلو ته چمتو کړل. په دې اعلامیه کې، چې د ډسمبر پر ۱۷مه نېټه په بنو او شاوخوا سیمو کې خپره شوه، وزیرو ته یادونه شوې وه، چې د بنوڅیو سیمې یې په زور نیولې، خو اوس دلته د انګریزانو قانون پلی کیږي، ځمکې جریب کیږي او د هغوی اصلي څښتنان به پېژندل کیږي. وزیرو ته په دې اعلامیه کې په ډاګه شوې، چې له هغوی نه په خپله سیمه کې دمګړی مالیه نه اخستل کیږي، خو که په بنو کې اوسیږي بیا مکلف دي، چې ددې سیمې قانون ومني. په دې اعلامیه کې یو خبرداری داهم و، چې که څوک مالیې نه ورکوي، ځمکې به ترې اخستل کیږي او له سیمې به شړل کیږي.

انګریزانو د ۱۸۴۹ میلادي کال په مارچ کې د بنو ټولې حکومتي چارې په لاس کې واخستې. دغه مهال د وزیرستان ټولې قبیلې د کابل له حکومت سره تړلې وې. په سیمه کې میشتو وزیرو د انګریزانو پر وړاندې مبارزه جاري وساتله. په بنو کې د مرستیال

کمشنر په توګه د نکلسن له ګومارنې سره مل د انګریزانو پر ضد ولسي مبارزې چټکې شوې. د بنو چاونۍ او ګمبیټي پوځي کمپ هغه دوه مرکزونه وو، چې وخت ناوخت پرې وزیرو او داوړو بریدونه کول. په وزیرستان او ورڅېرمه سیمو کې له انګریز سره لومړنۍ مشهوره جګړه په ۱۸۵۰ ز کال پر ګمبیټي کمپ برید و، چې د یوه جګپوړي انګریز منصبوال ډونلډ په ګډون پکې ګڼ پوځیان ووژل شول. په دې جګړه کې ۹۳ مبارزان وژل شوي وو او انګریزانو د خپلو مړو په غچ کې د وزیرو ۱۴۵ کورونه وسوځول.

برېټانیایي ځواکونه په ۱۸۹۴ کال د شمالي وزیرستان خاورې ته ننوتل.

دغو ځواکونو په دې سیمه کې د شمالي وزیرستان ټېرونو ته د ځمکو د وېش او نورو ځمکنیو مسایلو په تړاو یوه کړنلاره و اېستله او دا تر ۱۹۱۰ کال پورې، چې شمالي وزیرستان د یوې بیلې ایجنسۍ په توګه اعلان شو، عملي کېده.

له برېټانیایي هند سره د پنجاب تر الحاق وروسته، د وزیرستان د خلکو او برېټانیایي سرکار ترمنځ لومړنۍ شخړې عمرزیو، درویش خېلو وزیرو پیل کړې. دغه شخړې د یوه بنوځي افسر له خوا د وزیرو له قبیلو نه د ځمکې دحاصلاتو پر سر د مالیې د راټولولو له امله پیل شوې. په ۱۸۵۰ ز کال کې د احمدزي وزیرو ۱۵۰۰ تنو جنګیالیو د بنو شمال پلو په ګمبیټي کې د برېټانیایي ځواکونو پر پوستې بریدونه وکړل.[۲۲] په همدې وخت کې عمرزي له مسیدو او وزیرو سره یوځای شول او پر بنو یې د برید لپاره په زرګونو کسان راټول کړل، خو د برېټانیایي ځواکونو له کلکې دفاع سره مخ شول.

په ۱۸۵۱ او ۵۲ کلونو کې هم وزیرو په پرله پسې توګه په ګمبیټي کې هره ورځ د برېټانیا پر پوځي پوستو بریدونه کول. انګریزي چارواکو کوښښ کاوه، چې له سیمه ییزو خلکو سره سولې او جوړجاړي ته ورسیږي، په همدې موخه یې دوی ته د ځمکو او نورو امتیازاتو وړاندیزونه وکړل، خو وزیرو دا هرڅه رد کړل او انګریزان هم اړ شول، چې پر خپلو پوستو د وزیرستاني مبارزانو د بریدونو د مخنیوي لپاره تصفیوي عملیات وکړي. د انګریز له عملیاتو مخکې جنوبي عمرزیو، چې د توچي سیند او ګبر غرونو ترمنځ اوسیږي، د کورمې له لارې یوځل بیا پر برېټانیایي اهدافو بریدونه وکړل. د ۱۸۵۲ ز کال په ډسمبر کې



د بنو مرستیال کمشنر جګړن جان نیکلسن له جوړجاړي نهیلی شو او هوډ یې وکړ، چې د سیمې خلک د زور او ټوپک له لارې د ځان تابع وګرځوي. جان نیکلسن خپل «تنبیهي ځواک» پر دریو ډلګیو ووېشه. لومړۍ ډلګۍ د پنجاب دویم پلی ځواک و، چې د ډسمبر پر شلمه نېټه د شپې لس بجې له بنو ووته او د ګمبیټي غاښې پر لور لاړه او پر خېړې او ګړنګ په نښه شویو سیمو یې تر سهاره بریدونه وکړل. دلته دواړه کلي له منځه یووړل شول او دویمه ډله د کورمې سیند له لارې له لومړۍ هغې سره یوځای شوه. دوی، چې شمېر یې ۵۵۰ تنه و، د جګړن نیکلسن تر مشرۍ لاندې له لتمبر نه پر خېړې او برګنتو ورغلل. دریمه ډلګۍ، چې ۴۰ سرتېري پکې د پنجاب د سپرو پولیسو او ۴۰۰ پکې د پنجاب پولیسو د شپږم کنډک ګرځند پولیس ول، د خیسوره د شمال او سین غاښې له لارې پر عمرزیو را وګرځېدل، کلي یې ټول وران کړل او څاروي یې له ځانونو سره یووړل. دغه ځواکونه د ډسمبر پر ۲۲مه بېرته د کورمې له لارې بنو ته لاړل. انګریزانو په دغو عملیاتو کې عمرزي سخت وځپل، که څه هم هغوی د عمرزیو د بشپړې تسلیمې ادعا کوي، خو سیمه ییزو قبیلو لا هم پر انګریزانو خپل بریدونه کول.[۲۳]

د ۱۸۵۰ کال په اکتوبر او جون میاشتو کې کابل خېلو وزیرو هم د یو شمېر خټکو په ملګرۍ په بهادرخېلو او نورو سیمو کې د انګریزانو پر میشتو کمپنیو او پوځیانو بریدونه کول. د رسمي شمېرو له مخې، په ۱۸۵۱ ز او وروستیو دوو نورو کلونو کې عمرزیو خپل بریدونه منظم کړل او پر انګریزي پوستو یې ۱۹ ځله شخې وکړې. په دغو شخو او جګړو کې د برېټانیا د سپاره نظام ډېر سرتېري او اسان ووژل شول او یو شمېر وسلې یې د وزیرو لاس ته ورغلې. د ۱۸۵۹ کال د نومبر پر پنځمه د احمدزیو وزیرو د هادي خېلو ښاخ دوو زلمیانو محبت خان او زنګي خان او یوه مداخېل غلام خان د لتمبر او ډومیل ترمنځ په چنغوسي لګډ کې د برېټانیایي ځواکونو د یوې ډلګۍ کپتان« رابرټ ریچارډ مچم » وواژه او په کابل خېلو کې یې پناه واخسته. په ډسمبر میاشت کې انګریز ځواکونو د وژونکو د تعقیب په موخه یو څلور زره کسیز ځواک جوړ کړ او له کوهاټ نه د توی پر لور رهي شول. د ډسمبر پر ۱۹ مه د بنګښو او خټکو د لواګانو سرتېري هم ورسره یوځای شول او

ټول شمېر یې ۵۴۰۰ تنه و. دغه ځواک د ډګرجنرال اېن، بي چمبر لین په مشرۍ د ډسمبر پر شلمه له کورمې سیند پورې وت او په خوست کې یې د افغان چارواکي حسن خان د اجازې په تمه په بلند خېلو کې خیمې ووهلې. بلند خېل دا مهال د افغان حکومت تر ولکي لاندې وو. کابل خېلو خپل د سر سړي او مېړونه ټول د میداني غره ستراتیژیکو نقطو ته خېژولي وو او مورچې یې نیولې وې. ددوی شمېر شاوخوا ۲۰۰۰ تنه اټکل کېده. داسې پرېکړه شوې وه، چې دغه برید د وزیرو مبارزانو له لښکر سره د نورو قبیلو له یوځای کېدو یا د سیمې له تخلیې او تیاري مخکې ترسره شي.د ډسمبر پر ۲۲مه شپږ بجې سهار د سکانو څلورم نمبر پلی نظام، چې له سېکانو تشکیل شوی و، د پنجاب لومړی، درېیم او څلورم پلی نظام د ګنده اوبه پرلور وخوځېدل. مبارزانو د میداني په زخه تنګي کې د انګریز ځواکونو د ورتګ لاره څارله، دوی هلته خپل وسله وال کسان او مدافعان ځای پرځای کړي وو، خو په ګنده اوبه کې یې دفاعي نظام کمزوری و. انګریزي ځواکونه د مبارزانو له سخت مقاومت وروسته اړ وتل، چې د درندې مرګ ژوبلې په زغملو سره بېرته خپل کمپ ته ستانه شي.[٢٤] په دې سیمه کې وزیرو په غره کې مورچې نیولې وې او انګریزانو ته یې ډېر زیان په تیرو او خړتیو رسولی و. پر دویمه ورځ انګریزي لښکرې بیا د وژونکو په تعقیب پسې راووتې، د ځواکونو ډېره برخه میداني ته را وګرځېده او زخه ته څېرمه کلي پر لور لاړل. د درناني کلي پر لور له درې پورې وتل او دلته یې شپه تېره کړه. د کابل خېلو ډېر توکي او د هغوی د کورونو وسایل او امکانات یې لوټ کړل. د ډسمبر پر ۲۹مه انګریز ځواکونه د سپین وام پر لور لاړل او له بلندخېلو سره د سیند پر غاړو میشت شول. کابل خېلو له ډېرو شخړو وروسته محبت خان هاتي خېل ور وسپاره او دوی بېرته راستانه شول.

د نوي کال د جنوري میاشتې پر څلورمه دوه ډلګۍ سرتېري او یو غرنۍ ذخیره ځواک له خلکو سره د اړیکو او خبرو اترو د دوام په موخه د کورمې سیند په ښۍ غاړه کې پاتې شول او نور هغه یې ستانه شول.[٢٥] د انګریز ځواکونو پر وړاندې په سیمه کې ډېر مقاومت ونه شو، ځکه ملکانو د خبرو اترو په پایله کې ژمنه کړې وه، چې د وژونکو په



نیولو کې به له دوی سره همکاري کوي. محبت خان، چې د انګریز قوماندان ډګروال راینل ټایلر، د بنو د کمشنر او قبایلي وګړو په مرسته نیول شوی و، وروسته یې په هغه ځای کې پر دار را وځړاوه، چې نوموړي یو انګریز افسر « رابرټ ریچارډ مچم » پکې وژلی و. په شفاهي تاریخ کې یو روایت دادی، چې پاتې دوه مبارزان د انګریز پوځ له بریدونو وروسته له کابل خېلو نه لاړل او د مسیدو په سیمه کې له نورو مبارزانو سره یوځای شول، ځکه وروسته پر ۱۸۶۱کال، چې انګریز له مسیدو سره کوم تړونونه لاسلیک کړي، په هغو کې یې یو شرط دا وړاندې کړی، چې د مسیدو درېواړه ښاخونه ( علیزي، بهلول زي او شمن خېل) به د کپتان مچم وژونکو ته پناه نه ورکوي، خو تاریخي اسناد ښیي، چې زنګي خان له مېرمنې او بچیانو سره یوځای د جنګي خان منزي په مشرۍ د مسیدو د یوې قومي جرګې د پرېکړې په پایله کې، له خپلې کورنۍ سره یوځای په مسیدو کې پناه واخسته.[٢٦]

په ۱۸۶۹ کال کې د کورمې تنګی د محمد خېلو وزیرو تر واک لاندې و. دوی له انګریزانو نه په هره برخه کې باج غوښت او د مسیدو او بنوڅیو د سرتېرو په مرسته یې د انګریزانو پر پوستو او اهدافو بریدونه کول. ددوی ستراتیژیک موقعیت او په غرنیو سیمو کې استوګنې له انګریزانو نه د هغوی پر وړاندې د غبرګون فرصت اخستی و.

په ۱۸۷۰ز کال کې د کورمې له تنګي دوه میله لرې د محمدخېلو او مسیدو ډلې د ګنګا په نامه یو هندو د مسیدو سیمې ته وتښتاوه. تښتوونکو ددغه برمته کس د خلاصون په بدل کې له انګریزانو پیسې وغوښتې. قومې جرګو ګټه ونه کړه او انګریزانو د محمد خېلو څلور تنه مشهور کسان ونیول. محمدخېل اړ وتل، چې ګنګا د هغه د تښتونې پر ۱۲مه ورځ انګریزانو ته وسپاري. محمدخېلو پر انګریزي چاونۍ اوبه بندې کړې او د اوبو مخه یې د خپلو ځمکو پر لور وګرځوله. انګریزانو ددوی پر وړاندې غبرګون ونښود او بېرته یې اوبه ور وګرځولې. د جون تر ۱۱مې پورې د محمدخېلو ډېرې کورنۍ د اوړي باندېو ته لاړې او یوازې دېرش کورنۍ یې پاتې وې. سیمه ییزو خلکو او بنوڅیو داسې فکر کاوه، چې محمدخېل له وخت مخکې د اوړي باندېو ته لاړل او دوی خامخا د انګریزانو پر

ضد د بلوا هوډ لري. د جولای پر لسمه انگریزانو د محمدخېلو سیمې ته خپل ځري واستول او دوه ورځې وروسته یې خبر ور وړ، چې هغوی د کورمې شل کسیزه پوسته نیسي. د محمدامان په مشرۍ د محمدخېلو سرتېري د کورمې له نوې پوستې نه نیم میل لرې د سړک پر دواړو غاړو ځای پرځای شول. دوی په خپل لومړني برید کې د انگریزانو اووه سپاهیان مړه او درې نور ټپیان کړل، وروسته یې وسلې ترې واخستې او د غره پر لور وختل. له دغه برید وروسته، هاتي خېلو او سپېرکي وزیرو ، چې په خپلو کې په دښمنۍ بوخت وو، شخصي شخړې پرېښودې او د محمدخېلو ملاتړ ته یې ودانگل، خو انگریزانو له ځیرکۍ کار واخست او دوی دواړې قبیلې یې بېرته په خپلو کې سره واچولې. هاتي خېلو له خپلو ۸۰۰ مېړو سره د انگریزانو غاړه واخسته او نور وزیر هم د محمد خېلو له ملاتړه لاس اخستنې ته اړ شول. اتمانزیو او احمدزیو وزیرو په پټه ددوی ملاتړ کاوه، ځکه خو دوی تر ډېره وخته په جلاوطنۍ کې د انگریزانو په مخالفه جبهه کې پاتې شول. په بنو او شاوخوا سیمو کې هغوی ته د سیمې او د انگریزانو د تحرکاتو په اړه سیمه ییزو وزیرو او بنوڅیو معلومات ورکول او دوی په خورا تاکتیک د انگریزانو گټې په نښه کولې.

محمدخېلو او مسیدو په یوه برید کې د بشیر په نامه د هغه ملا پر کور برید وکړ، چې د انگریزانو د پښتو ژبې استاد و او د مرستیال کمشنر په اجازه هلته په چاونۍ کې ورسره اوسېده. په دغه برید کې د ده د کورنۍ پنځه تنه ووژل شول، خو ملا ځان تر کټ لاندې پټ کړی و. د ۱۸۷۱ز کال د سپټمبر پر شلمه محمدخېل له ۱۵ میاشتنۍ جلاوطنۍ وروسته بنو ته را کوز شول او د اووه زره هندي روپیو ناغې او شپږو مشرانو په یرغمل ورکولو سره دوی بېرته خپلې مصادره شوې ځمکې واخستې.[۲۷] ددوی دوه تنه مشران په زندان کې مړه شول او څلور نور یې پر ۱۸۷۲ز کال وایسرای وبښل. له دوی وروسته بیزن خېل او عمرزي وزیر هم ناغه شول. درویش خېل وزیر تر ۱۸۷۸ کال پورې له مسیدو سره د ځمکې پر سر په شخړه کې بوخت وو او انگریز ته یې ډېر گواښ نه پېښاوه. په افغانستان کې له جگړې سره سم، دلته د توی او بنو ترمنځ انگریزانو یوه لاره پرانېسته،



چې د اتمانزیو او احمدزیو وزیرو پر خپلواکې سیمې وتله. انگریزانو په ژمي کې خپل ډېری اکمالات او وسلې له همدې لارې انتقالول او په دې چاره کې به یې د وزیرو له اوښانو گټه پورته کوله. انگریزانو د احمدزي او اتمانزي وزیرو یو شمېر مشرانو ته د دې چارې په بدل کې ۱۰۰۰ هندۍ کلدارې ورکولې. دا چاره تر ۱۸۸۰ کال پورې پرمخ لاړه، خو په همدغه وخت کې د ملامحی الدین ادیکړ په نامه یوه بانفوذه ملا پر انگریزي انتقالاتو دغه لاره تنگه کړه. ادیکړ د خوست اوسېدونکی و، چې د شمالي وزیرستان په داوړو کې اوسېده.

د بنو کورمې یا بنو ټل لاره تر یوڅه وخته له بریدونو سره مل پرانستې وه او انگریزانو پرې خپل اکمالات کول، خو توی ته نږدې د توریو پر کاروان او د یوه پوځي کمپ پر مزدورانو د مسیدو، درویش خېل وزیرو او داوړو له برید وروسته دغه لاره وتړل شوه. څو اوونۍ وروسته، د مې د لومړۍ او دویمې نېټې ترمنځ د شپې له مهاله د درویش خېلو، مسېدو او داوړو یوې دوه سوه کسیزې ډلې په څېري کې د انگریزانو پر پوځي کمپ برید وکړ. دغه کمپ له توی سیمې اته میله لرې پروت و. ددوی په جنگیالیو کې پنځوس تنه نیزه ویشتونکي او دېرش تنه تورزن وو. د ۱۸۸۰ز کال د جنوري په وروستیو کې د ملا محی الدین ادیکړ کسانو د انگریزانو پر یوه کتار، پر لیبر کمپ، باران کلا او څېري څوکۍ بېلابېل بریدونه وکړل.[۲۸]

د ۱۸۸۰ کال تر اکتوبر پورې پر کابل خېلو او ملکشي وزیرو د هغوی د جرمونو له امله ډېرې ناغې لگېدلې وې. هغوی انگریز سرکار ته دغه ناغې نه ورکولې. انگریزځواکونه د اکتوبر پر شلمه نېټه د ډگر جنرال جې جې ایچ گورډن تر مشرۍ لاندې د کابل خېلو غرونو ته ننوتل. له جنرال گورډن سره د اتم شاهي ځواک دوه توپخانې، د ۸۵ ډلگۍ ۲۵۰ سرتېري او د بنگال د سپرو ډلگۍ او پنجاب پلې ډلگۍ پنځه سوه سرتېري ملگري ول. ددغو ځواکونو د عملیاتو هدف دا و، چې په سیمه کې د ملکشي وزیرو سړي او څاروي له ځانونو سره یوسي او تر هغه یې له ځان سره وساتي، چې د سرکار ناغې ته غاړه کښېږدي. د انگریز ځواکونو له ور رسېدو مخکې ملکشي اکثریت له خپلو څارویو سره د

غرونو څوکو ته وتلي وو او مورچې يې نيولې وې. د انګريز ځواکونو پوځيان د شپې تر نهو بجو پاتې او د ملکشي وزيرو په بېلابېلو سيمو کې درې خواوو ته سره خواره شول. دوی ۲۰۰۰ څاروي او ۱۰۹ تنه سيمه ييز وګړي له ځانونو سره واخستل او د مې پر ۲۸مه بېرته توی ته لاړل. وروسته د دواړو خواوو ترمنځ جرګه وشوه او په پايله کې يې ملکشي وزيرو د جرمانې يوه برخه ورکړه.[۲۹]

کپتان پريډي ګيسټ د مسيدو او وزيرو د جګړه ييزو تاکتيکونو په اړه وايي: *«موږ ته امر وشو، چې د نښې ويشتنې نښه تمرين وکړئ، ځکه تاسې د نړۍ له لومړۍ درجه جنګيالي نسل سره جنګيږئ. زموږ جګړه له وزيرو او مسيدو قبيلو سره وه. له دوی سره د وخت تر ټولو خطرناک چړه يي ټوپک وو. موږ د ګڼو سرتېرو په وجود کې د چړه يي ټوپکو نښې ليدلې وې. له همدې امله د هرکس په زړه کې له دې وسلې وېره وه. يوځل ۲۲تنه پوځيان د اوبو په لټه پسې ووتل، خو ۱۶تنه يې له وسلو پرته په ټرهېدلو څېرو بېر ته راغلل. هغوی ويل، چې په تنګ ګاټي کې پر دوی بريد وشو او په يوه وار يې شپږ تنه ترې ووژل. شاته مو، چې وکتل ۱۵ او ۲۰ ښځو په لاسونو کې چړه يي ټوپک نيولي وو».*

دریم څپرکی

# د مشرۍ او مبارزو محور

د وزيرستان تاريخ د مسيدو او وزيرو په ګډو مشريو او مبارزو ولاړ دی.

کله، چې د «مسيد» تر مشرتابه لاندې مبارزه پيل شوې، په وزير ميشتو سيمو کې يې پر وړاندې موازي مشرتابه د راپورته کېدو اړتيا نه ده انګيرلې او کله، چې مشرۍ له « وزيرو» سرچينه اخستې، په مسيدو کې يې پر وړاندې د متوازي حرکت هڅه نه ده شوې. په قبيلوي نزاکتونو ولاړ دغه دوديز سيستم په وزيرستان کې د مبارزو د دوه قطبي توب مخه نيولې او د مبارزې په ډګر کې يې د قبيلوي جوړښتونو او سياسي او مبارزوي دريځ يووالی ساتلی دی.

د شلمې پېړۍ په لومړۍ يوه نيمه لسيزه کې ملا پيونده مسيد د ټول وزيرستان د مبارزو سرلاری و، خو د هغه له مرګ ۲۲ کاله وروسته وزيرستان په دې بريالی شو، چې په وزيرو کې د ايپي فقير په نوم يو بل سرلاری او مخکښ ومومي. د تاريخ په اوږدو کې مسيدو او وزيرو دا ثابته کړې، چې په جګړه ييزو حالاتو کې دوی بې مشره نه پاتې کيږي او په هر دور کې يو نوی کاريزماتيک مشر موندلای شي. له ملا پيونده مسيد سره ښی مټ حمزالله وزير (۷) او له ايپي فقير سره ښی مټ جنګي ملا مولوي شيرعلي (۸) او خونياخېل مسيد(۹) وو. په ۲۰۰۱ز کال کې په افغانستان کې د طالبانو د نظام تر

نسکوربېدو وروسته، د دغه واقعیت تکرار محسوس دی. د طالبانو د ملاتړ لومړنی محور په وزیرو کې و، چې تر ډېره په ملانېک محمد وزیر، حاجي عمر، په وروستیو کې په ملا نذیر او حافظ گل بهادر متمرکز و، خو په وروستیو کلونو کې، چې په وانه او نورو وزیر میشتو سیمو کې د هغوی د ملاتړ رېښې په وچېدو شوې، دغه محور مسید میشتو سیمو ته لاړ او له عبدالله مسید وروسته، بیت الله مسید او حکیم الله مسید یې مشری پرغاړه واخستې. دغه مشری محوره حرکت په وزیرو او مسیدو دواړو قبیلو کې له مذهبي او قومي دواړو محرکاتو سره مل دی. په وزیرستان کې د مذهبي مشرتابه زیرون د پیر روښان، ملا پیونده او ایپي فقیر له دوره د نیک محمد وزیر ، ملانذیر او عبدالله، بیت الله او حکیم الله مسید تر پېره ډېری بهرنی عامل لري او دغه عامل د افغانستان له وضعیت سره تړلی سیاسي او تولنیز بهیر دی. د وزیرستان د دویمې یا قومي مشرتابه زیرون ډېری په کورنیو عواملو کې لټول کېدای شي. دغه مشري د مسیدو د جنګي خان له پېره، چې کروسی یې په ۲۱مه پېړۍ کې د بیت الله مسید په څېره کې له امریکا سره جنګېده، په قومي تسلسل رامنځته شوې ده.

د بیت الله مسید میشتې او حافظ گل بهادر وزیر میشتې مشرتابه د وزیرستان په تاریخ کې د یوې دریېمې مشرۍ ( د قومي او مذهبي مشرۍ ترکیب) نوی اړخ هم دی، چې تر ټولو قوي او دښمن نګوونکې مشري ګڼل کیږي. انګریزان تر ډېره له داسې دښمن سره مخ وو، چې هغوی یا مذهبي او یا هم قومي اتوریته درلوده، خو د پاکستان او امریکا مخه پر داسې مشرۍ ده، چې هغه د مذهبي او قومي نفوذ ترکیب دی، چې تر ټولو ګواښناک او نګوونکی دی.

## «امارت» او «مَلَکِي»

د «امیر» او «امارت» اصطلاحات په وزیرستان کې له شاوخوا څو پېړیو راهیسې دود دي او دغه اصطلاحات د یوویشتمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې هم له اسلامي رنګ او صبغې سره مل دي. په پخوانیو زمانو کې د وزیرو او مسیدو د دوو دریو



ښاخونو ستر مشران او ملکان مشخص وو او د همدغو سترو ملکانو له منځه یو تن د نورو په تایید سره د مشر امیر په توګه ټاکل کېده. ددغه امیر تر لاس لاندې به څو تنو وړو امیرانو کار کاوه او هغوی هر یوه له شلو نه تر سلو پورې کسان درلودل، چې په جګړه ییزو حالاتو کې به یې پر مشخصو ځایونو راغونډېدل.

په ۱٦مه، ۱۹مه او شلمه پېړۍ کې د پیر روښان، ملا پیونده مسید او له هغه راوروسته د ایپي فقیر او د نېک محمد وزیر، بیت الله او حکیم الله مسید، مولوي نذیر او ګل بهادر د مشرۍ سیستم او جګړه ییز فعالیتونه ټول له همدغه دودیز امارتي سیستم نه په لږ او ډېر توپیر رغېدلي دي.

پیر روښان لومړنی مبارز و، چې د وزیرستان له خاورې راپورته شو او مبارزې یې په پښتني سیمو کې شاوخوا ۱٦۰ کاله وغځېدې. پیر روښان خپله مشري له مذهبي رول لوبونې واخسته او دغه مشري یې د «پیر» او «مرید» پر محور را وڅرخوله. هغه له «تحریر» او «تقریر» وروسته د تورې لاره غوره وګڼله او په لر او بر کې یې مریدانو او پلویانو د مغولو پر وړاندې د مبارزې جنډې پورته کړې. د ملا پیونده په وخت کې د هغه د امارت تشکیلات په شیخانو ولاړ وو. هغه په خپلو پوځي او ملکي تشکیلاتو کې د هرې سیمې لپاره یو شیخ (ملا) ټاکلی و، چې دغه شیخ یا ملا به له ځان سره له شلو نه تر سلو او یا تردې لوړ شمېر طالبان درلودل. پخپله ملا پیونده د مکین په تودوبي کې ۲۰۰۰ طالبان لرل، چې دا ټول په مرکز کې وخت ناوخت راغونډېدونکي شیخان او طالبان وو.

په ۱۹۳۵ز کال، چې په وزیرستان کې ایپي فقیر راپورته شو، په سیمه او نړۍ کې د قادریه طریقې د پلویانو نفوذډېر و. له ایپي فقیر سره په پوځي او ملکي تشکیلاتو کې د امارت او امارتي نظام اصل موجود و، ځکه د هغه د هرې سیمې خلیفه د همغې سیمې امیر و. هر خلیفه ځان ته تشکیل درلود او د خوراک او څښاک په برخه کې تر ډېره په خپلو ځانونو متکي وو، خو د تجهیزاتو او وسلو په برخه کې د امارت مرکزي پرېکړې او مرستې مهمې وې. د پیر روښان مرکز کانیګروم، د ملا پیونده مسید تودوبی، او د ایپي فقیر ګورویک و.

د وزیرستان په څېر قبایلي سیمه کې مشري او قومانده تل د یوه کاریزماتیک شخص په لاس کې پاتې شوې او دغه شخص د قوم او مذهب له دریځه غړیدلی دی. په پخوا وختونو کې امیر یا د امارت مشر د څلویښتي په نامه ځانګړې ځواک درلود، چې د چټک غبرګون پولیسو او جلب دنده یې ترسره کوله. که چېرې په جګړه ییزو حالاتو کې د امارت د کومې سیمې مسوول، یا لاس لاندې کسانو د امیر حکم نه و پرځای کړی، د څلویښتي له لارې هغوی ناغه کېدل او که مقاومت یې کاوه د کورسوځونې او وژنې واک یې هم درلود. څلویښتي په جګړه ییزو او بیړنیو حالاتو کې د منتظره قطعې او چټک غبرګون او په ځانګړو حالاتو کې د تادیبي او جزایي ځواک رول درلود. په بله وینا، څلوېښتی د وزیرستان په امارتي تشکیلاتو کې د امیر تر څار لاندې یو ډول اجرایه ځواک و . امیر د قضایه ځواک مشري هم پرغاړه درلوده.

د امیر او امارت نظام په لویه کې د ملکۍ د نظام یا ملک مشرۍ محصول دی، ځکه قومي امیر د ملکانو له مینځه غوره کیږي. د امیر د واکونو په ډېرېدو سره، چې د خپلې قبیلې له دایرې وځي او پر ټول وزیرستان او قبایلو متمرکز کیږي، د ملکانو رول ورو ورو له منځه ځي او نوي تشکیلات د یوه نوي شعار، سیستم او شرایطو د تعریف په اډانه کې وضع کیږي. په تېرو دوو پېړیو کې د امارت اوج، چې په مستقیمه او نامستقیمه توګه د کابل له امیرانو سره ( له امیر عبدالرحمن خان نیولې تر ملامحمد عمر پورې) تړلې پاتې شوی، د ملکۍ سیستم نګولی دی. په وزیرستان کې د ملک محوره مشرۍ ځانګړنې تر ډېره د یوه فرد په اقتصادي وضعیت، جرګې مرکې، جرګه یي ځیرکتیا او منطق او استدلال او دغه راز له حکومت او چارواکو سره په نږدې اړیکو کې تعریف کیږي، خو له قومي- مذهبي نفوذه زیږېدلي امیران تر ډېره په خپلو ځانګړو شعارونو، ځانګړنو او جذاب او کاریزماتیک شخصیت د امارت تر مقامه رسیږي. امیر په تېرو څو پېړیو کې له حکومت سره په مخالفه جبهه کې پاتې شوی او ملک د هغوی د ملاتړې جبهې برخه ګرځېدلې ده. همدغه تفاوت د ملک او امیر ترمنځ د ترکې، اختلاف او دښمنۍ لامل دی او موږ وینو، چې په ۲۱مه پېړۍ کې د وزیرستان امیر او امارتي



تشکیلات د ۱۹مې او ۲۰مې پېړۍ په څېر د ملکۍ له سیستم سره په مخالف قطب کې پاتې دي.

دغه استدلال، چې بنسټپالنې او طالبانیزم په پښتني او قبایلي سیمو کې د ملکۍ او مشرۍ دودیز سیستم ته ضربه رسولې، تر یوه بریده سم دی، خو د مشرۍ لپاره د قوم او مذهب له لارې نفوذي هڅې او سیالۍ له تېرو څو پېړیو روانې دي او ددې چارې لامل تر یوه بریده بهرني یا په سیمه کې د سیاست او جغرافیا په تړاو واکمن دریځونه دي. امارت تر شلمې پېړۍ پورې په غوڅ ډول له کابل نه رهبري کېده او ملک محوره سیستم د انګریزانو تر اغیز او ملاتړ لاندې و. د پاکستان په جوړېدو سره په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د امارت ریښې کمزورې شوې، ځکه په لومړي ګام کې په کابل کې د امارت له منځه تګ د هغوی ملاتړ صفر نقطې ته یووړ او په دویم ګام کې د وزیرستانیانو اسلامي داعیې د یوه ظاهرا اسلامي هېواد په رامنځته کېدو سره نور خپل جذابیت له لاسه ورکړی و، خو په مقابل کې د ملکۍ سیستم یوځل بیا په نوي حکومت کې هغه ځای وموند، چې په تېرو پېړیو کې یې د امیر او امارت د نفوذ له امله له لاسه ورکړی و. د پاکستان له جوړېدو وروسته شاوخوا نیمه پېړۍ د ملکۍ سیستم په وزیرستان کې د مشرتابه او د سیمې د کنټرول اصلي محور و، خو په افغانستان کې د شاهي او جمهوري نظام په نسکورېدو او د طالبانو د اسلامي امارت په رامنځته کېدو سره یوځل بیا په وزیرستان کې د امارت وچې ریښې را ژوندۍ شوې.

په ۲۰۱۴ ز کال کې موږ د پخوا په څېر یوځل بیا په وزیرستان کې د امارت او امیر په نامه د نویو تشکیلاتو شاهدان یو، چې د القاعدې او افغان طالبانو له شعارونو په اغیز ځان د افغانستان له اسلامي امارت سره تړلی ګڼي. دغه تشکیل کله کله په خپلو لیکو کې د شته بهرنیو جنګیالیو د پاس په موخه د اسلامي خلافت او «نړیوال جهاد» غږ هم پورته کوي، خو په عمل کې د هغوی اهداف او کړنې تر وزیرستان، قبایلي سیمو او افغانستان او پاکستان محدود دي. دغه تشکیل یا نارسمي امارتي نظام په اکثریت قبایلي سیمو کې واکمن دی او په افغانستان کې د اسلامي امارت په تړاو د مبارزو تر

ژوندي پاتې کېدو او په نهایت کې احتمالي امارت ټینګېدو پورې به ژوندی وي. دمګړۍ په افغانستان کې د امارت جوړونې هڅې د پاکستان تر ملاتړ لاندې دي، خو تاریخ ثابته کړې، چې په کابل کې د امارت ټینګښت پښتونخوا، په ځانګړې توګه قبایلي سیمې تر خپل واک او نفوذ لاندې راوستې دي.

انګریزان په ۱۹مه او شلمه پېړۍ کې له کابل سره تر ډېره په دښمنۍ کې پاییدل او د وزیرستان امیران هم دلته له میشت حکومت « برېټانیا» سره په جګړه کې بوخت وو، خو د پاکستان تمرکز پر دې دی، چې د کابل احتمالي امارت تر خپل ملاتړ او نفوذ لاندې وساتي او په وزیرستان کې له شته نارسمي امارتي نظام سره د کابل په مرسته جوړجاړي او بالاخره ددې سیمې د عملي کنټرول هدف ته ورسیږي. له ۲۰۰۱ز کال نه تر ۲۰۱۴ کال پورې د افغان طالبانو او په وزیرستان کې د میشتو طالبانو ترمنځ اړیکي خورا ښه دي، خو پاکستان په دې نه دی بریالی شوی، چې پر افغان طالبانو د خپل نفوذ له لارې دغه ښه اړیکي د ځان په ګټه وکاروي. ددې تر ټولو ستر لامل دا کېدای شي، چې امارتیان له یوه دښمن «امریکا» سره په جګړه کې دي او دغه دښمن له کابل او اسلام اباد دواړو سره نږدې اړیکي پالي.

### طالبان او پښتون نشنلیزم

په پښتنو کې د مذهبي مشرانو رول څو پېړۍ مخینه لري.

په کابل، کندهار، پېښور او کوټه څلورواړو پښتني محورونو کې ډېری سیاسي او ټولنیز بهیرونه مذهبي مشرانو، په ځانګړې توګه پیرانو او ملایانو رهبري کړي دي. د خپلواکۍ په ډېری جګړو کې د مشرۍ توغ همدې دوو طبقو پورته کړی، خو له څو زرینو دورو پرته، د سیاسي لید د نشتوالي له امله د نظام جوړونې او ملت د سیاسي رهبرۍ په برخه کې پاتې راغلي دي. له ۱۸۷۸ز کال نه تر ۱۸۸۰ز کال پورې ملا ادیکړ د وزیرستان په داوړو او وزیرو کې د انګریزانو پر وړاندې ستر سرخوږ و. هغه په داوړو او وزیرو کې خورا محبوبیت درلود او په بریدونو کې یې ګڼو طالبانو ونډه درلوده. په۱۸۸۰ او بیا ۱۸۹۴ زکال



کې د انګریزانو لپاره تر ټولو ستر سرخوږ ملا پیونده مسید و، چې د انګریز او ډیورنډ کرښې په مخالفت کې یې د خپلواکۍ ساتنې توغ پورته کړی و. ملا پیونده ته انګریزانو او خلکو د طالبانو بادشاه اصطلاح کاروله. ملا احمدزی وزیر، ملا فضل دین او په ۱۹۳۶ز کال کې ایپي فقیر، ملاشیرعلي خان، ملا فضل دین او ملا دین فقیر بېټنی د خپلواکۍ د غورځنګ هغه مخکښان دي، چې تشکیلات یې له یوې مخې له طالبانو، شیخانو او خلیفه ګانو جوړ وو.

د انګریزانو له ماتې وروسته، په ۱۹۴۷ز کال کې پاکستان هم له «پیرانو»، «سجاده نشینانو» او مذهبي رنګارنګۍ سره یوځای منځ ته راغی. مسلملیګ د مشایخو کمېټې بنسټ کېښود او پر یوه شپه په پنجاب کې ګڼ کسان د پیرانو په څېرو کې رابښکاره شول.[۲۰] د پیر او ملا تر اغیز لاندې د برېټانیایي هند ټوله مذهبي جغرافیا د پاکستان د نوي هېواد برخه وګرځېده او د سیاسي او حقوقي- هویتي مشروعیت په هدف په ګردو ایالتونو کې خانقاوې پرانېستل شوې. دغو خانقاوو د هند له وېش مخکې د انګلیسي ستراتیژیستانو او را وروسته د پاکستان د پوځي ستراتیژیستانو په مرسته د مسلملیګ د ځواک، افرادي قوت او نفوذ په برخه کې رغنده رول ولوباوه. د ملا، پیر او طالب هغه قدرت، چې له دې مخکې د افغان امیرانو ملګری و، د نویو بدلونونو په پایله کې لومړی انګریزانو او ورپسې د پاکستان حکومت ته په لاس ورغی.

په وزیرستان کې د پیر او ملا لیکلی تاریخ د پیر روښان له روښاني غورځنګ پیلیږي او د ملاپیونده، ایپي فقیر، نیک محمد او بیت الله او حکیم الله مسید په طالباني غورځنګ درېږي. د پیرانو رول، چې ډېرځله له عدم تشدد سره پرتله کیږي، د عثماني خلافت تر ړنګېدو او د دویمې نړیوالې جګړې تر پای ته رسېدو وروسته مخ پر زوال دی. د کمونیزم د اوج او بیا زوال له کلونو راهیسې د منځلاري تصوف ځای سخت دریځۍ نیولی، ځکه له کمونېستي مخ پر ودې ایډیالوژۍ سره تقابل یوازې په سخت دریځۍ شونی و. پاکستان، سعودي عرب او متحده ایالات هغه مثلث دی، چې له ۱۹۷۰ ز کال راهیسې دغه سیاست پرمخ وړي. پاکستان مذهبي ګوندونه او سخت

دریځي د پاکستاني نشنلیزم د تقویې او د هند او افغانستان د ګواښنې او کنټرول لپاره کاروي، خو سعودي عرب دغه ځواک د منځنۍ ختیځ او ایران پر وړاندې او امریکا یې د ترهګرو او ترهګرۍ ضد جګړې په نامه په منځنۍ اسیا او ټوله سیمه کې د خپل نفوذ د پراخولو او د چین او روسیې د اقتصادي او سیاسي نفوذ د محدودولو په برخه کې کاروي.

د پاکستان واکمنو په تېرو شپږو لسیزو کې کوښښ کړی، چې د ظاهري اسلامپالنې او اسلامي ګوندونو له لارې پاکستانی نشنلیزم پیاوړی کړي او په دې برخه کې د اسلام اباد پالیسي جوړوونکي تر ډېره بریالي شوي هم دي. په پاکستان کې د اسلامي ګوندونو خورا نفوذ، چې مشري یې په غوڅ او قصدي ډول د پښتنو په لاس کې ده، دې ته لاره اواره کړې، چې په پښتنو کې پاکستانی نشنلیزم پیاوړی شي او بالاخره د اسلام او پاکستان د ګټو له ترکیبه د اسلام اباد د وېش او تجزیې پر وړاندې یو پوخ دیوال وګرځي. اما ډېری طالبان د اهدافو، اند دود او چلند له مخې له هغو اسلامي ګوندونو او د هغوی د پاکستان پالنې له شعارونو سره متفاوت دي، چې له تېرو شپیتو کلونو راهیسې یې د پاکستان په سیاست او جغرافیایي دفاع کې ټاکونکی رول لوبولی دی. دوی د مذهب په رنګ کې تر ډېره سیاسي عمل کوي، خو د طالبانو ایډیالوژي اسلام دی او دغه ایډیالوژي هغوی له ټولو هغو ډلو سره نږدې کېدو ته هڅوي، چې ورته نظر او عقیده لري.

د پښتنو ټولنیزه، عقیدوي او سیاسي مطالعه دا په ډاګه کوي، چې دغه ولس په هره پېړۍ نیمه کې د مشرۍ بدلون تجربه کړی دی. په ۱۶مه پېړۍ کې پیر او مرید، په ۱۹مه پېړۍ کې ملا، شیخ او طالبان، په شلمه پېړۍ کې امیر او خلیفه ګان او خلافت او پښتونیزم، په ۲۱مه پېړۍ کې جمهوریت، ولسواکي، ملا او طالب او طالبیزم که (ځینې هغه) تر یوه بریده سره ورته مذهبي اصطلاحات دي، په عمل او د مبارزې په ډول او چلند کې متنوع دي. له پیر روښان سره د پښتنو د ویښتابه او مشرتابه فکر و، له ملا پیونده مسید سره د ژوند تر پایه پورې د ډیورنډ کرښې مخالف احساس او عمل موجود



و او اپیي فقیر د خپل ژوند په وروستیو کې عملا د پښتونستان په نامه د یوه بېل هېواد لپاره هلې ځلې کولې. بیت الله، ولي الرحمن، حکیم الله مسید او اوس ددې ډلې نور مشران ډیورنډ کرښه په رسمیت نه پېژني او دې ته د یوې ښکیلاکي کرښې نوم ورکوي.

د ملا پیونده له اسلامي غورځنګ نه، تر اپیي فقیر- پښتون اسلامي غورځنګ او د باچاخان تر خدایي خدمتګارانو پورې د ټولو د مبارزو توغ سور رنګی بیرغ و. د ټولو په مبارزه کې پښتون نشنلیزم موجود دی، خو په ځینو هغو کې د نشنلیزم د شعوري درک او عمل نشتوالي پښتانه یوازې د جګړه بیز ځواک برخه ګرځولي دي. دغه ورته والي ته په پام سره دا شونې ده، چې د پښتنو راتلونکې مشري د ملتپالنې او اسلامپالنې په ګډه بڼه کې رامخکې او په تدریج سره یو په بل کې حل شي. په دې توګه به دا وړاندوینه هم بې ځایه نه وي، چې که په کابل کې د اسلام په روح اسلامي امارت جوړېږي، بدن او ملاتړی به یې پښتون نشنلیزم وي او د لرې پښتونخوا پښتانه به هم ددغه امارت یوه برخه ګرځي. د پښتون ملتپالنې له تقویې او ملاتړ پرته په پښتني جغرافیا کې د امارت ټینګښت ناشونی دی.

جنګیالي راټول کړل. انګریز سرکار د دوی له دغو بریدونو تر پوزې راغی او په ۱۸۵۵ او ۱۸۵۷ کلونو کې اعلی کمشنر جان لورینس او بیا په ۱۸۵۹ او ۱۸۶۰ کلونو کې د سرحدي ځواکونو قوماندان ډګرجنرال چمبرلین څو ځله د مسیدو پر وړاندې د غچ اخستونکو بریدونو وړاندیزونه وکړل، خو لارډ کنینګ د هغه وخت شرایط د دا ډول بریدونو او عملیاتو لپاره وړ ونه ګڼل.[۲۱]

**پر ټانک لومړنی ستر برید**

د ټانک نوابان، چې له مسیدو سره یې نږدې اړیکي لرل، د انګریزانو د واکمنۍ پر وخت د انګریز سرکار په خدمت کې وو. د ټانک امنیتي چارې د ټانک نواب او انګریزانو په ګډه پرمخ وړې. د ټانک نواب د مسیدو او انګریزانو ترمنځ د روغې جوړې ګټې هڅې وکړې، خو مسید جوړجاړي ته ورسره ونه رسېدل.

کله، چې په ټانک او ورځېرمه سیمو کې د انګریزي پوځ رسوخ او نفوذ مخ پر ډېرېدو و، مسیدو د ځان لپاره ګواښناک وباله او د ۱۸۶۰ کال په مارچ کې یې له درېواړو (بهلول زیو، علیزیو او شمن خېلو) قبیلو درې زره جنګیالي راټول کړل. د منزیو ستر مشر جنګي خان او له هغه سره نور مسید مشران خبر شوي وو، چې انګریزان د جنرال چمبرلین په مشرۍ کانیګروم او رزمک ته له ټانک، دیره اسماعیل خان او بنو نه پوځیان راولي. د مسیدو د سرتېرو د را غونډېدو خبر ډېر ژر د ټانک په خوله ټانک زام کې د پنجاب پنځم سپاره نظام او د ټانک د نواب غوږ ته ورسېد. نواب د مارچ پر ۱۲مه د قوماندان سعادت خان په مشرۍ خپلې دفاعي لیکې ټینګې کړې او له شاوخوا نورو پوستو او ګاونډیو سیمو یې اس ځغلوونکي او غشي ویشتونکي را غونډ کړل، خو وروسته انګریز ځواکونه هم ورسره یوځای شول. د مارچ پر ۱۳مه مسیدو سرتېرو پر انګریز پلوه ځواکونو برید وکړ، خو دښمن په تاکتیکي ډول پرشا لاړ او کله، چې سرتېري میداني سیمې ته کښېوتل، بېرته پرې را تاو شول او درنده مرګ ژوبله یې ور واړوله. په وزیرستان کې جنګېدلی ډګروال *ایچ سي ویلي* په خپلو یادښتونو کې د *سعادت خان* او انګریزانو د

# (۱)

# مسید محوره مبارزې

مسیدو د جلال الدین اکبر له وخته په غوالري تنګي کې له تېرېدونکو کاروانونو سره په کال کې دوه ځله جګړې کولې. په مني کې له افغانستان نه راتلونکې ټولې قافلې پر همدې لاره دیره جاتو، پنجاب او د هند نورو سیمو ته تلې او په پسرلي کې به بېرته ستنېدې.

د مسیدو په اړه انګریزان ښه نظر نه لري. حیات محمد خان، ایچ سي ویلي او یوشمېر نورو جنرالانو دوی غله، شوکمار او وژونکي معرفي کړي دي. د دغې بدبینۍ یو ستر لامل دادی، چې انګریز ځواکونو د خپلې واکمنۍ تر پایه پورې د مسیدو په سیمه کې د پښې ټینګولو ځای ونه موند او په سرویکي، چنډولې، وانه، ټانک، رزمک او بنو کې یې پوځي مرکزونه تل د مسیدو سرتېرو تر بریدونو لاندې راتلل.

په ۱۸۶۰ ز کال کې د مسیدو د سرتېرو شمېر ۱۳زره ته او د غوالري غاښې یې تل تر واک لاندې و. د ګوملې په سیمه کې هم ډېرۍ کاروانونه او د انګریزانو اکمالاتي لارې مسیدو جنګیالیو له منځه وړل. د ۱۸۵۵ کال په مارچ میاشت کې مسیدو د انګریز پوځ یو افسر او ۱۲ تنه سرتېري ووژل او په نومبر کې یې پر ټانک د برید لپاره درې زره تنه

مړو شمېر یو تن او د ټپیانو ۱۸ تنه ښيي، په داسې حال کې، چې د جګړې په ډګر کې د مسیدو د مړو شمېر ۳۰۰ تنه ښيي.په دې جګړه کې د جنګي خان سلیمي خېل، لوټخان شابي خېل، جلک ملکشي او میراث هیبت خېل په ګډون د مسیدو شپږ ملکان شهیدان شول. [1]

د چمبرلین له لښکرکشۍ مخکې د ټانک نواب یو شمېر مسیدو ملکانو ته د لښکرکشۍ په تړاو د انګریزانو اعلامیه ولوسته. په اعلامیه کې یې مسید په سختو بندیزونو او شرایطو ګواښلي وو. دا وخت په ټانک کې د مسیدو ۱۸۳ ملکان اوسېدل، چې د انګریز سرکار او مسیدو قبیلو ترمنځ یې د سولې او اړیکو د ټینګښت دنده پرمخ وړله. دغو ملکانو انګریزانو ته د مسیدو د ضعف او قوت د ټکو په تړاو معلومات ورکول او هغوی په پوځي عملیاتو کې له دغو معلوماتو ګټه اخسته.[32]

## د مسیدو پر ضد د انګریز لشکرکشي

د ټانک جګړې انګریز جنرالان اندېښمن کړل، چې که د مسیدو د بریدونو مخه ونه نیول شي، د ټانک په اړوندو سیمو کې به یې نفوذ ډېر او بیټني به هم ورسره ملګري شي. له دې اخوا بنو په پرله پسې توګه د وزیرو د اتمانزي قبیلې تر بریدونو لاندې و او که ټانک د مسیدو هدف ګرځېده، انګریزان به یې په دوو جبهو کې سخت بوخت کړي

[1] ـ د ۱۹۱۱ کال د اګست پر ۱۱مه د برېټانیا چاپ پیونیر میل (Pioneer Mail) ورځپاڼې جنګي خان د مسیدو مشهور قوماندان ګڼلی، چې په ۱۸۶۰ کال د ټانک په جګړه کې د پنجاب له پنځم سپاره ډلګي سره په جګړه کې یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د پوینیر میل په وینا، جنګي خان په دې جګړه کې د مسیدو د یوه ۳۰۰۰ کسیز لښکر قومانده پر غاړه درلوده. د هغه زوی عمرخان، لمسی بادشاه خان او وریسې قطب خان د مسیدو مشهور مرکچیان وو. عمرخان او بادشاه خان هم څو ځله په ټانک مرګوني بریدونه کړي، چې انګریز یې پر سر انعام هم اېښی و.

مسیدو تر بادشاه خان وروسته د هغه زوی قطب خان، چې د افغانستان د خپلواکۍ په جګړو کې له خپل تره سره یوځای بوخت و، د مشر په توګه وټاکه.



وای. د ۱۸۶۰ کال په اپریل میاشت کې د سیمې ګورنر جنرال پرېکړه وکړه، چې د مسیدو غرنیو سیمو ته پوځ ولیږي او هلته د وضعیت د کنټرول او پر ټانک او نورو سیمو د مسیدو د بریدونو د مخنیوي لپاره نوي استحکامات او پوځي پوستې ورغوي. ګورنر جنرال ددغه پوځ او عملیاتو مشري ته ډګر جنرال چمبرلین وټاکه.[33] چمبرلین مسیدو ملکانو ته وړاندیز وکړ، چې له دوی سره د سیمې په کنټرول او نورو چارو کې د یوې ناستې د پرېکړو په رڼا کې همکاري وکړي او دوی به ددې همکارۍ په بدل کې په وزیرستان او مسیدمیشتو سیمو کې عملیات نه کوي. مسیدو د انګریز قوماندان پر دغه وړاندیز غوږ ونه ګراوه او د یرغلګر ځواک پر وړاندې یې خپله مبارزه جاري وساتله. هغوی خپلو سیمو ته د چمبرلین تر مشرۍ لاندې د انګریز پوځ ورتګ پر دې سیمه بهرنی یرغل تعبیر کړ او د جګړې لپاره یې تیارې ونیوه. د دغو ځواکونو منظم عملیات د ۱۸۶۰ ز کال د اپریل پر ۱۶مه په ټانک کې د ګڼو لیواګانو په ګډون تنظیم شول. په دې کې د پنجاب شپږ توپخانې، د پېښور د غرني توپچي څلور توپخانې او د هزار ه غرني توپچي درې توپونه شامل ول. په سرتېرو کې ۱۰۸ تنه د لاربښودې ډلګۍ، ۱۳۱ تنه د پنجاب د دریم سپاره نظام، ۱۰۰ تنه د ملتان د سپاره نظام، ۶۰ تنه د لومړۍ امنیتي کمپنۍ، ۴۰۷ تنه د لاربښودي پلي نظام، ۴۲۷ تنه د څلورم سېک پلي نظام، ۳۹۷ تنه د پنجاب د لومړي پلي نظام، ۶۸۴ د پنجاب دویم پلي نظام، ۳۷۳ د دریم پنجاب پلي نظام، ۳۸۱ د څلورم پنجاب پلي نظام، ۴۰۰ د شپږم پنجاب پلي نظام، ۲۰۷ تنه د ۱۴پنجاب پلي نظام او ۴۱۸ د پنجاب د پلي نظام مخکښان او ۴۶۴ او ۳۹۴ تنه د هزاره او د پولیسو د شپږم کنډک پوځیان وو. چمبرلین خپل پوځ په دوو برخو ووېشه، پخپله چمبرلین له درې زرو پوځیانو او توپونو سره شوره ته لاړ او دوه زره نور سرتېري یې د ډګرمن لومسډن ترمشرۍ لاندې د چنډولي په څو کیلومترۍ کې پرېښودل. دغو ځواکونو خپل عملیات د اپریل پر ۱۷مه پیل کړل او لومړۍ پلوسین کڅ ته ننوتل. وروسته یې یوه برخه د شینکي کوټ ړنګولو ته وګومارله. په شلمه نېټه انګریزانو غوښتل له مسیدو سره د جوړجاړي خبرې پیل کړي ، خو ګټه یې ونه کړه. مرکزي قومانده او مهم کنډکونه پر شلمه نېټه حیدري کڅ ته

لاړل، چې سیمه او وضعیت له نږدې وڅاري. انګریز پوځ له حیدري کڅ نه د برونډ پر لور لاړ، خو په دې لاره له مبارزانو سره مخ نه شو او د ۲۴مې نېټې پر سهار بېرته پلوسین ته وګرځېد. دلته د ډګرمن لومسډېن تر مشرۍ لاندې شپږتوپخانې، دوه سوه نیزه وېشتونکي او ۱۴۰۰ او ۱۵۰۰ تورزن ول.

## د چنډولي مرګونې شپه

د اپریل پر ۲۲مه نېټه د مبارزانو یوه درې زره کسیزه ډله چنډولي ته څېرمه په پلوسین کې د انګریزانو مرکز ته نږدې ورغله.

د وزیرستاني جنګیالیو شاوخوا ۵۰۰ توره وهونکي په توره شپه کمپ ته ننوتل او د دواړو خواوو ترمنځ سخته جګړه ونښته. انګریز جنرالانو په خپلو یادښتونو کې په ډاګه کړې، چې دغو جنګیالیو ددوی د سیکانو د څلورمې ډلګۍ په ځوابي عمل کې له سیمې پښې سپکې کړې. وزیرستاني مبارزانو په دې جګړه کې خورا میړنتوب وښود او خپل جنګیالي یې د کمپ منځ ته داخل کړل. د ډګروال ایچ سي ویلي په وینا، په دې جګړه کې د انګریزانو ۶۳ سرتېري مړه او ۱۶۶ نور ټپیان شول. د ایچ سي ویلي ۶۳ شمېر یوازې انګریز پوځیان دي، چې د لوییس په ګډون ۹ تنه جګپوړي افسران هم پکې ول، خو په جګړه کې ټول ۷۹۶ پوځیان وژل شوي وو.[٢٤] پر انګریزانو دغه برید دومره مرګونی او ناځاپي و، چې په لیکو کې یې ګډوډي راغله او مبارزانو ته د جګړې په ترڅ کې ګڼ توکي او وسلې په لاس ورغلې، خو وروسته انګریز ځواکونو په خپلو ګورخه او ګایډ پلټن کنډکونو سره ځانونه راټینګ کړل.[٢٥]

انګریزانو تر مې میاشتې پورې پر مسیدو د برید لپاره زړه نه ښه کاوه، ځکه د چنډولي برید یې لیکې ګډې وډې کړې وې. د مې پر څلورمه د مسیدو اووه زره مبارزان په بریږه دره کې سره راغونډ شوي وو او د انګریز پوځ پر مخ یې لاره تړلې وه. په دې غونډه کې د مسیدو د دریواړو ښاخونو سرتېرو ګډون کړی و.

په کاڼیګروم او اېې تنګي کې د جنرال چمبرلین او د مسیدو د ملکانو ترمنځ د سولې په تړاو جرګې او خبرې وشوې، خو پرېکړې ته سره ونه رسېدل. د مې پر دریمه



انګریز ځواکونه زیږوام ته ورسېدل او هلته یې له مسیدو سره د یوې سوله ییزې حل لارې په تمه خیمې ووهلې. خبرې اترې ګټورې نه وې، ځکه خو انګریز جنرال یوځل بیا د برید پلان طرح کړ. چمبرلین غوښتل، چې دلته د مسیدو او وزیرو پر جنګیالیو له دوو اړخونو برید وکړي. په همدې موخه یې یوه ډله د ډګروال لومسډېن تر مشرۍ لاندې او بله یې د ډګروال ګرین تر مشرۍ لاندې دوو بېلو لوریو ته واستوله. مسیدو په شاوخوا غرونو او لوړو څوکو کې ددوی پر وړاندې پاخه مورچل نیولي وو. انګریزانو په لومړي سر کې مرګ ژوبله نه درلوده، خو کله، چې ښه سیمې ته ننوتل، د مسیدو جنګیالیو پرې ګوزارونه پیل کړل او درنده مرګ ژوبله یې ور واړوله. په دې جګړه کې ۳۰ انګریز پلوه پوځیان مړه شول او ۸۶ نور یې ټپیان شول. دا هغه شمېر دی، چې انګریزان پرې اعتراف کوي. دوی د مې پر پنځمه کاڼیګرام ته لاړل او د مې تر اتمې نېټې پورې دلته پاتې شول، خو له مسیدو سره یې په هیڅ برخه کې توافق رانغی. په کاڼیګرام کې ورمړو له انګریز سره ټینګاو نه و کړی، بلکې پوځ ته یې د مالیې ورکولو له لارې خپلې کروندې او نور شته د یرغلګرو ځواکونو له یلغاره سلامت وساتل. د چمبرلین تر مشرۍ لاندې انګریز ځواکونه د مې پر نهمه نېټه پر سام او کڅې ( لادا) را تېر شول او مکین ته ورسېدل. مکین دغه مهال د وزیرستان خورا مشهور او د سوداګرۍ او اقتصاد مهم مرکز و. له دې ځایه افغانستان او نورو سیمو ته وسپنیز توکي لیږدیدل. انګریزانو له چنډولي نه تر مکین پورې د مسیدو په ټولو پرتو سیمو کې د خلکو کورونه، کروندې، څاروي او ټول شته له منځه یووړل او د مې پر ۱۲مه ( په ځینو سرچینو کې پر ۱۸مه) نېټه بېرته بنو ته ستانه شول.[٢٦]

د انګریز جنرالانو او د بنو او ټانک د انګریز واکمنو هدف دا و، چې په دې لښکرکشۍ سره مسید ووېروي، خو د وزیرستان په غرنیو سیمو کې میشت خلک له څو پېړیو راهیسې له دا ډول یرغلونو سره بلد وو. له دغو عملیاتو نه د انګریز بل هدف د سیمې د جغرافیا په اړه پراخه مطالعه وه.

په ۱۸۴۶ز کال، چې د سیکانو او برېټانیایي هند ترمنځ د لاهور تړون لاسلیک شو، تورن ایډوارډ بنو ته راغی او لومړنی ګام یې د وزیرو او داوړو د سیمې، خلکو،

جغرافیا او د وسلو او جنګیالیو د شمېر په تړاو د معلوماتو راغونډول و. د چمبرلین د لشکرکشي یو هدف هم دا و، چې په وزیرستان کې د مسیدو او دروېش خېلو وزیرو د ټولو قبیلو میشتځایونه، خېلونه، د سیمې جغرافیا، جنګي ځواک او جګړه ییز تاکتیکونه و ارزوي. په دې جګړه کې د انګریز جنرالانو د ادعاوو برعکس، د مسیدو د وژل شویو سرتېرو شمېر ۲۸۰ تنه و، چې ۱۰۵ د ټانک په خوله کې، ۳٦ په بریړه دره او ۳۹ نور د چنډولي په پلوسین سیمه کې وژل شوي وو.[۲] په جګړه کې یوازې پر یوه شپه په پلوسین کې د انګریز ۵۰۰ سرتېري وژل شوي او په پاتې نورو نښتو کې یې د مړو شمېر ۳۰ او د ټپیانو ۸٦ تنه و. مسیدو ته په دې جګړه کې ډېر زیان رافل، ګورخه او ګایډ پلټن ټوپکو اړولی و.

## پر مسیدو کاختي او د سولې جرګه

د ۱۸٦۰ ز کال د دغو یو میاشتنیو عملیاتو په ترڅ کې انګریز پوځ د مسیدو اکثریت کښتونه وسوځول، څاروي، کورونه او استوګنځایونه یې له منځه یوړل او دا چارې ددې لامل شوې، چې په مسید میشتو سیمو کې د غلې دانې کاختي راشي. د مسیدو له سیمې نه د کاروانونو پر تګ بندیز ولګېد او په مکین او نورو سیمو کې د وسپنې او نورو کسبونو کاروبار هم ټکنی شو. د مسیدو او وزیرو ټول اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ و، خو دا دواړې برخې د انګریز پوځ د یرغل په پایله کې خورا زیانمنې شوې. پوره یو کال وروسته کاختۍ د سیمې خلک دې ته اړ ایستل، چې له انګریز سرکار سره پر یو لړمسایلو وغږیږي. مبارزان له انګریزانو سره د خبرو اترو مخالف وو، خو یو شمېر ملکانو او با نفوذه اشخاصو هغوی ته قناعت ورکړ، چې سیمه تر قحط لاندې ده او که وضعیت همدغسې دوام ومومي، ډېر خلک به کډوالۍ ته اړ شي.

*انګریز لیکوال ډیویس پر مسیدو د بندیزونو په تړاو وایي: « له*

۲. یو شمېر سرچینې د پلوسین جګړه کې د مبارزانو تلفات ۸۵ تنه ښیي



*۱۸۴۹ ز کال راهیسې انګریزانو د وزیرستان پر خلکو ( مسیدو) د فشار په موخه ټولې لارې تړلې دي. دا، چې د هغوی ځمکې د هغوی د ژوند لپاره کافي نه دي، دا قبایلي خلک به ډېر ژر د مرګ له وېروونکي واقعیت سره مخامخ شي».*

په ۱۸٦۱ ز کال دواړه اړخونه دې ته چمتو شول، چې پر ځینو مسایلو ګډ توافق ته ورسیږي. انګریزانو د مسیدو له دریواړو ښاخونو سره جلا جلا تړونونه وکړل او هغوی یې مکلف کړل، چې ددوی پر تاسیسانو او ګټو له بریدونو لاس واخلي. انګریزانو د تړون لپاره پنځه شرطونه وړاندې کړل، چې په هغو کې له مسیدو نه د سولې تضمین اخستل، د هر ښاخ د وګړي جرم پر ټولې قبیلې تطبیقول، مجرمانو ته له پناه ورکولو ډډه کول، د غنیمت مالونو له پیرنې او خوندي کولو مخنیوی او له دریواړو ښاخونو نه د تضمین په توګه د یوه یوه مشر یرغمل ساتل پکې شامل وو. انګریز پر دغه کال د مسیدو له مجبوریت نه خورا ګټه واخسته او ډېر سخت او غیر مدني شرایط یې ورته وضع کړل. په دې شرایطو کې په واړه جرم د اړوند قبیلې د ټول کاروان ضبطول هم شامل وو، چې که د قبیلې غړی یا مجرم به له سیمې ووت، ددوی ټول کاروان به له انګریز سرکار سره ضبط پاتې و. پر دې سربېره له هر قوم سره د جلا تړون له لاسلیکولو د انګریزانو هدف دا و، چې یوخوا د قبیلې پر غړو د اړوندې قبیلې د جرګې او ملکانو کنټرول وي او د جرم په صورت کې یوازې اړوند قبیله او خېل کولای شي مجرم ور وسپاري، بل پلو یې په دغه کار سره د مسیدو د دریو قبیلو ترمنځ یو ډول بېلتون او بې اتفاقي راوسته. دغه مساله وروسته په یو شمېر پېښو کې ثابتیږي، چې انګریز سرکار د کوم جرم په بدل کې د مسیدو پر یوې قبیلې بندیز لګوي، نورې قبیلې یې مرستې ته نه ور دانګي او تر ډېره په ښاخ او قبیلې پورې منحصر پاتې کیږي.[۲۷]

په مسیدو کې یوازینی ښاخ یشنګی و، چې دغه تړون یې ونه مانه، خو د نورو قومونو اکثریت مشران د ۱۸٦۱ ز کال په جون میاشت کې په بنو کې د بنو د مرستیال کمشنر کپټان مزو په مشرۍ له انګریز استازو سره جرګه شول او جلا جلا تړونونه یې

لاسلیک کړل. د تړون متن په لاندې ډول و:

*«د مسیدو قبیلې د علیزیو ښاخ ملکان، چې دلته راغلي یو غوارو له انګریز سرکار سره د زړه له کومې سوله وکړو، په لاندې ډول اقرار کوو:*

*لومړی ماده: موږ به خپله خوښه دلته حاضر شوي یو او د راتلونکې لپاره له سرکار سره سوله کوو، کړې مو ده او پر هغې اعتراف کوو.*

*دویمه ماده: که په راتلونکي کې زموږ د قبیلې کوم کس د سرکار خلاف عمل وکړي، سرکار یې له موږ علیزیو پوښتنه کولای شي. د بېلګې په توګه که په ټولو علیزیو کې له انګریز سره یو کس بدي کوي، سرکار یې له ټولو علیزیو پوښتنه او حساب کولای شي. په دې اړه کاروانونه نیولای شي او د همدې اقرارپاڼې نور شرایط پلي کولای شي.*

*دریمه: که د بهلول زیو او شمن خېلو ښاخونو کوم کس په سیمه کې جرم ترسره کوي او زموږ سیمې ته پناه راوړي، موږ به د هغه پناه نه منو، مرسته به نه ورسره کوو او غلا کړی مال به یې هم له ځان سره نه ساتو.*

*څلورمه ماده: که له سرکاري رعیت نه کوم تن د سرکار په سیمه کې جرم کوي او زموږ سیمې ته پناه راوړي، هغه او مال به یې د خپلې سیمې په حدودو کې نه پرېږدو، په تېره بیا د مچم قاتلانو ته به هیڅکله دا اجازه ورنه کړو، چې زموږ سیمې ته راشي.* [۳]

*پنځمه ماده: موږ د سختې دښمنۍ او وسله والو کسانو د برید او جګړې ضمانت کوو، خو د غلا په اړه دا مسوولیت نه شو اخستی، چې هیڅکله به نه کیږي، اما تر خپل توانه کوښښ کوو، چې دا کار ونه شي. که د سرحد په سیمه کې علیزي کوم زیان ورسوي، لکه وژل، غلا، یا کوم ځای*

*ته اور واچوي، د هغو په بدل کې سرکار واک لري، چې زموږ له کاروانونو لاندې جریمه واخلي:*

*د وژنې په بدل کې شپږ زره هندي روپۍ، د سخت ټپ په بدل کې، چې غړي یکې ژوبل او له کاره لوېدلي وي، ۲۰۰ روپۍ، د واړه ټپ په بدل کې د ټپ په کچه او د اور اچونې یا کوم بل زیان پر وړاندې د زیانمن توکي په کچه.*

*شپږمه ماده: په خپل اقرار کې د رښتینولۍ په خاطر د سرکار په خوښه دوه معتبر کسان د یرغمل په توګه، چې یو به یې له کورنۍ سره او بل به په مجرد ډول په ټانک یا بنو کې تر یوه کال پورې سرکار ته ور سپارو. که د حکومت په سیمه کې تر یوه کال پورې څه زیان ورسیږي او د حکومتي سیمې د مال څښتن ته له پورتنیو شرایطو سره سم حق ونه رسیږي، حکومت یا سرکار حق لري، چې یرغمل خوشې کړي، یا نه، خو موږ له وضع شویو شرایطو سره سم ژبه کړې، چې په خپلو ژمنو به ټینګ درېږو.*

*دغه پاڼه د اقرارپاڼې په توګه سرکار ته وړاندې کیږي او هیله من یو، چې سرکار زموږ دغه اقرارپاڼه ومني.*

*د ۱۸۶۱ ز کال، د جون ۱۹ مه (۱۹ ملکان)*

شمن خېلو او بهلولزیو هم په همدې متن اقرارلیکونه ورکړل، خو د ایشنګیو ملک دا وخت په کابل کې و او پرځای یې نورو کسانو لاسلیکونه وکړل. د اقرارلیکونو له مخې انګریزانو له هرښاخ نه دوه دوه تنه د یرغمل په توګه واخستل، چې درې یې په بنو او درې نور په ټانک کې اوسېدل. مجردو کسانو ته انګریزانو د میاشتې ۱۲روپۍ او کور لرونکو ته یې ۱۸ هندي روپۍ تنخواوې ورکولې. پر دغه تړون یو کال نه و تېر شوی، چې د ایشنګي قبیلې ملک(نبي) له کابل نه راغی او د انګریزانو پر وړاندې یې مبارزې پیل کړې. د ملک نبي کسانو ټانک ته نږدې د پنجاب د سرتېرو کنډک شپږتنه ووژل. له دوی سره

---

[۳]_د کپتان مچم قاتلان محبت خان، زنګي خان او غلام خان نومېدل، خو حیات افغاني د خواجه هوس، ممریز او دین بارګل په نومونو یاد کړي دي.

فتح خېل (پوتیه خېل) علیزي هم ملګري وو. انګرېزانو ته دې اقرار لیکونو ګټه ونه کړه، ځکه مسیدو په سیمه کې د هغوی پر وړاندې وسله والې مبارزې پیل کړې. د ټانک نواب او د هغه ملګري د مسیدو په کنټرولولو کې پاتې راغلل، ځکه په ۱۸۷۲ او ۷۳ ز کلونو کې د مسیدو بېلابېلو قبیلو د انګرېزانو خلاف ۱۸۸ بریدونه وکړل.

انګرېزان د هغوی د کنټرول لپاره دې ته اړ وتل، چې په خپله اداره کې یو لړ بدلونونه راولي. پر ۱۸۷۳ز کال د ډېره اسماعیل خان مرستیال کمشنر میکاولي (Machaulay) د ټانک له نواب نه واکونه واخستل او د ګومل درې د خوندیتوب لپاره یې په لس زره روپیو ځمکې واخستې. دې چارې او پر ۱۸۷۸ز کال ګومل درې ته د میکاولي سفر مسید د انګرېزانو د پرمختګ پر وړاندې لا حساس کړل او د نویو او غچ اخستونکو بریدونو په لټه کې شول.

### پر ټانک دویم ستر برید

د ۱۸۷۸ کال د کریسمس مراسم وو، چې مسیدو یوځل بیا پر ټانک د برید په موخه جنګیالي راټول کړل. دوی پوهېدل، چې انګرېز ځواکونه په کریسمس مراسمو کې بوخت دي او دا پر دوی د برید لپاره ښه وخت دی. په ښکاره ددې نېټې انتخاب له فرصت نه ګټه اخستل ګڼل کېدای شي، خو اصلي مساله داده، چې هغوی د عیسویانو له مذهبي مراسمو کرکه درلوده او په دې ورځ یې پر هغوی برید ستر جهاد او د جنګي خان د غچ اخستنې لپاره ښه فرصت باله. انګرېز ځواکونو واردمخه احتیاطي تدابیر ونیول او په پوله کې یې دوه برابره نوې پوستې واچولې. په ځینو سیمو کې هغوی د خپلو ځواکونو او تجهیزاتو شمېر او کچه درې برابره زیات کړل. د ډګروال ایچ سي ویلي په وینا، د ۱۸۷۹ز کال د جنوري پر لومړۍ نېټه دغه برید د افغان امیر « شېرعلي خان» د پټو استازو له خوا پلان شوی و. په دې وخت کې د افغانستان د امیر شېرعلي خان او انګرېزانو ترمنځ اړیکي ترینګلي وو، ځکه برېټانیا د افغانستان په تړاو د پرمختګ پالیسي Forward Policy تصویب کړې وه او په سیمه کې د روسیې او برېټانیا ترمنځ هم



رقابت مخ پر ډېرېدو و. دا، چې انګرېز ځواکونو په افغانستان کې خورا مداخله کوله، امیر شېرعلي خان د وزیرستان قبایل د انګرېز ځواکونو پر وړاندې جګړو ته هڅول او مرستې یې ورسره کولې.

د جنوري پر لومړۍ نېټه د جنګي خان د زوی عمرخان، ملا حمزالله، متین خان، مشک عالم خان، عظمت خان، یارحق خان، یوپاک تر مشرۍ لاندې شاوخوا له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ پورې مسید مبارزان له خپلو غرونو را کوز شول او د ټانک پر لوري یې وخغستل.[۲۸] هغوی پر ټانک بازار ور ننوتل او د انګرېزانو او د هغوی د پلویانو کورونه او تاسیسات یې ور وسوځول. په دې جګړه کې ۶۵۳ انګرېز پلوه کسان او پوځیان او د مسیدو لښکر دېرش تنه سرتېري ووژل شول.

### د ملکۍ پر سیستم لومړی وار

کله، چې د عبدالرحمن خېلو او عبدلي مسیدو سرتېرو په ژوب کې جګپوړی انګرېز چارواکی (M.Kelly) وواژه، انګرېزانو دا خطر محسوس کړ، چې د ژوب- ګومل لاره د سنډیمن سیستم پر وړاندې له ستونزو سره مخامخ کېږي. د مسیدو یو شمېر ملکانو د انګرېزانو د ډېر فشار په پایله کې په دیره اسماعیل خان کې د (M.Kelly) وژونکي انګرېزانو ته په لاس ورکړل، خو دې مسالې په مسیدو کې د «ملا » او «ملک» تر مشرۍ لاندې یو نوی مخالفتي بهیر را وټوکاوه.

ملکانو ته وخت ناوخته انګرېزانو امتیازونه ورکول او دا کار په بلوچستان کې د سنډیمن سیستم له لارې پلی شوی و، خو په وزیرستان کې ملاپیونده دا په سیمه کې د انګرېزانو د نفوذ او د وزیرستان د اشغال پیل باله. دا هغه وخت و، چې ملا پیونده د لومړي ځل لپاره په مسیدو کې ځان د یوه با نفوذه شخص په توګه وښود. ملا د ملکانو په لاس انګرېز ته د څو مبارزانو د سپارنې له مسالې نه د انګرېز پر ضد د ولسي کرکې او پاڅون او د ملکانو د انزوا په برخه کې ور ګټه واخسته. پیونده په لومړي سر کې هغه ملکان مړه او له

سیمې په تېښته اړ کړل، چې د M.Kelly وژونکي یې انګریزانو ته سپارلي وو.[۴] د ۱۸۸۰ کال په مارچ کې مسید د ملا پیونده تر مشرۍ لاندې د انګریزانو پر خلاف بیا را وپارېدل او په سیمه کې یې د برېټانیا د حکومت پر وړاندې بلواوې پیل کړې. ملا پیونده په سیمه کې د ځان په ملاتړ په زرګونو کسان راټول کړل او د ټانک په ۱۲ کیلومټرۍ کې یې پر انګریز پوستو بریدونه وکړل. دې جګړې انګریز جنرالان په قهر کړل، له ډېره اسماعیل خان نه یې د اپریل پر پنځمه درې توپخانې او درې نیم سوه پوځیان له ځانونو سره واخستل او د ټانک پر لوري لاړل. د مسیدو سرتېري له برید وروسته بېرته خپلو کورونو ته ستانه شوي وو، خو دا، چې په منزۍ، مرتضی، ډېره او ټانک ته ورڅېرمه نورو پرتو سیمو کې میشتو بېټنیو د مسیدو د لښکر پرمخ چنډولی(جنډوله) او نورې لارې پرانېستې وې، انګریزي پوځیان پر هغوی سخت غوسه وو. انګریزي ځواکونو د غچ اخستنې په موخه پر ګومل برید وکړ، وروسته د خېرګي کوټ له لارې د اپریل پر ۱۲مه چنډولي ته لاړل. دلته یې د مسیدو او یو شمېر بېټنیو ټول دوکانونه ړنګ کړل او بېرته ټانک ته وګرځېدل.

## دویمه افغان- انګلیس جګړه او وزیرستان

په ۱۸۷۹ز کال په کابل کې د برېټانیا پر سفارت له برید وروسته، برېټانیایي ځواکونه د کندهار، خیبر او کورمې له لارې افغانستان ته ننوتل او لږ وخت وروسته، د افغانستان او برېټانیا دویمه جګړه ونښته. په دې موده کې وزیرو او مسیدو ښه فرصت وموند، چې په قبایلي سیمو کې د انګریزانو پر وړاندې خپل بریدونه جاري وساتي.

په ۱۸۸۰ کال کې مسیدو، درویش خېلو وزیرو او داوړو د اګست تر میاشتې پورې په بېلابېلو سیمو کې پر انګریزانو ګڼ بریدونه وکړل، ځکه په دې وخت کې برېټانیا پر وزیرستان د لښکرکشۍ زور نه درلود. ډګر جنرال چمبرلین له خپلو زرو سرحدي سرتېرو سره او د انګریز نور ډېرې کنډکونه او توپخانې افغانستان ته لیږل شوي وو. برېټانیا د

۴_ *ملک کریم خان، چاپیرایي او دوویګر یې ووژل او ملک میر اجل او برامات نظرخېل وتښتېدل.*



۱۸۸۰ کال په اګست میاشت کې په افغانستان کې ماته وخوړه او خپل ځواکونه یې بېرته قبایلي سیمو او پېښور ته وغوښتل او یوځل بیا یې دا فرصت وموند، چې د مسیدو غرنیو سیمو ته پوځونه واستوي.

د افغانستان پر لور د پرمختګ پالیسي په پلیتابه کې د انګریزانو تر ناکامۍ یا د افغان- انګلیس له دویمې جګړې وروسته انګریزانو یوځل بیا د وزیرستان پر لوري پام واړاوه. انګریزانو غوښتل خپله Forward Policy، چې د امو تر غاړې یې غځېدن افغان مقاومت شنډ کړی و، د وزیرستان او قبایلي پټارې په اوږدو کې تر ژوب او چمن پورې پلې کړي. په افغان-انګلیس دویمه جګړه کې انګریزانو یوازې په پوځي ډګر کې ماته وخوړه، خو له دې جګړې د انګریزانو تر ټولو ستر سیاسي برى له امیرمحمد یعقوب خان سره د ګندمګ تړون لاسلیکول و. ددغه تړون له مخې، انګریزانو کورمه، خیبر او ګڼې نورې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې. دې چارې عملا برېټانیایي جنرالانو ته دا فرصت ورکړ، چې د یوې لسیزې په ترڅ کې د ډیورنډ تړون له لارې وزیرستان او د قبایلي پټارې پاتې نورې سیمې هم تر واک لاندې راولي. په دې معنا، چې ګندمک تړون د ډیورنډ تړون لپاره د زمینې برابرول و. په ۱۸۸۱ز کال کې برېټانیا هوډ وکړ، چې مسید په زور او جبر تر خپل واک لاندې راولي.

د اپریل پر دریمه اوونۍ په کانیګرام کې له مسیدو قومي مشرانو سره انګریز جنرالان خبرو ته کښېناستل، د دواړو خواوو پر شرایطو خبرې وشوې، خو پایلې ته ونه رسېدل. د مسیدو څو ښاخونه لا هم له انګریز سره په مبارزه بوخت وو، په ځانګړې توګه د بهلول زي ښاخ ناناخېل قبیله. انګریز غوښتل، چې دغه ښاخ په زور تابع کړي، په همدې موخه یې په ټانک کې د پوځ پر تیارولو لاس پورې کړ. په دې جګړه کې د انګریز ځواکونو قوماندانان ډګر جنرال ټي جي کینیډي او ډګرجنرال جې جې ایچ ګوردن ول. له دوی سره ۷۶۵۸ پوځیان، یو ریزرف کنډک او ۲۰توپخانې مل وې. اصلي ځواک له ټانک نه د خېرګي کوټ له لارې چنډولي ته او دویم ځواک د حیدري کڅ او تړمې چینې له لارې د بروند پر لور لاړ.[۲۹] ځواکونه په خیسوره کې له علیزیو تېر شول او د ناناخېلو

قبیلې په لټه کې شول. بله ډله سرتېري په رزمک کې پاتې شول. دغه ځواکونه پر اتلسمه نېټه بېرته ټانک ته وګرځېدل او ۳۲ تنه پوځیان یې له مسیدو سره په جګړه کې مړه او ټپیان شول.

انګریزانو د مسیدو د ټولو بریدونو محرک د کابل امیر باله، چې له برېټانیا سره ددویمې جګړې په حال کې و، خو دا یوازې یو عامل کېدای شي، ځکه مسیدو ، وزیرو او داوړو د وزیرستان شاوخوا ته د انګریزانو له راتګ سره سم پر دغو ځواکونو خپل بریدونه پیل کړي او د هغوی د واکمنۍ تر پایه پورې یې جاري ساتلي دي. انګریزان د مسیدو او وزیرو په کړاولو کې د ۱۸۸۱ کال لښکرکشي اغېزناکه بولي، خو د سرحد ایالت لپاره پخواني انګریز اعلی وزیر اولف کارو په «Pathans» کتاب کې پر دې اعتراف کړی، چې مسیدو تر پایه ددوی واکمني ونه منله.

د پرمختګ پالیسۍ په تعقیب، د سنډیمن سیستم له مخې، په ۱۸۸۳ کال کې انګریزانو له خجوري کڅ نه تر ژوب پورې ټولې سیمې سروې کړې. دوی په بلوچستان کې د کلات له خانانو سره تر پرېکړې وروسته، له ګومل نه تر ژوب او پښین پورې د وسپنې پټلۍ د غځولو چارې له نږدې وڅېړلې. د انګریزانو کوښښ داو، چې د ریل پټلۍ په غځونې سره به د مسیدو او وزیرو په سیمه کې ددوی نفوذ پیاوړی شي او تر پښین او کندهار پورې به ددوی د کاروانونو ، لښکرکشیو او نورو مسایلو پر وړاندې خنډ راکم شي.

په لومړي سر کې ددې پروژې پر وړاندې مسیدو او وزیرو سخت مقاومت کاوه، ځکه د کابل امیر عبدالرحمن خان دامهال د اورګاډي پټلۍ د غځېدو پلوی نه و، خو د ۱۸۹۳ کال د اکتوبر پر ۱۲مه د موریتمر ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان ترمنځ د کابل کنوانسیون د ډیورنډ ټرون تر لاسلیک کېدو وروسته وزیرستان او د قبایلي پټارې ګڼې سیمې د برېټانیایي هند تر واک لاندې شوې. ددغه ټرون په ترڅ کې د وزیرستان بېرمل سیمه له کرښې پورې غاړه په افغانستان کې پاتې شوه او نورې برخې یې په برېټانیایي هند پورې وتړل شوې. امیر عبدالرحمن خان له دغه ټرون وروسته د پښین پر



لور د اورګاډي له غځېدونکې پټلۍ سره مخالفت پرېښود او په وزیرستان کې یې هم خلک د ټرون درناوي ته هڅول.

د ډیورنډ ټرون له لاسلیک کېدو وروسته د انګریزانو ټول زور او ځواک پر دې و، چې د وزیرستان او قبایلو ټوله سیمه تر خپل واک لاندې راولي.

### ډیورنډ ټرون؛ د ملا پیونده محرک

کله، چې امیر عبدالرحمن خان د خپل واک د ټینګښت په موخه، ډیورنډ ټرون ته غاړه کېښوده، په قبایلي سیمو، په ځانګړې توګه وزیرستان کې یې پر وړاندې سخت غبرګونونه را وپارېدل. په وزیرستان کې ددغه ټرون دوه ستر مخالفان ملا پیونده مسید او ملا حمزالله احمدزی وزیر وو. د دوی په لومړنۍ جرګه کې، چې هدف یې له ډیورنډ کرښې سره مبارزه او له افغانستان سره د قبایلي پټارې بېرته نښلول و، د ژوب او وزیرستان ګڼو قومونو او مشرانو ګډون درلود.

د جرګې د پرېکړو پر بنسټ، د مسیدو، وزیرو قومونو مشران او دیني عالمان د ملا پیونده مسید په مشرۍ کابل ته لاړل څو امیر عبدالرحمن خان اړ باسي، چې له ټرون نه لاس واخلي او پرېنږدي، چې انګریز د پښتنو پر سیمو واکمن پاتې شي. د کابل په پلاوي کې له ملا پیونده سره حمزالله احمدزی وزیر او ګڼ نور مشران هم ملګري ول. عبدالرحمن خان ددغه پلاوي خبرې ونه اورېدې او پر خپلو پرېکړو ټینګ ولاړ و.

### د وانه پر کمپ مرګونی برید

د ډیورنډ ټرون تر لاسلیک کېدو وروسته، انګریز سرکار د ۱۸۹۴ کال د اکتوبر پر پنځلسمه د جنوبي وزیرستان مرکز وانه ته په زرګونو سرتېري او توپخانې راوړل او د همدې میاشتې پر ۲۵مه نېټه یې دلته له وزیرو سره خبرې اترې پیل کړې.

ملا پیونده مسید د ډیورنډ ټرون او د وانه اشغال سخت خواشینی کړی و او د انګریز خلاف یې وسله وال جهاد پیل کړ. د ملا په مشرۍ د مسیدو او د شکي د وزیرو

مسیدو سرتېرو په دغه برید کې د اسانو او کچرو په ګډون ۲۶زره روپۍ او ۱۳۷ میله وسلې له ځانونو سره یووړې، خو انګریز ځواکونو هغوی تعقیب کړل او شمال پلو څو میله لرې یې په لګډ کې را ایسار کړل. په دې ناڅاپي تعقیبي برید کې مسیدو خپل ګڼ سرتېري له لاسه ورکړل. په دې جګړه کې د انګریزانو د مړو شمېر ۶۳ او د ټپیانو هغه ۱۸۳ ته و. په جګړه کې ۳۸۰ مسید او وزیر سرتېري مړه او د ملا پیونده د عملیاتي قوماندان جګړ په ګډون ۲۵۰ ته نور ټپیان وو.

ملا پیونده تر برید وروسته له پېښور زندان نه د خپلو ملګرو پر خلاصون او د مسیدو په سیمه کې د حکومتي فعالیتونو پر بندولو ټینګار درلود. هغه د ډېره اسماعیل خان کمشنر ته لیک ولیږه، چې د مسیدو پر هغو ملکانو باور ونه وکړي، چې په خپلو سیمو کې نفوذ نه لري، خو انګریزان د دغو سیمو نیولو ته هڅوي.

## جرګې او غچ اخستونکي عملیات

د۱۸۹۴ کال د نومبر پر ۱۸مه نېټه د انګریز ادارې او مسیدو او وزیرو ترمنځ جرګه وشوه، خو پایلې ته سره ونه رسېدل. د همدې میاشتې پر ۲۷مه ملا پیونده مسید په شکي کې یوه لویه جرګه راوغوښته، چې له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ کسانو پکې ګډون کړی و. انګریز ادارې دوی ته د ملکانو له لارې خپل شرایط وړاندې کړي وو او ملا پیونده او د جرګې غړو پرې بحثونه وکړل. قومي مشران بېرته وانه کمپ ته لاړل، خو څه، چې برېتانیایي سرکار غوښتل، هغه یې ترلاسه نه کړل. انګریزانو پر وانه کمپ د برید په پېښه کې د ګرېړي او عبدلي مسیدو برخه وال مشران جګړ، *پښکی او شهیر* غوښتل او ټینګار یې کاوه، چې له کمپ نه ولجه کړې ۱۳۷ میله وسلې، کچرې، اوښان او نور وسایل بېرته ور وسپاري او یا یې حکومت ته بیه ورکړي. هغوی د شکي وزیرو ( *د حمزالله وزیر قبیلې ته*) سپارښتنه کړې وه، چې ملا پیونده مسید له خپلې سیمې وباسي.

انګریزانو د ډسمبر پر دویمه یو ستر ځواک جوړ کړ، چې مشري یې تورن جنرال ویلیم لوکهرټ کوله. په دغه ځواک کې درې کنډکونه وو. په لومړني کنډک کې اصلي



لښکر له کانیګروم نه د وانه پر لور لاړ او د نومبر پر دویمه پرېکړه وشوه، چې سرتېري به د جګړ مسید او حمزالله وزیر تر مشرۍ لاندې د شپې په وروستیو کې پر کمپ برید کوي. بروس د ملا پیونده له بریده خبر و او ددفاع لپاره یې بشپړ تیاری نیولی و. هغوی د وانه په کمپ کې سرتېري ډېر کړل، تجهیزات یې دوه برابره کړل او شاوخوا یې امنیتي کمربندونه تقویه کړل.

*ملا پیونده خپلو سرتېرو ته له برید مخکې وویل: « که تاسې پر دښمن د برید پرمهال له ډوډۍ خوړلو، نسوار اچونې او دښمن ته له نښکځلو ډډه وکړه، د پرنګي کارتوس به پر تاسې بې اغیزې وي».*

د نومبر پر دویمه سهار پنځه نیمې بجې شاوخوا ۵۰۰ جنګیالیو د جګړ تر مشرۍ لاندې پر کمپ برید وکړ. جنګیالي له څو اړخونو د کمپ داخل ته ننوتل او د کمپ ګڼ اسان او نور سپرلي وړونکي وسایل او تجهیزات یې له منځه یووړل. د سرتېرو پر وړاندې په لومړۍ کرښه کې ګورخه پوځیان وو، ځکه خو یې ګڼ شمېر له تېغ تېر شول.[۴۰] وروسته سرتېرو هلته تړلي اسان او کچرې خوشې کړل او په انګریز ځواکونو کې یې سخته ګډوډي راوسته.

> *بروس ددې جګړې په اړه وایي: « جنرال ټېرنر حکم وکړ، چې ټول پوځیان د خوب پر وخت له ځانونو سره وسلې وساتي. دغه شپه پوځ هم پوره تیاری نیولی و. له موږ نه هیچا هم جامې بدلې نه کړې، ځکه موږ پوهېدو، چې ملا پیونده برید کوي. موږ د خپلو خیمو په شاوخوا کې ټول دفاعي ګامونه واخستل او پوځیان له وسلو سره یوځای ویده شول. تکه توره شپه وه، چې ناڅاپه یوه شیطاني غوغا راپورته شوه او د کمپ پر وړاندې د ډولونو ویرونکي غږونه پورته شول. د لمر تر راختو پورې لاس په لاس جګړه روانه وه. ما له هغو افسرانو نه، چې په دا ډول جګړو کې یې ځانګړې تجربې درلودې، واورېدل، چې دوی له دې مخکې له داسې ترخې تجربې سره نه وو مخ شوي».*[۴۱]

سکوړتيان، دويمه سرحدي ډلګۍ، او ګورخه لومړۍ ډلګۍ شامل وو.[۴۲]

د دويم کنډک مشري ډګر جنرال ډبليو،پي سيمونز او د درېيمې ډلې مشري ډګروال ايګرټون پر غاړه درلوده. انګرېزانو د ملا پيونده او مسيدو پر ضد د جرايمو، بريدونو او بلواوو ګڼې دوسيې جوړې کړې وې. د ډسمبر پر ۱۲مه مرکچيانو وويل، چې جرګه له مسيدو سره د انګرېزانو پر وضع شويو شرايطو موافقې ته نه ده رسېدلې او هغوی دغو شرايطو ته غاړه نه ږدي.

د ډسمبر پر ۱۶مه ويليم لوکهرټ خپلو ځواکونو ته د لشکرکشۍ يوه کړنلاره خپره کړه، چې لاندې مسايل پکې شامل وو:

- لومړی کنډک به له وانه نه د تيارزې له لارې پر شرونګي کوتل کانيګروم ته ځي
- دويم کنډک به له ټانک نه پر چنډولې، ساره راغه او مروبې، مکين ته ځي
- درېيم کنډک به له بنو نه د شکتوی او خيسوره پر لاره ځي، دروېش خېل به په منځ کې پرېږدي او رزمک ته به ځان رسوي.
- هر کنډک به د ډسمبر تر ۲۱مې نېټې پورې خپلو اهدافو ته ځانونه رسوي.

له وانه نه يوکنډک پر تيارزې کانيګرام ته راغی، د لوکهرټ تر مشرۍ لاندې کنډک له چنډولې نه پر مرغه بند او شيلمنزۍ کڅ او دوه توی تېر شو او د ملا کلي مروبې ته ورسېد. پر دغو ځواکونو هره شپه بريدونه کېدل، خو دا، چې انګرېز ان د ملا په نيولو پسې راوتلي ول، هغه له خپلو ملګرو سره يوځای د پرېغل په شمال کې درې ته وتلی و. ملا پيونده انګرېزانو ته خبرداری ورکړ، چې که په سيمه کې يې د مسيدو ملکي وګړو ته زيان ورساوه، د وانه د بريد او مرګ ژوبلې په څېر پېښو ته دې انتظار باسي.

درېيم کنډک تر بريدونو لاندې و او دوه ورځې وروسته خپل اصلي هدف رزمک او بيا مکين ته ورسېد. انګرېز ځواکونه په دغو عملياتو کې پر بدر، شکتوی، شيرنه، شينکۍ، تنګي او نورو سيمو وګرځېدل. مسيدو له دغو ځواکونو سره ځای ځای مقاومت وکړ، خو دا، چې د انګرېزانو قوت زيات او د وخت په مدړنو وسلو او تجهيزاتو



سمبال وو، د مخامخ سختې جګړې پرېکړه يې وړ ونه ګڼله. هغوی دا ځل خپل ډېری وسايل له ځانونو سره وړي وو، خو برځونه «ټامکې» او نور استوګنځي يې برېټانيايي ځواکونو ونړول. انګرېز ځواکونو په مروبې کې د ملا پيونده د اوبو ژرنده او کور او پر لاره د لنګرخېلو، ګرېړيو او نېک زن خيلو کورونه او ځاروي ټول له منځه يووړل. په دغو عملياتو کې انګرايزانو د وانه پر کمپ د بريد يو مهم جنګي قوماندان شهير هم وواژه.[۴۳]

## پر ملا پیونده د انګریز بندیزونه

په مسیدو کې د ۱۸۹۴ او ۹۵ کلونو له تصفیوي عملیاتو وروسته انګریزانو پر ملا پیونده یو لړ بندیزونه ولګول. ملا ددغو بندیزونو په پایله کې له ټولو هغو خبرو اترو بې برخې شو، چې د مسیدو او انګریزانو ترمنځ به کېدې. په سیاسي بهیر کې د ملا د بیا حضور لپاره د انګریزانو یو شرط دا و، چې هغه به د ډیورنډ کرښه مني. ملا پیونده له افغان حکومت په ځانګړې توګه د امیر حبیب الله خان له ورور نصرالله خان سره نږدې اړیکي درلودل. پیونده مسید په کابل او خوست کې پټنځایونه درلودل او له همغه ځایه یې د عملیاتو لپاره مرستې ترلاسه کولې. انګریزانو وروسته پر ملا پیونده بندیزونه لرې کړل او ددې لامل یې هم دا باله، چې ملا په خپلو خلکو کې حقیر نه شي، خو حقیقت دادی، چې د انګریزانو بندیزونه ددوی لپاره ګټور نه وو، ځکه ملا ورځ تر بلې په کابل متکي کېده او دې مسالې په وزیرستان کې د انګریزانو او ډیورنډ کرښې پر وړاندې دلته میشتې نورې قبیلې هڅولې. انګریزانو کوښښ کاوه، چې ملا پیونده مسید د پیسو او نورو امتیازاتو له لارې د ځان په ګټه وکاروي، خو هغه د خپل مرګ تر پایه پورې د ډیورنډ کرښې او انګریز ښکیلاک مخالفت جاري وساته. ملا پیونده د ۱۸۹۵ ز کال په جنورۍ کې د ډیورنډ کرښې او انګریزانو خلاف د مخالفت او جهاد چیغه په داوړو، مداخېلو وزیرو، سپین وام او تیراه کې هم پورته کړه، خو څه ډول، چې تمه وه، په هغه کچه یې خلکو ملا ونه ترټه. د ملاتړ د نه حصول یو لامل دا و، چې انګریزانو په سیمه کې د هغه پر وړاندې ملکانو ته پیسې ورکولې او هغوی خلک د ملا له ملاتړه را ګرځول.

ملا د ۱۸۹۶ کال په جون کې له مروښي نه له خپلو ۱۰۰۰ طالبانو سره یوځای د جهاد په چندو پسې راووت او د رزمک په ممي راغه، توت نرۍ، پایي خېلو، داوړو، شیرنۍ، مایزر ، خیساره او توري خېلو کې یې چندې راټولې کړې او خلک یې وهڅول، چې د ملکانو او هغو کسانو جنازې ونه کړي، چې له انګریزانو سره کار کوي.

## ځنځیري پاڅون



په ۱۸۹۵ز، ۹۶ او ۹۷ او ۹۸کلونو کې برېټانیایي ځواکونو د شمالي وزیرستان په توچي، دته خېلو، کژه، شوال، خیوي درو او سیمو کې هم عملیات وکړل او دواړو خواوو ته یکې مرګ ژوبلې واوښتې. په ۱۸۹۵ ز کال د ډیورنډ کرښې له په نښه کولو وروسته او دغو سیمو ته د پوځیانو له لیږلو سره جوخت، په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د انګریز پر وړاندې خلک لا کرکجن شول. انګریزان په دې لټه کې وو، چې د وانه، رزمک او توچي په څېر ستراتیژیکې سیمې تر خپل واک لاندې راولي او په همدې موخه یې بېلابېلو سیمو ته لښکرکشی وکړې. انګریزانو د ډیورنډ کرښې له په نښه کولو وروسته، د ۱۸۹۶ز کال په ډسمبر کې په سرویکي، چنډولي، شوره، توچي، میران شاه، سیدګي، دته خېلو، شیرنۍ او نورو سیمو کې پوستې او مرکزونه جوړ کړل او دې چارې یوځل بیا د جګړو لمبې تازه کړې.

د ۱۸۹۷ز کال د جون پر لسمه د بر توچي په مایزر کلي کې د مداخېلو وزیرو او انګریزانو ترمنځ نښتې وشوې. دغه جګړه مایزر ته له پوځي بدرګې سره مل د توچي د سیاسي استازي ایچ اې جي(H.A.Gee) پر تګ او هلته د پوستې جوړولو پر سر ونښته. په دغه برید کې د برېټانیا ګڼ جګپوړي افسران او پوځیان ووژل شول او ګڼ نور یې ټپیان شول. په لومړي سر کې په دې شخړه کې د انګریزانو د مرګ ژوبلې دقیق شمېر نه ښودل کېده، خو وروسته جوته شوه، چې په دې جګړه کې ۲۲ پوځیان، او د هغوی دوه لاربنودي وژل شوي دي. په دې جګړه کې د دریو انګریز افسرانو په ګډون ۲۴ تنه نور ټپیان وو. په وژل شویو کې د لومړي سبک غونډ انګریز کپتان ډګروال اې سي بوني، کپتان جې، ایف براون او تورن ایچ اې کرویکشنک هم شامل وو. د ډاکټر کاسیډي په ګډون درې نور افسران په دې جګړه کې ټپیان شول، چې دوه تنه ترې په وروستیو کې مړه شول.

د برېټانیایي اشغال هندی تاریخ، شمال لویدیز ایالت کتاب لیکوال وایي: «*د توچي سیاسي افسرګي (H.A. Gee) د جون پر لسمه سهار وختي له دته خېلو وتلی و. هغه ۳۰۰ سک پوځیانو او ګنو نورو*

*سړتېرو او توپخانې بدرګه کاوه. هغه د مرکزي قوماندې او پاټک لپاره په شینه کې د یوه ورځای په لټه کې و. وروسته په مایزر کې تم شو. سیاسي افسر او د هغه مسلمانو سړتېرو ته په مایزر کې یوه سیمه ییز ملک ساده خان ډوډۍ کړې وه، خو ماسپښین دوه بجې شاوخوا ۵۰۰ کسانو پر هغوی برید وکړ او هرڅه یې ورګډوډ کړل».*

دوی سره له دې، چې د مرستندویه ځواک په ترلاسه کولو سره په شینه کې کلاوې او کورونه وسوځول، خو د مبارزانو د مقاومت په پایله کې د دته خېلو پر لور وتښتېدل او ګڼ پوځیان، وسلې او اسان یې له لاسه ورکړل. خدرخېلو شیرنې ته څېرمه د انګریزانو ټپیانو ته کټونه را واېستل او د خپلې انساني خواخوږۍ له مخې یې ټپیانو ته اوبه ورکړې. پوځیان د شپې شاوخوا ۱۲ نیمې بجې خپل کمپ ته ورسېدل. ډګروال بني او کپتان براون له مرګونو ټپونو وروسته د لیرد پر مهال پر سړک مړه شول. انګریزان په دغه برید کې د وزیرو مړي ۹۰ ته نښيي، چې یو ملک او څلور ملایان هم پکې وو.

انګریز چارواکي په دې اړه وایي: « *د توچي د سیاسی افسر نباغلي ګي پر بدرګه کوونکو سړتېرو برید، چې له شیرنې نه د مایزر پر لور تللی و، د اتمانزي درویش خېلو وزیرو د مداخېلو نباخ کار و».*

انګریزان دې تېښتې ته د سرحد ایالت په تاریخ کې د یوه غوره تاکتیکي شاتګ اصطلاح کاروي، خو په حقیقت کې دوی پر هغه ماته سترګې پټوي، چې د وزیرو مبارزانو پر وړاندې یې خوړلې وه. له دغو بریدونو سره سم، په ټولو قبایلي سیمو کې خلک د انګریزانو پر وړاندې پاڅېدل او انګریز ځواکونو هم د عمومي پاڅون د مخنیوي په موخه په مایزر کې سخت چانیز عملیات پیل کړل. انګریزانو په دغو عملیاتو سره دوه کاره وکړل، یو خوا یې په قبایلي سیمو کې د زور پالیسۍ له مخې په لښکرکشیو سره یو شمېر خلک د خپلې واکمنۍ منلو ته اړ اېستل او بل پلو یې له عملیاتو سره جوخت په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د پوځي او نورو تاسیساتو پر ټینګولو پیل وکړ.



## د مسیدو نوي تحرکات او ناغې

د مداخېلو وزیرو له دې نښتو سره پر یوه وخت مسید غلي ول، ځکه هغوی یو خوا د انګریزانو چپاوونو ځپلي وو او د بیا راپورته کېدو او اکمال لپاره د مساعد وخت په لټه کې وو، بل پلو ملا پیونده مسید د خپلې ځانګړې ستراتیژۍ له مخې د یوه وړ فرصت په لټه کې و.

د ۱۸۹۶ز کال په اکتوبر کې، چې ملا پیونده له کابل نه بېرته را وګرځېد په سمبولیک ډول یې د سولې او نظم د ساتلو هڅه کوله، ځکه امیر عبدالرحمن خان ترې همدا ډوله غوښتنه کړې وه. هغه د لومړي ځل لپاره د چنډولي د حوزې له امر غلام محمد سره خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې که انګریزان په کنډیوام، خدرخېلو او مداخېلو کې د پوستو جوړونې له پلان تېر نه شي، مسید، وزیر او اپریدي به یې پر وړاندې راپورته شي.

له کابل نه تر راستنېدو وروسته د ملا پیونده جګړه ییزه ستراتیژي پر خبرو اترو او هممهالې جګړې ولاړه و. یو خوا یې له انګریزانو سره د سولې او ټیکاو پر سر خبرې کولې، خو ترڅنګ یې په بېلابېلو برخو کې خپلې دفاعي کرښې، اکمالات او جنګیالي تنظیمول. ملا د لومړي ځل لپاره د دښمن د پرمختګ د مخنیوي په هدف د خیسوره په توروام، بروند او کوټکي کې کلاوې جوړې کړې، چې دا په حقیقت کې د انګریز ځواکونو د پرمختګ پر وړاندې د ده د جګړه ییز تاکتیک یو نوی اړخ و. پر دې سربېره هغه د خپل ۲۰۰ کسیز لښکر لپاره د استوګنې او خوراک او څښاک ټولې زمینې برابرې کړې. د ملا پیونده او انګریزانو ترمنځ په ۱۸۹۷ کال کې بېلابېل لیکونه تبادله شول. دا چاره د هغه د نوې ستراتیژۍ یوه برخه وه او په دې فرصت کې یې د خپلو جنګیالیو پر راغونډولو او تنظیم کار کاوه. هغه دغه راز هڅه کوله، چې دده او انګریزانو ترمنځ د اړیکو د ترینګلتیا عامل یو شمېر مشخص افسران او ملکان هم په ډاګه کړي. په دغه وخت کې د ملا پیونده عملیاتي قوماندان جګړ په زندان کې و، خو د نورو جبهو قوماندانان یې( میاجي، عمر دین عبدلی، ګل داد عبدالرحمن خېل، ځلمن یشنګی، خالو عبدالرحمن خېل،

سیمي جان او سیلګی) په خپلو دفاعي او یرغلیزو پلانونو بوخت وو.

د سولې خبرې د ملا او انګریزانو دواړو خواوو اړتیا وه، ځکه ملا غوښتل، چې له انګریز سره تر روغې وروسته به پر ده لګېدلي بندیزونه لرې شي او د جګړه ییز ځواک د جلب او جذب په موخه به په ټولو هغو سیمو وګرځي، چې د انګریزانو تر واک لاندې دي او انګریزانو هم غوښتل، چې په مسید میشتو سیمو کې د دوی د پرمختګ اصلي خنډ ملا په پیسو او امتیازونو له جګړې راوګرځوي. د ۱۹۰۰ ز کال د فبروي پر ۲۶مه ملا پیونده او د جنوبي وزیرستان سیاسي افسر ایچ ډي واټسن په چنډولي کې سره وکتل، خو دا، چې د ملا شرایط مسید میشتو سیمو ته د انګریزانو پر نه داخلېدو او په وزیرو کې د نویو پوستو پر نه جوړولو متمرکز وو، دغه خبرې اترې کومې پایلې ته ونه رسېدې.

د ۱۹۰۰ کال د ډسمبر پر لومړۍ نېټه انګریزانو د بریدونو په مقابل کې د ۱۰۰ زره هندي روپیو جریمې اعلان وکړ، خو دې چارې دومره اغیز ونه کړ، ځکه د ۱۹۰۱ کال په جنوري کې د مسیدو بریدونو انګریز دې اته اړ کړ، چې په نومبر کې یوځل بیا د دوی سیمو ته ځواکونه واستوي. انګریز ځواکونو په پټه توګه د نومبر پر ۲۳مه د خیسوره او شوره د مسیدو خلاف تصفیوي او ورانکاري عملیات پیل کړل.[۴۴] د عملیاتو هدف دا و، چې د مسیدو مطلوب کسان ونیسي، د هغوی کورونه او کروندې له منځه یوسي او څاروي او خوراکي توکي یې پوځ په ولجه یوسي. په دغو عملیاتو کې څلورو کنډکونو برخه درلوده، چې په هر کنډک کې له ۹۰۰ تر ۱۲۵۰ پورې پوځیان وو. دوی د دته خېلو، چنډولي، سرویکي او وانه له لارې په مختلفو لارو د مسیدو پر ضد عملیات پیل کړل. ددغو عملیاتو مشري د ډګر جنرال ډېننګ پر غاړه وه، خو مسیدو یې پر وړاندې په خورا مېړانه مقاومت کاوه. دویمه برخه عملیات یې د ډسمبر پر ۱۹مه نېټه پیل کړل او له چنډولي نه یې د سرویکي، دوې شینکۍ او سپلې توی لګډ پر لور وغځول. د چنډولي کنډک ، چې ۲۰۵۲ ټوپکوال، ۱۳ نیزه ویشتونکي او څلور توپونه پکې شامل وو، د شینګي کوټ له لارې عمر رغزي، پریدیو او ترپې لګډ ته لاړل او پر لاره یې ټولې دفاعي مورچلې، کورونه او کروندې له مینځه یوړل. له سرویکي نه د ډګروال هوګ په مشرۍ



درې کنډکه سرتېري راوتلي وو، چې دوه توپخانې هم ورسره ملې وې. دوی هم د دوې شینکۍ له لارې په شوره، بادشاه خان، نانو نري او سپلېتوی لګډ راووتل. د ډسمبر پر دوه ویشتمه دواړو ډلو سرتېري سره یوځای شول او په دوې شینکۍ یې بریدونه وکړل. دلته د مسیدو ګڼ مبارزان د هغوی مقابلې ته را غونډ شوي وو، خو انګریزانو په توپونو سره د هغوی استوګنځایونه او مورچلې له منځه یوورې او پر ۲۴مه نېټه بېرته چنډولي ته ستانه شول. دغو عملیاتو پر مسیدو اغیز ونه کړ او انګریز ته هم له چنډولي نه د پرله پسې عملیاتو پیلول اسانه و، ځکه مخکې ددوی عملیات له ټانک، بنو او ډېره اسماعیل خان نه تنظیمېدل، خو په دې کلونو کې دوی په وانه او چنډولي کې چونۍ جوړې کړې وې او پوره ځواک یې درلود.

په څلورم ځل اوږدو عملیاتو کې دوی شکتوی، شیرنۍ او شځه لګډ په نښه کړي وو. په دغو عملیاتو کې دوی بیا یوازې د خلکو کورونه رنګ کړل او د هغوی څاروي او کروندې یې له منځه یوړل، خو بل محسوس بری یې نه درلود. په همدې کلونو کې انګریزانو د کابل خېلو وزیرو او د ۱۹۱۱ کال په مې کې د هادي خېلو وزیرو پر ضد هم عملیات جاري ساتلي وو.

**«د طالبانو بادشاه»**

ملا پیونده په وزیرستان کې پوره دوه لسیزې د انګریزانو لپاره سرخوږ و.

انګریزانو هغه د طالبانو بادشاه (King of the Taliban) باله. له ملا سره په هره بدرګه کې له ۱۰۰۰ کم کسان نه ګرځېدل او ، چې لرې سیمو او عملیاتو ته به یې نیت و، له درې تر څلورو زرو طالبانو ورسره ملګرتیا کوله. هغه په مسید میشتو سیمو کې د انګریزانو د پوځي بیا رغونې مخه نیوله او تر ټولو ستر ځواک یې طالبان ول، چې د هر ټولي او ډلې په سر کې به یې یو شیخ و. د ملا پیونده د شیخانو او طالبانو ډوډۍ پر خلکو وه، خو په مروبي کې یې یو لنګر هم ورته پرانېستی و. دغو طالبانو د نن په څېر، په ټولیز ډول خپل خوراک او څښاک له خلکو ورټولاوه او دې چارې د هغوی اکمالات

اسان او مقاومت مداوم کړی و.

### هدفي وژنې (Targeted Killings)

د وزیرستان په تاریخ کې د ملا پیونده جګړه ییز تاکتیک ځکه له نورو سره متفاوت دی، چې نوموړي هدفي وژنې (Targeted Killings) او د دښمن لیکو ته د نفوذ هڅې کولې. ملا پیونده د هدفي وژنو ستراتیژي په وزیرستان کې د برېټانیا د پرمختګ پالیسۍ د مخنیوي او د انګریز پوځي او سیاسي فعالیتونو د محدودولو په موخه کاروله. دغه ستراتیژي په تېر کې اسراییلو او اوس یې د بې پیلوټه الوتکو له لارې د طالبانو او القاعدې پر ضد امریکا او دغه راز طالبان او القاعده یې د نورو ډلو او حکومتونو پر ضد کاروي.

د ملا پیونده جګړه ییز تاکتیکونه په وزیرستان کې د انګریزانو د پرمختګ پالیسۍ د مخنیوي لپاره خورا اغېزناک وو. د هغه منظمو غلچکیو بریدونو، یا خرپ او ترپ جګړې او د عملیاتو څرنګتیا انګریزان خورا پرېشانه کړي وو. دی له پیر روښان وروسته د وزیرستان لومړنی کاریزماتیک (Charismatic) مشر و، چې د خپل ځانګړي جذابیت له امله یې د وزیرستان په دودیزه ټولنه کې د خلکو زړونو او فکرونو ته نفوذ کړی و. د ملا پیونده همدغه الګو شخصیت له امله په خلکو کې د هغه یو غیر عادي او استثنایي پلویتوب راټوکېدلی و.

په وزیرستان کې، چې تر ۱۹۱۳ کال پورې څومره انګریز جګپوړي چارواکي وژل شوي، طراح یې ملا پیونده او د هغه ملګري وو. کله، چې انګریزانو د لارډ کرزن په وړاندیز په وزیرستان کې د سیمه ییزو ملېشو طرح پلې کوله، ملا په دغو ملېشو کې خپل ګڼ شمېر کسان ځای پرځای کړي وو. جګړن ټانوچي( ۱۹۰۲)، کپټان وایټ، بریدمن لانګ هارن( ۱۹۰۳)، د سویلي وزیرستان سیاسي استازی کپټان باورنګ ( ۱۹۰۴)، ځایناستی سیاسي استازی ډګرمن ریچارډ هرمېن ( ۱۹۰۵)، کپټان ډونلډسن (۱۹۰۵)، د شمالي وزیرستان ملېشه قوماندان کپټان ني ( ۱۹۰۹)، د سرحدي پولیسو قوماندان



کپټان سټرلېنګ ( ۱۹۱۴) او تورن انډرسن ( ۱۹۱۴) هغه جګپوړي انګریز افسران وو، چې ډېری یې د ملا پیونده مسید په ژوند او یوځو د هغه تر مړینې وروسته د هدفي وژنو او د جګپوړو منصبوالو د ترور په طرحو کې وژل شوي دي.

دغو بریدونو انګریزانو ته سخته ضربه رسوله، ځکه د هغوی پوځي ستراتیژیستان د جګړه ییز ځواک قوماندانان او د خارګرو ادارو مسوولان په پرله پسې توګه د ملا په تاکتیکي بریدونو کې وژل کېدل. انګریز خارګرو ادارو په دغو وژنو او پلانونو کې د ملا پیونده د افغانستان د جبهې لاس ښکیل باله.

### په ملېشه کې د مسیدو د بغاوت هڅې

د لارډ کرزن په وخت کې انګریزانو له مسیدو او وزیرو څخه ملېشې جوړې کړې، چې شمېر یې ۱۷۰۰ تنو ته رسېده. دغو ملېشو یو سوبېدار، یو جمادار او څلور انګریز افسران درلودل، چې په سیمه کې یې د امن او ثبات د خوندیتوب دنده درلوده. ددغو ملېشو یوه برخه د سرویکي په کلا کې اوسېده، چې قوماندان یې ډګرمن ریچارډ هرمن و. ملا پیونده ددې ملېشې سخت مخالف و او انګریزان یې هم ویرول، چې مسید ملېشه سرتېري هروخت ګواښ ورته پېښولای شي. په حقیقت کې د سرویکي او وانه په کمپ کې د ملېشو په لیکو کې د ملا پیونده ګڼ مبارزان ځای پرځای شوي وو. د کپټان بورینګ له وژنې مخکې هغه بورېنګ ته خپل خبرداری ور لیږلی و.

د ۱۹۰۴ ز کال په سپټمبر میاشت کې یوه مسید ملېشه سرتېري (کابل خان عبدالرحمن خېل) د شپې ناوخته په سروېکي کلا کې د سویلي وزیرستان سیاسي استازی (Political Agent) کپټان باورېنګ (Captain Bowring) وواژه.[٤٥] د باورېنګ له وژل کېدو وروسته د ملېشو قوماندان ډګرمن ریچارډ هرمن د جنوبي وزیرستان لنډمهالی پولیټیکل اجنټ وټاکل شو. هرمن پر یوه وخت دوه دندې نه شوای پرمخ وړای، ځکه خو یې پرځای ایولین هاویل (Evelyn Howel) د سویلي وزیرستان د نوي پولیټیکل اجنټ په توګه وانه ته راغی. د باورېنګ له وژل کېدو وروسته انګریزانو په ملېشو کې د مسیدو پر تصفیې لاس پورې کړ او ګڼ هغه سرتېري یې و اېستل، چې

قوي تضمینونه یې نه درلودل.

د ۱۹۰۵ز کال د فبروري پر لسمه نېټه، ایولین هاویل، ډګرمن ریچارډ هرمن او د ملېشو مرستیال قوماندان پلانټ د بېګاه ډوډۍ خوړله، چې ناڅاپه د کوټې د یوې کړکۍ ښیښې ماتې شوې. ترڅو، چې نوي پولیټیکل اجنټ او د ملېشو قوماندان ځانونه دفاع ته چمتو کول، د ملېشې یوه مسید سرتېري خپله برچه د ډګرمن ریچارډ هرمن تر زړه بوټه ابستې وه.

*ایولین هاویل وایي: « د ملېشو مرستیال قوماندان پلانټ راغی او ویې ویل، چې دا سړی ( وژونکی) مسید دی، خو دلته د مسیدو پوره نیم ټولی پروت دی، چې دغه سړی یې هم کېدای شي غړی وي. د توقیفخونې پهره هم دوی کوي. زما په نظر دوی باید له یوې مخې بې وسلې شي».*

د مسیدو د بې وسلې کولو پرېکړه د انګریزانو احتیاطي عمل و، ځکه دا احتمال ډېر و، چې په راتلونکي برید کې نوی سیاسي استازی ایولین هاویل په نښه شي. دا وخت د وانه کمپ په توقیف خونه او ډیپوګانو کې ۵۰ مسیدو سرتېرو پهره ورکوله. له دې پرته په بهر کې د مسیدو یو بل ټولی هم موجود و. انګریزانو په خپلو ځانګړو تاکتیکونو سره مسید له ملېشې و ایستل، خو څو تنو یې له ځانونو سره ټوپک وتښتول. د ریچارډ هرمن د وژونکي «صابرخان شابي خېل» د محاکمې چارې پخپله ایولین هاویل په لاس کې واخستې.

*هغه پخپله وایي: « زه یوازینی باصلاحیته قانونپوه وم او څومره مې، چې کولای شوای، په هومره بې رحمۍ مې محکوم کړ. ده پر جرم اعتراف نه کاوه، بې خپل کار یې ویاړ کاوه. هغه ویل، چې له درې میاشتو راهیسې دې ورځې ته منتظر و او زړه یې و، چې ټول ووژني».*

هاویل وایي، چې دده د اتلولۍ په ویاړ په کابل کې یوه سندره هم جوړه شوې وه. کله، چې د هرمن وژونکی اعدام کېده، دار ته له خیژولو نیم ساعت مخکې یې



سترګې توري او ځنې ږمنځ کړې. هاویل وایي، چې دی د ملا پیونده مسید د کورنۍ نږدې کس و او پلان داسې و، چې دی به ډز کوي او په کمپ کې د مسیدو میشت ټولی به پر وسله کوټونو او ډیپوګانو برید کوي او د افسرانو د وژنې ترڅنګ به له ځانونو سره وسلې او مهمات وړي.

ایولین هاویل، اولف کارو او د هغوی په تقلید یو شمېر پاکستاني لیکوالان ملا پیونده مسید وژونکی، ظالم او معامله ګر بولي.

*ایولین هاویل وایي: « ددې سیمې ( وزیرستان) ټول حالات په ملا پیونده پورې تړلي وو. هغه په څه حیلو او ټګیو او برګیو ځان په ټولو مسیدو کې مشهور کړی و او تر ټولو قوي او مهم کس و. ده ته ځانګړي امتیازات ورکول کېدل. ده ته یوې سرچینې، چې زه یې نه نسیم، د پیسو بنډلونه ورکول. چابه یې، چې په ډاګه مخالفت کاوه، یو په بل پسې ورکېدل او داسې وخت هم راغی، چې اپوزیسیون یې له منځه لاړ. ده پرځان سړي وژونکي راټول کړي وو. دی د هغوی له اخلاقو او کرکټر نه بې خبره نه و، د هر یوه په بریالیتوب کې دده ونډه وه. ده خپله د حکومت پر ضد په ډېرو عملیاتو کې برخه اخستې وه او څو ځله اړ وتی و، چې له هېواده بهر وتښتي، خو کله به، چې وریځې له سره واونښتې بېرته به راغی او د سولې خبرې به یې کولې. سکرتر یې هم همدا ډول خبرې کولې، ځکه ملا پخپله لوستی نه و. ده به کله کله پولیټیکل اجنټ ته په پارسي ژبه ادبي لیکونه استول، چې د خپل بادار هیلې او نظرونه به یې پکې منعکس کړي وو. زما په باور دی هېوادپاله سړی و او د لارډ کرزن د ملېشې جوړونې پروژې پر وړاندې ستر خنډ و. هغه د خپلو خلکو دودیزې ازادۍ د ساتلو لپاره تل لارې نیولې، لارې یې ویجاړولې او تیوري یې ظالمانه عمل و. ده به ښکاره په ملېشو کې د ځا د ګډون مخالفت نه کاوه، خو نورو ملایانو ته به یې ویل، چې د حکومت د نوکرانو جنازې ونه کړي، په ټپه یې خپل سړي دې

*ته هځول، چې په ملېشو کې شامل شي...».*[٤٦]

هاویل په دغو کرښو کې د یوه داسې انګرېز جګپوړي چارواکي په توګه غږېږي، چې په مقابل کې یې ملا پیونده د خپلواکۍ ساتنې او دین ساتنې د مبارزې توغ په لاس کې نیولی و او دی هم د هغه د ترور په لېست کې شامل و.[٥] ایولین هاویل په «میژ» کتاب کې، چې د وزیرستان د هغه وخت پر وضعیت او مسیدو لیکل شوی، وایي: *«له ملا پیونده سره په ناسته پاسته کې هرڅوک دده د کرکټر، شخصیت او وینا تر اغیز لاندې راتلل».*

انګرېزانو په بېلابېلو کتابونو ( میژ- ایولین هاویل)، ( پټان- اولف کارو)، ( د وزیرستان پوځي رپوټ- ۱۹۳۵) کې ملا پیونده ته د بانفوذه شخصیت، مضر لاربنود او ظالم تیوریسن بېلابېل نومونه کارولي دي.

## غڃ اخستونکي عملیات

د ۱۹۱۴ز کال د اپریل په ۱۴مه په ټانک کې مبارزانو د وانه پولیټکل اجنټ جګړن جي ډوډ وواژه. انګرېزانو یې تور پر مسیدو پورې کړ او د غڃ اخستونکو عملیاتو په لټه کې شول. دغه مهال د هدفي وژنو او د انګرېزانو خلاف د نورو بریدونو مشري د ملا پیونده زوی ملا فضل دین پرغاړه درلوده. هغه د انګرېزانو پر وړاندې د پراخو عملیاتو پلوی و، خو یو شمېر ملکان دده په مخالف اړخ کې وو او له انګرېز سرکار سره یې اړیکي ښه وو. په اکتوبر میاشت کې د ملا فضل دین اتیا پلویانو د کجوري کڅ او تنایي ترمنځ د انګرېزانو پر

*[٥] هاویل په دغو کرښو کې د خپل یوه سرسخته دښمن په اړه غږېږي او ژبه به یې خامخا ستوغه وي. هغه په خپلو دې کرښو کې ملا پوونده مسید ته د هېوادپاله خطاب کوي، په داسې حال کې، چې همدا یوه کلیمه دده پر ټولو تورونو او ادعاوو د بطلان کرښه وباسي. ملا پوونده ته د پیسو د بنډلونو ادعا تر ډېره ګونګه ده، خو دا، چې په وروستیو کرښو کې یې د « خپل بادار» د هیلو د انعکاس خبره کړې، په غالب ګومان به هدف د کابل امیر عبدالرحمن خان او سردار نصرالله خان وي.*



یوې ډلې برید وکړ او ۱۵ تنو ته یې مرګ ژوبله واړوله. څو ورځې وروسته یې تورمنډو ته نږدې بریدونه وکړل، چې ۱۰ تنه پکې مړه او درې نور ټپیان شول او ۱۳ میله وسلې د مبارزانو لاسونو ته ورغلې.

په دې وختونو کې د مسیدو یو شمېر قبیلې له انګرېزانو سره د سولې پلوی وې، خو شابي خېلو او عبدالرحمن خېلو له هغوی سره جوړجاړی نه کاوه. فضل دین په دې وختونو کې له لالي پیر، ملا حمزالله وزیر او یو شمېر نورو ځایي او افغان مبارزانو سره یوځای د انګرېز خلاف فعالیت کاوه.

په فبروري میاشت کې انګرېزانو غوښتل، چې محمدحسن- سپینکی سړک جوړ کړي، خو یو شمېر قبیلو یې مخالفت کاوه. وروسته ملا فضل دین ددغه سړک پر وړاندې خپل مخالفت ډاګیز کړ او ګواښ یې وکړ، چې پر برېټانیایي ځواکونو به خپل بریدونه ډېر کړي. انګرېزانو د جرګې د پرېکړو په تمه پر دغه سړک خپلې چارې وځنډولې، خو قومي جرګه کومې پرېکړې ته ونه رسېده. ملا فضل دین د فبروري پر ۲٦مه په مروبي کې څوسوه شابي خېل او عبدلي ملاتړي سره راغونډ کړل او د همدې میاشتې پر ۲۷مه سپلې توی او یوه ورځ وروسته بروند ته ورسېدل. په مارچ میاشت کې ګڼ شمېر ناناخېل ورسره یوځای شول، چې د انګرېزانو پر وړاندې تل په لومړۍ کرښه کې جنګېدل. په بروند کې له دوی سره د شکي د حمزالله وزیر ملګري هم یوځای شول او شمېر یې ۱۵۰۰ تنو ته ورسېد. ملا فضل دین او ملګرو یې کوښښ وکړ، چې د منزیو ملکان هم له ځانونو سره د انګرېز خلاف جهاد کې ملګري کړي، خو پر ځینو مسالو د اختلاف له امله په دې چاره کې بریالي نه شول. انګرېزانو پر وخت خبر ترلاسه کړ، چې په بروند کې د ملا فضل دین او حمزالله شاوخوا ۱۵۰۰ تنه مبارزان پر دوی د برید تیاری نیسي. دوی سرویکي ته د جنوبي وزیرستان له ملیشو نه ۷۰ تنه ور واستول او په دې سیمه کې یې خپل سرتېري ۲۵۰ تنو ته ډېر کړل. د مارچ پر لومړۍ نېټه له مرکز سره ددوی د پوستې د ټلګراف اړیکي پرې شول، خو په څو ورځو کې یې د تنایي، سرویکي ترمنځ د درګې اوبه له لارې اړیکي بېرته ټینګ کړل. د بروند له لښکر سره ۱۵۰۰ بهلولزي هم یوځای شول او شمېر یې درې

زرو تنو ته لوړ شو. د سرویکي د ګریسي سر پوسته د کونډې غره په لوړ ځای له سنګرونو سره مل جوړه وه او انګریزي پوځیانو په خپل کم شمېر سره د پوستې او برخ د نیولو او له منځه وړو مخه نیولای شوای، خو پر وړاندې یې مبارزان په غلچکیو او ډله ییزو بریدونو کې خورا چټک ول.[۴۷]

مسیدو او وزیرو د مارچ پر لومړۍ نېټه د شپې دوه بجې پر پوسته ډزې پیل کړې. فضل دین په لومړي برید کې ۱۵۰ کسان پر پوستې ور وخېژول، دوی د پوستې په نیولو کې پاتې راغلل، خو په دویم برید کې د ګریسي سر پوستې ته په رسېدو بریالي شول. دوی د سرویکي په کلا کې انګریز ځواکونه محاصره کړل. د انګریزي پوځیانو قوماندان ایف ایل هوغز و، خو دی او ۱۹ نور ملګري یې په دې جګړه کې مړه او ۱۰ نور ټپیان شول او مبارزانو ګنې وسلې او نور توکي ترې ولجه کړل. د جنوبي وزیرستان د ملېشې قوماندان له خپلو ۱۵۰ ملېشو سره یوځای د مارچ پر دریيمه له وانه نه د خپلو ملګرو په ملاتړ راووت. له ټانک نه هم ددوی مرستې ته یو کنډک راوخوځېد او د مارچ پر نهمه سرویکي ته راغی. دوی تر بروند پورې د فضل دین په مبارزانو پسې لټه وکړه، خو له ډېر مقاومت سره مخ نه شول. انګریز ځواکونو پر لاره کورونه او کروندې وسوځول، د مارچ پر یوولسمه بېرته کجوري کڅ ته را وګرځېدل او دلته د اپریل تر دریيمې پورې پاتې شول. دوی هوډ درلود، چې ټانک ته لاړ شي، خو په غوالري نري کې یې پر وړاندې مبارزانو لاره نیولې وه. انګریز ځواکونو د اپریل پر ۹مه خپل لوری له خجوري کڅ نه د نیلي کڅ پر لور وګرځاوه، خو لږ مزل یې نه و کړی، چې تر بریدونو لاندې راغلل او ۱۸ تنه مړه او دوه ټپیان یې ورکړل.

د ۱۹۱۷ ز کال په مې میاشت کې مبارزانو په تیارزه، نیلي کڅ او شیرنې لګډ کې پر کاروانونو، پوستو او د وانه پر پوځي کمپ ګڼ بریدونه وکړل. په دغو بریدونو کې انګریزانو د افغان امیر حبیب الله خان لاس ښکېل باله، خو واقعیت دادی، چې امیر انګریز پلوه سیاست درلود، اما ورور یې د ترکیې او جرمنیانو په لارښوونه د وزیرستان له مجاهدینو سره مرستې کولې. د ۱۹۱۷ ز کال د مې پر ۳۱مه ملک موسی خان مسید د



توت نري پر کلا برید وکړ او ۶۰ میله ټوپک او ۱۲۰ زره کارتوس یې په غنیمت یووړل. په همدې کال په ټانک زام، نیلي کڅ، غوالیري نري، تیارزه، سرویکي، نانو، خیسوره او ګنو نورو سیمو کې شخې شولانګې وشوې. د جون په میاشت کې انګریزانود الوتکو تر سیوري لاندې یوځل بیا د مسیدو پر ضد لښکرې واستوې او د جون له ۱۲مې نېټې یې د اګست تر ۱۷مې پورې په ټانک زام، شهیر، حیدري کڅ، سرویکي، قمردین کلي، نانو، بروند او نورو سیمو کې مانورې وکړې.

په نانو کې انګریزان د منزیو د مشر کتب خان کلي ته لاړل، ځکه دغه کلی مبارزانو د خپل مرکز په توګه کاراوه. کتب خان له افغان امیر سره نږدې اړیکې درلودل. د انګریزي ځواکونو قوماندان تورن جنرال باینن د جون میاشتې پر ۲۱مه نېټه پر نانو کلي د برید پلان طرح کړ. دغه مهال د مسیدو ۳۰۰ سرتېرو په شاوخوا غرونو کې سنګرونه نیولي وو. د انګریزانو شپږم کنډک، نیپال رجمنټ، ګورخه او مهندرادال کنډکونه پر بېلابېلو لارو واستول شول او ۵۵ رایفل کنډک د ریزرف په توګه وساتل شو. د نانو په غاښي کې د دواړو خواوو ترمنځ سختې نښتې وشوې او د مبارزانو په لومړني وار کې د ګورخه رایفل شپږم کنډک جګپوړی افسر تورن هارټي له پښو وغورځېد. له دوی سره په عملیاتو کې الوتکې هم ملګرې وې او د مبارزانو سنګرونه به یې له توپخانې سره یوځای په ښنبه کول. د انګریزانو دوو غرنیو توپخانو د ماسپښین تر دوو بجو پورې ټول کلی په کنډوالو واړاوه. انګریز ځواکونه پاوکم پنځه بجې د ۱۲ پوځیانو په وژل کېدو او ۴۰ نورو په ټپي کېدو سره بېرته خپل مرکز ته لاړل.

د جون پر ۲۳مه دریيم کنډک شاه سلیم مېله او کلی ونړول او څه یې، چې پرمخ ور تلل اور یې ور اچاوه. د انګریزانو د ادعا له مخې ددوی پر وړاندې په ټولو خواوو کې ځلور زره تنه را غونډ شوي وو. د جون پر ۲۴مه دوی د عباس خېلو، ورزه، منزیو، نانوخېلو او غازي کوټ کلي تر اور لاندې ونیول او بیا یې ټول په کنډوالو بدل کړل. د مچي خېلو یو شمېر برځونه یې هم په توپو او چاودېدونکو توکو والوزول. له دې سره هممهال انګریز هوایي ځواک په کانیګروم کې پر کلیو بمباری وکړې او په مکین او مروبي

کې یې د ملا فضل دین او د هغه د ملګرو د لټون په ترڅ کې ګڼې ورانکارۍ وکړې.

دغو بمباریو او عملیاتو مسید سخت وځپل او کتب خان ته د کابل د امیر مرستې هم پر وخت را ونه رسېدې. پر امیر له ډېر وخته تور و، چې د مسیدو پټه مرسته کوي. د جون پر ۲۳مه د هند نایب السلطنه د افغان امیر یو لیک ترلاسه کړ، چې د انګریز لیکوالو په وینا له متن او لهجې یې داسې برېښېدل، چې هغه هڅه کوله ددغو ناراميو پراختیا وڅیړي. انګریزانو د جګړن جي ډوډ په وژنه کې عبدالرحمن خېل ښکیل ګڼل او له هغوی یې د وژونکو، ولجه کړو وسلو او یرغمل شویو کسانو د بېرته سپارنې غوښتنې کولې. انګریز پوځیانو د جون پر ۲۷مه د سپین رغزي له پرېښودو مخکې د ۵۴ سېک کنډک ۲۵۰ پوځیانو ته دنده وسپارله، چې د بروند کمپ په شاوخوا کې د اوبو ټول کانالونه له منځه یوسي. ددغه کار هدف د بهلولزیو مسیدو تر فشار لاندې راوستل و، ځکه د هغوی یو شمېر قبیلو له انګریزانو سره سولې ته غاړه نه کېښوده.

له دغو ټولو ورانکاریو او وحشتونو وروسته، بالاخره د اګست پر لسمه په سرویکي کې د مسیدو او انګریز سرکار ترمنځ درې زره کسیزه جرګه جوړه شوه، چې د برېټانیایي ځواکونو قوماندان جنرال باینن او د وزیرستان ریزیډینټ جان ډونلډ پکې ګډون درلود. د جرګې د پرېکړو له مخې دوارو خواوو ټول بندیان او یرغمل شوي کسان خوشي کړل او مسیدو د ۳۰۰ زره روپیو په ارزښت د ۲۰۸ حکومتي او ۸۳ ملېشه یي ټوپکو د ورکړې ژمنې وکړې، خو په دې کې ۴۰ ټوپک د بېرمل پر وزیرو پلورل شوي وو او ۱۹ ټوپک افغانستان ته وړل شوي وو. دوی د انګریزانو دغه شرط بشپړ عملي نه کړ، خو یوڅه ولجه شوې وسلې یې بېرته ور وسپارلې. له جرګې وروسته انګریزانو د مسیدو له سیمو نه خپل ځواکونه چونیو او مرکزونو ته ولېږل او پر دوی د سوداګرۍ او تګ او راتګ ټولې لارې بېرته پرانېستل شوې.

## د وزیرستان د تصفیې هڅې

له افغان-انګرېز درېیمې جګړې وروسته له ۱۹۱۹ نه تر ۱۹۲۰کال پورې په



وزیرستان کې برېټانیایي او هندي ځواکونو د وزیرستان ځانګړي، خو ځپونکي عملیات ترسره کړل.

په ۱۹۱۷ کال، چې برېټانیایي ځواکونه په نړیواله جګړه کې بوخت شول، مسیدو د انګریزانو پر وړاندې خپلې مبارزې چټکې کړې او وریسې په ۱۹۱۹ کال کې ، چې د افغان- انګریز دریېمه جګړه ونښته، وزیرو او مسیدو له دغه فرصت نه ګټه واخسته او د انګریزانو خلاف یې خپلې مبارزې جاري وساتلې. د ۱۹۱۹ کال تر نومبر پورې هغوی په سلګونو تنه وژلي او ګڼ نور یې ټپیان کړي وو. د امان الله خان او انګریزانو ترمنځ د راولپنډۍ له ناانډوله تړون وروسته د وزیرستان خلک د انګریزانو وحشتونو ته یوازې پاتې شول. انګریزانو له هغوی نه د غچ اخستنې په موخه په وزیرستان کې تصفیوي عملیات پیل کړل. هغوی د افغان- انګریز دریېمې جګړې له پای ته رسېدو سره سم په وزیرستان کې پر مسیدو او وزیرو نوي شرطونه کېښودل او ګواښ یې وکړ، چې که ددوی د سرک جوړونې او نورو پوځي استحکاماتو پر وړاندې خنډ پېښ کړي، له بریدونو او بمباریو سره به مخ شي.

د ۱۹۱۹ز کال د نومبر پر دریېمه انګریزانو په شمالي او جنوبي وزیرستان کې د وزیرو او مسیدو پر ضد مرګوني عملیات پیل کړل. انګریز افسرانو په لومړنۍ لښکرکشۍ کې د شمالي وزیرستان د وزیرو پر وړاندې د دته خېلو ځواکونو او د مسیدو پر وړاندې د دیره جاتو ځواکونو ته د تصفیوي او تعرضي عملیاتو دنده وسپارله. په سر کې دوه پلي ټولي او ۴۳کنډک د ډګر جنرال ګوین توماس تر مشرۍ او ٦٧ کنډک د ډګر جنرال لوکاس تر مشرۍ لاندې او یو شمېر نور ضمیمي ځواکونه د تورنجنرال اې سکین تر مشرۍ لاندې تنظیم شول، چې په وزیرستان کې عملیات پرمخ بوځي. د وزیرستان پاتې برخه ځواکونه د ارتباطاتو د نظام پر بیا رغونې وګومارل شول. دغو ځواکونو له بنو او ټانک نه تر وزیرستان پورې د ارتباطاتو د ټینګښت پر چارو د ګومارل شویو کسانو د امنیت دنده پرغاړه درلوده. د ارتباطاتو دغه ملاتړې لارې شاوخوا ۳۵۰ میله کېدې.[۴۸]

د نومبر پر ۱۲مه له توچي نه ۱۴زره او ۹۰۸ سرتېري، افسران، تعقیبي کسان او

د هغوی د تجهیزاتو او وسایلو د انتقال لپاره ۱۳۳۸۲اسان او نور څاروي په دریو بېلو کتارونو کې د دته خېلو پر لور لاړل او په ۱۴مه لومړی کنار دته خېلو، دویم دیګان او درییم بویه ته ورسېد. دوی وزیرو ته خبرداری ورکړ، چې که شرایطو ته یې غاړه کینږدي د ځمکې او هوا له لارې به په نبنه شي. تورنجنرال کلایمو د نومبر پر ۱۷مه دته خېلو ته ورسېد او له وزیرو سره یې جرګه وکړه. جرګې، چې ټول تمرکز یې پر مداخېلو او په کیتو کې پر دوو نورو نباخونو و، د انګریزانو یو شمېر شرایط ومنل، خو مسیدو په خیرګي کې د نومبر د ۱۱مې نېټې په جرګه کې ددوی ټول شرایط رد کړل.

د ډسمبر پر ۱۱مه انګریزانو له چنډولي نه یو نیم میل لرې سپینکي رغزي ته خپل دوه کنډکونه او توپخانې واستولې، چې هلته د سړک جوړونې د چارو امنیت وساتي. پر دوی مبارزانو له بېلابېلو اړخونو ډزې وکړې او دویم بریدمن ډوګلاس، یو هندی افسر، دوه پوځیان ووژل شول او یو هندی افسر او ۱۸ پوځیان یې ټپیان شول. دوی د ډسمبر پر ۱۲مه او ۱۳مه پر سړک خپلې چارې جاري وساتلې. په دې دریو ورځو کې انګریزي ځواکونو ټول ۴۶ پوځیان له لاسه ورکړل.له دې مخکې دوی ټوله میاشت د مسیدو کلي بمباري کړل او د شپې عملیات یې وکړل، خو د مسیدو مقاومت یې ونه ځپلای شوای. دغو عملیاتو انګریزانو ته دا ګټه ورسوله، چې د مسیدو اکثریت خلک په غرونو کې ځای پرځای شي او د ستر لښکر د جوړولو پرځای په وړو وړو ډلو ووېشل شي. د انګریزانو پوځي ستراتیژي په دې متمرکزه وه، چې په هره سیمه کې له عملیاتو مخکې د سیمې اصلي قوت د هوایي ځواک له لارې وځپي، هغوی غرونو ته پورته شي او کورونه، کروندې یې وروسته له ځپلمې له منځه یوسي. د نومبر له ۲۵مې تر ۲۹مې دغو ځواکونو ته درې نورې برېستو (Bristo)جنګي الوتکې ورکړل شوې او د مسیدو پر کلیو یې د ورځې ۱۰ زره پونډه بمونه غورځول. دوی یوازې د کاني ګروم پر کلیو ۱۶زره ټنه بمونه وغورځول. د انګریزانو افسران او د هغوی رپوټونه تصدیقوي، چې د توچي د بمباریو برعکس مسیدو ددغو بمباریو پر وړاندې نه یوازې دا، چې ځانونه تسلیم نه کړل، بلکې پر انګریزي ځواکونو یې خپل بریدونه جاري وساتل. د انګریزانو د دغو درندو بمباریو هدف د



هغو برځورو کلاوو له منځه وړل و، چې ددوی توپخانې او وړو بمونو پرې اغیز نه کاوه.

انګریزانو دغه عملیات په ژمي کې پیل کړل، خو دوی په ټولو ژمنیو جامو او امکاناتو سمبال وو، اما د مسیدو او ورمړو مبارزان او د هغوی کورنۍ په غرونو او شاوخوا نورو کلیو کې په سختو سړو کې پاییدل. د برغلګرو ځواکونو پر وړاندې د مسیدو او ورمړو ټول سرتېري ۱۶۰۰۰ تنه وو، چې اته زره یې په پرمختللو ټوپکو سمبال وو. دغه راز ۷۰۰۰ وزیر وو، چې ۳۰۰۰ تنو یې پرمختللي ټوپک درلودل. له دې لښکر نه شاوخوا ۳۵۰۰ داسې کسان وو، چې د انګریزانو پر وړاندې یې هروخت مورچې نیولې وې. د انګریز افسرانو په وینا، دوی ته دا وخت له خوست نه مرستې رسېدې او په خپل ټول تاریخ کې یې تر ټولو نبې وسلې ترلاسه کړې وې.

د ۱۹۲۰ز کال د فبروري پر اوومه په مروبي کې ۸۰۰۰ مسید او وزیر سره راټول شول. په دوی کې افغان منصبوال شاه دوله خان هم و، چې توپې او پرمختللې وسلې ورسره وې. د وانه وزیرو تر دې وخته د انګریزانو شرایط نه وو منلي او له مسیدو سره یوځای کېدل. د توچي وزیرو که څه هم د انګریزانو شرایطو ته غاړه اېښې وه، خو له مسیدو سره یې د خپلو مبارزانو د یوځای کېدو مخه نه شوای نیولای، یا یې نه غوښتل، چې مخه یې ونیسي.

د ډسمبر پر اووه لسمه د دیره جاتو او بنو انګریز کنډکونه له خیرګي نه د چنډولي پر لور وخوځېدل. په همدې ورځ ماسپښین مسیدو مبارزانو ددوی پر یوه کنډک برید وکړ او ۳۴کسانو ته یې مرګ ژوبله واړوله. په دې جګړه ګې اته مسید سرتېري مړه او ۱۲ نور ټپیان شول. د ډسمبر پر ۱۷مه نېټه د مسیدو دوه زره تنه مبارزان په مندنه کڅ کې سره راغونډ شول او په شهیر کې د وانه ۱۰۰۰ وزیر دې ته منتظر وو، چې د دیره جاتو د کنډکونو پر وړاندې له مسیدو سره یوځای شي. دغه برېټانیایي ځواکونه د تورن جنرال انډریو سکین تر مشرۍ لاندې پلوسین او نورو سیمو ته روان ول، چې په مندنه کې د مسیدو یوه لښکر برید پرې وکړ، ۹۵ کسان یې ور ووژل او ۱۴۰ نور یې ټپیان کړل. مسیدو ته په دې جګړه کې ۱۴۱ بېلابېل ټوپک په لاس ورغلل. په دې جګړه کې د مسیدو ۱۳

مبارزان مړه او ۴۰ نور ټپیان شول.[۴۹]

د ډسمبر پر۲۲مه انګریز ځواکونو د هوايي ځواک په ملتیا سره د مندنې غر ونیو. په داسې حال کې، چې انګریز ځواکونو په غره کې خپله پوسته ټینګوله د مسیدو یوې ډلې پرې له بلې خوا ناڅاپي برید وکړ او زیاته کچه وسلې، لاسي بمونه او نور تجهیزات یې ترې ونیول. انګریز ځواکونه ددې ماتې لامل د خپلو سرتېرو کم ظرفیتي او ناسمه روزنه ګڼي، خو دا هغه وخت و، چې مسیدو د افغان انګلیس درېیمې او نړیوالې جګړې په اوږدو کې ګڼې وسلې ترلاسه کړې وې او ډېرې نورې وسلې یې له انګریزانو نه په غنیمت نیولې وې.

د انګریزانو یوازینی تفوق د هغوی الوتکې او پر ځمکه شوبلې او نور پوځي ګاډي وو، چې مسید او د هغوی مورچلې او کورونه یې په نښه کول. د انګریزانو دې ناکامۍ د هغوی قوماندانان کلیمو او سکین سخت نهیلي کړل او د زهرجن ګاز غوښتنه یې وکړه، خو دا، چې دوی په دې جګړه کې ګاز و کاراوه او که نه، انګریز جنرالان وايي، چې مرکزي قوماندانۍ د دوی دغه غوښتنه ونه منله. له دې ماتې وروسته، کلیمو خپل قوماندان ته امر وکړ، چې په سیمه کې یرغلیز عملیات وکړي. په دې جګړه کې مسیدو هم خپل ۵۰ تنه مبارزان او یو شمېر دودیزې وسلې له لاسه ورکړې او دوی په دې لټه کې وو، چې د وژل شویو سرتېرو تشه ډکه کړي.

د ډسمبر تر ۲۸مې پورې د دواړو خواوو ترمنځ په تور غره او نورو بېلابېلو سیمو کې څو شخړې وشوې، خو د ډسمبر پر ۲۹مه تورنجنرال کلایمو چنډولي ته د شاوخوا مسیدو د ملکانو یوه جرګه وغوښته. د مکین عبدلیو په دې جرګه کې ګډون ونه کړ، ځکه دوی خپل شرایط لرل. انګریزانو له مسیدو نه د ولجه کړو وسلو د سپارنې او ناغې غوښتنې وکړې، خو دغه غوښتنې یې ونه منل شوې. انګریزانو په همدې وختونو کې د مندنې پر غونډۍ کار د ډسمبر تر ۲۵مې جاري وساته. کوټکي ته څېرمه یو شمېر مسید مبارزان د ځپر غونډۍ په شاوخوا کې تاوېدل، خو انګریزي الوتکو د برید مجال نه ورکاوه. د مندنې غره د پوستې چارې په سبا بشپړې شوې او دوی دغه پوسته په خپل واک کې



واخسته.

د وزیرستان د ځواکونو قوماندان جنرال کلیمو Climoد ۱۹۱۹ کال جګړې په اړه وايي:

*« ماهرانه جګړه او د ډېرو ډسپلین د سرحد په جګړه کې دوه مهم څیزونه دي. دغه خلک پر خپل ټوپک ایمان نه لري او نه د خپل ملاتړ په موخه د توپخانې، الوتکو او لیوي ټوپکو مرستې ته په تمه دي».*

جنرال کلیمو ددې جګړې په اړه په خپل یوه رپوټ کې په ډاګه کړې ده، چې یو خوا له مسیدو سره د هغوی په ستراتیژیکو غرنیو سیمو کې جګړه کول سخت و او بل پلو هغوی په دې پوهېدلي وو، چې ګرانبیه وسلې او مرمۍ یې هدر لاړې نه شي. هغوی خورا تاکتیکي جګړه کوله او له هدف پرته یې پر بل څه ډزې نه کولې. مسیدو په دغو کلونو کې د جګړې بشپړ تاکتیک زده کړی و. هغوی لومړی د کاروان پر لومړیو او وروستیو موټرو اور بلاوه او وروسته سړک ته را کوزېدل او په چړو او برچو سره یې د دښمن کار ور خلاصاوه. د مسیدو پوځي قوماندانانو په یوځلي خپل سرتېري سړک ته نه کوزول، بلکې د ناڅاپي پېښو د مخنیوي په موخه یې په ستراتیژیکو نقطو کې ملاتړې ډلګۍ ځای پرځای کولې.

د ډسمبر پر ۲۹مه له جرګې وروسته، د انګریزي ځواکونو یو کنډک له پلوسین نه د کوټکي پر لور لاړ، چې تر رسېدو پورې پرې څو ځایه بریدونه وشول. دغه کنډک د جنوري تر اوومې په کوټکي کې و. په دې وخت کې دوی له چنډولي نه تر کوټکي پورې د ټولې لارې امنیتي چارې په لاس کې واخستې او د نورو کاروانونو لپاره یې لارې پرانېستې. په کوټکي کې میشتو ځواکونو د کاروانونو د لارې پرانېستلو او پرمختګ په موخه د کوټکي سویلي سیمې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستې. ددوی یوبل ځواک (۴\۳۹) ګروال رایفل په سپین غره کې خپلې مورچې ټینګولې، خو د ۱۱ او درې بجو ترمنځ پرې درې ځله بریدونه وشول. د شپې درې او ۱۵ بجې دوی خپل مړي او ټپیان ور غونډول او د

کمپ پر لور شاته کېدل، چې د مسیدو بې شمېره مبارزان پرې ورغلل او د دواړو خواوو ترمنځ سختې نښتې پیل شوې. کله، چې ګروال رایفل له سیمې نه وتل، مسیدو له یوې لوړې نقطې پر رامنډې کړې، خو بریدمن کیني له لسو پوځیانو سره یوځای پسې راوګرځېد او د هغوی د تګ لاره یې پرانېسته. په دغه برید کې د دوو انګریزي افسرانو په ګډون ۳۵ پوځیان ووژل شول، خو د مبارزانو ۷۷ تنه هم پکې مړه او ټپیان شول. دغه متقابل برید په انګریزي ځواکونو کې روحیه را وټوکوله او دا یې د مبارزانو لپاره یو درس باله. په همدې وخت کې د اهې تنګي په شاوخوا کې د مبارزانو یو بل لښکر سره راغونډېده، چې ځلال خېل او هیبت خېل هم پکې وو. دوی د شزه کلي له خوا، چې ددوی کورنۍ هلته کډه شوې وې، د برید هوډ درلود. انګریزانو د جنوري پر پنځمه د خپلو پیکټونو د تقویې لپاره سیمې ته ۴۳ کنډک واستاوه، خو دغه پیکټونه مبارزانو ونیول او دوی بېرته خپل مرکز ته ستانه شول. د جنوري پر شپږمه له پلوسین نه خوځېدلی ٦۷ کنډک کوټکي ته ورسېد.[٥٠]

د انګریزي ځواکونو بل هدف د اهې تنګي نیول و. دغه تنګی اتیا متره اوږد او ۳۰ متره پلن دی. د اهې له تنګي تېرېدل د انګریزانو لپاره خورا سخت تمام شول، ځکه د جنوري پر اوومه دوی کوښښ کاوه، چې د کاروان د تېرېدو لپاره د تنګي لوړې څوکې ونیسي، خو په دغه تاکتیک کې یې شاوخوا ۱۷۰ پوځیان له لاسه ورکړل. مبارزانو د تنګي په کیڼ اړخ کې پر داسې ځایونو مورچل نیولي وو، چې د سیند بلې غاړې ته یې انګریزي ځواکونه په اسانۍ تر برید لاندې راوستل. انګریز جنرالانو د جګو سیمو د نیولو لپاره د زیړوام پر لور د یوه ځانګړي ځواک بیړنۍ پلان وسنجاوه. د پلان له مخې، د کوټکي ٦۹ کنډک د جنوري پر نهمه ګهیځ اته بجې د سیند پر بل اړخ ورغی او ۴۳کنډک د زیړوام په سویل ختیز کې پر نوي پیکټ چارې پیل کړې. پر پیکټ جوړونې چارې ګړندۍ شوې او ګاریزیون هم غرمه ۱۱بجې له خپلو زیرمو سره پر همدې لور وخوځېد. مبارزانو پر دوی سخته شخه ولګوله او ددوی د څو ساعتونو خوارۍ یې ټولې په اوبو لاهو کړې، دوی له درندې مرګ ژوبلې وروسته بېرته وګرځېدل. ددښمن ځواکونو ته له غوړلم کڅ نه د ٦۷



کنډک مرستې ور رسېدلې وې، خو ځای یې ونه نیو او ماسپښین درې بجې یې بېرته پښې واېستې. د مبارزانو په مرګونو بریدونو کې انګریزي ځواکونو لاړې ورکې کړې، مبارزانو یې پر زیرمتونونو برید وکړ او ډېر توکي او وسایل یې ترې په ولجه یووړل. په دغه برید کې د یوه انګریز افسر په ګډون ۱۸ پوځیان مړه او ۴۰ نور ټپیان شول. په ټپیانو کې هم څلور انګریز افسران وو. په دویم برید کې هم ددوی ۲۵ تنه مړه او ۸۴ نور ټپیان شول او پاتې پوځیان بېرته د خپل کمپ پر لور وتښتېدل. په همدې ورځ (۹\۲) ګورخه ځواک له چنډولي نه د کوټکي پر لور راغی او دوه نورې ډلې له ۴۳ کنډک سره د سیمې په تخلیه کې په مرسته وګومارل شوې.[٥١]

په زیړوام کې، چې د پیکټ جوړونې چارې ناکامې شوې، تورنجنرال سکین پرېکړه وکړه، چې نور د اهې تنګي په نیولو کې ځنډ کول وړ نه دي. د ډګر جنرال ګوین توماس تر مشرۍ لاندې ۴۳ کنډک ته امر وشو، چې له کوټکي نه ګهیځ پنځه بجې را وخوځیږي او د جنوري پر ۱۱مه ۷:۱۵ بجې د تنګي په لویدیز اړخ کې ځای پرځای شي. د ډګر جنرال لوکاس تر مشرۍ لاندې ٦۷ کنډک پتېیلې وه، چې په شپه کې د سپین غر له لارې پر تنګي ورشي. دوی د یوڅه مرګ ژوبلې په ورکولو سره په دې بریالي شول، چې د تنګي خولې ته ورسیږي، خو دا د جګړې پای نه و. انګریزانو ددې تنګي پر سر، چې مسیدو ته یې د لښکرکشۍ پرمخ لاره پرانېستله، ۱۵ افسران او ۲۵۰ پوځیان له لاسه ورکړل. جنرال کلیو او سکین پخپله پر دې اعتراف کړی، چې په دې جګړه کې مسیدو ډېر ښه تاکتیک غوره کړی و او د جګړې بیز تاکتیک د پیاوړتیا ترڅنګ یې په خورا بې باکۍ او زړورتیا سره مقاومت کاوه.

د جنوري پر ۱۵مه د اهې تنګی د انګریزانو لاس ته ورغی، خو انګریزانو له دې جګړې ترخې تجربې یووړې. ٦۷ کنډک وروسته د زېړ وام په لویدیز کې د اهې کمپ په نامه مرکز ورغاوه. د اهې تنګي له عملیاتو وروسته مسیدو داسې فکر کاوه، چې په شزه کلي کې به ددوی خلاف انګریزان عملیات کوي. په همدې موخه ددوی، د وانه او توچي د وزیرو یو ستر لښکر په شزه او شل منزي کڅ کې سره راغونډ شوی و، چې د

انګریز ځواکونو د عملیاتو مخه ونیسي. د جنوري پر ۱۲مه انګریزي ځواکونو شاوخوا سیمې او سیندغاړې تر خپل کنټرول لاندې راوستې او د ۶۷ کنډک پرمختګ ته یې لاره پرانیسته. په انې تنګي کې له دوی سره ګڼ نور ځواکونه او ډلې یوځای شوې، خو د غرمې په وخت کې پرې د انې تنګي له کیڼ اړخه برید وشو، چې شپږو تنو ته یې مرګ ژوبله واړوله. جنرال سکین، چې د مهمو سیمو د کنټرول پلان یې درلود، اساخان کمپ ورغاوه، مبارزانو په څلورو او پنځو بریدونو کې ددوی ګڼ کسان ووژل. په دغو بریدونو کې ددوی ټول ۹ برېټانیایي افسران او ۳۶۵ هندي پوځیان مړه او ټپیان شول.له انګریزانو سره په دغو عملیاتو کې شاهي هوایي ځواک بشپړه ملتیا کوله. مسیدو په دغو عملیاتو کې د انګریزانو دوه الوتکې وویشتې او د هغوی د کنټرول په سیمه کې وغورځېدې.

انګریزي ځواکونه د خپلو لیکو د رغونې، اکمالاتو، ستراتیژیکو نقطو د تشخیص او نیولو او دغه راز نورو اهدافو په خاطر د جنوري تر ۲۷مې پورې د ساره راغه په کمپ کې پاتې شول. انګریزانو د ۱۹۱۹ز کال د ډسمبر له ۲۹مې نه د ۱۹۲۰ کال د جنوري تر شلمې پورې پوځي تعرضي عملیات په دې موخه پیل کړي وو، چې د مسیدو د مقاومت ځواک وځپي او د انګریز سرکار پر وړاندې یې سر پورته کولو ته پرې نهږدي. مبارزانو د ۱۹۱۹ کال د ډسمبر له ۲۹مې نه د ۱۹۲۰ کال د جنوري تر شلمې پورې له انګریزانو سره شاوخوا شل داسې جګړې وکړې، چې د هغوی له یوه زیات کنډکونه پکې ښکیل ول.

په وانه او مسیدو کې د افغانستان د نامنظمو ځواکونو قوماندان شاه دوله خان مسیدو او وزیرو ته خپلې وسلې په واک کې ورکولې، چې د دیره جاتو د ځواکونو پر ضد یې وکاروي. هغه دغه راز پر وزیرو وړې وسلې او د هغو مهمات هم وېشل. شاه دوله د وزیرستان خلک خوست ته په تګ هڅول، چې له افغان چارواکو سره خپلې غوښتنې شریکې کړي. له دوی سره حاجي عبدالرازق او ملا لالا پیر هم ملګري وو، چې توپخانې او پرمختللې وسلې یې درلودې. د جنوري پر شلمه د مسیدو یو لښکر او د شکي وزیر احمدوام ته راوتلي وو. انګریز سرکار د دوی د ماتولو لپاره د جنرال لوکاس په مشرۍ



احمد وام، سرویک، کرکنۍ او سرکي غره ته خپل ځواکونه واستول. د دواړو خواوو ترمنځ نښتې وشوې او انګریزانو ته درنده مرګ ژوبله واوښته. د جنرال موسی خان او ملا فضل دین په مشرۍ ۱۲۰۰ شابي خېلو او عبدلیو پر بریږي تنګي د برید لپاره تیاری نیوه. انګریزانو ددغه برید د مخنیوي لپاره د جنرال لوکاس او ګوین توماس تر مشرۍ لاندې د بریږي تنګي پر لور خپل ځواکونه واستول.[۵۲]

د جنوري پر ۲۹مه د مسیدو له لښکر سره د شاه دوله خان په مشرۍ د وزیرو لښکر او دوه توپخانې یوځای شوې. دغه توپې د لومړي ځل لپاره د انګریزانو خلاف په شینکوړ[۶] کې وکارول شوې او دوه زره متره لرې هدف یې ویشت. انګریزانو د سختو بارانونو له امله خپل موټر او ټرانسپورټ نه شواې کارولای او عملیات یې د فبروري تر لومړۍ نېټې وځنډول. د شاه دوله، ملا لالا پیر او حاجي عبدالرازق تر مشرۍ لاندې ۱۶۰۰ وزیر له مسیدو سره یوځای شول او په دوه توی او بنګي ویاله کې یې په بېلابېلو ډلو کې ځای پرځای کړل.

د بریږي تنګي جوړښت داسې و، چې ټول په لنډو ونو او بوټو پوښلی و او پټنځي او سنګر جوړول پکې اسانه، خو ددښمن موندل پکې سخت وو. له الوتکو هم ددوی دقیق ځای په نښه کول ناشوني و. تنګی د ژور او تنګ جوړښت له امله د کتارونو د په نښه کولو لپاره ښه پټګن و. د لښکر اصلي مرکز شینکوړ و او ددې سیمې او احمدوام ترمنځ په پرتو کلیو کې ټول د مسیدو او وزیرو مبارزان ځای پرځای شوي وو. تورنجنرال سکین پتېیلې وه، چې خپل لومړنی ټولی سرتېري د شپې له تیارو نه په ګټې اخستنې د تنګي پر لور ورسوي. دغه ټولی د فبروري پر لومړۍ نېټه له خپل کمپ نه وخوځېد. دوی د تنګي په ښی غاړه کې او بل ټولی او توپخانې د سیند په کیڼ اړخ کې د بنګي ویالې او اکاخېلو پر لور ځای پرځای شول. په همدغه وخت کې یو شمېر مبارزانو پر دوی برید وکړ او د اکاخېلو کلی یې ونیو. انګریزان له دې سیمې وتښتېدل. د برېټانیا

---

[۶]- ډېرې ته ښېرمه د کاوړ په نامه سیمه شته، خو د شین کوړ د نامه دقیقه ښه مې ونه مونده.

شاهي ځواکونو ځارګرو الوتکو د مبارزانو د تحرکاتو څار کاوه. هغوی پلیو ځواکونو ته پر وخت اطلاعات ورکول او پخپله یې هم پر مبارزانو بمباری کولې.

## د مکین پر لور لشکرکشی

انګریزانو خپل ځواکونه د فبروري پر ۱۶مه په پیاژه رغزي کې سره غونډ کړل او یوڅه نور ټولي یې پر دوه توی ور خوشي کړل. دوی په همدغه ترځ کې د شابي خېلو او عبدلیو د ځپلو لپاره د کانیګروم او مکین پر لور د پرمختګ تیاری نیوه.

انګریزانو مسیدو ته خبرداری ورکړ، چې ترڅو په جرګې کې پردوی لګول شوې ناغې او مشخص شمېر ټوپکې ورنه کړل شي، د کانیګروم، لادا او مکین پر لور به ددوی ځپونکي عملیات جاري وي. مسیدو دوی ته یو شمېر ټوپک ور کړي وو، خو دغه ټوپک له کاره غورځېدلي او د ترمیم وړ نه وو. دوی ګواښ وکړ، چې د مسیدو مېنې به له یوې مخې ونړوي.

د فبروري پر ۱۵مه ددوی ځواکونه له پیاژې نه د کانیګروم، لادا او مکین پر لور وخوځېدل. ددوی د امنیت ساتنې لپاره د ګوین توماس په مشرۍ ځواکونو دوه توی او یو شمېر نورې سیمې ټینګې کړې. اصلي کنډک د ډګروال ډي.ایم واټ تر مشرۍ لاندې د دوه توی تنګي پر لور وخوځېد. انګریزي ځواکونو غوښتل، چې د مروبي او کڅې پر لور کمپ وغځوي. مروبی د پیاژې رغزي له کمپ نه لویدیز پلو څلور کیلومتره لرې پروت و. تودې چینې ته پر لار مبارزانو پر دوی بریدونه وکړل او د پرمختګ پرځای یې په رغزي کې، چې له تودې چینې څو سوه متره او له مکین نه دوه میله لرې پروت دی، د لنډ وخت لپاره دمه وکړه. د فبروري پر ۱۷مه ددوی دایمي جزایي قطعات او څاروي له بار کوزولو وروسته بېرته د پیاژې کڅې پر لور وخوځېدل. ماسپښنین دوه بجې شاوخوا ۵۰ مسیدو سرتېرو د ۳\۴ ګورخه رایفلو پر هغې ډلې برید وکړ، چې په یوه ړنګ کلي کې یې د سون لپاره لرګي ټولول.له برید وورسته هغوی په یوه کلي کې مورچې ونیوې او سخت وجنګېدل. په دې جګړه کې د انګریزانو لس پوځیان مړه او ۳۷ نور ټپیان شول. په ۲۲مه



نېټه دوی د درې توی پر لور یو شمېر سرتېري واستول، چې د درې توی په سویل ختیز او د مکین په ختیز کې میشتو کلیو سره خبرې وکړي. وروسته انګریز ځواکونو سپلېټ سر ونیوه او دلته یې د پوستې پر جوړولو پیل وکړ. دوی په دې جګړو کې ۳۴ پوځیان له لاسه ورکړل او ۲۸ نور یې ټپیان شول. د ځواک اصلي برخه د تورنجنرال لوکاس تر قوماندې لاندې وه، چې په سیمه کې یې د مبارزانو کلي ورانول. پر دوی له شاوخوا کورونو او دیوالونو سختې ډزې وشوې او مازیګر درې نیمې بجې له دې ځایه ووتل. دوی په دغو تخریبي عملیاتو کې ۱۷ برځورې کلاوې، یو شمېر استنادي دیوالونه او ۱۶۰ کورونه ړنګ کړل. په دغو عملیاتو کې ددوی ۲۷پوځیان مړه او ۶۳ نور ټپیان شول.

د فبروري پر ۲۱مه د بهلولزي مسیدو عمر خېل بناخ، چې د درې توی په ښی غاړه اوسیږي، انګریزانو ته خپل استازي واستول، چې دوی چمتو دي له انګریزانو ولجه کړې ۱۲ ټوپک بېرته ور وسپاري. تورنجنرال کلایمو ددوی د استازي وړاندیز ومانه. له دې سره هممهاله یې د عمرخېلو د ازموینې او په مکین دره کې د یو شمېر برځونو د له منځه وړو لپاره سپلیت سر ته څو جزایي قطعات واستول. دوی دغه برځورې کلاوې د توپو په ډزو ړنګې ګړې.

په همدې ورځ په مروبي کې د ملا فضل دین او د هغه د پلار ملا پیونده مسید کلی هم انګریزانو له خاورې سره برابر کړی و. دا هغه کلی و، چې د انګریزي افسرانو د ترور ډېری طرحې دلته جوړېدې او د مبارزانو د عملیاتو مرکزي قومانده هم له دې ځایه ور کول کېده. د فبروري پر ۲۳مه د درې توی په کیڼ اړخ کې د مکین پر کلیو یوځل بیا انګریزانو عملیات وکړل. وروسته یې ټولو کورونو ته اور واچاوه او په توپو یې له منځه یوورل. په دغو عملیاتو کې د انګریزانو پنځه پوځیان ووژل شول او اووه نور یې ټپیان شول. په دوو نورو ورځو کې یې هم د کورونو او کلیو د ړنګولو چارې جاري وساتلې. په ۲۷مه نېټه انګریز ورانکارو د پاس درې توی او دشکي لګډ پر وړاندې خنډ برځ له ۴۷۰۰متره فاصلې څخه د توپ په لسو مرمیو وویشت. په راتلونکو ورځو کې انګریزي ورانکارو ځواکونو د عمر خېلو له کوټونو او مېلو (مېنو) پرته، نوې ټولې مېلې(مېنې)، برځونه او کوټونه، چې

شمېر یې ۵۱ برخونو او ۴۵۰ کورونو ته رسېده، له خاورو سره برابر کړل. د کورونو د ورانولو په وخت کې مبارزانو له دوی سره سخت مقاومت کاوه او په څو ورځو کې د دوی تر ۲۰۰ ډېر پوځیان وژل شوي وو او یوازې ۲۰ پوځیان په وروستیو دوو ورځو کې ووژل شول. انګرېزانو غوښتل، چې د مارچ پر لومړۍ نېټه له مکین نه ووځي او د پیاژې او کانیګروم پر لور لاړ شي. د فبرورۍ پر ۲۹مه ددوی یو شمېر ځواکونه له مکین نه ووتل او د مارچ پر لومړۍ نېټه یې نور ځواکونه هم له مکین، مروبي او دوه توی او درې توی نه د پیاژې پر لور وخوځېدل. په لاره کې پر دوی څو ځایه بریدونه وشول او شپږ پنجابي پوځیان یې یرغمل شول، خو دا، چې هغوی مسلمانان وو، مسیدو بېرته پرېښودل.

د جنرال ګوین توماس تر مشرۍ لاندې ځواکونه د بدرتوی پر لور وخوځېدل، چې پر کانیګروم د لشکر کشۍ لپاره وضعیت وڅاري. د فبرورۍ پر ۲۹مه، چې انګریز ځواکونه په توده چینه کې وو، د مسیدو یو شمېر ملکان انګرېزانو ته ورغلل، چې د کانیګروم له تخریبولو لاس واخلي. دوی تیارې وښود، چې ۱۰۳ حکومتي، ۱۱۳ د کانیګروم ساخت ټوپک او ۲۴زره روپۍ به انګریزانو ته وسپاري، خو ملکان په خپلو هڅو کې بریالي نه شول، ځکه ډېرې ټوپک یا پلورل شوي وو، یا چېرته تر خاورې لاندې شوي وو او ډېر نور دې ته تیار نه وو، چې انګریزانو ته ولجه کړي ټوپک بېرته وسپاري.

د مارچ پر درېیمه د کانیګروم پر لور انګریزي ځواکونو خپل پرمختګ پیل کړ. پر دوی پر لاره له څو اړخونو ډزې وشوې، خو ستر لښکر یې پر وړاندې راټول نه شو. شاه دوله خان او حاجي عبدالرازق له خپلو توپونو سره یوځای شکې ته لاړل. انګریز ځواکونو لادا ته نږدې په کښتونو کې واړول، خو ژوي او اوښان یې د اکمالاتو د بشپړاوي لپاره بېرته پیاژې ته ولېږل. د مارچ پر څلورمه او پنځمه یو شمېر پوځیانو له پیوزار کلي سره د تنګي پر سړک کار وکړ او یو شمېر نور یې د لادا پر لور وخوځېدل.

یوه ورځ وروسته د دیره جاتو د کنډک ثابت قطعات د کانیګروم پر لور لاړل. دغو ځواکونو له کانیګروم نه اته سوه متره لرې ختیز پلو یوه نوې لاره و اېسته. د لارې په اوږدو کې پر دوی ورو ورو ډلو بریدونه کول، خو دا، چې د هغوی نښې خورا دقیقې وې، د



ښار تر شمال لویدیز پورې یې ۱۳ تنه ووژل شول.

کانیګروم د مسیدو په سیمه کې یوازینۍ دوه ژبې سیمه ده، چې مسید او ورمړ ګډ پکې اوسیږي. دا سیمه د مکین په څېر د مسیدو یو اقتصادي مرکز ګڼل کیږي، چې پخوا وسلې او نور وسپنیز توکي پکې جوړېدل. دلته په هغو کلونو کې شاوخوا زر کوره او پنځه برخونه ودان وو. څو ورځې وروسته د ورمړو یو پلاوی د انګریزانو کمپ ته ورغی او په ډاګه یې کړه، چې د مسیدو ملکان د ټوپکو په راټولولو کې پاتې راغلل، خو هغوی داسې هیڅ هوډ نه لري، چې په سیمه کې انګریزانو ته سرخوږ جوړ کړي.

انګرېزانو له چنډولي نه تر مکین پورې د مسیدو د کورونو او برخونو د نړولو په سیاست نه یوازې دا، چې هغوی سولې او خبرو ته تیار نه کړل، بلکې دغه سیاست په قبیلو کې د انګریزانو پر وړاندې د غچ لمبې را وپارولې. د کانیګروم په لښکرکشۍ کې دوی په خپلو پوځي تاکتیکونو کې بدلون راوست او دلته شته کورونه او برخونه یې ونه نړول. په اپریل میاشت کې انګریزانو د بر بدر توی پر کلي د برید هوډ وکړ، ځکه ددې سیمې خلکو پر انګریزي ګټو او مرکزونو بریدونه کول او خپلې سیمې ته یې د انګریزي ځواکونو ورتګ ناشونی باله. د اپریل پر شپږمه ددوی د ځواکونو یوه برخه د بدر توی، منوځلي او سیني تیژې پر لور لاړل. په منوځلي کې یې دوه برخونه او په سینی تیژه کې یې څو کلي ونړول. دلته یې له مبارزانو سره په نښتو کې دوه پوځیان له لاسه ورکړل. په بله ورځ ګیګاخېلو ته د عبدالرحمن خېلو په مبارزانو پسې ورغلل، ځکه هغوی په بېلابېلو سیمو کې د انګریزانو پر وړاندې مقاومت کاوه. په دې جګړو کې د انګریزانو ۱۰ تنه مړه او ۲۹ نور ټپیان شول. انګریز ځواکونو تر دغو عملیاتو وروسته د لادا کمپ ته خپل نور ځواکونه واستول او دغه کمپ یې خپل دایمي پوځي مرکز وټاکه.

## د هوایي ځواک پراخ استعمال

له ۱۹۲۰ کال وروسته، چې انګریز د افغانستان له اړخه ډاډمن شوی و او لومړنۍ نړیواله جګړه هم پای ته رسېدلې وه، وزیرستان د انګریزانو د ځپونکو او تصفیوي

عملیاتو شاهد و. له ۱۹۱۹ ز کال نه تر ۱۹۲۳ کال پورې د مسیدو او وزیرو سیمې په پرله پسې توګه تر بمبارۍ لاندې راغلې.

د ۱۹۲۲ز کال د مارچ پر ۱۲مه انګریزانو پر ځلال خېلو ( زالول خېلو) سختې بمبارۍ وکړې او ټول کلی یې له منځه یوور. د اپریل پر څلورمه مبارزانو د وانه پر خاصه دارو د کلابندۍ په موخه برید وکړ، خو په غچ اخستونکي برید کې پرې د انګریزانو الوتکې راپورته شوې او د اپریل له اوومې یې تر لسمې نېټې پورې بمونه او مردکي پرې وورول. د اپریل پر ۲۴مه د موسی خان په مشرۍ د عبدلیو مسیدو له ۳۰۰تر ۴۰۰ پورې سرتېرو په جنجل سیمه کې پر انګریزي ځواکونو ناڅاپي برید وکړ، چې پنځه انګریز افسران پکې مړه او ټپیان شول. ددوی له ځواکونو لارې ورکې شوې او له لادا او ساړه راغه نه نور تازه دمه مرستندوی ځواکونه ورغلل. په دغه برید کې انګریزانو خپل ۱۰ پوځیان له لاسه ورکړل او ۳۷ نور یې ټپیان شول.[۵۳] وزیرو په اپریل میاشت کې یوځل بیا خپلې مبارزې پیل کړې، ځکه د کابل د خبرو اترو بهیر پایله ورنه کړه. هغوی انګریزانو ته د وسلو سپارل بند کړل، خو وروسته یې د سپټمبر پر لسمه له انګریزانو سره روغه وکړه. د وزیرو نویو تاکتیکي جګړو له انګریزانو نه د خبرو اترو او معاملې کولو واک واخست او په بېلابېلو سیمو کې د هغوی د لښکرو تر برید لاندې راغلل. په مې میاشت کې وزیرو په توچي، باران پوسټ، سپین ورسک او درګۍ اوبه کې د انګریزانو پر بېلابېلو ډلو او کتارونو بریدونه وکړل. د جولای پر ۱٦مه له شهیر تنګي یو کتار تېرېده، چې مبارزانو پرې برید وکړ، خو له چګمالي او حیدري کڅ نه مرستندویه ځواکونه ور ورسېدل او له محاصرې یې وژغوره.

په اګست کې عبدالرحمن خېلو لادا ته نږدې د انګریزانو پر یوه مرکز برید کړی و، چې د همدې میاشتې په ۱۱مه پرې انګریزانو تر اوو ورځو بمبارۍ وکړې. په همدې میاشت کې موسی خان د افغان حکومت په غوښتنه وسله وال فعالیت پرېښود او د سپټمبر پر پنځمه کابل ته لاړ. د هغه له تګ سره سم عبدلي مسیدو د سپټمبر پر ۲۷مه د یوې قومي جرګې د پرېکړې له مخې له انګریزانو سره اوربند وکړ، خو په ډسمبر میاشت کې د ملک موسی خان مبارزانو یوځل بیا د سړک جوړونې څو انجنیران او د تورن ډکسن



په نامه یو افسر ووژل. انګریزانو له عبدلي مسیدو نه د مبارزانو د ورسپارنې غوښتنه وکړه، خو هغوی ټه وکړه او انګریز هوایي ځواک په یوه غچ اخستونکي برید کې پر عبدلي، ځلال خېلو، ګوري خېلو او ګرېریو پوره ۴۲ ورځې بمبارۍ وکړې. د ۱۹۲۴ ز کال د فبروري پر لومړۍ نېټه انګریزانو د عبدلي مسیدو خلاف له لادا نه د پیاژې پر لور ځواک ولېږه او دوه ورځې وروسته د ملا پیونده مسید کلي مروبي ته ورسېد. له دوی سره پر لاره د جنرال میټي سن تر مشرۍ لاندې دویم ځواک هم یوځای شو او تودې چینې ته وخوځېدل. د فبروري پر څلورمه له رزمک نه هم یو کنډک ورغی او د اوو ورځو په بمبارۍ کې یې عبدلي، لالي خېل، بندخېل او یو شمېر نور کلي له خاورو سره برابر کړل. د ۱۹۲۴ز کال په اګست او ډسمبر کې انګریزانو د شابي خېلو پر استوني ښاخ بمونه او مردکي وغورځول، خو د بمبارۍ په ترڅ کې ترې مبارزانو یوه الوتکه را وغورځوله. په مارچ میاشت کې انګریز شاهي هوایي ځواک د څلورو ورځو لپاره پر شکي او دانا سیمو او په اپریل او جولای کې پر توجي خېلو او کوز شکتوی او د ۱۹۲۵ ز کال په فبروري کې پر احمد وام او عمر رغزي بمبارۍ وکړې.[۵٤] په ۱۹۲۴ کال کې په کوټکي، مستونګ لګډ، پیاژه، دوه توی، ساړه راغه، رزمک، منزۍ پوستې، سرویکي او ګومل کې مبارزانو د انګریزانو پر مرکزونو، افسرانو او کتارونو بریدونه وکړل او ګڼې مرګ ژوبلې یې ور واړولې. د افغانستان د خپلواکۍ له جګړو را ټوکېدلي پاڅون انګریزان دې ته متوجه کړل، چې په خپلو جګړه ییزو تاکتیکونو او پوځي تشکیلاتو کې بدلون راولي، ځکه پوره یو کال دوی په دې بریالي نه شول، چې د مسیدو مقاومت وځپي. په ۱۹۲۴کال کې انګریز سیاسي ادارې د پخوانیو سکاوټ ځواکونو پرځای نوې ملېشه ځواکونه جوړ کړل. د نوي پلان له مخې توچي سکاوټ د شمالي وزیرستان په ملیشه او د جنوبي وزیرستان سکاوټ د جنوبي وزیرستان په ملیشا بدل او تر تشکیلاتي بدلون او سازماني جوړښت وروسته سکاوټیانو ته نوې دندې وسپارل شوې.

د ۱۹۲۵ز کال په اوړي کې له لوګر، غزني او وردګو څخه یو شمېر عبدالرحمن خېل، چې افغانستان ته کډوال شوي وو، وزیرستان ته د جګړو لپاره را کوز شول. انګریزان

له دوی نه ډېر په تنګ وو او په ټانک کې یې له ټولو بهلولزیو سره جرګې مرکې وکړې. انګریزانو پر دوی ټول بندیزونه لرې کړل او لونګی یې ورته ومنلې. په جنوري کې د مسیدو څو کسانو له منزی او سپلې توی نه څو تنه هندوان برمته کړل او د فبروري پر شلمه د ګومل پر پوسته برید وشو. د مارچ پر نهمه یوځل بیا انګریزانو د عبدالرحمن خېلو پر ضد عملیات پیل کړل. دریې لګډ، سپلې توی او ګنې نورې سیمې یې تر اور لاندې ونیوې. د مارچ پر دېرشمه پر مریسیو بمباری وشوې. په اپریل کې د سربلې خلکو له یو شمېر عبدالرحمن خېلو سره مرستې کولې، خو انګریزانو د اپریل پر ۱۲مه هغوی ته خبرداری ورکړ او بریدونه یې پرې وکړل. په همدې وخت کې یو شمېر انګریز دښمنه کورنۍ په بروند کې اوسېدې او عبدالرحمن خېلو غوښتل، چې بدر لګډ او له هغه ځایه افغانستان ته لاړ شي. په همدې ورځ د عبدالرحمن خېلو یو شمېر استازو انګریزانو ته وړاندیز وکړ، چې پر سپلې توی بمباري ودروي. د وزیرستان ریزیډنټ د دوی وړاندیز ومانه، خو په جرګه کې کومې پرېکړې ته سره ونه رسېدل او د سربلې په ګډون یوځل بیا پر سپلې توی بمباری وشوې. دوی ته ۲۴ ساعته وخت ورکړل شو، چې له انګریزانو سره کومې پرېکړې ته ورسیږي، خو هغوی له سپلې توی نه بدرته لاړل. دوی لا پړاره وو، چې انګریزي الوتکو پرې بمباری وکړې او ببرته یې سپلې توی او بروند ته ځانونه و ایستل. دوی پرېکړه کړې وه، چې که له انګریزانو سره جوړجاړي ته ونه رسیږي، له بمباریو د خلاصون په موخه به د خیساره له لارې افغانستان ته ځي. د اپریل پر ۲۳مه او ۲۸مه د عبدالرحمن خېلو انګریز دښمنه او له انګریزانو سره په سوله کې پایېدونکو قبیلو په سرویکي او چنډولي کې دوه جرګې وکړې او د دوه اړخیزو شرایطو په ترځ کې پرې بمباری ودرېدې.[۵۵]

د ۱۹۳۰ ز کال د جولای پر شپږمه نېټه د رمضان خان مسید سرتېري د ساره راغه پر کلا را تاو شول او د توپو او ټوپکو ډزې یې پرې پیل کړې. دوی د خوځک او ډنډر رغزي پوستې وسوځولې او په ټانک زام کې یې د اوبوتالاب له منځه یوور. د رمضان بل ورور سادې خان د جولای پر اوومه د ۱۵۰۰ مبارزانو په ملتیا د اېې تنګي پوسته وسوځوله او ګڼ پوځیان یې پکې مړه او ژوبل کړل.



## (۲)

# وزیر محوره مبارزې

په وزیرستان کې د خپلواکۍ مبارزو د مشرۍ دویم ځلانده پړاو له وزیرو پیلیږي، چې په شلمه پېړۍ کې یې د انګریز سیاسي او پوځي ختې واېستې.

د انګریزانو پر وړاندې وزیر محوره مبارزې د ۱۹۳۵ کال په فبروري کې توري خېلو وزیرو پیل کړې. په ښکاره د هغوی د پاڅون لامل د چاند بي بي مساله ګڼل کیږي، خو اصلي لامل یې په دې سیمه کې د یوه پوځي کمپ جوړېدل او د خیساره پر لور د سړک غځول و. انګریزانو د فبروري په نیمایي کې توري خېلو ته خپل پوځیان راوستل او دې چارې د خلکو کرکې را وپارولې.

انګریز حکومت د چاند بي بي له مسالې نه د خپلې فارورډ پالیسي لپاره ګټه پورته کوله، ځکه هغوی پر یوې داسې سیمې واک چلاوه، چې اکثریت یې مسلمانان وو، خو د چاند بي بي پر پېښه ناراضه افراد یو وړوکی هندو- سک لړه کی و. انګریزانو فکر نه کاوه، چې د چاند بي بي د مسالې او پرمختګ پالیسي پر وړاندې به یې له ملا

پیونده مسید وروسته، د فقیر په جامه کې یو بل کس(حاجي میرزاعلي خان) راپورته کیږي. هغوی له آیپي فقیر نه ځکه د خطر احساس نه کاوه، چې ډېری توري خېلو او داوړو د حکومتي دندو او نوکریو له لارې له انګریزانو پیسې او امتیازات ترلاسه کول. دغو قبیلو له دې مخکې د انګریز سبسایډي یوځه برخه په پټه توګه مبارزانو ته ورکوله او په دې توګه یې هم ځان ژغوره او هم به یې د هغوی مالي اړخ ټینګاوه.

## د «اسلام بي بي» پېښه

د ۱۹۳۶ ز کال د مارچ پر پنځمه د رام کوري په نوم یوې هندوې اسلام راوړ او د بنو له یوه اوسېدونکي سید امیر نورعلي شاه سره یې واده وکړ. د رام کوري نوم په نورجهان واوښت، خو د هغې تره (هرنام داس) او مور ( منسه دیوي) په ډومیل حوزه (تانه) کې پر نوموړو د جبري واده دوسیه جوړه کړه. د رام کوري مور او تره استدلال کاوه، چې جینۍ بالغه نه ده او نور علي شاه په زور ځان ته واده کړې ده. د محکمې لومړنۍ پرېکړه د نورعلي شاه په ګټه وه، خو هندوانو وروسته شورغږ وکړ او منسه دیوي رپوټ ورکړ، چې دا کونډه ده او لور یې له جنډوخېلو نه نورعلي شاه په زور وړې ده. د بنو د هغه وخت مرستیال کمشنر جګړن ایولي کوب د نورعلي شاه کورنۍ ته خبر ورکړ، چې نورجهان خپلې مور ته وسپاري. نورعلي شاه غوښتل نورجهان د ګمبیټي او سپین وام له لارې افغانستان ته واړوي، خو دا، چې ددوی پر هوډ او سفر انګریزان خبر شوي وو، یوه مسلمان سي آی ډي انسپکټر ( د جنایي څېړنو مدیر) عطاالله خان له دغه سفره را وګرځول. دوی د ټانک له لارې شام ته د یوه هندو په ټکسي کې روان ول، چې د غوریوالې تانې(امنیتي حوزې) په سیمه کې له پېژندنې وروسته ونیول شول. نورجهان د حوزې د امر ( تانه دار) د نوم پوښتنې په ځواب کې ځان اسلام بي بي وښود، چې وروسته په همدې نامه مشهوره شوه.[56]

د محکمې په وروستي پړاو کې ګومارل شوي هندو ډاکټر اعلان وکړ، چې اسلام بي بي د بلوغ پړاو ته شپږ میاشتې وخت لري او واده یې له وخت مخکې شوی دی. د



بنو کمشنر، چې محکمه او قانون هم دده په لاس کې وو، اسلام بي بي د کور او مېړه پرځای له سېک ډاکټر شمندرشاه سېنګ سره ولېږله. د جګړن کوب دې احمقانه پرېکړې د بنو او وزیرستان خلک را وپارول او پر حکومتي دفترونو او ادارو یې بریدونه وکړل. انګریزانو په ښار کې ګرځبندیز ولګاوه او د وضعیت د کنټرول په موخه یې اسلام بي بي مسلمان ملک تاج علي خان ته وسپارله، خو وروسته یې په پټه د یوه هندو سوداګر بګي له لارې د هند هوښیار پور ته واستوله. نور علي شاه د هریپور له زندان نه تر خوشي کېدو وروسته، خورا زهیر و، خو وروسته ورک شو او بیا چا ونه لید.

## ولسي غبرګون

هوښیارپور ته د اسلام بي بي لیږدونې په بنو او شمالي وزیرستان کې سخت غبرګونونه را وپارول. د ۱۹۳۶ز کال د اپریل پر ۱۱مه د بنوڅیو، وزیرو او داوړو مشران په توچي کې سره راغونډ شول او د انګریزانو د محکمې د پرېکړې خلاف یې غونډه او ویناوې وکړې. د ملا پیونده نږدې ملګري قاضي محمد نظیف او یو شمېر نورو مشرانو له ایپي فقیر وغوښتل، چې د اسلام بي بي د بېرته راستنولو د مبارزې مشري پرغاړه واخلي. په پیل کې ایپي فقیر دې مشرۍ ته زړه نه ښه کاوه، خو وروسته یې د مذهبي او قومي مشرانو غوښتنې ته لبیک وواېه او د ۱۹۳۶ز کال د اپرېل پر ۱۹مه یې په ملک اژدر کې یوه ستره جرګه وغوښته.[57]

د توچي د عالمانو او قومي مشرانو د جرګې د فتوا او پرېکړو له مخې، ایپي فقیر سملاسي پر بنو له برېده ډډه وکړه او د خپلو مبارزو د پیل لپاره یې لومړی د قبایلو او افغانستان له مذهبي او قومي مشرانو سره خبرې وکړې او بیا یې په شکتوی، نیتاسي او خیساره کې د لښکر د راټولولو چارې پیل کړې. جرګه والو پرېکړه کړې وه، چې په وسلو او تجهیزاتو له سمبالښت وروسته به د انګریز پر خلاف غلچکي وسله واله مبارزه پیلوي.

ایپي فقیر له نایب سالار موسی خان مسید، نایب سالار رمضان خان مسید، شهزاده فضل دین مسید، پیرملاخان، انګورخان، دلباز خان احمدزي وزیر، د بېټنیو له

فقیر، د سوات له میاګل، د دیر او باجوړ له نوابانو، کربوغې ملا، د جلال اباد له نقیب او د نورو سیمو له قومي او مذهبي مشرانو سره تر سلا مشورو وروسته د انګریز پر خلاف د مبارزو مشري پرغاړه واخسته. د اپرېل تر نولسمې پورې دده د لښکر شمېر تر ځلورو زرو ډېر و او د ملک اژدر په جرګه کې د رزمک، مکین، لادا، میرانشاه، دته خېلو، بنو، کرې او نورو سیمو مشرانو ګډون کړی و. په نیتاسي کې د جهادي مرکز له رغونې سره جوخت هغه د انګریزانو خلاف د جهاد په ملاتړ ویناوې پیل کړې.[۵۸]

## ایپي فقیر ته د انګریزانو خبرداری

د ملک اژدر له جرګې وروسته د انګریز خلاف د جهاد اعلان، انګریزان د ایپي فقیر د فعالیتونو پر وړاندې ځک کړل. د شمالي وزیرستان سیاسي استازي او د بنو کمشنر جګړن ایولي کوب ایپي فقیر ته د توري خېلو وزیرو یو پلاوی واستاوه، چې د انګریز سرکار خلاف له فعالیتونو یې را وګرځوي. انګریزانو ګواښ وکړ، چې که ایپي فقیر له خپل هوډه ونه ګرځي، ځمکه به پرې سره تبې وګرځوي.

فقیر د انګریزانو د خبرداریو او ګواښونو پروا ونه ساتله او هغوی هم د ورانکاري (ننني ترهګر) او سولې دښمن په نامه وپېژاند او د هغه د نیولو هلې ځلې یې پیل کړې. په اپریل میاشت کې انګریزانو د الوتکو له لارې د لښکر خورولو ګواښپاڼې خپرې کړې، خو د ایپي لښکرې تیت او خورې نه شوې. د اپریل پر ۲۳مه هغوی د ایپي فقیر او د هغه د دوو ملګرو کورونه وران کړل، خو فقیر په خړ ځادر کې ددوی د سترګو پر وړاندې له کلي ووت او خیساره ته لاړ.

انګریزانو د فقیر داوړ ملاتړي تر فشار لاندې راوستل، چې که د هغه ننګه پرې نهږدي په خاسه دار ځواکونو او سوداګریزو تړونونو کې به یې بې برخې کړي. د داوړو لښکریان له دغو ګواښونو وروسته د ایپي فقیر له څنګه جلا شول او ښېرته خپلو سیمو ته لاړل، خو انګریزانو هغوی کرار پرېنښودل، ځکه د اپریل پر ۲۶مه یې په توچي کې ګڼ دغه کسان ونیول او د جولای تر وروستیو پورې یې په زندان کې وساتل. په جون کې یې ۱۲زره



هندي روپۍ ناغه کړل. د خیساره توري خېلو وزیرو د ایپي له ننګې ډډه وکړه او هغه یې په ډګر پرېښود.

*انګریز قوماندان جان کولریج وایي: «کله، چې داوړ د اسلام بي بي پر مساله له راتول شوي لښکره ووتل او یوازې یې پرېښود، ده داوړو ته په ښېلتون او توري خېلو وزیرو ته دده د ننګې نه کولو له امله ښیراوې وکړې».*

د شمالي وزیرستان سیاسي استازي او انګریز افسرانو د خیساره وزیر ګواښل، چې که د ایپي فقیر ملا وتړي، د مرګ ملایکې(الوتکې) به پسې والوزوي. په مې میاشت کې ایپي فقیر هوډ کړی و، چې خوست او بېرمل ته لاړ شي او خپله مبارزه له هغو سیمو پیل کړي، خو توري خېلو او د خیساره د نورو سیمو خلکو په مېلمستیاوو راتم کړ. ایپي فقیر ورو ورو په سیمه کې نوي پلویان وموندل. وروسته ګړیوم ته لاړ او تر سپتمبر پورې په ګړیوم، شام او شکتوي کې اوسېده. هغه دلته له ملا فضل دین او دین فقیر بېټني سره وکتل او وروسته رزمک ( دین درګۍ) ته لاړ. لږ وخت تېر نه و، چې د خپلې قبیلې په نتواتي ښېرته خیساره ته لاړ او په کرکېه کې یې د انګریزانو پر ضد مبارزې پیل کړې.

*جنرال کولریج وایي: « د ۱۹۳۶ زکال د مې پر ۱۱مه (ایپي فقیر) د زرېني توري خېلو په بلنه د کوز خیسوره پر سیند بیچې بشکۍ ( کرکنې) ته لاړ ، هلته یې کور او جومات جوړ کړل او د ( انګریزانو پرضد) د ستونزې جوړونې لپاره یې متې ونغښتې».*

ایپي فقیر د اسلام بي بي او په لاهور کې مسلمانانو ته د شهید ګنج جومات د ښېرته سپارنې غوښتنې کولې. د نومبر میاشتې په دویمه لسیزه کې د وزیرستان سیاسي استازي کریکټن له خپل مرستیال ار، این بیټلي سره تر سلا مشورې وروسته نایب پولیټیکل افسر محمد نوازخان ته دنده وسپارله، چې د ایپي فقیر د لښکر او وسلو او تجهیزاتو په اړه معلومات غونډ کړي. نوازخان په خپل رپوټ کې ایپي فقیر تش لاسی، د ولس له ملاتړه بې برخې او د ځو شیخانو په دایره کې ایسار کس وباله. ددغه رپوټ نچوړ د وزیرستان ریزیډنټ ته ورکړل شو او په پایله کې یې پر خیسوره د برید تاباوي ونیول شوې.

## د ایپي فقیر لومړنی بری

په خیساره کې ایپي فقیر څه د خپلو ویناوو او د څه د پښتني ننګ له مخې، د خپلې قبیلې او توري خېلو وزیرو ملاتړ وموند. انګریزانو له توري خېلو په مکرر ډول له سیمې د ایپي فقیر د اېستنې غوښتنې کولې، خو هغوی په دې چاره کې ځانونه بې وسه ګڼل. انګریزانو د ۱۹۳٦ز کال په نومبر میاشت کې پرېکړه وکړه، چې خیساره ته د رزمک او توچي دوه ټولي سرتېري واستوي. د انګریزانو د لښکرکشۍ هدف له سیمې نه د ایپي فقیر اېستل، نیول او د سیمې خلکو ته د خپل زور او ځواک ښودل و. د نومبر پر ۲۵مه لومړی ټولی د ډګرمن اېس مارشل په مشرۍ له ډامډیل څخه د خیساره سیند پر غاړه د بیچي کڅکۍ پر لور وخوځېد. له ډګرمن ایس مارشل سره لومړی او ګورخه دوه کنډکونه، یوه سپکه انګریزي او دوه هندۍ غرنۍ توپخانې او ګڼ نور سرتېري او سپاره ځواکونه مل وو. د ټوچي یا میرعلې ټولی پر کټیري او غونډه تیره لګډ پورې وت او ترڅو، چې تلپکان سیمې ته رسېده، د دواړو خواوو ترمنځ سختې نښتې وشوې.

*انګریز قوماندان سي ایچ ټریچ په خپل یوه یادښت کې وایي، چې «ایپي فقیر مسلمانانو ( خپلو ملاتړو) ته ویل، چې له مرمیو او بمونو به خوندي وي او که څوک وویشتل شي عقیده یې کمزورې ده».*

هغه په دغه پیغام سره خپل مبارزان هم مبارزې ته هڅول او هم یې د انګریزانو د بمباریو او مرګونو بریدونو پر وړاندې د ځان ساتنې سپارښتنه ورته کوله.

د رزمک ټولی، چې زېږ پیزی ته ورسېد، مبارزانو پرې ډزې پیل کړې. د کټار د تېرېدو پر لاره مبارزانو د غره له لوړو تیږې او کاڼي ارتېرلي وو او کله، چې د انګریز ځواکونو لار اېستونکې ډلې د لارې د پاکولو چارې پیل کړې، د مبارزانو په بریدونو کې یې سخته مرګ ژوبله وزغمله. راجپوت کنډک او سبک رسالې ته ایپي فقیر لیک ولیږه، چې ددوی اصلي جګړه له انګریزانو سره ده او دوی باید پرمخ ورنه شي، خو هغوی غوږ پرې ونه ګراوه، ځکه ویل یې: « موږ د ایپي فقیر نوکران نه یو، موږ د هند د برېټانیایي واکمن نوکران یو». دوی په سیمه کې روږدي نه وو، ځکه خو یې د ایپي فقیر له مبارزانو سره په جګړه



کې له مړو ډېرې جوړې شوې. د رزمک ټولی په زېړپیزي سیمه کې له مبارزانو سره ونښت او له ګڼې مرګ ژوبلې ورسته بیچې کڅکۍ ته ورسېد. پر انګریزانو شپه واوښته او ګڼ کسان یې په اخ و ډب کې ورک او د ونو او کاڼو تر شا پټ ول. دوی خپل سرتېري د شپیلکو او ځراغونو په رڼاوو راټولول، خو له هر ځراغ او شپیلکې سره به پر دوی هم ډزې کېدې.

د توچي ټولی، چې پروبین هارس یې په سر کې و، د جلیر لګډ له لارې د موساکۍ او حسن خېلو پر لور رهي و. غرمه لس بجې ددوی پر څارونکې ډله ډزې وشوې او وروسته ټولی تر سختو بریدونو لاندې راغی. پوځیانو د ځان ساتنې او محاصرې د ماتولو په موخه الوتکې وغوښتې او د هغو د بمبارۍ په پایله کې د سرتېرو په رګونو کې وینې وچلېدې. په دې نښته کې ددوی د دوو انګریز افسرانو په ګډون ګڼ پوځیان مړه او ټپیان شول. له سختې مرګ ژوبلې او زیان ګالنې وروسته هغوی تر کټیري لګډ واوښتل او د جلیر لګډ شمالي غاړې ته تېر شول. سپوږمۍ او وریځ دواړه ددوی پر سر ګرځېدل او کتار یې له ورایه په نښه کېدای شوای. له جلیر لګډ نه، چې تېرېده یوځل بیا د مبارزانو تر بریدونو لاندې راغی او د سر او پای برخې یې سره جلا شوې. وروسته اسمان وریځو وپوښه او باد او وور ( باران) نیزونه راوستل، چې دوی یې لا پسې خوار کړل. د ایپي فقیر مبارزانو دا له دوی سره د خدای(ج) غیبي مرسته ګڼله او د دښمن پر وړاندې یې روحیې لا اوچتې شوې.[٥٩]

د نومبر پر ۲٦مه ګهیځ هغوی خپل ورک شوي کارتوس او نورې وسلې لټولې، خو هیڅ شی یې ونه موندل. دغه ټولی د نومبر پر ۲۷مه له بري او لاسته راوړنې پرته بېرته میرعلي ته وګرځېد. په دې دوه ورځنۍ جګړه کې د دوو انګریز افسرانو جګړن سیکومبي رایف او جګړن ټینډلر په ګډون ۱۳۳ پوځیان مړه او ۱۰۷ تنه نور ټپیان شول. د مبارزانو د سر زیان ٤۱ تنه او ټپیان یې ۳۲ تنه وو. د خیساره په لومړ ی جګړه کې انګریزانو خپلې ګڼې وسلې، مرمۍ، اسان، کچرې او د خوراک او پوښاک ګڼ نور توکي له لاسه ورکړل او ایپي فقیر له دې جګړې وروسته ځانګړی نوم او شهرت وموند.

د وزیرستان انګریز ریزیډنټ او سیاسي استازي، مرستیال سیاسي افسر محمد نوازخان له دې امله له وزیرستان نه وشاړه، چې د ایپي فقیر او د هغه د وسله والو مبارزانو په اړه یې ناسم رپوټ ورکړی و. دې جګړې په وزیرستان او ټول سرحد ایالت کې د انګریزانو پوځي اتوریته ونګوله او د جبران لپاره یې پر خیساره د دویمې لښکرکشۍ تیاری نیوه. انګریز افسرانو د خپل باور او رعب د بیا احیاء او په نورو سیمو کې د احتمالي پاڅونونو د مخنیوي لپاره پر خیساره نوي عملیات طرح کړل. ددغو عملیاتو طراح او قوماندان جنرال کولریج و. هغه ته له راولپنډۍ نه د ټانکونو ټولی او دوه غرنۍ توپخانې را واستول شوې. هغه هوډ درلود، چې له میرعلې تر خیساره او توچي کمپ پورې دوه سړکونه وغځوي او پر خلکو د فشار په موخه د خیساره په شاوخوا کې د ایپي فقیر د ملاتړو کورونه، بازارونه او د کرکیلې ځمکې له منځه یوسي.[60]

کولریج او د هغه تر قوماندې لاندې د انجنیرانو ډلې د نومبر پر ۳۰مه د میرعلې- خیساره د سړک جوړونې چارې پیل کړې او هوایي ځواک ته دنده سپارل شوې وه، چې خلکو ته د بمباریو خبرداری ورسوي. انګریزانو په روژه کې د ایپي فقیر د سرتېرو او پلویانو کورونه او مېنې له منځه یووړل او پر کلیو یې پرله پسې بمباری وکړې. هغوی له بنو او نورو ښارونو څخه د خیساره پر لور د خوراکي او نورو توکو پر لیږد بندیز لګولی و او هممهال یې د ډسمبر پر ۱۵مه په زخه کې د ایپي فقیر کور ونړاوه او په شیخ محمد زیارت او ډاکۍ کې یې پر کلیو بمباری وکړې. د انګریزانو د وحشت په ډېرېدو سره مسید، احمدزي وزیر، ځدراڼ، بېټني او نورې پښتني قبیلې هم د ایپي فقیر په ننګه ودرېدې. د ډسمبر تر ۲۲مې پورې انګریزي ځواکونو د کورونو نړولو ته دوام ورکړ او په ترڅ کې یې د توري خېلو وزیرو ملکان ایپي فقیر ته ور ولیږل، چې له جګړې لاس واخلي، خو هغه په خپلو شرایطو ټینګ ولاړ و.[61]

د ډسمبر پر ۲۲مه د ایپي فقیر پلویانو، د جګړن ولیم تر مشرۍ لاندې د پنجاب رجمنټ پر پوځیانو برید وکړ او ګڼ کسان یې ور ووژل. انګریزانو پوره درې او درې نیم ساعته بمباری وکړې، خو خپل سرتېري یې ونه ژغورلای شول. د رزمک ټولي دغه برخه د



ډمډېل پر لور روانه وه، چې په زیرپیزي سیمه کې تر برید لاندې راغله، خو ځانونه یې ډمډېل ته ورسول. په دې جګړه کې د انګریز افسر جګړن ویلیم په ګډون ۴۱ پوځیان او ۲۱ سرتېري ووژل شول او ۳۴ نور انګریز پلوه پوځیان ټپیان شول. په همدې ورځ زریني توري خېلو په بیچه کڅکۍ کې پر پوځي مرکز برید وکړ،خو انګریز هوایي ځواک د خیساره په ګډون د مسیدو او مداخېلو وزیرو مشخصې سیمې تر هوایي څار لاندې راوستې وې او نښتې محسوسه پایله نه درلوده.

جنرال کولریج په کوز خیساره کې پر مبارزانو فشار راوړ، چې سیمه پرېږدي. له دې سره جوخت د توري خېلو د غلي کولو او یوه نوي سړک د جوړولو چارې پیل شوې. کولریج د ایپي فقیر او د هغه د مبارزانو په ماتولو کې پاتې راغی او د یو شمېر قومي مشرانو له لارې یې د ډسمبر پر ۲۹مه د یوې جرګې په ترڅ کې لنډمهالی اوربند وکړ. له اوربند نه د هغه یو هدف د سړک جوړونې د چارو ګړندیتوب و. ایپي فقیر دغه مهال د مسیدو په سیمه شکتوی کې اوسېده، خو وروسته بېرته ارسلاکوټ ته لاړ. دی له انګریزانو سره د جنوري پر پنځمه د کېدونکې جبري جرګې مخالف و، ځکه پوهېده، چې انګریزان له سیمې وځي او ځان ته د ختې پوزه جوړوي.

ایپي فقیر ته دغه مهال له پکتیا، بنو، مسیدو، داوړو او نورو سیمو مرستې راتلې. جنرال کولریج وروسته پوه شو، چې په خیساره کې پاتې کېدل ګټور نه دي. د ۱۹۳۷ز کال د جنوري پر پنځمه انګریزانو د توري خېلو او مسیدو یوه جرګه وغوښته او د خپلو شرایطو په اعلان سره یې ځواکونه د بنو پر لور واېستل، خو پر شرایطو یې چا غوږ ونه ګراوه.

انګریزانو د ۱۹۳۶ز کال د ډسمبر له ۳۱مې نه د ۱۹۳۷ز کال د جنوري تر ځلورمې پورې ځلور ورځې په پرله پسې توګه د ایپي فقیر پر استوګنځي ارسلکوټ بمباری وکړې. ایپي فقیر د بمباریو په وخت کې په ارسلکوټ کې نه و. په بوبلی او ډاکۍ کې د ایپي فقیر پلویانو مرکزونه جوړ کړي وو او انګریزانو د هغوی په سر توري خېل تر فشار لاندې راوستل. دوی شاوخوا تر یوې میاشتې پورې په ارسلکوټ، زیړ پیزي، ډاګۍ، جلیر

او شاوخوا نورو سیمو کې بمبارۍ او تصفیوي عملیات وکړل.[٦٢]

د جنوري له ۱۸مې نه تر فبروري پورې په وزیرستان کې شخړې کمې وې، ځکه انګریزانو او توري خېلو د جنوري پر ۱۵مه په یوه جرګه کې په دې پرېکړه کړې وه، چې له بوبلۍ نه تر بیچې کڅکۍ پورې به خلک د ایپي فقیر مبارزانو ته ځای نه ورکوي. په دې جرګه کې انګریزانو پر توري خېلو ناغې کېښودې، خو پوځیان بېرته د رزمک او بنو پر لور وخوځېدل. انګریزانو- مسیدو، داوړو او مداخېلو وزیرو ته هم خبرداري ورکړل، چې د ایپي فقیر له ملاتړه لاس واخلي.[٦٣]

په فبروري میاشت کې وضعیت یوځل بیا کړکېچن شو، ځکه انګریز سرکار بنو او راولپنډۍ ته د خپلو ځواکونو له لیږلو لاس واخست او له ایبټ اباد او نورو سیمو یې یوه لوا غرنۍ توپخانې او ټانکونه وزیرستان ته را وغوښتل. ایپي فقیر خپلو پلویانو ته یوځل بیا د جګړو د تودولو سپارښتنې وکړې. د فقیر د جهاد له اعلان سره مبارزانو دوه پوځي افسران کپټان کیوغ او بریدمن ار اېن بیټي ووژل. کپټان کیوغ له لادا نه چنډولي ته په موټر کې روان و، چې برید پرې وشو او د ژورو ټپونو له امله پر سبا ومړ. دده په وژنه کې د مکین عمرخېل مسید پړه وګڼل شول او ۱۲۰ خاسه دار یې ونیول شول. انګریز سیاسي استازي بارنې بارنیس ساړه راغه ته د مسیدو جرګه ور وبلله او ۷۵ زره روپۍ ناغه یې پرې کېښوده، خو مسیدو نه یوازې دا، چې دا پیسې ورنه کړې، بلکې وزیرو یې پر پله پل کېښود او د شمالي وزیرستان مرستیال سیاسي استازی ار.اېن. بیټي یې وواژه. بیټي د فبروري پر اوومه خاسه دارو ته د تنخوا ورکولو په موخه له میرانشاه نه پر دته خېلو د رزمک پر لور په موټر کې سفر کاوه، چې د غلنۍ په سیمه کې د مبارزانو تر برید لاندې راغی، دی ځای پرځای مړ شو او تنخواوې او وسلې ترې مبارزانو په غنیمت یوورې. وروسته د انګریزانو او مداخېلو وزیرو ترمنځ جرګې وشوې، خو وزیرو وژونکي ور ونه سپارل. انګریزانو په غبرګون کې په خپلو شپېرو الوتکو د کژې مداخېلو پر دوو کلیو سترکلي او اځرو ۱۵۳ساعته بمبارۍ وکړې. په دې وختونو کې د انګریزانو خلاف د ډېورنډ کرښې په دواړو خواوو کې کرکې مخ پر ډېرېدو شوې او د خروټو او سلیمان خېلو یوه لښکر د فبروري پر ۱۷مه د



ګلجان خروټي تر مشرۍ لاندې د وانه په اوبه سر سیمه کې پر انګریزي کتار برید وکړ او درنده مرګ ژوبله یې ور واړوله.[٦٤]

د ۱۹۳۷ز کال د فبروري پر ۲۲مه ایپي فقیر د اختر د لمانځه په خطبه کې خلک د انګریز پر خلاف جهاد ته وبلل او وریې د جمعې په لمانځه کې یې په حکومت کې په دندو بوخت کسان د دندو په پرېښودو وګواښل. هغه اعلان وکړ، چې که څوک له انګریزانو سره دندې پرې نه ږدي، جنازې به یې څوک نه کوي. د مارچ پر څلورمه ایپي فقیر د ملایانو د فتوا پر بنسټ، د ټولو هغو ملکانو او خاسه دارو د جنازو پر لمانځه بندیز ولګاوه، چې لا هم د انګریزي حکومت په چوپړ کې وو.[٦٥] ایپي فقیر خپلو مبارزانو ته په بنو، ډېره اسماعیل خان، ټانک او نورو سیمو کې د بریدونو سپارښتنې وکړې او د انګریزانو کاروانونه نور پر لارو له بریدونو خوندي نه وو. انګریزانو وزیرستان ته نور پوځیان واستول او ارسلکوټ یې د هوا له لارې محاصره کړ. مبارزانو یې په غبرګون کې د ډامډیل پر پوسته برید وکړ او ګڼ کسان یې ټکې مړه او ټپیان کړل. مبارزانو د مارچ پر ۲۹مه له ایبټ اباد نه راغلې لوا، چې د منزۍ او ډېرې پر لور روانه وه، په اسد خېلو کې وډزوله او ګڼ کسان یې ترې مړه او ټپیان کړل. انګریز پوځیان د ایپي فقیر د پلویانو له بریدونو په تنګ شول او د اپریل پر پنځمه یې په میرانشاه کې د وزیرو یوې جرګې ته خپل شرطونه او بندیزونه اعلان کړل. له همدې سره جوخت یې پر ارسلکوټ او د اپریل پر لسمه پر دته خېلو تر شپېرو ورځو بمبارۍ وکړې. د انګریزانو له دغو بمباریو او بندیزونو یو هدف دا و، چې په شهیر تنګي کې د ایپي فقیر او ملک خونیاخېل مسید د بریدونو مخه ونیسي. ایپي فقیر پر ارسلکوټ د بریدونو په وخت کې ساړه راغه ته تللی و.

### د شهیر بریالی پټګن

شهیر تنګی، چې په شهور سره مشهور دی، د ټانک- وانه پر لویه لار پروت دی. ختیځ ته یې چګمالای او لویدیځ اړخ ته یې سپلې توی پروت دی. دلته د دښمن لپاره ښه کمین نیول کېده. دې سیمې ته د ایپي فقیر او خونیاخېل مسید سرتېري له شکتوی نه

راغلي وو. د انگریزانو کتار د بریدمن هوپکینز تر مشرۍ لاندې د ۱۹۳۷ز کال د اپرېل پر ۹مه له منزۍ نه د وانه پر لور رهي شو. په دغه کتار کې ۶۵ لارۍ، څلور زغره وال گاډي، امبولانس، بگۍ او گڼ پوځي تجهیزات لیږدول کېدل.[66] ددوی پر سر دپاسه الوتکې گرځېدې. کتار، چې له چگمالي کوزېده، د خونیاخېل سرتېرو پرې برید وکړ او په ۱۵ دقیقو کې یې په داسې وضعیت اخته کړل، چې د تېښتې او ځان پټونې لارې یې ترې ورکې کړې. د شوبلو ماشیندارو بې پاس د غره د څوکو سرتېري نه شوای په نښه کولای او له سړکه ووتې. د کتار د سر څلورم او پنځم او وروسته نور موټر په ټایرونو کې وېشتل شوي وو او مخکې تگ یې نه شوای کولای. د نورو موټرو پر مخ سړک تړلی و او سرتېرو ته نښه فرصت و، چې هرڅه ترې په ولجه یوسي. د کتار طبي مسوول تورن اېن.اېم ډوراني د ډزبندۍ غږ وکړ، خو دی هم د مبارزانو په مرمیو ډې را ولوېد. د کتار مشر بریدمن هوپکینز له دریو گاډو سره له تنگي نه د سپلې توی پر لور پښې سپکې کړې. دده له تگ سره مل سیمې ته له منزۍ، چنډولي، سرویکي او میرانشاه نه مرستندویه ځواکونه او یوه الوتکه راغلل. مرستیال پولیټیکل لوییس سیمې ته په بس موټر کې ملکان راوستل، چې مبارزان ډزبندۍ ته وهڅوي، خو کله، چې مبارزانو یو ملک پر ټپر وویشت، نورو یې موټر پرځای پرېښود او له سیمې یې پښې سپکې کړې. الوتکو لا هم د مبارزانو مورچلې بمباري کولې، خو د جنوبي وزیرستان، چنډولي او سرویکي نه راغلو ځواکونو هم مبارزان مات نه کړای شول. مبارزانو یوه الوتکه وویشتله او په بیړه په چگمالي کې کښېناسته. په جگړه کې د بریدمن ارل، بریدمن هاینډ، بریدمن فرانس، بریدمن سکاټ، جگړن پالمر، کپټان کورټني او کپټان ډوراني په گډون ۱۹ تنه مړه او گڼ شمېر نور ټپيان شول.

د جنوبي وزیرستان مرستیال سیاسي استازی لوییس د شهیر له یو شمېر ملکانو سره په الوتکه کې په خونیاخېل پسې گرځېده، خو ویې نه موند. د شهیر تنگي له پېښې وروسته د وزیرستان ریزېډنټ د اپرېل پر ۱۷مه د چگمالي له ځلال خېلو سره جرگه وکړه، څکه برید ددوی په سیمه کې شوی و او خونیاخېل او نور مسید مبارزان یې ترې غوښتل. د اپرېل پر ۲۲مه د وزیرستان سیمه ییز واکمن (ریزېډنټ) له عبدالرحمن خېلو



سره هم جرگه وکړه او ۱۲ تنه یې ترې یرغمل بوتلل.[67]

د شهیر تنگي له برید وروسته انگریزانو د مې پر ۱۵مه له راولپنډۍ نه تازه دمه سرتېري وغوښتل، خو پر وړاندې یې جگړې لا هم چټکې او پراخې شوې. توري خېلو د سپین وام کلا محاصره کړه، د میرعلي او ټل سړک یې بند او په تبۍ نري کې یې پر انگریزي اهدافو بریدونه وکړل. د عمرخېلو مولوي شیرعلي خان مسید(۷)د اپرېل پر ۱۷مه د تیارزې پر کلا برید وکړ او تر محاصرې لاندې یې راوسته. د هغه سرتېرو د وانه او لادا ترمنځ ټیلیفوني ستنې له منځه یوورې. انگریزانو پر عمرخېلو او د مولوي شیرعلي خان پر سمڅو د اپرېل له اوومې نه تر ۱۹مې پورې بمبارۍ وکړې او ټول کلی یې په کنډواله بدل کړ. مبارزانو په همدې وخت کې د الیگزاندر پر پوسته او تجوړي تانه بریدونه وکړل. هغوی د جنرال جان کولریج په مشرۍ په خیساره، سپین وام، دته خېلو، سپپلگې، کتیري لگډ، بویه او نورو سیمو لښکرکشۍ وکړې او د مبارزانو له مقاومت سره مخ شول. کولریج کوښښ کاوه، چې مبارزان له غرونو څخه سمې ته راوباسي او بیا یې وځپي، خو دغه ناکاره تاکتیک یې له دې مخکې هم ازمویلی و.

*جنرال ایلیټ په دې اړه وایي: « جنرال کولریج باید په دې پوه وای، چې دی له داسې جنگیالیو سره مخ دی، چې له ده ډېر د جگړې په چل پوهیږي. دی په دې نه پوهېده، چې ایپي فقیر د میرعلي په څېر سیمو ته د سرتېرو استولو مرگوني تېروتنه نه کوي، خو جنرال کولریج په خپل خره سپور و».*

کولریج له ۱۰ زره پوځیانو او جنرال اې.اېف هارټلي له څلورو زرو ژوبو او ۶۰۰ پوځیانو سره د ارسلکوټ مخه ونیوله. دوی له دوسلې نه تر ارسلکوټ پورې د سړک غځونې پلان هم درلود. دوی د مې پر شپږمه د دوسلې کلا ته ورسېدل. په خیساره، شکتوی، سره مېله، شام او گریوم کې ددوی پر وړاندې تر ۳۰۰۰ ډېر سرتېري مبارزان را غونډ شول. دوی د ایشه او رزمک ترمنځ انگریز ځواکونو ته لارې ونیوې او په سیمه کې یې د انگریزانو پر لور تللې ویالې ړنگې او په ځینو کې یې تیزاب وشیندل. د انگریزانو د څه

باندې لس زره پوځيانو لپاره په يوه کلا کې اوسېدل ستونزمن وو، ځکه د ځنباک ستونزې مخ پر ډېرېدو وې. وروسته دوه ځايه شول او يوه برخه يې د دوسلې کلي ته څېرمه ميشته شوه. پر دغو پوځيانو د مې د اتمې نېټې په غرمه ۱۱ بجو مبارزانو مرګوني بريدونه وکړل او هغوی يې اړ کړل، چې بېرته د دوسلې کلا ته لاړ شي. په دغه بريد کې له دوی نه شل تنه ووژل شول او ګڼ نور ټپيان شول. مبارزانو د رزمک پر لوا هم بريد وکړ او دوارو خواوو ته درنده مرګ ژوبله واوښته. مبارزانو په سره مېله کې ځانونه ټينګ کړل او له ځلورو زرو سرتېرو څخه يې يوه برخه په رزمک کمر، شام ډاګ او نورو سيمو کې ځای پرځای کړل.[۶۸]

تر ټولو خندوونکی وضعيت د دوسلي کلا د پوځيانو و.

دوی د ۱۹۳۷ز کال د مې پر ۱۲مه په ابلنکي خطرناکې لارې شام ته رهي شول. جورج لامين او پرينډرګسټ ددغو ځواکونو مشري کوله. د دوی يو شمېر کسانو د مزريو څپلی پښو کړې وې، چې د شپې په مزل کې يې مبارزان کړپ او کړوپ ونه اوري. دوی له ځانونو سره ۷۲۰ هغه کچرې هم واخستې، چې غږ يې نه اېست او په پټه خوله مزل يې کاوه. په غابښي کې لاره ډېره خرابه، تيرې ښويې او تېرې وې. ډېرې ټولې په ونو، بوټو او تېرو تيرو او کمرونو پوښلې وې او کچرې پکې ښوييدې او لاندې به خوړه ته رسېدې. کچرو درانده بارونه هم ليږدول، ځکه خو به يې، چې پښې وښوييدې، له رغړېدو سره به يې ټول تنګی بغارو ونيو.[۶۹]

پرينډرګسټ، چې وروسته د جان کنينګهم په پېر کې د جاپان جګړې ته د تلونکو مسيدو او نورو قبايلو د يوې ډلګۍ قوماندان و، وايي، چې د ګهيځ په خړه کې پر دوی له څو خواوو بريدونه وشول او د ډګروال کيز په مشرۍ د سيکانو کنډک له ويرې بيخي سره غونج شوی و. انګريز پوځيان له درندې مرګ ژوبلې وروسته له ابلنکي غابښي ووتل او د مې پر ۱۷مه ګريوم ته ورسېدل. په ګريوم کې دوی له ږلی او باران او د مبارزانو له بريدونو دوارو سره مخ وو. د رزمک لوا تر اوږده مزل او شخړو وروسته ارسلکوټ ته ورسېده او هلته يې د ايپي فقير کور د هوايي او ځمکني ځواک په مرسته له منځه يووړ. د ايپي فقير



مبارزانو له نورو سره دا تفاوت درلود، چې تاکتيکي جګړه يې کوله او يو تاکتيک يې ددښمن په پوځي يونيفورم کې جګړه کول و. پر ګريوم کمپ، چې د مې پر ۲۲مه کومو سرتېرو بريد وکړ، ټولو د ټوچي سکاوټ په څېر خړ کالي اغوستي وو. په شام او ګريوم کې د انګريزي ځواکونو له خوړېدو سره يوځای د مې پر شلمه شپه ايپي فقير له ارسلکوټ نه د ملک خونياخېل د استوګنځي بونه منزه پرلور وتلی و.

مبارزانو په همدې ورځو کې په دته خېلو کلا، تيتاخېل، پيزو، تجوړي، پاسل کلي او ګريوم کې پر انګريزي ځواکونو او د هغوی پر پوستو بريدونه وکړل. د جون پر لومړۍ نېټه انګريزانو د عمر تيتاخېلو پيښې په غبرګون کې د بېټنيو کوټ ته څېرمه پر ځلورو سيمو او د دين فقير پر کور بمبارۍ وکړې او بيا يې په ځمکنيو ځواکونو تصفيه کړې. له دې وروسته يې د مسيدو پر سيمو لښکر کشۍ وکړې، خو د محمد امير کلي، ګچ خوا او تودې چينې په سيمو کې يې مبارزانو پر وړاندې مقاومت وکړ. انګريزانو د جولای پر لسمه او ۱۱مه د مسيدو ملکان په ساړه راغه کې يوې جرګې ته وبلل او د وروستي وضعيت په اړه يې له هغوی سره خبرې وکړې. انګريزانو د مسيدو د ځلورو مشهورو مشرانو ملک خونياخېل، ملک موسی خان، مولوی شيرعلي خان او ملا فضل دين نظرونه معلومول. ملا فضل دين په دې وختونو کې غلی و او ملک موسی خان په ډاګه ويلي و، چې افغان حکومت له انګريزانو سره ښه اړيکي لري او دی دغه مهال د جګړې په جبهه کې نه دی، خو ملک خونياخېل خپل برخليک په ايپي فقير پورې تړلی و او مولوي شيرعلي خان نه يوازې دا، چې جرګې ته ورنغی بلکې په اسمان منزه کې يې د انګريزانو پر يوه پوسته بريد وکړ او ۱۶ تنه يې ترې مړه او ټپيان کړل. حکومت ددې پيښې پړه د کانيګروم او مردار لګډ پر خلکو واچوله، خو هغوی د مبارزانو په مخنيوي کې خپله بې وسي وښوده.[۷۰]

ايپي فقير په دې وختونو کې د ارسلکوټ او منډوام ترمنځ پټ ګرځېده او د شکتوی لګډ او رزمک ترمنځ يې ګڼ مبارزان استوګن وو. انګريزانو غوښتل، چې ايپي فقير ژوندی ونيسي او په همدې موخه له ګريوم نه والادين او لکېو سيمو ته لاړل. دوی د

۱۹۳۷ز کال د جون پر ۱۹مه د سویلي وزیرستان ملیشې هم له چنډولي د پیزو او بنو پر لار په پټه توګه دوسلي ته یووړې او هلته په رزمک نري کې د توچي ملیشې هم ورسره یوځای شوې. د جون پر شلمه ګړیوم ته لاړې او پر سبا یې شکتوی لګډ او ارسلکوټ سیمې محاصره کړې، خو ایپي فقیر له سیمې وتلی و.[۷۱]

انګریزانو په سویلي وزیرستان کې د امنیت ټینګښت او د مسیدو او وزیرو د کنټرول په موخه غوښتل د رزمک او وانه ترمنځ لاره، چې د مسیدو پر سیمو تېرېږي،د بنو او رزمک د ځواکونو او اکمالاتي کتارونو پرمخ پرانیزي. په همدې موخه یې ځلوېښتې، منوځلي، توروام او بر بدر ته او بل پلو له وانه نه سرویکي، شپانه رغزي، او تیارزې ته د ځواکونو د لیږلو پرېکړه وکړه. د جون پر ۲۳مه په شرونګي نري کې د ملا شیرعلي خان سرتېرو پرې برید وکړ او د دواړو خواوو د قوماندانانو په ګډون ګڼ کسان ووژل شول. د بنو او رزمک ځواکونه توروام ته پر لاره په بدر کې د مبارزانو تر برید لاندې راغلل، خو انګریز ځواکونو ځانونه تر توروام ورسول. له دې پېښې وروسته د جون پر لومړۍ نېټه د ملا شېرعلي خان سرتېرو د ټېټني پل په سیمه او ترخه لګډ کې له انګریزانو سره نښتې وکړې.

د جولای پر اتمه او نهمه نېټه انګریزانو مکین ته څېرمه د رازین کلي پر ځلال خېلو مسیدو بمباري وکړې او په سپین وام کې یې د ملک ګلاجان او ګاکو کورونه ړنګ کړل. افغان حکومت هڅه کوله، چې د ایپي فقیر او انګریزانو ترمنځ سوله راولي او هغه له جګړې لاس واخلي. په دې برخه کې یې د کربوغې له فقیر نه مرسته وغوښته، خو ایپي فقیر، خونیاخېل او ملا شېرعلي خان له جګړو لاس وانخست او په سویلي او شمالي وزیرستان کې یې د انګریزانو پر ضد خپلې مبارزې لا چټکې کړې. ایپي فقیر د انګریزانو د بمباریو له امله د شابي خېلو مسیدو پرې کړي سر سیمې ته لاړ. ددې سیمې موقعیت داسې و، چې دمسیدو، وزیرو، داوړو او بېټنیو ټولو ورتګ ورته اسان و او بل پلو د انګریز ځواکونو له عملیاتو او هوایي بمباریو خوندي و. ده له دې ځایه خیساره، شوال، شکي، وانه او نورو سیمو کې خلک د انګریز خلاف جګړې ته هڅول. په همدغه وخت کې ده د بېټنیو فقیر د خپل اعلی قوماندان په توګه وټاکه. انګریزانو ددوی پر ضد په کرکڼوام او پرې



کړي سر کې عملیات او بمباري وکړې. دغه بمباري د اګست پر دریمه وشوې او بیا ایپي فقیر مندیچ ته لاړ.

## د افغان حکومت د منځګړتوب هڅې

انګریزان د ایپي فقیر د مسیدو او وزیرو سرتېرو له بریدونو تر سپږمو رسېدلي وو. دوی له افغان حکومت نه مرسته وغوښته، چې پر ایپي فقیر د خپل شته نفوذ له لارې هغه سولې ته وهڅوي.

افغان حکومت ددې چارې لپاره نایب سالار ملک موسی خان مسید د منځګړې په توګه وټاکه. موسی خان دغه مهال د انګریزانو پر وړاندې په جګړو کې فعال رول نه درلود، خو له افغانستان نه د ور تلونکو سرتېرو ډوډۍ او نور سمبالښت دده پر غاړه و. ایپي فقیر د موسی خان د جرګې بلنه ومنله او له رزمک نه شپږ میله سویل پلو د عبدلیو مسیدو سیمې مندیچ ته لاړ. دې جرګې ته د مسیدو، توري خېلو او احمدزیو وزیرو قومي مشران هم غوښتل شوي وو. انګریزانو د قومي مشرانو د پاڅون له وېرې د جرګې مخالفت وکړ، خو موسی خان د اګست پر ۱٦مه په منې سیمه کې یوه بله جرګه راوغوښته، چې شاوخوا شپږو زرو کسانو پکې ګډون درلود. په جرګه کې پرېکړه وشوه، چې انګریزان به د خلکو په دیني او عقیدوي چارو کې له مداخلې لاس اخلي، اسلام بي بي به بېرته راګرځوي، د سړکونو غځول به بندوي او د مسیدو په ګډون له هغو سیمو به خپل پوځیان وباسي، چې مخکې پکې انګریز سرکار چاونۍ او مرکزونه نه درلودل. دوی خپلې پرېکړې افغان حکومت ته هم واستولې، چې په پلیتابه کې یې ددوی غاړه واخلي. په دې جرګه کې ملا فضل دین د ایپي فقیر د شرطونو ننګه وکړه او هغه ته یې د انګریزانو پر ضد د مبارزې په تړاو ژمنې ورکړې. موسی خان له ځان سره د لومړي وزیر محمد هاشم خان د سپارښتنې پر بنسټ رسمي مکتوب راوړی و. ( د مکتوب متن په ضمیمو کې وګورئ).

په دې جرګه کې د مسیدو او وزیرو پر ګڼو مشرانو سربېره، سادي خان شمن

خېل، عبدالله خان مداخېل وزیر او ګڼو نورو مشرانو ګډون کړی و.

د اګست پر ۲۴مه جنرال کولریج په سویلي او شمالي وزیرستان (میرانشاه) کې د مسیدو او وزیرو جرګو ته اعلان وکړ، چې انګریز ځواکونه په وزیرستان کې پاتې کیږي او د سړکونو د غځولو چارې به هم روانې وي. مسیدو ته وویل شول، چې ددوی یو شمېر سیمې به په خوندي سیمو (Protacted Areas) کې راځي او اېف سي ار قانون به پکې پلی کیږي. د مسیدو پر دریوارو ښاخونو او عمر خېلو یې ناغې هم کېښودې. وزیرو او داوړو ته یې هم په همدې ډول مسالې ډاګیزې کړې. د اګست پر ۱۷مه یې د بېټنیو جرګه هم وغوښته او پر دوی یې د بندیزونو ترڅنګ، د اګست له دېرشمې نه د سپټمبر تر ۲۳مې پورې په دریو وقفو کې سختې بمبارۍ وکړې. انګریزانو د برمته شویو هندوانو خلاصون غوښت، چې وروسته بېټنیو خوشي کړل.

انګریزانو په مسیدو او وزیرو کې د سړک غځونې چارې جاري وساتلې او چا یې، چې پر وړاندې خنډ جوړاوه، د خونیاخېلو او غیمبکي په څېر یې ۱۱ او ۱۲ ټپي بمونه پرې غورځول. مولوي شېرعلي خان له منې نه تر ستنېدو وروسته د بر بدر په لسوندي کې اوسېده او له همدې ځایه یې په وزیرستان او له وزیرستان نه بهر سیمو کې عملیات پلانول. د سپټمبر پر شپږمه د هغه سرتېرو د ډېره اسماعیل خان ولسوالۍ په چودوان کلي کې پر انګریز پلوه هندوانو، پر اوومه او اتمه په بدر لګډ، تور وام، شرونګي، ترې ژور، شولام، شکي او څلوېښتي کې د خاسه دارو پر پوستو بریدونه وکړل. جنرال کولریج په همدې ورځو کې د یو شمېر سیمو د بمباردولو پرېکړه وکړه. هغه د سپټمبر په ۱۱مه او ۱۲مه د رزمک پوځ د تودې چینې او لادا پر لور ولېږه او د سپټمبر پر نهمه او لسمه یې پر لسوندي بمبارۍ وکړې. انګریز ځواکونو په اسمان منزه او بر بدر او د ساړه راغه په سرنه کې پر کلیو بریدونه وکړل او د سپټمبر پر ۱۶مه یې د ملک خونیاخېل او د هغه د ملګرو پر کورونو بمبارۍ وکړې.

انګریزانو، چې د ایپي فقیر شرایطو ته غاړه کېښبوده، له مندیچ نه د غیمبکۍ پر لور لاړ. د فقیر د سپارښتنو پر بنسټ، په ګڼو کلیو کې زلمیانو له خاسه دارو سره نوکرۍ



پرېښودې. انګریزانو د سپټمبر پر ۱۶مه په غیمبکۍ بمبارۍ وکړې او وزیرو ته یې خبرداری ورکړ، چې که د ایپي فقیر او د هغه د ملګرو مخه ونه نیسي ددوی پر ضد به عملیات وشي.

د مولوي شیرعلي خان او ایپي فقیر پلویانو په سپټمبر کې په سپین کمر، ماموسر، سره دار، ممي راغه، سرویکي، پاکې لوټې، انځر نري او تبۍ نري کې له انګریزانو سره نښتې وکړې. دا وخت د هغوی شاهي ځواک پر سپلې توی لګډ او په غیمبکي کې د ایپي فقیر پر استوګنځي بمبارۍ وکړې، خو چاته پکې مرګ ژوبله ونه اوښته. د همدې میاشتې پر ۱۸مه د انګریزانو ګزمې پر میرانشاه، بویې، توت نري، لکۍ میدان، ډمډیل، جلیر لګډ، بیچې کڅکۍ، پوست لګډ، شکتوی لګډ او مندوام وګرځېدې او بیا کوز شکتوی ته لاړې، خو په کوز شکتوی کې دوه ځلې له مبارزانو سره په شخړه واوښتې. په اپریل کې په درګۍ سر، ونې سر، ګنډیري لګډ او نورو سیمو کې د دواړو خواوو ترمنځ وړې نښتې وشوې.

د ملا شیرعلي خان سرتېرو کوښښ کاوه، چې درګۍ سر د توپ کارونې لپاره په خپل واک کې وساتي، خو د انګریزانو په سترګو کې د ۱۹۳۶ز کال د شهیر تنګي پېښه غړېده او نه یې غوښتل مبارزان پر لوړو نقطو حاکم شي. د ۱۹۳۸ز کال په اپریل کې د سویلي وزیرستان سیاسي استازي پوځیانو ته خبر ورکړ، چې له سپلې توی نه څلور میله لرې په درګۍ سر کې مبارزان سره راغونډیږي. د اپریل پر ۱۴مه د تورن ایان ډیور او بریدمن پیپ الډرمن په مشرۍ شپږ ټولي له سرویکي څخه او پنځه نور ټولي د جګړن ووډز، تورن بابنګټن او بریدمن پټیګریو تر مشرۍ لاندې د درګۍ سر پر لور وخوځېدل. د تورن ایان ډیور ټولیو درګۍ سر ونیو، خو پنځه نور ټولي د مبارزانو د سخت مقاومت په پایله کې له درندې مرګ ژوبلې وروسته بېرته مرکز ته لاړل. وروسته لومړنی ټولی هم د مبارزانو په دویم برید کې ددرګۍ سر په ساتلو کې بریالی نه شو او د قوماندان ډیور په ګډون یې ګڼ کسان له لاسه ورکړل. انګریز ځواکونو ته وروسته هوایي مرسته او کارتوس را ورسېدل او د درګۍ سر یې بېرته ونیو. د ملا شېرعلي خان سرتېرو خپل جوړ کړی توپ د

جولای پر ۱۱مه په ممي راغه کې وکاراوه. دوی په شپږ سوه مترو کې ترکی مورچل په نبنه کړ او ۱۴مرمۍ یې پرې وار کړې. وروسته، چې دوی د کوټکي پر لور تلل انګریزي پوځیان یې په لټون پسې ووتل. ددواړو خواوو ترمنځ په ونې سر کې سختې نښتې وشوې او انګریز ځواکونو ته درنده مرګ ژوبله واوښته. دوی د ساړه راغه پر کلا د برید هوډ درلود. له چنډولي او ساړه راغه څخه د ونې سر پر لور د بریدمن جیمبز او بیټل لوییس او پیپ الډرمن په مشرۍ ځواکونو د تګ هدف هم پر ساړه راغه د ملا شېرعلي خان د برید مخنیوی و. مبارزانو دلته یوه الوتکه هم وویشته ، چې په بیړه په چنډولي کې کښېناسته.

دا وخت د ایپي فقیر مرکز په خړه کې و، چې د مداخېلو وزیرو سیمه ده.[۷۲]

دلته د افغانستان او نورو سیمو مبارزانو وخت ناوخته پناه اخېسته او د زمرک خان ځدراڼ په مشرۍ له افغان حکومت ناراضه مبارزان هم دلته میشتېدل. شاهي ځواکونو په جولای کې د ایپي فقیر دغه مرکز بمباري کړ او د ۱۹۳۸ز کال د جولای پر ۱۳مه یې دې سیمې ته پلي ځواکونه واستول. دوی، چې خرسین ته ورسېدل، څو کورونه یې رنګ کړل، پر سبا په دوو بېلو لارو سره بېل شول. د رزمک لوا له اتو ټولیو سره د اې ډبلیو ویلیمز په مشرۍ د مزدک پونګه پر لور او دویمه برخه ۱۳مه پلې لوا د باب ینګمټن په مشرۍ ووته. دوی پر لاره بلد نه وو او د پیچومو له امله یې کچرې ښوییږې. مبارزانو پر لاره ماینونه ورته اېښي وو ، خو وروسته ګرد او توپان هم لاروکي کړل. مبارزانو د تنګي په مهمو نقطو کې ځایونه نیولي وو. دې ټولو عواملو ددوی د خړې عملیات له ناکامۍ سره مخ کړي وو. دوی ته ماینونه د کابل یوه افغان طالب جوړول، چې وروسته په بنو کې انګریزانو پر دار راوځړاوه. د باب ینګمټن پر لوا په یوه پیچومي کې برید وشو، ځکه خو یې مخکې او شاته د تګ لارې بندې شوې. دوی په دې ورځ د تنګي لوړو څوکو ته په ختلو بریالي نه شول، شپه یې همدلته تېره کړه او پر سبا د سکاوټ سرتېرو په ملتیا وژګې ته لاړل.



## پر بنو برید، نړیوال شهرت

بنو هغه ځای و، چې وزیرستان ترې کنټرولېده.

ایپي فقیر پر بنو د برید لپاره له ډېر وخت راهیسې تیاری نیوه. د اسلام بي بي په تړاو د بنو د محکمې غیرعادلانه پرېکړې بنوځي، وزیر، مسید او نور مبارزان سخت قهرولي وو. د ۱۹۳۸ز کال د جولای پر ۲۳مه د ملا شېرعلي خان ۲۰۰ تنو مبارزانو پر بنو برید وکړ او تر څو ساعتونو پورې ټول ښار ددوی په لاس کې و. په برید کې اووه برېټانیایي مامورین ووژل شول او یو شمېر هټۍ وسوځول شوې.

په دغه برید کې مبارزانو ته هم مرګ ژوبله واوښته او ۲۰ تنه ترې انګریزي ځواکونو ژوندي ونیول. دغه برید د انګریزانو پوځي اتوریته ونګوله او ګڼو هندوانو له بنو څخه کډې وکړې. یو شمېر سرچینې ددغه برید سمبالوونکی مهردل خټک ګڼي، چې د بنو احمدزي وزیرو یې ملاتړ کاوه. وروسته انګریزانو په ګیمبتي کې پر دوی ځېونکي عملیات وکړل.[۷۳]

## د بریدونو او بمباریو دوام

د ۱۹۳۸ز کال په ډسمبر کې ایپي فقیر له موسی نیکه نه په راستېدو سره مچه مداخېلو ته لاړ او انګریزانو پرې سختې بمبارۍ وکړې. له بمباریو نه مداخېل ډېر په ستونزه کې وو. ایپي فقیر وروسته په تارموره کې میشت شو، خو دلته یې هم په کراره پرېښنبود او لټکې، مستوی او په مې میاشت کې خړې ته لاړ. ایپي فقیر دغه مهال له مداخېلو او توري خېلو وزیرو ډېر نهیلی و او په مسیدو کې یې د انګریز خلاف هلې ځلې کولې. توري خېل او مداخېل وزیر ملامت هم نه وو، ځکه دده په ورتګ سره به انګریزانو ددوی پر کلیو او کورونو بمبارۍ کولې. انګریزانو د ۱۹۳۹ز کال د مارچ پر ۱۶مه پر شکتوی برید او په فبروري کې پر مداخېلو بمبارۍ وکړې. د ډسمبر پر دریيمه ټانک ته نږدې د یوه انګریز تورن (Duggle) له برمته کولو وروسته انګریز الوتکو پر شابي خېلو بمبارۍ پیل کړې او د ۱۹۴۰ز کال تر جنوري روانې وې.

په ۱۹۴۰ز کال کې د مسیدو او وزیرو په ګڼو سیمو کې جګړې وشوې.

د همدغه کال د اګست پر شپږمه د تورن بلیز ریډرفورډ تر مشرۍ لاندې پوځیان د ټپي کلي پر ښي او کیڼ لوري را تاو شول، خو، چې شاوخوا وزیرو د مبارزانو په ملاتړ پر انګریز ځواکونو را وځغستل، له سیمې یې پښې سپکې کړې. په دې جګړه کې وزیرو سرتېرو انګریز افسر تورن رسل ځای پرځای وواژه. له دې پېښې وروسته انګریزانو د مې له ۲۵مې نه د ۱۹۴۱ز کال د سپټمبر تر ۳۰مې پورې په اسدخېلو، سین تیږې، ټیکرې سر، کلندرې سر او دته خېلو کې ځو سختې جګړې وکړې.

په سین تیره کې انګریزانو غوښتل، چې د رزمک او وانه په لواګانو د عبدلي مسیدو کورونه ونړوي. د رزمک لوا، چې تودې چینې ته رسېده، د مبارزانو تر برید لاندې راغله. کله، چې د لوا قوماندان ووژل شو، پوځیان بېرته د رزمک پر لور په تېښته ول، خو بیا هم د مبارزانو تر بریدونو لاندې راغلل. د ډسمبر پر څلورمه او شپږمه الوتکو پر سین تیرې بمباري وکړه او پوځیان په دویمه ورځ د تودې چینې کمپ ته ورسېدل. په دغه برید کې د انګریزانو د رزمک لوا تر سلو ډېر پوځیان ووژل شول. د ۱۹۴۰ز کال په جولای کې ایپي فقیر د بېرمل په مرغه کې اوسېده، خو وروسته د مولوي شیرعلي خان او نورو مسیدو په غوښتنه د نومبر په وروستیو کې مکین ته لاړ. دده په راتګ سره د مبارزانو بریدونه چټک شول او پر تیارزې کلا (۳۰نومبر)، لادې کلا، شکرکوټ، ختې کلي، درپه خېلو، سپین وام، رزمک نري، نرۍ ویالې، بویه کلا، ابلنکي، خړ کمر، منزه غره، ژام چینې، سپیرې غر، سپین میدان، سرویکي- وانه سړک، خمتې غره، شکتوی، ډمډیل، زیړ غره او ګڼو نورو سیمو کې مبارزانو پر انګریزي ځواکونو بریدونه وکړل او په یو شمېر مواردو کې پر دوی بمبارۍ وشوې. د ۱۹۴۱ز کال په جون کې شابي خېلو د جنوبي وزیرستان سیاسي استازی ډونلډو وتښتاوه او واړه شکتوی ته یې یوړ. ډونلډ ۱۲ ورځې وروسته د شپږ زره روپیو په بدل کې خوشی شو، خو شاهي الوتکو ددوی سیمې سختې بمبارۍ کړې او دوه الوتکې یې د سرتېرو په بریدونو کې را وغورځېدې. په دې پېښه سیاسي استازي ځان په تومانچه وواژه، ځکه ویل کیږي ده له شابي خېلو سره ژمنه کړې



وه، چې له خلاصون وروسته به پرې بمبارۍ او عملیات نه کیږي. په همدغه کال او بیا پر ۱۹۴۷ز کال د پاکستان تر رامنځته کېدو پورې د انګریزانو پر خلاف په وزیرستان کې د مسیدو او وزیرو جګړې روانې وې. جنرال ایلیټ له ۱۹۳۶نه تر ۱۹۳۹ز کال پورې وضعیت په اړه وایي:

*«که څه هم د وزیرستان بغاوت له ۱۹۳٦ز کال نه تر ۱۹۳۹ز کال پورې تر ډېره ځپل شوی و، خو حکومت پر سویلي سیمو بشپړ کنټرول نه درلود. په وانه او رزمک کې پوځ او سړکونه خوندي نه وو. پوځ یوازې له وسله وال کاروان سره یوځای سفر کولای شوای. د پوځ د پلي کنډک پرځای په کلیو کې عملیات او بمبارۍ هوایي ځواک پرمخ وړل. تر دوو کلونو په پرله پسې توګه هوایي بمبارۍ کېدې. حکومت د پیلوټانو د روغې ستنېدا لپاره ستر انعامونه ټاکلي وو. په ۱۹۴۴ز او ۴۵کلونو کې د برما جګړې لپاره د مسیدو له سیمې نه دوه ټولي جوړ شول. په دوی کې ډېری مسید د ملېشو پخواني سرتېري وو. په ۱۹۳۹ز کال کې حکومت له رزمک او وانه نه د پوځ پر ایستلو او د ملېشو پر تجهیز غور وکړ، خو د امنیتي ملحوظاتو له مخې دا چاره وځنډېده. په ۱۹۳۷ز کال کې د ټول کال په عملیاتو کې سکاوټیان له خپلو پوستو بهر په شام میدان او نورو سیمو کې د سړکونو د خوندیتوب او په شکتوی کې د قبیلو د محاصرې په دنده وګومارل شول. پر ۱۹۴۴ز کال د جنرال ټکر تر مشرۍ لاندې د سرحد دفاعي کمېټې له سیاسي او پوځي افسرانو د هغوی ژنې او لیکنې رایې واخستې او وروسته یې لاندې وړاندیزونه وکړل:*

- *سکاوټونو ته زیاتې وسلې، واړه توپونه او ټانکونه ورکړل شي*
- *هغوی ته د ازادو قبایلو سیمو د یوه سیمه ییز پوځ درجه ورکړای شي.*

- *ددوی د سمبالښت لپاره دوه جګړیان وګومارل شي، چې یو به په کوټه کې د بلوچستان ملېشې او بل به په پېښور کې سرحدي ملېشې سمبالوي.*
- *او پوځي چاونۍ له ازادو سیمو لرې شي*

*د سرحد ( اوسنی پښتونخوا) والي جورج کنینګهم وړاندیز وکړ، چې په وزیرستان کې د ۱۹۱۹ز کال تر حدودو، یوازې په وانه، میرانشاه او چنډولې کې ملېشې پوستې پرېښودل شي او له هغه وروسته کلونو کې جوړې شوې پوستې خاسه دارو ته وسپارل شي».* [۷۴]

د ۱۹۴۷ز کال د اګست پر ۱۴مه د پاکستان په نامه یو نوی هېواد وټوکېد او وزیرستان هم ددغه هېواد تر قلمرو لاندې راغی. ایپي فقیر د ډیورنډ کرښې مخالف و او د پاکستان له رامنځته کېدو سره یې څه بدلون ونه لید، ځکه په وزیرستان کې پوځ او سیاسي استازي د انګریزانو وو او پر دفترونو د برېټانیا بیرغ رپېده. قانون، سیاست او نظام هرڅه ددوی په لاس کې وو او ډیورنډ کرښه او د پښتنو بېلتون په خپل حال پاتې شو. هغه به ویل: «د ډیورنډ کرښه شپېته ګزه ده، چې ۳۵ ګزه تورخم او ۲۵ګزه سپین بولدک دی او نوره کرښه نشته». هغه د پاکستان له حکومت سره هم مخالفت وکړ او د مرګ تر پایه یې ونه مانه.

د ۱۹۴۷ په اکتوبر او د ۱۹۴۸ز کال په مارچ کې ایپي فقیر کابل ته دوه ځله خپل پلاوي واستول او په ګورویک کې یې د پښتونستان لپاره عملي چارې پیل کړې. ظهیرالدین رمضاني د پښتونستان د خپلواکۍ غوښتنې شعار د پراختیا په موخه له ګورویک مرکز نه د ازاد پښتونستان په نامه یوه اوونیزه خپروله.

د ۱۹۵۰ز کال د جنوري میاشتې په دویمه اوونۍ کې د وزیرستان، بنو، اکوړیو، کورمې او نورو پښتنو سیمو ټېرونو د پښتونستان د ملي اسامبلې د وزیرستان څانګې او مشر د ټاکنې په تړاو جرګه وکړه او ایپي فقیر یې د خپل رییس په توګه وټاکه. نوي امیر له



پاکستان نه وغوښتل، چې له وزیرستان او نورو پښتني سیمو خپل ځواکونه وباسي. هغه د ۱۹۵۲ز کال د مې پر ۲۸مه ( د ۱۳۳۱ل کال د جوزا اتمه) د پښتونستان په جرګه کې د یوه پرېکړه لیک له لارې د پښتونستان رسمي اعلان وکړ. په دې جرګه کې د لر او بر ګڼو پښتنو مشرانو او د وزیرو او مسیدو تر ۱۰ زرو پورې کسانو ګډون کړی و. د جرګې په پرېکړه لیک کې د منځني پښتونستان (وزیرستان، کورمه، بنو او نورې سیمې)، شمالي پښتونستان ( تیرا، مومند ایجنسی، اورکزی ایجنسی، باجوړ او نورو سیمو) او جنوبي پښتونستان ( کوټې او اړوند سیمو) مشرانو، د ایالتي حکومتونو رییسانو او د چترال شهزاده پر نړیوالو غږ وکړ، چې پښتونستان په رسمیت وپېژني. دوی پاکستان ته ګوتځنډنه وکړه، چې د پښتونستان په خاوره کې له لاسوهنې ډډه وکړي، زندانیان یې ور خوشي کړي او که دا کار نه کوي د پښتونستان ملت به یې پر وړاندې زور او د ځواک استعمال ته اړ وځي. دا وخت د منځني پښتونستان د حکومت رییس ایپي فقیر او د ایالتي ملي شورا رییس ظهیر الدین رمضانی مسید و. د قضا (ستري محکمې) رییس یې مولوي محمد ظاهر خان، د کورنیو چارو امیر (ایالتي وزیر) مولوي وارث خان او د بهرنیو چارو امیر (وزیر) حبیب الرحمن خان و. اورنګزیب مسید د مسیدو د اعلي قوماندانۍ د مرستیال په توګه دنده ترسره کوله او په ګورویک کې د پښتونستان پر مرکزي ګارډ هم کار کېده. احمدزي، اتمانزي وزیرو ، سیدګیو او داوړو هم خپلې پوځي اعلی قوماندانۍ درلودې. [۷۵]

د منځني پښتونستان د ګورویک په جرګه کې ایپي فقیر حاجي میرزا علي خان، عبدالله خان مداخېل وزیر، فرقه مشر شاه بهرام مسید، ظهیرالدین رمضاني، ملا شیر علي خان جنګي مسید، زمانخان داوړ، فرقه مشر دلبازخان احمدزي وزیر، د جنوبي پښتونستان د ایالتي حکومت رییس محمد ایوب خان، د شمالي پښتونستان د تیرا څانګې د ملي محلي شورا رییس او د اپریدیو مشر حاجي نوردل خان او ملک ولي خان کوکي خېل اپریدي، د مومندو څانګې د ملي محلي شورا رییس محمد شعیب خان، د اورکزیو څانګې رییس زرغون شاه خان، د چترال شهزاده ابحیات خان، د چترال د

صدراعظم دل ارام خان زوی محمد عثمان خان او ګڼو نورو مشرانو ګډون کړی و.

(د جرګې پرېکړه لیک په ضمیمو کې وګورئ).

د پښتونستان غورځنګ په ګورویک کې په زرګونو کسان ورجذب کړل، خو دې چارې د پاکستان حکومت د ایپي فقیر پر وړاندې غبرګون ته وهڅاوه. پاکستاني الوتکو د ۱۹۴۸ز کال د جون پر ۲۹مه په داوړو، په جولای کې په خدرخېلو، د ۱۹۴۹کال د فبروري پر لومړۍ په ملک اژدر زیارت، د جون پر ۱۲مه په مغلګي، د ۱۹۵۰کال د جولای پر ۲۶مه په واڼه، د سپتمبر پر نهمه په مکین، د اکتوبر پر دریمه په دانا او شولام کې د پښتونستان پر ملاتړو غونډو بمبارۍ وکړې او ګڼو کسانو ته یې مرګ ژوبلې واړولې. د ګورویک د غونډې پرمهال هم پر ګورویک مرکز پاکستانۍ الوتکې ګرځېدې، خو د بمبارۍ لپاره یې فرصت ونه موند.

ځلورم څپرکی

# د استخباراتي جګړې منځی

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې په ترڅ کې برېټانیا، روسیې، جرمني او ایټالیا ټولو وزیرستان، یو بل ته د ضربې رسونې، یا په بله وینا د هند نیمې لویې وچې د واکمنۍ په موخه د خپلو استخباراتي هڅو ډګر ګرځولی و.

وزیرستان هغه وخت د برېټانیا د خوړ ګوټې حیثیت درلود، چې نه یې غوڅولای شوای او نه یې د رغېدن هیله درلوده. د بلشویکي روسیې او وروسته د جرمنیانو د پرمختګ د مخنیوي لپاره برېټانیا ته افغانستان له ستراتیژیک لحاظه خورا مهم و. له افغانستان سره لومړۍ او دویمه جګړه په واقعیت کې له سند نه د افغانستان پر لور د سرحدي پولو رانږدې کول و. په دې دواړو جګړو کې افغانانو په ښکاره برۍ ترلاسه کړې، خو له بده مرغه تریخ واقعیت دادی، چې افغانستان په دغو جګړو کې د خپلې خاورې یوه ستره برخه له لاسه ورکړې ده.

## انګریزي څارګري

په ۱۸۷۸ز کال د برېټانیا په ټولو پوځي درستیزوالیو کې استخباراتي څانګې پرانېستل شوې، چې په لومړي سر کې دریو افسرانو او د هغوی دوو مرستیالانو پرمخ وړې، خو په ۱۸۹۲ز کال کې دغه شمېر پنځو افسرانو او د هغوی څلورو مرستیالانو ته

لوړ شو. په ۱۹۰۳ز کال کې ددغو ځانګو مشرۍ ته یو ډګر جنرال راغی، چې ټوله ځانګه یې تنظیموله. کله، چې په ۱۹۱۲ او ۱۳ کلونو کې په هند کې د برېټانیایي پوځ په منځ کې لوړ اصلاحات پیل شول، د (MO3) په نامه یې یوه نوې ځانګه پرانېسته.دې ځانګې د پوځي عملیاتو او عمومي کارکوونکو ریاست درلود، چې د ډګرجنرال په مشرۍ د پوځي عملیاتو عمومي ریاست ته به یې رپوټ ورکاوه.[۷۶] دې ځانګې څلور نور ښاخونه درلودل، چې پر سرحد ایالت او قبایلي سیمو، افغانستان، او روسي ترکستان یې فعالیتونه را څرخېدل. پنځم ښاخ یې پر ځانګړو محرمانه چارو تمرکز درلود. ټول کارکوونکي یې ۱۵ افسرانو او ۱۰ کارکوونکو ته رسېدل.دغه استخباراتي ځانګې تر ۱۹۴۷ز کال پورې فعالې وې او له اړتیا سره سم یې د کارکوونکو شمېر ډېرېده. په افغانستان او قبایلي سیمو کې د برېټانیا ډیپلوماتیکو مرکزونو او ډیپلوماتانو د سیاسي فعالیتونو ترڅنګ استخباراتي فعالیتونه هم درلودل. پولیټیکل اجنټان د برېټانیا د ځارګرو ادارو په بشپړ خدمت کې ول او په افغانستان کې د برېټانیا، روسیې او جرمني سفارتونه او سوداګریز او نور مراکز عملا د استخباراتي جګړو مرکزونه وو.

د انګریزانو ځارګري په افغانستان، برېټانیایي هند او روسي ترکستان کې خورا پیاوړې وه. د جرمني او ایټالیایي ځارګرو د پراشوټي عملیاتو او وسلو د انتقال درې پرله پسې هڅې د انګریز ځارګرۍ ځیرکتیا شنډې کړې. د شلمې پېړۍ په څلوېښتمو کلونو کې د جاپان هڅې هم د انګریز ځارګرۍ له خوا له ماتې سره مخ شوې.

د ۱۹۴۰ کال په وروستیو کې جاپان په برېټانیایي هند کې قونسلګري درلوده او خورا ځیرکو جاسوسانو یې پکې کار کاوه. د جرمني ابویر ځارګرې ادارې کوښښ کاوه، چې له جاپانیانو سره یوه تفاهم ته ورسیږي، څکه دوی تر دې وخته له انګریزانو سره په مستقیمه جګړه کې ښکیل نه ول او جرمنیانو ته یې معلومات ورکولای شول. وروسته جوته شوه، چې جاپانیانو هغوی ته د برېټانیایي ځواکونو د استحکاماتو او ځواکونو په تړاو معلومات ورکړي وو او په کابل کې یې خپل شارژدافیر ایواساکي د انګریزانو د پوځي استحکاماتو او بولان لارې د ارزونې په موخه د بلوچستان کویټې ته لېږلی و. انګریزانو د



جاپان او جرمني ځارګرو (استخباراتو) اړیکي، د شوروي د کمینټرن او قبایلو اړیکي او د جرمني او ایپي فقیر اړیکي ټول له نږدې څارل او له څو مواردو پرته یې د هغوی ډېرې هڅې شنډې کړې وې.

بل پلو جرمنیانو د ترکیې د اسلامي خلافت غورځنګ د پلویانو او یو شمېر افغان واکمنو په مرسته کوښښ کاوه، چې په وزیرستان کې د انګریزانو پر وړاندې د وزیرستان او قبایلي سیمو پښتانه را وپاروي. جاپان او ایټالیا د دویمې نړیوالې جګړې په وخت کې پر داسې پلانونو کار کاوه، چې په وزیرستان کې د وزیرو او مسیدو د مبارزو په هڅونې او پیاوړتیا سره په هند کې انګریزان بوخت وساتي او اروپايي جبهو ته ونه رسیږي. افغانستان په دې لوبه کې تر یوه بریده ښکیل و، خو د برېټانیایي هند پرله پسې ګواښونو او په قبایلي سیمو کې د کابل واکمنو او انګریزانو پر وړاندې عمومي پاڅون، دا مجال نه ورکاوه، چې ددغو لوبو اصلي برخه وګرځي.

د جرمني د پوځي ځارګرۍ ډلې مشر سکارپن نیدر مایر او د ډیپلوماتیکې ډلې مشر ورنرپن هنتیګ په کابل کې پر دې کار کاوه، چې په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د خپلو ترکي متحدانو په همکاري د انګریزانو پر وړاندې خلک را پاڅوي. په ۱۹۱۴ کال د انګریزانو پر وړاندې د مکې د والي غالب بای په حکم د عبدالرحیم لاهوري د اسلامي خلافت فتوا په قبایلي سیمو او د وزیرستان په توچي کې د وزیرو مبارزې چټکې کړې. جرمنیان وروسته د انګریزانو په فشار افغان امیر له کابل نه وشړل، خو سکارپن نیدر مایر د چین له لارې له وزیرستان سره خپل اړیکي ساتل.[۷۷]

### د قلي خان انګریز پلوه شبکه

انګریزانو له یو شمېر معاش خورو ملایانو نه د کابل حکومت، بلشویکي روسیې او وروسته جرمني او ایټالیا پر وړاندې د یوې وسیلې په توګه کار اخست. هغوی د بلشویکانو د مخ پر ودې فعالیتونو د مخنیوي په موخه د ۱۹۳۹ز کال په اګست کې د قلي خان تر مشرۍ لاندې د ملایانو یوه شبکه جوړه کړه . انګریزانو د قلي خان او

سوات لومړي وزیر حضرت علي د سوات، بونیر، مردان او رانیزیو ملایانو ته پیسې ورکولې، چې سړي سر ۱۵ هندي روپۍ وې. د اشنغر او دوابې ملایانو ته لس روپۍ ورکول کېدې. د کوهاټ ملایانو ته مرستیال کمشنر شیخ محبوب علي پیسې ورکولې او د بنو د ملایانو معاشونه نواب ظفرعلي خان او تاج علی خان ورکول.[۷۸] د دیره اسماعیل خان ملایانو (د اماخېلو فقیر، پیر موسی زي او پیر زکوړي) ته مرستیال کمشنر محمد اسلم پیسې ورکولې. هغوی ته سړي سر ۲۰۰ هندي روپۍ ورکول کېدې. د خیبر اپریدیو او د اسمار ملایانو ته سیاسي استازي بیکن او مولوي برکت الله پیسې ورکولې او دوی د جرمني او ایټالیا ترڅنګ د کانګرس پر ضد هم تبلیغات کول. کنینګهم وایي، چې د ایپي فقیر د خپلولو لپاره دوی هغه ته د شوې فقیر، اماخېلو فقیر، کربوغې ملا او حاجي اخوندزاده په لاس لیکونه ور ولېږل، خو فقیر د انګریزانو خلاف له خپلو بریدونو لاس وانخست.[۷۹]

د انګریزانو له سره، چې د شوروي یرغل ویره ووته، هغوی د قلي خان او د هغه د ملایانو له لارې د جرمني او ایټالیا پر ضد تبلیغات پیل کړل. د قلي خان (انګریزانو) دې شبکې په کابل، سرحد ایالت او د هند په نورو سیمو کې ځانګې درلودې او د انګریزانو له سیاستونو او سپارښتنو سره سم فعالیتونه یې کول. د روسیې د ځارګرو ادارو ارشیفي اسناد ښیي، چې دې شبکې د ایپي فقیر پر وړاندې د ملا فضل دین[۷] په ګډون د وزیرستان څو ملایان او په مومندو کې د ۵۰ زره هندي روپیو کلنۍ سبسایډۍ په بدل کې د ترنګریو حاجي زوی پاچاګل او ملک پنجګل ور خپل کړي وو، خو په دې برخه کې



ملامروت له لارې د سرحد له جمعیت العلماء سره اړیکي ټینګ کړل او وروسته یې د روسانو او جرمنیانو پر وړاندې د معاش خورو ملایانو شمېر تر ۵۹ تنو ورسېد.

د سرحد ایالت د هغه وخت والي جورج کنینګهم وایي: « قلي خان د ملا مروت له لارې د سرحد جمعیت العلماء له مشرانو او په هند کې د هغوی له ملاتړو سره اړیکي ټینګ کړل. دوی په منبر او غونډو کې د روسانو او جرمنیانو خلاف ویناوې او لیکنې کولې. دوی ټولو ته د ملا مروت په لاس پیسې ورکول کېدې».

دغو ملایانو ته داسې پیغام ورکول کېده، چې انګریزان اهل کتاب دي، خو بلشویکي روسان خدای او کتاب نه مني او له هغوی سره باید په ګډه مبارزه وشي. یادو ملایانو د انګریزانو تر اغیز لاندې خلک په شعوري یا غیر شعوري ډول د هغوی په لیکو کې خدمت او ګومارنې ته هم هڅول.

کنینګهم په خپلو یادښتونو کې وایي: « ما د سرحد د جمعیت العلماء مشران په دې راضي کړل، چې په وزیرستان کې د ایپي فقیر لیدو ته لاړ شي او ورته ووایي، چې تراوسه یې د انګریز خلاف جګړه جهاد و، خو اوس انګریزان پخپله له جرمني او ایټالیا سره په جګړه کې ښکیل دي او ایپي فقیر دې په دې ورځو کې د انګریزانو خلاف جګړه ودروي، ځکه هغوی د کفر خلاف جګړه کې ښکیل دي او دا هم په یو نه یو ډول د اسلام خدمت دی».

ایپي فقیر او نورو مبارزانو د سرحد د جمعیت العلماء د پلاویو درناوی کاوه، خو په دې نه پوهېدل، چې ددوی تر شا د انګریزانو ملاتړ او هڅونې دي. له ورو ملایانو سره انګریز چارواکو د سیمې د ملکانو او نوابانو له لارې اړیکي ټینګول، خو د منځنۍ کچې ملایان له مرستیال کمشنرانو او ستر او مشهور ملایان پخپله له والي سره په اړیکه کې وو. کننګهم وایي، چې د شیرپاو غلام حیدر د رځړ، کوټ، ترناو، تنګي، اتمانزیو، پړانګ، عمرزیو او چارسدې له ملایانو سره اړیکي ټینګول. دوی ته د میاشتې ۴۰ او پنځوس هندي روپۍ ورکول کېدې او په څلورو میاشتو کې ترې کاري رپوټونه غوښتل کېدل. د نوښار او پېښور (مشخصو) ملایانو ته د میاشتې ۱۵ روپۍ ورکول کېدې. د

[۷]_د ملا فضل دین د مبارزو سرښت یو لامل د نادرخان واکمنېدل و او بل له ایپي فقیر سره یې د پخې همکارۍ لامل دا کېدای شي، چې توري خېلو وزیرو د ۱۹۱۳ ز کال په نومبر کې د وزیرو او مسیدو د شخړو د حل په تړاو د ملا پوونده په نوښت د رزمک په جرګه کې له هغه سره وړ چلند نه و کړی او وروسته یې د هغه له پلویانو سره په شخړو کې دده د تره زوی فقیر او شیربو شیخانو په ګډون ۳۴ تنه مسید ووژل. په دې پېښه کې له وزیرو هم ۱۵ تنه وژل شوي وو، خو ملا پوونده هغوی له غچ اخستونکو بریدونو را وګرځول. دا پېښه د ملا له مرګ (۱۹۱۳، د نومبر دویمه ) نه درې میاشتې مخکې شوې وه.

يې کره سند او شواهد نه دي وړاندې کړي. د فضل دين په اړه دا ادعا هم شوې، چې له ايپي فقير سره مخالف و. پر دې سربېره د سرحد والي جورج کنينگهم په خپلو يادښتونو کې د پورتنيو دريو کسانو او د وزيرستان د هيڅ داسې ملا نوم نه دی ياد کړی، چې له انگريزانو يې د قلي خان د شبکې له لارې پيسې اخستې وي .

## په قبايلو کې د روسي ځارگرو نفوذ

افغانستان د ۱۹۱۹ او ۲۱ کلونو په ترڅ کې د برېټانيا پر وړاندې د سترې جگړې توان نه درلود، خو د وزيرستان او نورو قبايلي سيمو خلکو ته يې وسلې او امکانات ورکول.

د ۱۹۱۹ کال په ډسمبر کې د شوروي اتحاد د ډيپلوماسۍ مسوولیت په هند کې د انگريزانو ځپل او له قبايلي سيمو نه د يوه چاودېدونکي کپسول ( Detonator Capsule) په توگه کار اخستل و. دغه مسووليت د روسيې استازي براوين پر غاړه درلود. روسانو په دې وختونو کې غوښتل، چې په جلال اباد، کندهار، غزني او کابې گروم کې «پټې کونسلگرۍ»[۸] پرانيزي او له امان الله خان نه قبايلي سيمو ته د وسلو د ټرانزيټ اجازه واخلي. افغان حکومت په افغانستان او قبايلي سيمو کې د بلشويکانو له نفوذ، د انگريزانو له غبرگون او په روسي وسلو د قبايلي وگړو له سمبالښت نه وېرېده، ځکه د کابل امير يې هم گواښلای شوای.

د افغان- انگريز له درېيمې جگړې وروسته امان الله خان او د هغه ملگرو کوښښ کاوه، چې د برېټانيايي هند د پرمختگ پر وړاندې قبايلي سيمې د يوه پوخ ديوال په څېر وکاروي او په همدې موخه نادرخان د قبايلي سيمو او وزيرستان مبارزانو ته پټې وسلې او مالي مرستې ورکولې. د ۱۹۲۰ کال په مارچ کې د افغان حکومت او شوروي اتحاد ترمنځ د برېټانيايي هند پر لور د گډ بريد په اړه خبرې وشوې، خو د روسيې

---

*۸- د روسي ليکوال تيخانوف په وينا، په روسي ارشيفونو کې همدا ډول ليکل شوي.*



ژمنې او مرستې په هغه حد کې نه وې، چې د انگريزانو پر وړاندې د يوې نوې جگړې پروژه پرې پرمخ لاړه شي. امان الله خان په اپريل مياشت کې له انگريزانو سره د ښه گاونډيتوب پر سر خبرې پيل کړې او اعلان يې وکړ، چې افغانستان د روسيې او شوروي اتحاد ترمنځ نه راځي او د ناپيلتوب سياست خپلوي.[۸۰]

وروسته د بلشويکانو سياست داو، چې په افغانستان او هند کې د کمينټرن (د بلشويکانو کمونېستي انټرناسيونال) ځارگرې اداري فعاليت په منځنۍ اسيا کې د انگريز دريځ کمزوری کوي. شوروي اتحاد د برېټانيايي هند پر وړاندې د يوه انقلابي مرکز په لټه کې و او دغه مرکز له وزيرستان پرته بل ځای نه و. هغوی په ۱۹۲۰ کال د منځنۍ اسيا او هند لپاره په تاشکند کې د ترکستان دفتر پرانېست. ددغه دفتر پټې غير رسمي برخې په افغانستان او هند کې استخباراتي چارې تنظيمولې. هغوی په قبايلي سيمو کې د خلکو د پارونې لپاره يوه پوځي ښانگه جوړه کړه، چې جذب کېدونکو کسانو ته پکې په قبايلي سيمو کې د کارېدونکو ټولو وسلو(توپچي، هوايي، سپاره نظام، پلي ويشتونکو او انجنيرۍ) زده کړې ورکول کېدې. په دې ښانگه کې ډېری له هند نه کډوال شوي مسلمانان، قبايلي وگړي او د ترکستان مسلمان افسران جذب شول، چې په شپږو مياشتو کې به وزيرستان او قبايلي سيمو ته استول کيږي.

د هند د کمونست گوند لومړی شمېره کارت د وزيرستان او خيبر د مرستيال کمشنر وراره عبدالقيوم دولت خېل اخستی و. هغه د پولنډ له جبهې نه په بيړه را غوښتل شوی و، څو د هند د انقلابي کمېټې چارې پرمخ بوځي. په تاشکند کې روسي ځارگرۍ د لومړي ځل لپاره د قبايلي سيمو له هغو وگړو سره خبرې وکړې، چې د انگريزانو پر وړاندې د مرستې ټولولو په هدف تللي وو. د ۱۹۲۰ کال په پای کې له وزيرستان نه د سليم خان په مستعار نامه يو کس(اکبرشاه) ورغی. اکبرشاه غوښتل، چې د وزيرو او مسيدو د مبارزو د چټکتيا لپاره د ولاديمير ايليچ لېنين مرسته ترلاسه کړي، خو په مسکو کې کمينټرن او شوروي مشرانو د هغه غوښتنې رد کړې.[۸۱]

د ۱۹۲۰ کال په نومبر کې د عبدالحق او محمد اقبال په نومونو دوه کسان د

قبایلي سیمې له یو شمېر استازو سره تاشکند ته لاړل. هغوی ته زر تزاري کرونسه او د ۲۵ زره هندي روپیو په ارزښت د سپینو زرو افغاني سکې ورکړل شوې. په کابل کې د شوروي د سفارت او ترکستان کمېنټرن اسناد ښیي، چې هغوی ته په باجوړ کې د فعالیت دنده ورکړل شوې وه، ځکه کمینټرن په باجوړ کې خپل پټ دفتر پرانېستی و. عبدالحق د نومبر پر ۲۹مه په کابل کې له افغان چارواکو سره خبرې وکړې او ټولې پېښې یې له خپلو نورو ملګرو پټې کړې او په داسې حال کې، چې له اطلاعاتو سره یوځای انګریزي چارواکو ته روان و، د افغان حکومت امنیتي ځواکونو لاس ته ورغی. هغه همیلټن ته په خپل لیک کې لیکلي و، چې له مهمو او ارزښتناکو معلوماتو سره ور روان دی. روسان دغه وخت وپوهېدل، چې نوموړی د انګریزانو جاسوس و. روسانو په دې برخه کې ګڼې نورې هڅې هم وکړې، خو قبایلي وګړو خپل ټول اطلاعات له افغان چارواکو سره شریکول او د هغوی له اجازې پرته یې فعالیت نه کاوه. د روسیې اسناد ښیي، کله چې د ۱۹۲۱ز کال په اوړي کې په قبایلي سیمو کې وچکالۍ خلک سخت وځپل، د روسیې د ترکستان دفتر (په کابل کې د شوروي استازي راسکلنیف له لارې) په وزیرستان کې د عبدالرزاق د فعالیتونو د پراختیا په هدف، نوموړي ته د ۱۵۰۰۰ روبلو په ارزښت د سرو زرو سکې ولېږلې.[۸۲]

د افغانستان حکومت شوروي ته اجازه نه ورکوله، چې له افغان خاورې قبایلي سیمو ته وسلې ټرانزیټ کړي. دې چارې روسان دې ته اړ ایستل، چې د پامیر( چترال- باجوړ) په څېر له پټو لارو خپلې اجنډاوې پرمخ بوځي. دلته د میشتو اسماعیلي وګړو اړیکي له افغان امیر سره ټینګ وو. د چترال خانانو انګریزانو ته د ۱۹۲۲ کال د نومبر پر ۱۱مه او ۲۳مه د ترکستان دفتر دوه ډلې وسپارلې او په دې توګه د کمنټرن او ترکستان دفتر هڅې شنډې شوې.

د ۱۹۲۲ کال په وروستیو کې، چې په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د انګریزانو د پرمختګ پالیسۍ پر وړاندې د خلکو مبارزې تودې شوې، انګریزانو پر وزیرو او مسیدو سخت عملیات او بمبارۍ وکړې. دې مسالې د افغانستان او انګریزانو اړیکي



ترینګلي کړل. بلشویکي مشرانو له دغه فرصت نه د ګټې اخستې په هدف یوځل بیا په قبایلي سیمو کې د نفوذ او د خلکو د پارونې په تړاو خپلې هڅې ګړندۍ کړې. په کابل کې د شوروي استازي راسکلنیکف په دې لټه کې و، چې د درېیمګړو له لارې له قبایلي وګړو سره مرستې وکړي او هغوی د انګریزانو پر وړاندې وپاروي. انګریزانو د شوروي اتحاد ټولې ځارګرې کړنې څارلې او لارډ کرزن د ۱۹۲۳ کال د مې پر اتمه په بهرنیو اړیکو کې د روسیې د خلکو د کمشنرۍ مرستیال م. لیتوینف ته داسې اسناد ورکړل، چې په قبایلي سیمو کې یې د روسیې له مداخلې پرده پورته کوله. په دې کې یو داسې سند هم و، چې د ۱۹۲۳ کال د فبروري پر ۲۱مه شوروي استازي راسکلنیکف مسکو ته استولی و: « زه په دې لګیا یم، چې له وزیرستان سره ۳۰۰ روبل (ټوپک) او ۱۰ صندوقه کارتوس مرسته وکړم».

دغو پرله پسې ناکامیو شوروي اتحاد دې ته اړ کړ، چې په قبایلي سیمو کې د هند د انقلابي مرکز له رامنځته کولو او د قبایلي وګړو له بیړنۍ پارونې لاس واخلي.

د امان الله خان پر ضد په خوست او جنوبي سمت کې د خلکو پاڅون هغه دې ته اړ کړ، چې له روسي او جرمني پیلوټانو نه د هغوی د ځپنې لپاره مرسته وغواړي. دې چارې روسیې ته دا فرصت ورکړ، چې په برېټانیایي هند کې د نفوذ لپاره د افغانستان له خاورې ګټه واخلي. افغان حکومت د کمینټرن پر جاسوسانو سترګې پټې کړې او هغوی نور له باکو نه په افغانستان او قبایلي سیمو کې خپلې چارې تنظیمولې. په ۱۹۲۵ کې هغوی په کندهار کې د قبایلي سیمو نامنظمه تشکیلاتو کار پیل کړ، چې په پام کې وه د هرات او میمنې له لارې وسلې ور واستوي. دغه تشکیلات باید لومړی بلوچستان او بیا د ژوب- ګومل له لارې وزیرستان ته تللي وای. روسان دې ته چمتو وو، چې پر قبایلي وګړو ددوی وسلې د افغانستان دفاع وزارت وویشي، خو په افغانستان کې وروستیو بدلونونو د روسي ځارګرو چارې ټکنۍ کړې.

## جرمني ځارګر « شامي پیر »

په ۱۹۳۸ کال کې د وزیرستان عملیاتو په نړیواله کچه غبرګونونه را وپارول.

په وزیرستان کې د انګریزانو پر وحشیانه بمباریو او پوځي عملیاتو اروپايي هېوادونو سختې نیوکې وکړې او په جرمني کې، چې په برېتانیايي هند کې د دویمې نړیوالې جګړې پر درشل د انګریزانو لپاره د سرخوږ پیدا کولو په لټه کې و، په دې اړه لا ډېرې غوغاوې را پورته شوې. د جرمني نازیانو غوښتل، چې په قبایلي سیمو کې د انګریزانو پر وړاندې د مسیدو او وزیرو مبارزې لا چټکې شي او انګریزان په دې سیمه کې ښکیل پاتې شي.

په ۱۹۳۷ز کال د ملتونو اتحادیې (Nations Union) د وزیرستان د وضعیت په اړه ځانګړې ناستې وکړې او برېتانیا ژمنه وکړه، چې په وزیرستان کې به د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره نور پر ملکي سیمو بمباری نه کوي. له دې ټولو سره سره، په وزیرستان کې د اپيي فقیر او مولوي شیرعلي خان مسید بریدونو د برېتانیا پوځي اتوریته ننګولې وه او په نړیواله کچه یې د اروپايي هېوادونو په ځانګړې توګه، جرمني او ایټالیا پام ور اړولی و.[۸۳]

په ۱۹۳۸ کال کې جرمني او ایټالیا پلان درلود، چې په وزیرستان کې اپيي فقیر ته وسلې واستوي او د انګریزانو پر وړاندې غلچکي بریدونه په مرګونو او جبهه یې جګړو واړوي. جرمني د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د څارګرو عملیاتو پلان جوړ کړ او ددغه پلان مشري یې د بهرنیو چارو وزارت د منځني ختیځ دفتر مسوول هینتیګ ته وسپارله. هغه له دې مخکې په ۱۹۱۵ او ۱۶ کلونو کې هم افغانستان ته راغلی و او په چین کې یې د وزیرستان مبارزان د انګریز خلاف جګړو ته هڅول. نیدیر مایر هینتیګ له خپل ځري محمد سعدي ګیلاني سره اړیکي ټینګ کړل. په وزیرستان کې د فقیر اپيي مبارزان ډېری د قادریه طریقې پیروان وو او سعدي ګیلاني هم هلته خلکو د شامي پیر په نامه پېژانده. دی د امان الله خان ملګری او تره یې د بیت المقدس لوی مفتي و، چې په ۱۹۲۰ کلونو کې یې له جاپان، ایټالیا او جرمني سره نږدې اړیکي درلودل.

د جرمني د څارګرو ادارو د پلان له مخې د شامي پیر دنده په کابل کې د امان



الله خان د بیا واک ته رسېدو لپاره د وزیرستان او قبایلي سیمو د وګړو راپورته کول و. هغوی پوهېدل، چې یو خوا د وزیرستان خلک ( پر ژمنو د نه درېدو) او سلیمان خېل( د مالیې لوړېدو) له امله د نادري کورنۍ خلاف دي او بل پلو د امان الله خان پلویان هم، چې له انګریزانو سره په جګړه کې دي، د هغه بېرته راتګ ته لېوال دي.

هینتیګ د ټانک له نواب سره هوکړه وکړه، چې د سود له مخې به شامي پیر ته پیسې ورکوي، خو دا، چې د ټانک نواب د انګریزانو نږدې سړی و، په دې چلوټه کې د انګریزانو له لاس درلودو انکار نه شي کېدای. د ۱۹۳۸ کال په لومړیو کې شامي پیر له انګریزانو نه د ویزې تر ترلاسه کولو وروسته، وزیرستان ته لاړ او په خلکو کې یې خورا تود هرکلی وشو.[۸۴]

شامي پیر د ۱۹۳۸ کال د جون پر ۱۵مه په کانیګروم کې د مسیدو او وزیرو جرګه راوغوښته او د ظاهرشاه د نسکورلو په اړه یې له خلکو سره خبرې وکړې. له شامي پیر سره دا وخت د سروزرو یونیم ټن سکې وې او پر خلکو یې د کابل حکومت خلاف د پاڅون په موخه وېشلې. په لږ وخت کې هغه د ظاهرشاه خلاف پنځه زره کسان راغونډ کړل، خو اپيي فقیر یې ملاتړ ونه کړ، ځکه هغه پوهېده، چې د شامي پیر او څارګرو ادارو هدف بل څه دی.

د افغانستان لومړي وزیر هاشم خان، چې د وزیرو او مسیدو له لښکرو ډېر وېرېده، له جرمني نه خپل سفیر الله نواز خان راوغوښت، خو جرمني هغه د الوتکې د تخنیکي ستونزو په پلمه اووه ورځې په بغداد کې ایسار کړ. ظاهرشاه خپل ټول مخور وزیرو، مسیدو، مومندو، شینوارو او سلیمان خېلو ته واستول، خو ګټه یې ونه کړه، بالاخره یې انګریزانو ته خبرداری ورکړ، چې که د شامي پیر مخه ونه نیسي، دوی به له برېتانیايي هند سره خپل ډیپلوماتیک اړیکي وشلوي. دغه ګواښ انګریزان دې ته اړ اېستل، چې د شامي پیر جنګیالي محاصره کړي او د جون پر ۲۴مه نېټه د مسیدو او وزیرو مورچلې بمباري کړي.[۸۵]

انګریزانو شامي پیر ته له جګړې د لاس اخستنې په بدل کې ۲۵ زره پونډه ورکړل

او  په جولای میاشت کې یې په یوه ځانګړې الوتکه کې بغداد ته ولېږه. په برېټانیا کې د هند وزیر له وایسرای او انګریز چارواکو وغوښتل، چې له ایپي فقیر سره هم ورته جوړجاړي ته ورسېږي، خو وایسرای یې په ځواب کې ولیکل:

*« له ایپي فقیر سره د شامي پیر په څېر سودا نه کیږي، ځکه هغه نه یوازې زموږ ملګرتیا نه کوي، بلکې څوک یې په پیسو هم نه شي اخستلای. ...څوک به وي، چې ما له دغه سرکش ملا نه وژغوري!».*

د افغانستان حکومت د شامي پیر توطیې پړه پر انګریزانو اچوله، خو انګریز چارواکي اولف کارو په دې پېښه کې جرمنی او د سرحد ایالت والي جورج کنینګهم ایټالیا ښکیله بلله. جرمني د شامي پیر له لارې په خپل هدف کې بریالی نه شو، خو د افغانستان او برېټانیایي هند اړیکي یې ترینګلي کړل او انګریزان یې دې ته هم اړ ایستل، چې افغانستان ته وسلې او الوتکې او هر کال پنځه میلیونه هندي روپۍ ورکړي.

د جرمني تر ټولو ستر پلان داو، چې په قبایلي سیمو کې د اړودوړ له لارې برېټانیا په دویمه نړیواله جګړه کې د هندي سرچینو له کارونې را وګرځوي او خپلې وسلې، پوځیان او الوتکې په قبایلي سیمو کې مصروفې وساتي. هټلر په دې باور و، چې امان الله خان په هند، کراچۍ، لاهور او پښتني سیمو کې د جهادي لارښود نوم خپل کړی او د هغه د پلویانو «جهادي یون» په ټول برېټانیایي هند کې د انګریزانو پر وړاندې د اور لمبې راپورته کولای شي.

له دې پېښې وروسته د جرمني د بهرنیو چارو وزیر فن ریبنتروپ، نیدر مایر هینیتګ په افغانستان کې د جرمني سفیر په توګه وټاکه. له دې وروسته هغوی په دې لټه کې ول، چې د امان الله خان په بېرته راتګ کې د روسیې همکاري ترلاسه کړي، خو دغه هڅې یې د مسکو او برلین ترمنځ د ناباوریو او پر «ابویر» کېدونکو عملیاتو د انګریزانو د خبرېدو له امله ناکامې شوې.

## ایپي فقیر او جرمني- ایټالیایي څارګري



د هند د ملي کانګرس پخواني رییس سوبهاس چندرا بوس د ۱۹۴۱ کال د اپریل په لومړیو کې په جرمني کې د ایپي فقیر د وسله وال ملاتړ طرح وړاندې کړه. هغه په خپله طرح کې وړاندیز کړی و، چې وزیرستان ته باید جرمني روزونکي واستول شي او د یوه راډیویي سټیشن او چاپخونې له لارې د ایپي فقیر په ګټه تبلیغات وشي. چندرابوس او په کابل کې د ایټالیا سفیر پترو کوارونې په بیړه په کابل کې د ظاهرشاه پرځای د امان الله خان د راتګ پلان درلود او په وزیرستان، قبایلي سیمو او هند کې یې د انګریزانو خلاف د پاڅونونو وړاندیزونه درلودل. [86]

د ۱۹۴۱ز کال د مې پر ۱۳مه د ایټالیا دیکټاتور لومړي وزیر مسولیني او د جرمني د بهرنیو چارو وزیر واخیم فون ریبنتروپ د وزیرستان په تړاو د دواړو هېوادونو د همکارۍ پر سر خبرې وکړې. [87] موسولیني په دې ناسته کې اعلان وکړ، چې ایټالیا له ایپي فقیر سره اړیکي ټینګ کړي او غواړي هغه ته مرستې ورکړي او د انګریزانو پر وړاندې یې لا وپاروي. له دې ناستې وروسته ایټالیا د ایپي فقیر د ملاتړ په موخه شپږ میلیونه لیرې او جرمني یو میلیون مارک او د ابویر( د جرمني څارګرې اداري) دوه تنه کارکوونکي بېل کړل. د ۱۹۴۱ کال په فبروري کې ایټالیایانو او جرمنیانو ایپي فقیر ته ۳۰۰ زره افغانۍ واستولې او په مارچ کې دوه ایټالیایان د وزیرستان ګورویک ته لاړل او ایپي فقیر ته یې ۳۰۰ زره هندي روپۍ، دوه ټوپک او د هغو کارتوس وسپارل. د انګریزانو د استخباراتي سرچینو په وینا، دغه دوه ایټالیایي ځري (اشیري او د هغه ملګری) د ایران له لارې وزیرستان ته تللي وو.  فقیر ایپي د انګریزانو خلاف د مبارزې د دوام لپاره پیسو ته اړتیا درلوده او دا دده سیاسي نبوغ و، چې د برېټانیا او جرمني- ایټالیا خپلمنځي سیالي یې د وزیرستان د خپلواکۍ لپاره کاروله. له ایپي فقیر سره د اړیکو مسوول د افغانستان د لومړي وزیر هاشم خان ځانګړی ډاکټر او د جرمني د ځانګړې امنیت سازمان ځری «کورټ بریکمن» و. دده هڅې ځکه ناکامې شوې، چې د ایپي فقیر په نامه ترې له وزیرستان نه هر ورتلونکی کس پیسې اخستې.

## ایټالیایی خارگر په وزیرستان کې

د ۱۹۴۱ز کال په جون کې د جرمني دوه ځري مانفرد اوبردورفرو او ډاکټر فرد براندت کابل ته په دې موخه راغلل، چې د ایټالیا د سفارت په مرسته په وزیرستان کې له اپيي فقير سره وګوري.

هغوی وزیرستان ته د تګ لپاره په کابل کې د ایټالیا له سفير کوارونې نه مرسته وغوښته او هغه هم د خپلو ځرو بهارت رام تلوار او د افغانستان د خارګرې ادارې غړي شیرافضل خان په مرسته د بنو له لارې وزیرستان ته د جرمني جاسوسانو د سفر لارې چارې وڅیړلې.

د ایټالیا سفير د ۱۹۴۱ز کال د جون پر ۱۲مه خپل مستشار «اینریک انځلیوتي» د پښتنو په جامه کې وزیرستان ته ولیږه. د اپيي فقير او د ایټالیا د سفير ترمنځ د اړیکو مزي په ارګون کې د مرغې وزیر او د اپيي فقير خلیفه ګل حبیب او په کابل کې پیلوټ ګلات میر (غلام عمر پیلوټ) ټینګ کړي وو.[۸۸]

د ایټالیا د سفارت مستشار انځلیوتي د غزني له لارې ارګون (باباجي چینه) او پیرکوټي، مرغې ته لاړ او د ګل حبیب په پلرني کور کې له تم کېدو وروسته پر لواړې وزیرستان ته لاړ. دوی ( عبدالحبیب تحویلدار(۱۰)، ګل حبیب او انځلیوتي) په مزدک غره کې د وزیر تېې په کور کې له اپيي فقير سره وکتل. په دې ناسته کې انځلیوتي اپيي فقير ته وړاندیز کړی و، چې جرمنی او ایټالیا چمتو دي دده پنځوس زره کسیز غلچکی ځواک په وسلو تجهیز کړي او د هوایي ځواک لپاره د الوتکو خدمات ورکړي. دوی په مزدک غره کې له اپيي فقير سره دوه شپې وکړې.

ایټالیایي ځري ته اپيي فقير وویل: « ځمکنی جګړې موږ پخپله کولای شو، خو هوایي ملاتړ ته اړتیا لرو. د الوتکو استعمال به زموږ په لاس کې وي، یوازې پیلوټان به ستاسې وي». ایټالیایي ځري وپوښتل: « تاسې به تېل څنګه پیدا کوئ؟». ده ورته وویل: « له موږ سره ددغه لالټین تېل نشته، د الوتکو لپاره به یې له کومه کړو». اپيي فقير د جرمني الوتکو د کښېناستو لپاره د لواړې سیمې یو پراخ ډګر ور ښودلی و. ده له جرمن-



ایټالیایي ځواکونو سره د علماوو شورا تر نظر پوښتنې وروسته، پر لاندې درېو شرطونو په ګډه جګړه توافق کړی و :

- د انګریزانو خلاف جګړه کې به واک او قومانده زموږ وي
- زموږ بیرغ او اسلامي نښان به ښېل وي
- د مسلمانانو په سیمو کې به جرمنی هیڅ تصرف نه شي کولای

دغه درې تنه پر درېیمه ورځ د لواړې او ګیانې له لارې ارګون، ګردېز، د لوګر محمد اغې او بیا کابل ته راغلل. انځلیوتي په جولای میاشت کې کابل ته ورسېد او داسې ویل کیږي، چې له اپيي فقير سره یې د برېټانیایي ځواکونو پر یوې پوستې د برید په عملیاتو کې ګډون هم کړی و.

د روسیې خاګرې ادارې ارشیفونه وایي، چې انځلیوتي او اپيي فقير په دې ناسته کې د انګریزانو پر ضد د مبارزې چټکولو لپاره هوکړه وکړه، چې جرمني او ایټالیا به د وزیرستان د مبارزانو مشر ته ۱۲نیم زره پونډه مرسته ورکوي او د پاڅونونو په ډېرېدو سره به یې کچه ۷۵ زره سټرلینګ پونډو ته رسیږي. پر دې سربېره اپيي فقير له هغوی غوښتنه وکړه، چې وسلې ور ولیږي، خو وسلې به له الوتکې نه ور غورځوي. جرمنیانو اپيي فقير ته د افغانستان له لارې وسلې استولې. افغانستان ته دا وسلې د جرمني مشهور جاسوس ایف وېنګر قاچاق کولې. هغه دغه وسلې د ترکیې او ایران له لارې افغانستان ته را رسولې.

له انځلیوتي سره تلونکي دوه جرمني خارګر «مانفرد اوبردورفرو او ډاکټر فرد براندت» په جون کې په ګردیز کې ونیول شول او بېرته کابل ته واستول شول. افغان حکومت د انځلیوتي د نیولو لپاره ۱۵۰ زره افغانی اعلان کړې وې او د ارګون د ملېشو غونډمشر اکبرجان ته لومړي وزیر محمد هاشم خان دنده سپارلې وه، چې انځلیوتي او جرمني خارګر ونیسي.

پر شوروي د جرمني له برید سره هممهال، د جرمني د خارګرې ادارې (ابویر) د ۱۱مې ورانکارې ډلې مشر د ۱۹۴۱ کال د جون پر ۲۴مه په کابل کې د جرمني سفارت

ته امر وکړ، چې په وزیرستان کې اوربلوونکي عملیات(Firebug Operations)پیل کړي. جرمني ځارګرې اداري خپلو دوو ځریو (اوبردورفر او ډاکټر فرد براندت) ته سپارښتنه وکړه، چې ایپي فقیر ته وسلې او پیسې ورسوي. له دې سره هممهال باید هغوی وزیرستان ته تللي وای او هلته یې په سپټمبر میاشت کې پر هند د جرمني پوځیانو له برید سره سم، له ایپي فقیر سره یوځای پړانګ عملیات کړي وای. په کابل کې جرمنیان وزیرستان ته د تګ په حال کې وو او د بنو یوه افغان ډګروال میرصاحب خان یې همکاري کوله. انګریزان او شورویان وزیرستان ته د جرمني جاسوسانو پر تګ خبر وو، ځکه په اوربلوونکو عملیاتو کې داسې کسان شامل وو، چې د افغان حکومت او انګریزانو جاسوسان وو.[89]

جرمنیانو ایپي فقیر ته له برلین نه انګریزي ټوپک، لاسي بمونه، د زغره والو ګاډو ضد وسلې او د الوتکو ضد توغندي غوښتي وو، خو دا، چې جرمني جاسوسان او د هغوی وزیرستاني بدرګه وال د لوګر په پل علم کې ونیول شول، ایپي فقیر ته دغه وسلې ونه رسېدې. له دوی نه څو تومانچې، کارتوس، درې سوه زره افغانۍ، څه باندې لس زره هندي روپۍ او د قبایلي سیمو نقشې ترلاسه شوې. په دې پېښه کې یو جرمنی ځری اوبردورفرو ووژل شو او وروسته په کابل کې امنیتي ځواکونو ګڼ وزیر او مسید ونیول.[90]

د جرمني د پوځي اطلاعاتو سازمان (ابویر) په وزیرستان کې د اوربلوونکو عملیاتو تر ناکامي وروسته د پړانګ عملیاتو پلې کېدل غوښتل. هغوی اوس له ایپي فقیر سره د مستقیمو اړیکو په لټه کې وو. انګریزانو خپل استخبارات دومره ځک کړي وو، چې په کابل او هرات کې به جرمنیانو د ایپي فقیر لپاره بانکنوټونه په سکو بدلول، هغوی ترې خبرېدل. فقیر ته باید د پربکړې له مخې په میاشت کې ۲۵ زره پونډه ور رسېدلي وای. د ۱۹۴۱زکال په اګست کې جرمنیانو د وزیرستان په لواړه سیمه کې یو داسې ډګر وموند، چې د کوندور الوتکو د کښېناستو لپاره وړ و. بهارت رام کوښښ کاوه، چې د هوايي ډګر د جوړونې لپاره له فقیر ایپي سره اړیکې ونیسي. په کابل کې جرمني جاسوس راسموس هغه ته طلا، پیسې، فیشنګ اچوونکي او د هغو دېرش کار توس ورکړل، چې



د الوتکو د ورتګ پر وخت به یې دوی هوا ته خوشي کوي او الوتکو ته به هوايي ډګر جوتیږي. انګریزانو په کابل کې د جرمني ځارګرۍ د فعالیتونو په غبرګون کې پر افغان حکومت بندیزونه ولګول او لومړی وزیر هاشم خان یې هم له افغانستان نه د جرمني او ایټالیایي جاسوسانو پر اېستلو فکرکولو ته اړ اېست. د اکتوبر پر ۳۰مه او ۳۱مه هغوی له کابل نه و اېستل شول. جرمنیانو د مسکو په ویرماخت سیمه کې له ماتې وروسته پرېکړه وکړه، چې وزیرستان ته خپل کوماندویان ونه لیږي. دغه راز کومې پیسې او امکانات، چې د پړانګ عملیاتو لپاره په پام کې نیول شوي وو، هغه بل ځای ته بېل شول.

د ۱۹۴۲ز کال په جنوري کې جرمنیانو د ایران په ختیز کې شاوخوا سل تنه ورانکاري له الوتکې را کوز کړل، چې په وزیرستان کې ایپي فقیر ته لاړ شي او له بلوچستان نه غځېدلې پټلۍ والوزوي، خو فقیر تر هر کار مخکې له هغوی نه پیسې غوښتې او ایټالیایي سفیر کواروني پیسې نه درلودې. وروسته جرمني کواروني ته ۳۰۰ زره افغانۍ ورکړې، چې ویل کیږي هغوی ایپي فقیر ته ولیږلې، خو جرمني پراشوټستیان له ورانکارۍ مخکې برېټانیایي ځارګرو نیولي وو او ایپي فقیر هم د اورګاډي پټلۍ د الوزولو پلان پلی نه کړ. د جرمني ځارګرۍ جاسوس بهارت رام په باجوړ کې د ماځوتي په نامه سازمان چارې پیل کړې وې. د اپریل په دویمه لسیزه کې جرمنیان په دې بریالي شول، چې له ایپي فقیر سره مستقیم اړیکي ټینګ کړي.[91] د ایپي فقیر استازو په کابل کې له جرمنیانو نه د وسلو غوښتنې کولې، ځکه ددوی د جنګیالیو شمېر ډېر و او په سرحدي سیمو کې پرمختللې او کار وړ وسلې نه پیدا کېدې.

جرمني ځارګر راسموس ایپي فقیر ته په یوه لیک کې لیکلي وو:

*« په شته وضع کې مو، چې تر څو له تاسې سره هوايي اړیکي نه وي ټینګ کړي، د جګړې بیزو چارو لپاره اړتیا وړ مرستې نه شو درسره کولای. زموږ په باور تر هغه وخت بریدونو ته اړتیا نه لیدل کیږي. ښه داده، چې خپل ټول زور د قبایلو په یووالي واچوو. تاسې باید خپل ځواکونه زموږ د*

*رښتینې مرستې تر رسېدو پورې خوندي کړئ. دا کار هله کېدای شي، چې جبهه تاسې ته نږدې وي. د یوې سترې جګړې لپاره باید چمتو شئ. په دغو ځواکونو باید په خپل ټاکلي وخت کې پر انګریزانو بریدونه وکړو او دخدای په مرسته یې وځپو».*

د ۱۹۴۲ز کال د مې پر ۲۵مه افغان حکومت د برېتانیا په غوښتنه په کابل کې د جرمني او ایټالیا شاوخوا سل جاسوسان ونیول.[۹۲] په دې کې هغه پنځوس زره افغانۍ هم ضبط شوې، چې یوه ایټالیايي جاسوس (غلام عمرخان پیلوټ) باید اپيي فقیر ته رسولې وای. دې نیونو له اپيي فقیر سره د جرمني او ایټالیا اړیکي تر جولای میاشتې وځنډول. جرمني ددې چارې په غبرګون کې اپيي فقیر ته د افغان اردو د زرو وسلو د پېرنې پر سر له کابل سره پیل کړې خبرې بندې کړې، خو وروسته یې د خپلو پورونو په بدل کې غوښتل، چې دغه وسلې وزیرستان ته ولیږي. پر دې سربېره جاپانیانو هم هوډ درلود، چې د الوتکو له لارې په وزیرستان کې وسلې وغورځوي. وروسته په افغان حکومت کې هم د جرمنیانو ملګري پیدا شول او له اپيي فقیر سره د هغوی اړیکې او مرستې بیا پیل شوې او هغه هم د دته خپلو پوځي کمپ کلابندي اوږده کړه. انګریزانو د فقیر په مرکزونو بمبارۍ وکړې او په خوست کې یې پر یوې سیمې په بمبارۍ سره شاوخوا ۵۰ زره تنه د ځان دښمنان کړل. اپيي فقیر له کابل سره ښه اړیکي درلودل او د افغان چارواکو له غوښتنې پرته یې د پاڅون کوونکو مرستې ته زړه نه ښه کاوه، خو هغوی ته یې ژمنې ورکړې، چې پر خپل وخت به د انګریز پر ضد ګامونه اخلي.

## تبلیغاتي جګړه: وزیرستان ږغ

پر افغان خاوره د انګریز الوتکو بمبارۍ جرمني او ایټالیا ته دا فرصت ورکړ، چې د تبلیغاتو له لارې په قبایلي سیمو او پښتنو کې د برېتانیا پر وړاندې غبرګونونه را وپاروي. د ۱۹۴۲ز کال د اګست پر لومړۍ نېټه د هغوی «همالیا» راډیو د افغانستان او قبایلي



سیمو په تړاو خپرونې پیل کړې. پر دې سربېره د ازاد هند غورځنګ په جرمني کې دوه راډیوګانې درلودې، چې یوې یې د وزیرستان غږ په نامه د وزیرو او مسیدو لپاره خپرونې کولې. دې راډیو په قبایلي سیمو او وزیرستان کې د انګریزانو پر ضد تبلیغات کول او خلک یې د هغوی پر وړاندې جګړې ته هڅول.

د ۱۹۴۲ز کال د اګست پر ۲۲مه د بیت المقدس لوی مفتي سید حسین ګیلاني د ایټالیا غږ راډیو له لارې په یوه وینا کې د برېتانیايي هند مسلمانان د انګریز پر وړاندې د اپيي فقیر ملاتړ ته راوبلل. راډیو چلوونکو د وزیرستان او قبایلي سیمو خلکو ته ژمنې ورکولې، چې که جرمنیان او ایټالیایان هند ونیسي، دوی ته به د سند سیند په غاړو کې پراخې او د کرکیلې وړ ځمکې ورکړې.

په کابل کې د جرمني څارګرې ادارې سیمه ییز رییس ویټشیل په همدې میاشتو کې د اپيي فقیر د ۵۰ زره جنګیالیو د اعاشې او اباتې لپاره د میاشتې ۱۲نیم زره مرمۍ، وسلې، یو میلیون روپۍ، ۲۵زره د سپینو زرو سکې او دوه سوه کیلوګرامه سره زر وغوښتل. هغوی دغه راز د اپيي فقیر استازو ته ژمنه ورکړه، چې د الوتکو له لارې به په وزیرستان کې ددوی جبهو ته توپونه ور ولیږدوي، خو په قفقاز او ستالینګراد کې د جرمني ځواکونو له ماتې وروسته وزیرستان او اپيي فقیر ته د هوایي او مالي مرستو د رسونې دغه پروژې ناکامې شوې او جرمنیانو پر هند له برید نه لاس واخست. د ۱۹۴۲ز کال په مني کې جرمنیانو د اپيي فقیر مبارزانو ته د لومړي ځل لپاره څو صندوقه وسلې را وغورځولې، خو د نورو مرستو پته یې ونه لګېده. دې وسلو د فقیر لاسونه ډک کړل او د دته خپلو کمپ محاصره یې ټینګه کړه. انګریزانو دغه محاصره په سپټمبر میاشت کې د اوو ټانکونو او درې الوتکو په له لاسه ورکولو ماته کړه. جرمنیانو په وروستیو کې غوښتل، چې د ماځوته سازمان له لارې وزیرستان ته درې زره هندي مسلمان جنګیالي واستوي، خو په جګړه کې له پرله پسې ناکامیو وروسته په افغانستان او سیمه کې د هغوی استخباراتي شبکې هم یو په بل پسې شنډې او له منځه لاړې.

له ۱۹۱۴ز کال نه تر ۱۹۴۲ او ۴۳ کلونو پورې، چې په وزیرستان کې د برېتانیا،

جرمني، ایټالیا او شوروي د ځارګرو تر منځ رواني او فزیکي جګړې رواني وې، ایپي فقیر او د وزیرستان نورو مبارزو مشرانو داسې سیاست خپل کړی و، چې د نورو له مالي او پوځي امکاناتو نه د خپل اصلي دښمن پر ضد کار واخلي او مبارزان او د عقیدې او خپلواکۍ ساتې مبارزه یې د نورو د خپلمنځي سیالیو، یا د نورو د اهدافو د پلیتابه قرباني ونه ګرځي. دغه سیاست د ایپي فقیر او د هغه د ملګرو د سیاسي ځیرکۍ او د خپلواکۍ او دین ساتې په تړاو د هغوی د ژمنتیا ښکارندويي کوي.

## قبایل د جاپان په جبهه کې

د استخباراتي جګړې په درشل او په ۱۹۴۱ز کال کې د جاپان او جرمني له ګواښونو سره مل، برېټانیایي جنرالانو غوښتل، چې له قبایلي سیمو نه د نړیوالې جګړې ډګر ته یو نوی او مقاوم ځواک واستوي.

د ډسمبر په وروستیو کې دوی له افغانستان سره پټې هوکړې ته ورسېدل او د ۱۹۴۲ کال په فبروري کې شاه محمودخان په یوه جرګه کې د انګریزانو په پنځه میلیونه هندي روپیو سره قومي مشران دې ته اړ کړل، چې په برېټانیایي پوځ کې د پښتنو له ګومارنې سره مخالفت ونه کړي. وروسته په مارچ او اپریل کې دوی (انګریزانو او افغان حکومت) په جلال اباد او پېښور کې دوه نورې جرګې وکړې او د پښتنو ملکانو ټولې غوښتنې یې ومنلې.

له دې جرګو وروسته انګریزانو د اپریدیو، مومندو، یوسفزیو او نورو پښتنو له منځه د سرتېرو د ګومارنې چارې پیل کړې. د سرحد والي جورج کنینګهم ددغه پلان طراح و. د کنینګهم ددغه ګام اصلي هدف د جاپان پر وړاندې په هند کې د خپلې جبهې پیاوړې کول او له قبایلي سیمو او وزیرستان نه د جګړه ییز ځواک اېستل و. کنینګهم ددې چارې لپاره د وزیرستان سکاوټ پخوانی افسر جي ایچ پرینډرګاسټ (G.H. Prendergast) له نوي ډیلي نه پېښور ته وغوښت او دنده یې ور وسپارله، چې شپږ سوه مسید، د تیرا او خیبر څلور سوه اپریدي او له مومندو نه څلور سوه مومند راغونډ کړي. د



پرینډرګاسټ لپاره د مسیدو راغونډول جنجالي کار و، ځکه هغوی له دې مخکې په بلوچ غونډ (Baloch Regiment) کې د خپلو افسرانو امرونه نه منل او کله، چې ډېر ترې په عذاب شول ټول افسران یې ور ووژل. انګریزانو دې سرتېرو ته ویل، چې جاپانیان د خدای دښمنان دي او دوی له هغوی سره جهاد ته بیایي. کنینګهم پرینډر ګاسټ ته لارښوونه وکړه، چې په کلیمه ښکلی شوی بیرغ په لاس کې ورکړي او د همدغه بیرغ تر سیوري لاندې یې د جګړې ډګر ته بوځي. دغه بیرغ پخپله جورج کنینګهم له یوه شنه بخمل نه په هندو خیاط جوړ کړی و او له ټولو یې پرې لوړه اخسته. انګریزانو پر مسیدو او نورو قبایلي سرتېرو باور نه درلود او د نویو ټوپکو پرځای یې د قبایلي سیمو د کمپنیو جوړ ټوپک ورکړل. انګریزانو دغه ټوپک په ادم خېلو درې او کانیګروم کې وپېرل.[92]

پرینډرګاسټ له مسیدو نه ۵۰۰، له اپریدیو ۲۵۰ او له مومندو هم ۲۵۰ تنه راټول کړای شول، چې شمېر یې ۱۰۰۰ تنو ته رسېده. دوی لومړی اټک ته ځېرمه مانسا سیمې ته لاړل او د ۱۹۴۲ز کال په اګست کې ویزاګرام، اندرا پردیش، جنوبي بیهار او اړیسه ته لاړل. وروسته یې د بنګال خلیج په ختیزه غاړه کې ویزګا ته ولیږدول. دوی غوښتل، چې دلته د جاپانیانو پوځ په قبایلي زلمیانو شاته وتمبوي، خو له دوی سره نوې وسلې نه وې او قوماندان یې نه غوښتل، چې په کمزورو وسلو وجنګیږي. دغه سرتېري وروسته چیټاګانګ او برما ته نږدې کالادام ته لاړل. قبایلي سرتېرو په کالادام کې پر خپل قوماندان ټینګار وکړ، چې پوځي پرمختللې وسلې ورکړي، خو دوی نه ورکولې او بالاخره هغوی له جګړې انکار وکړ او بېرته پېښور ته راغلل.

په دغو وختونو کې په قبایلي سیمو او افغانستان کې جاپان هم خپل استخباراتي فعالیتونه پیل کړي وو او د هند په سرحد کې یې د پښتنو جنګیالیو لپاره یو پښتون قوماندان ګومارلی و. کله، چې جرمنیان په قبایلي سیمو کې په ځارګریزو فعالیتونو کې مات شول، ګردې چارې یې جاپانیانو ته وسپارلې، خو هغوی هم په خپلو عملیاتو کې بریالي نه وو. له دې مخکې، چې کوم اپریدي اروپايي هېوادونو ته تللي وو، هغوی د مخابرې په مسلک کې ډېر بریالي وو.

پنځم څپرکی

# انګلیسي مرمۍ او روپۍ

**(پوځي او ملکي سیاست)**

په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د انګریزانو پوځي او ملکي طرحې او سیستمونه د هغوی د ګټو په دفاع او خوندیتوب کې وضع کېدل. د انګریز قوانین او لایحې یوازې د هغوی د پرمختګ پالیسي تقویتي او بشپړوونکی اړخ و.

د انګریزانو ملکي سیاست د هغوی د پوځي سیاستونو په خدمت کې و. انګریز پوځي او ملکي سیاستوالو په ۱۸۴۳ او ۱۸۴۹ز کلونو کې له خپل اداري نظام سره د سند او پنجاب له یوځای کولو وروسته، په سیمه کې د یوې ټینګې پولې لپاره ستراتیژیکې نقطې غوښتې. دې مسالې په هغوی کې د پرمختګ او تړلې پولې دوه بېلې ایډیاوې را وټوکولې. په سند کې واکمنو انګریز پوځي او سیاسي ستراتیژیستانو د افغانستان پر لور د پرمختګ پالیسۍ پلوی کاوه، خو په پنجاب کې واکمنو انګریزانو د سند سیند یا ډیورنډ تر کرښې پورې د تړلې پولې او ثابتې پالیسۍ سیاست درلود. د پنجاب واکمن لارډ لارنس په دې باور و، چې د سند سیند ددوی محکمه پوله کېدای شي، خو لارډ کینګ دغه پوله د افغانستان پر لور په مخکې سیمو کې غوښته. هغوی د



عدم مداخلې (Non-interference) پالیسۍ تعقیب نه کړې او په سرحد او قبایلو کې یې د تورن جان جاکوب د پرمختګ پالیسي (Forward Policy) په مخ کې ونیوله. ددې پالیسۍ اصلي هدف هرات، کندهار او وروسته پېښور او هند ته د ناپلیون او شوروي د پرمختګ مخنیوی و. دوی په کوټه کې د سنډیمن سیستم هم د همدې لپاره پرمخ یووړ، چې د برېتانیایي هند لپاره له کوټې او بولان نه تر خیبر او وزیرستان پورې یوه محکمه پوله ورغوي. د لارډ کنګ او جان لارنس په څېر انګریز سیاستوال ددغه سیاست مخالف وو، خو د سرهنري راولنسن په څېر نورو تر کوټې او کورمې پورې د انګریزانو د نفوذي سیاستونو ملاتړ کاوه. دغه سیاست په وروستیو کې تعقیب شو او رابرټ سنډیمن او لارډ رابرټ په دې بریالي شول، چې د پرمختګ پالیسۍ په پلیتابه کې ټاکونکی رول ولوبوي. هغوی په دې باور وو، چې د برېتانیا د نفوذ سیمه باید په قبایلي سیمو کې پیاوړې شي او ګټې یې سره شریکې شي، چې د هر بهرني ګواښ پر وړاندې به هغوی اړوځي، چې د برېتانیایي هند په ننګه ودرېږي. لارډ رابرټ لنډ قبایلي سیمې بې څښتنه (No man Lands) بللې او سیاست یې هم پر دې متمرکز و، چې په قبایلي سیمو کې له تدریج سره مل پرمخ لاړ شي.

له ۱۸۴۹ ز نه تر ۱۸۹۴ ز کال پورې برېتانیایي ځواکونو ددغې پالیسۍ د تعمیل پاشلې هڅې کولې، خو له ۱۸۹۵ نه تر ۱۹۲۳ او له ۱۹۲۳ نه تر ۱۹۴۷ پورې دوی د پرمختګ او نوي پرمختګ پالیسۍ تعمیلوونکي وو. دوی په همدې وختونو کې وزیرستان ته پوځي ځواکونه واستول او د نوي پرمختګ پالیسۍ له مخې یې په قبایلي سیمو کې د خپلو استحکاماتو پر ټینګولو لاس پورې کړ. د برېتانیایي جنرالانو او ستراتیژستانو لپاره په قبایلي سیمو کې څلور مسالې پر وړاندې پرتې وې، چې له مخې یې باید دوی قبایلي وګړي تر خپل واک او مدیریت لاندې راوستي وای :

- *ستراتیژیک مسایل (حایل سیمه، د افغانستان او برېتانیایي هند اړیکې، د افغانستان او هند پر لور د روسیې او وروسته د جرمني او ایټالیا نفوذ او د برید وېره)*
- *سیمه ییزې او ملاتړې سرچینې*

- *عقیدوي او فرهنګي مسایل*
- *او د ټولنپوهنې لید*

انګریزانو د لومړۍ افغان- انګریز جګړې پرمهال د افغانستان او هند پر لور د روسي یرغل ګواښ نه انګیره، خو قبایلي سیمې او وزیرستان ددوی پر وړاندې د ګواښ او مقاومت پوتانسیل و. د قبایلي سیمو وګړي په فرهنګي، توکمیز او عقیدوي لحاظ له کابل سره تړلي وو او هره شیبه دا احتمال و، چې د انګریزانو پر وړاندې د خپلواکۍ کارت وکاروي. انګریزانو په پیل کې له مسیدو سره د ټانک د نواب له لارې اړیکي ټینګول، خو په وروستیو کې یې په سیمه کې داسې ملکان ومونډل، چې له دوی سره یې په اداري چارو او د قبیلوي اړیکو په ټینګښت کې مرسته کوله. په ۱۸۷۸ز کال کې هغوی د سرحدي جرایمو لایحه وضع کړه، چې د تښتونې، بریدونو او نورو جرمونو په تړاو یې د فرد پرځای قبیلې په نښه کولې.

له ۱۸۴۹ ز کال نه تر ۱۸۹۳ کال پورې د وزیرستان اداري چارې له بنو او ټانک نه تنظیمیدې. دوی د ډېره اسماعیل خان ولسوالۍ تر اداري لاندې وو، چې مشري یې یوه مرستیال کمشنر کوله. دغه کمشنر په خپل وار سره د دیره جاتو کمشنر ته رپوټ ورکاوه او هغه په لاهور کې د پنجاب حکومت ته ځواب ویونکی و او د لاهور حکومت په خپل وار په هند کې د برېټانیایي حکومت د بهرنیو چارو وزارت تر واک لاندې و. وروسته په واټه او توچي کې انګریزانو سیمه ییزې اداري جوړې کړې او سیمه ییز استازي یې وګومارل. انګریزان، چې د پرمختګ په سیاست کې پاتې راغلل، په ۱۹۰۰۱ کال کې نایب السلطنه لارډ جورج کرزن اړ شو، چې د پښتونخوا یو شمېر سیمې له پنجاب نه بېلې کړي او د شمال لویدیز ایالت په نامه یو بېل ایالت جوړ کړي. د سرحد لومړنی لوی کمشنر سرهارلوډ ډین شو، چې د هند برېټانیایي حکومت ته ځواب ویونکی و، خو قبایلي سیمې د اوس په څېر له مرکزه کنټرولېدې. کرزن د « کلي سوی د کلي په سپي ووهه» وینا په مصداق، په سرحد او قبایلي سیمو کې پوځي تشکیلات له منځه یوړل او د انګریز افسرانو ترمشرۍ لاندې یې د سیمه ییزو وګړو نوي ملیشایي تشکیلات جوړ



کړل. دغو تشکیلاتو له برېټانیایي ځواکونو سره د عملیاتو او رغونې په چارو کې مرسته کوله او د سیاسي استازي له خوا یې چارې کنټرولېدې. کرزن د مسیدو پر وړاندې یوه نوې پالیسي خپله کړه او غوښتل یې ملا پیونده د یولړ امتیازاتو په بدل کې له جګړې او مقاومت را وګرځوي.

د افغانستان پر لور د انګریزانو د پرمختګ سیاست د برېټانیا او روسیې د ۱۹۰۷ کال د کنوانسیون له مخې ودرېد او د نوې پرمختګ پالیسي په بڼه په قبایلي سیمو کې د انګریز واکمنۍ پر ټینګښت متمرکز شو. د هند وایسرای د ۱۸۹۹ز کال د جون په میاشت کې په یوه وینا کې اعلان وکړ، چې په نږدې وختونو کې به د وزیرستان غرنۍ سیمې ددوی تر بشپړ واک لاندې راشي.

*هغه وایي: « ...دا خبره حتمي ده، چې د وخت په تېرېدو سره به تر ډېورنډ کرښې پورې ټول وزیرستان ګام پرګام زموږ تر کنټرول لاندې راشي. د نړۍ هیڅ پالیسي ددې کار مخه نه شي نیولای او نه یې پر وړاندې خنډ ګرځي. هیله من یم، چې دغه کار د برېټانیایي پوځ له مرستې او فشار پرته پرمخ بوځم».*[۹۴]

انګریزانو د ۱۹۱۹ کال له جګړو وروسته په خپلو پوځي تشکیلاتو کې یوځل بیا تغییرات راوستل او په ډېرو هغو سیمو کې، چې پوځي چاونۍ او مرکزونه نه ول، هلته یې هم خپل ځواکونه ځای پرځای کړل، خو سره له دې، چې هوایي او ځمکنیو ځواکونو یې په بشپړه توګه ملتیا کوله او په میلیونونو پونډه لګښت کېده، له ۱۸۹۵ نه تر ۱۹۰۱ پورې د روسیې او له ۱۹۲۳ نه تر ۱۹۴۷ کلونو پورې د جرمني نفوذ او یرغل پر وړاندې په خپله پرمختګ او نوې پرمختګ پالیسي کې په دې بریالي نه شول، چې وزیرستان او دلته میشتې قبیلې تر بشپړ واک او کنټرول لاندې راولي.[۹۵]

د تړلي سرحد پالیسۍ له مخې انګریزانو په داسې میکانیزم کار کاوه، چې د قبیلو په محصورولو او محکومولو سره د هند په نیمه لویه وچه کې خپل واک خوندي وساتي او په دویمه هغه (پرمختګ) کې یې د واک د سیمې پراختیا غوښته. انګریزانو

خپل ټول قوانین او سیستم د خپلو ګټو او پراختیا غوښتنې په سیاست کې تعریفول او دغه سیاست ددې لامل شو، چې په وزیرستان او قبایلو کې یې خلک پر وړاندې پراخ غبرګون وښیي. هغوی د ځارویو د شپول په څېر ټرلې سیمه کې را ایسار شوي وو او له هیڅا سره یې د اړیکو حق نه درلود، خو له بهره هر ډول مجرمانو او جنایتکارانو ته په دې سیمه کې د پټېدو او اوسېدو حق و. په وړه خبره د سزا لپاره لښکرکشۍ، د بازار بندښت، اقتصادي بندیزونه، پر ځمکو او کرکیلو بندیز، د کورونو او کلیو ورانول هغه څه دي، چې انګریز او په راوروسته کې پاکستان حکومت دواړو ترې د قبایلو د رام کولو په موخه ګټه اخستې ده.

پر ۱۸۷۲ز کال د سرحد د جرایمو قانون (Frontier Crimes Regulation) په تصویب سره له خکو مدني ازادۍ او حقوق واخستل شول. دغه قانون واک مشخصو ملکانو ته وسپاره او ډېرې غیر مدني تګلارې یې وضع کړې. دغه قانون تر انګریزانو وروسته د پاکستان حکومت هم په قبایلي سیمو کې په همغه شدت پلی کوي. انګریزان د پرمختګ پالیسي د ازموینښت پړاو او د ټرلي سرحد پالیسي د پرځاینښت یا تطبیق پړاو بولي. په لومړۍ هغه کې یې سیمې په زور ونیولې او په دویم هغه کې یې په زور او جبر تر خپل قانون لاندې راوستې. درایزلي په ۱۸۷۴ ز کال کې د افغانستان پر لور د پرمختګ پالیسي پرمخ وړله او په همدې موخه یې په وزیرستان او قبایلي سیمو کې لشکرکشۍ وکړې. لردلیټن په ۱۸۷۶ کال کې د روسیې د ګواښ په پلمه غوښتل، چې په هرات او کندهار کې دفاعي کرښې ورغوي. هغوی د سند پوله ټینګه نه ګڼله او د خپل پوځي دکتورین له مخې یې هوډ درلود، چې ستراتیژیکه پوله تر امو او هندوکش پورې د یوه علمي سرحد په توګه وغځوي.

## «سنډیمن» او « د روپۍ سیاست»

پر افغانستان له برید مخکې انګریزانو د افغانستان دفاعي کرښې ( قبایلي



سیمې) له خپلې اصلي خاورې نه په بېلابېلو (لاهور، ګندمک او ډیورنډ) تړونونو جلا او تر خپل واک لاندې راوستې. پر هغوی یې مالیې کمې کړې او د روپۍ سیاست «Money policy» تر نامه لاندې یې مشخصو ملکانو ته ځانګړي امتیازونه ومنل.

ددغه سیاست بنسټګر د پنجاب کمیسیون منصبوال رابرټ سنډیمن و، چې له ۱۸٦٦ز کال راهیسې یې په بلوچستان کې کار کاوه. هغه د پنجاب ایالتي ادارې په ملاتړ په بولان، کاکړو او کوټه کې د برېتانیا پښې ټینګې کړې او له سیمه ییزو قبایلو یې جګړه ییز ځواکونه جوړ کړل. د سنډیمن سیاست کار ورکړ او د لومړي ځل لپاره په ۱۸۷٦ کال انګریز ځواکونو د بولان له لارې د خپلو کاروانونو د تګ راتګ امکان وموند. په همدغه کال د کلات خان له کاله د سل زره هندي روپیو په بدل کې برېتانیا ته اجازه ورکړه، چې کوټې ته د اورګاډي پټلۍ او ټلګراف تار وغځوي.

هغه د بولان نورې سیمې هم ور خپلې کړې او په خیبر او کورمه کې یې هم خلک بې پرېتوب ته وهڅول. هغه په بلوچستان کې د چاونیو او پوځي قرارګاوو جوړول د فارورډ پالیسۍ مهم ټکی باله، ځکه انګریز په دغه کار سره په دې لټه کې و، چې د اباسین پر لور د روسیې د پرمختګ مخه ډب کړي. له ګندمګ تړون او د کلات له خانانو سره تر هوکړې وروسته، خیبر، کورمه، پښین، لورالایي، کوټه او تر بولان پورې ګردې سیمې انګریزانو تر خپل واک لاندې راوستې. په دویمه افغان- انګریز جګړه کې انګریزانو د سنډیمن له تړون نه ډېرې ګټې وکړې، ځکه پر دې ټوله لاره هغوی له مزاحمت سره مخ نه شول او پای دا، چې امیرمحمد یعقوب خان د لرې پښتونخوا ګڼې سیمې پر انګریزانو خرڅې کړې. ګندمګ تړون انګریزانو ته دا مجال ورکړ، چې په نیول شویو او هغو سیمو کې خپلې پښې ټینګې کړي،چې وروسته یې د ډیورنډ تړون له لارې له برېتانیایي هند سره ونښلولې.

افغان امیر عبدالرحمن خان د انګریزانو د پرمختګ سیاست اندېښمن کړی و او په ۱۸۹۲ کال کې یې خپلو سرتېرو ته امر وکړ، چې په چترال، باجوړ او وزیرستان کې پر خلکو افغان تذکرې ووېشي. انګریزانو وزیرستان له لاسه نه ورکاوه، ځکه له دې سره جوخت یې

کورمه هم له لاسه ورکوله. عبدالرحمن خان د هند د نایب السلطنه لارنس دون د ضرب الاجل په پایله کې دې ته اړوت، چې خپل ځواکونه له چترال، باجوړ او وزیرستان نه وباسي او ورپسې د ډیورنډ کرغېړن تړون هم لاسلیک کړي. په ۱۸۹۷ کال کې د هند نایب السلطنه د یوې کرنلارې له مخې په ډاګه کړه، چې دوی د خپل علمي سرحد ( امو سیند) پر لور د پرمختګ لاره پرانستې ده، خو د ډیورنډ تړون پر وړاندې په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې پراخ پاڅونونه وشول او عبدالرحمن خان هم له دې امله، چې په تړون کې د مومندو د سیمې پر سر انګریزانو له خپلې هوکړې سرغړونې وکړې، قبایلي وګړو ته د اتیا زرو میلو په شاوخوا کې وسلې ورکړې. انګریزانو دغه پاڅونونه په سختو پوځي عملیاتو سره غلي کړل، خو په وزیرستان کې یې دوام وکړ. د انګریزانو د زور سیاستونو کار ورنه کړ او بالاخره په ۱۹۰۰۱ کال د هند نوي نایب السلطنه لارډ کرزن له قبایلي سیمو ځواکونه و اېستل او د پېښور په مرکزیت یې شمال لویدیز سرحدي ایالت جوړ کړ، چې اوس خیبر پښتونخوا یادېږي. قبایلي سیمې د ملېشه ځواکونو په درلودو سره پر پنځو ایجنسیو ووېشل شوې، چې اوس یې شمېر اوو ایجنسیو ته رسېږي.

## سنډیمن سیسټم په وزیرستان کې

انګریزانو د پرمختګ پالیسي په خدمت کې د سنډیمن (Sandmen) او داخلي کنټرول (Control From within) سیستمونه هم پرمخ وړل. سنډیمن پالیسي په سوله ییز نفوذ ولاړه وه. ددغه سیسټم هدف په هره سیمه کې د یوې قرارګاه پر جوړاوي، بانفوذه خېرو ته په امتیاز ورکولو، د قوانینو پر وضع کولو او د قومي مشرانو له لارې له خلکو سره پر اړیکو متمرکز و. ددې پالیسۍ هدف د بېلابېلو لارو نښلول او پرانېستل و، چې له ښکیلاک سره مل اقتصادي اړخ یې درلود. انګریزانو په دغه سیسټم سره غوښتل په ټولو سیمو کې ستراتیژیکې نقطې تر ولکې لاندې راولي او د ارتباطي کرښو له لارې یې سره وتړي. سنډیمن سیسټم عملا د پرمختګ پالیسۍ په خدمت کې و. سنډیمن غوښتل بلوچستان د ژوب له اړخه د اورګاډي په پټلۍ له وزیرستان سره



ونښلوي او خپل سیسټم په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې هم پلی کړي.

له سنډیمن مخکې میکاولي غوښتل، چې ګومل له ژوب سره ونښلوي.

دغه سیسټم د بلوچستان په مشخصو سیمو کې بریالی و، خو په وزیرستان کې یې چاپیریالي شرایط، دودیز قبایلي سیسټم او نور مسایل د پلي کېدا پر وړاندې خنډ ول. کله، چې پر ۱۸۸۹ز کال ډګروال سي اي بروس وزیرستان ته راغی، لومړنی هدف یې په دې سیمه کې د سنډیمن په څېر سیسټم پلي کول و. سره له دې، چې سنډیمن او بروس خلکو ته ښې ډېرې پیسې ورکړې، خو د ګومل لاره تر پایه په اصلي بڼه له ژوب سره ونه نښلېده. بروس په دې باور و، چې د کوټې او کلات په سیمو کې پلي شوي پرنسیپونه په وزیرستان کې هم د پلي کېدو وړ دي.

مسید د ډیورنډ کرښې له غځېدو وروسته د برېټانیا تر واک لاندې سیمو کې راغلل او برېټانیایي جنرالانو غوښتل، چې دلته هم نامستقیمې واکمنۍ عملي شي. په بلوچستان کې د نامستقیمې واکمنۍ یا حاکمیت سیسټم ځکه کار ورکړ، چې د بلوڅانو او د بلوڅانو د خوی تر اغیز لاندې نرم چلنده کاکړو او مندوخېلو یې پر وړاندې اوږدمهالی مقاومت ونه کړ، خو په وزیرستان کې خلک وسله وال وو او دغه سیسټم یې د خپلې ازادۍ پر وړاندې ګواښ باله. په بلوچستان کې یې د بریالیتوب بل لامل ملاتړی ځواک و، چې د هغه په زور یې پر خلکو د ملکانو او خانانو پرېکړې منلې. بروس د همدغه سیسټم له مخې د وانه د کنټرول هوډ درلود. ملا پیونده مسید هغه ته د یوه لیک په ترڅ کې خبرداری ورکړ، چې له وانه نه لاس پر سر شي او د مسیدو سیمې ته پوځ ونه لیږي. بروس پر ملکانو متکي و او دده پر ګواښ یې غوږ ونه ګراوه او ملا پیونده مسید هم د وانه پر کمپ د ۳۰۰۰ کسانو په ملتیا برید وکړ. دا د سنډیمن سیسټم او په وزیرستان کې د انګریزي ځواکونو د ځای پرځای کېدو پر وړاندې د مسیدو او وزیرو لومړنی ستر برید او غبرګون و.[۹٦]

په سنډیمن سیسټم کې ډېر واک ملکانو ته ورکړل شوی و او هغوی د انګریز او عام ولس ترمنځ د پله په توګه رول لوباوه. په وزیرستان کې د سنډیمن سیسټم د ناکامېدو

یو لامل له دغه سیستم سره د ملایانو حساسیت هم و. د ملکانو د رول او د روپۍ په سیاست د هغوی د پېرنې په چټکېدو سره ملایان او مذهبي مشران حاشیې ته لاړل او همدا لامل و، چې ملا پیونده مسید یې هم پر ضد شدیده مبارزه کوله. دلته یو بل محسوس توپیر داو، چې بلوڅان عموماً د خپلو خانانو ( لکه د کلات خانان) تر سخت اغیز لاندې وي، خو په مسیدو او وزیرو کې مشر او ملک تر یوه ځانګړي حد پورې محدود واک او صلاحیت لري او دا ستونزمنه ده، چې ټولې قبیلې دې پر یوه یا څو ملکانو راغونډې شي او یا ټول ملکان دې په یوه خوله واوسي. دا، چې سنډېمن سیستم په غوڅ ډول د برېټانیا د پرمختګ پالیسي او حکومتي پیاوړتیا په خدمت کې و، د خلکو د ژوندانه په ښه والي او د قانون واکمنۍ یا ټولنیز پرمختګ او عدالت په برخه کې یې هیڅ رول نه درلود. په دې معنا، چې د انګریز واکمنو اکثریت سیاستونه او پالیسۍ د هغوی د اقتدار د غځونې او دوام په موخه وضع شوي او پر کومو سیمو، چې دوی واک چلاوه، د هغو د بهبود لپاره یې هیڅ طرح او پلان نه درلود.

هغه قبیلوي نظام، چې په وزیرستان او ورځېرمه نورو قبایلي سیمو کې حاکم و، له دې پالیسۍ سره لا پیاوړی شو، ځکه د پالیسۍ تمرکز پر ټولنیز پرمختګ نه و. همدا اوس، چې قبایلي سیمې او بلوچستان لا هم د ژوند د ادامې په بحران کې ښکیل دي، لامل یې په همغو پالیسیو کې لټول کېدای شي، چې انګریزانو یې بنسټ ایښی او پاکستان ادامه ورکړې ده. انګریزانو په خپلو ستراتیژیو کې د پښتنو پر نالوستي توب تمرکز کاوه او هغوی یې له مډرنو زده کړو بې برخې ساتل، ځکه په دې ډول په هغوی کې د ویښتابه او ملي بیدارۍ انګیزې را ټوکېدې. کله، چې د باچاخان د ښوونځي جوړونې بهیر ته پښتنو هرکلی ووایه، انګریزانو پرې بندیزونه ولګول او په یو شمېر مواردو کې یې شرخوښي کسان دې ته وهڅول، چې ښوونځي له منځه یوسي. دغه سیاست په لرو او برو پښتنو کې نن هم په همغه بڼه پرمخ روان دی.

د بروس له تګ وروسته مېرک د ډېره اسماعیل خان د نوي کمشنر په توګه راغی. ده د ۱۹۰۰ز کال په جولای کې د پنجاب حکومت ته ولیکل، چې دوی د کرکې په



دایره کې حرکت کوي، ځکه ملکان په مسیدو کې له سترګو لوېدلي او د مسید میشتو سیمو په تړاو د هغوی رول پیکه شوی دی. هغه وړاندیز وکړ، چې د ملکانو پرځای ټولو مسیدو ته امتیازات ورکړل شي او د افرادو پرځای له مسیدو سره د ټولنیز مسوولیت له مخې عمل وشي. پر دغه وړاندیز په سمله کې لارډ کرزن د پنجاب والي ینګ، د پنجاب د سرحدي ځواکونو قوماندان جنرال ایجرټن او مېرک په دوو ناستو کې خبرې وکړې. هغوی د مېرک وړاندیز ومانه، خو ددې طرحې له پلیتابه مخکې یې له مسیدو نه د ۶۰ زره روپیو ناغې راټولولو شرط کېښود.[۹۷]

په اکتوبر میاشت کې مسیدو سرتېرو په ګومل کې د پوځي پولیسو پر مرکز برید وکړ او د بریدمن نینسي (Nensy)په ګډون یې څلور پوځیان ووژل. مرک د وژونکو د محاکمې او له مسیدو د ناغې اخستلو په موخه د نومبر پر اوومه په ټانک کې د مسیدو ملکانو جرګه راوغوښته او ملا پیونده ته یې د نومبر تر ۲۵مې پورې ضرب الاجل ورکړ، خو ملا یې پر ضرب الاجل غوږ ونه ګراوه.

انګریز سرکار د ډسمبر له لومړۍ نېټې څخه د مارچ تر لسمې پورې د مسیدو سیمې محاصره کړې او د هغوی ټول امتیازات یې بندل کړل. له محاصرې او بندیزونو سره سره، مسیدو په ډېره، ګومل او ژوب کې خپل بریدونه جاري وساتل. انګریزانو په مکین، سپلې توی، شهیر او شکتوی کې عملیات وکړل او مسیدو ته یې دوه نیم سوه زره روپۍ زیان واړاوه. د ۱۹۰۲ز کال د مارچ پر ۱٦مه دواړې خواوې خبرو ته کښېناستې.

د سرحد ایالت چیف کمشنر ډین د مارچ پر ۲۷مه د برېټانیایي هند حکومت ته ولیکل، چې مسید په بندیزونو او محاصرې نه ماتیږي: « *له داسې قبیلې، چې خپل ټول وخت یې په لوټ او برګاوندیانو په ظلم تېر کړی، دا هیله ناسمه ده، چې په محاصرې او بندیزونو به سولې ته غاړه کیږدي. د مسیدو قبیلې یوازینی حل پوځي زور دی*».

دا وخت کرزن هم په همدې باور و، خو مېرک فکر کاوه، چې مسید په پیسو او امتیازونو ور خپلولای شي.

هغه د نومبر پر ۱۵مه نېټه له ٦١زره روپیو کلني امتیاز څخه ۵۴زره روپۍ مسیدو ته او پاتې نورې خپلو وفادارو ملکانو ته ورکړې. ده په مسیدو کې د سولې ټینګښت لپاره له دوه سوه مسیدو زلمیانو د یوه ځلوېښتي ځواک بنسټ هم کېښود. میرک له مسیدو سره د یوې لویې جرګې له لارې په پارلماني بڼه خبرې کول غوښتل، خو دې مسالې انګریزان دې پایلې ته ورسول، چې دا ډول لویې جرګې سملاسي پایلې نه شي ورکولای ، ځکه هر کس انفرادي نظر ورکوي او د نظرونو د وحدت په موخه باید جرګه څو ورځې وغځېږي.

د مېرک پالیسۍ نه یوازې دا، چې په مسیدو کې ټیکاو نه راوست، بلکې وضعیت لا هم له کنټروله ووت. د هغه پر بدلونونو درې میاشتې نه وې اوښتې، چې د واڼه سیاسي استازي جانسټن د مسیدو لپاره نوې لارې را واېستې. د هغه په باور، د امتیازاتو د وېش په نوي سیستم سره د حکومت او ملکانو ترمنځ اړیکي کمزوري شوي او د مسیدو له زرګونو وسله والو کسانو جوړېدونکې جرګې بې ګټې او امنیت ته ګواښناکې دي. هغه وړاندیز وکړ، چې ملکانو ته ۹ زره روپۍ نورې هم زیاتې شي. د سرحد ایالت چیف کمشنر ډین دده وړاندیز ومانه.

د ۱۹۰۳ز کال په فبرورۍ کې جانسټن په چنډولي کې د مسیدو یوه ستره جرګه وغوښته، چې ملا پیونده مسید هم پکې ګډون درلود. په جرګه کې پرېکړه وشوه، چې ملکان به د مسیدو استازي وي او ١٦زره روپۍ امتیازات به ورکول کیږي. دغه راز درې مسید قبیلو ته هم په کال کې د ۵۴ زره روپۍ امتیازاتو پر ورکولو همغږي راغله. ملا پیونده په ښکاره د جرګې له پرېکړې او نورو امتیازونو سره مخالفت ونه ښود، خو واک ته د ملکانو د بېرته راتګ پر چاره راضي نه و.[۹۸]

له دې بېلابېلو سیستمونو او پالیسیو ښکاري، چې انګریزانو په وزیرستان او قبایلي سیمو کې یوازې پر خپل پوځي حضور او د افغانستان پر لور په پرمختګ غور کاوه. د هرې زړې پالیسۍ او سیستم له منځه وړل او د نویو هغو معرفي کول پر حکومتولۍ منفي اغېز پرېباسي، خو انګریزانو په دې سیمه کې د حکومتولۍ پرځای د



خپل نفوذ لپاره کار کاوه او دا که د قبایلي دودونو د تقوېې له لارې کېده او که د سیستم او پالیسۍ د بدلون او یا هم زور او لشکرکشۍ له لارې، دوی ترې دریغ نه دی کړی. په وزیرستان کې دانګریزانو ډېر تمرکز د معاش خورو ملکانو له لارې د قبیلو پر کنټرول، جرمي ځرنګتیاوو، تر ملاتړ لاندې سیمو (Protected Areas)، د کلي او قبیلې پر مسوولیت مشخصولو او د «یاغیګرۍ» پر مخنیوي و. هغوی په دې باور ول، چې د سیمې طبیعي سرچینې او عواید باید د قبیلو او سیمو پر رغونه ونه لګیږي، ځکه د خلکو په ټولنیز پرمختګ، د سیاسي شعور په وده او سواد زده کړې سره یې په سیمه کې د خپلې واکمنۍ لمر ډوب لیده. البته په وروستیو کې یو شمېر انګریز استازو د بیا رغونې او خیر ښېګڼې پر سیاست ټینګار درلود. انګریزانو ټول لګښت ملکانو ته په ځانګړو امتیاز ورکولو(Allowance)، خاصه دار ځواکونو، د پوځي عملیاتو او ارتباطاتو لپاره پر سړک جوړولو، پخو پوځي کلاوو او پوځي تصفیوي عملیاتو کاوه، چې پایلې یې تر ډېره منفي وې.

*ډګروال سي اي بروس په وزیرستان کې د خپلې ستراتیژۍ په اړه وایي: « د هرې پالیسۍ ستر ازموینښت او برۍ د خلکو او قبیلو لپاره د فرصتونو په رامنځته کولو او خیر ښېګڼه کې دی. د پالیسۍ بنسټ د قبیلې موجوده اډانه او د هغوی دودونه دي. په دې برخه کې تر ټولو اغېزناک رول د ملکانو دی او د هغوی له مرستې پرته هیڅ کار شونی نه دی».*

د ملکانو په برخه کې د بروس خبرې پرځای دي، ځکه انګریزانو د ځانګړو امتیازونو او د روپۍ سیاست له مخې هغوی او هغوی خپلې قبیلې یرغمل کړې وې.

*بروس وایي: « د مدیریت بنسټ د ولسوالۍ افسر او د قبیلوي جوړښت او تنظیم هغه ملک دی. هغه پالیسي، چې دوی ( ملکان) کمزوري کوي، هغه د قانون بنسټ کمزوری کوي».*

انګریز د روپۍ سیاست او ملکانو د پېرنې له فرصتونو نه په سیمه کې د خپل

نفوذ لپاره ګټه پورته کوله. کله، چې انګریزانو په سیمه کې پښې ټینګې کړې، د خپلو ملاتړو ملایانو امتیازات یې ورقطع کړل، خو وروسته، چې د شوروي اتحاد او جرمني څارګرې ادارې فعالې شوې، نور اجیر ملایان یې پیدا کړل.

## د انګریز د پرمختګ دویمه پالیسي

د ۱۹۲۱ز کال د نومبر پر ۲۲مه برېټانیا او افغانستان تر ۱۱میاشتنۍ خبرو وروسته د ډیورنډ کرښې پر سر هوکړې ته ورسېدل، خو انګریزانو په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د ځپونکو عملیاتو په تړاو خپلې کړې ژمنې پلې نه کړې.

*د نومبر د ۲۲مې تړون په ۱۱مه ماده کې راغلي و:*

*« دواړه اړخونه به د ډیورنډ کرښې د دواړو خواوو قبایلو پر وړاندې په درناوي ولاړ اړیکي ساتي او دواړې خواوې به په قبایلو کې د نظم په موخه د جدي پوځي ګامونو په تړاو یو بل ته خبر ورکوي».*

په دې کتنه کې د انګریز پلاوي رییس هنري دابس د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي ته یو بل تضمیني لیک هم ورکړی و. امان الله خان د وزیرستان او قبایلي سیمو خلکو ته تر دریو کلونو پورې د انګریزانو پر وړاندې د مبارزې نه کولو سپارښتنه وکړه، خو دا ټینګار یې هم وکړ، چې که انګریزان له خپلو ژمنو غاړه وغړوي، د راتلونکې پرېکړې لپاره به د لر او بر دویمه جرګه را وغواړي.[۹۹]

د ۱۹۲۱ز کال د تړون پر بنسټ انګریزانو خپلې کړې ژمنې پرځای نه کړې او یوځل بیا د دواړو خواو ترمنځ اړیکي ترینګلي شول. د انګریزانو او افغان حکومت ترمنځ د اړیکو د ترینګلتیا یو لامل دا و، چې افغان حکومت قبایلي سیمې ازادې او د پخوا په څېر د یوه حایل په توګه غوښتې، خو انګریزانو کوښښ کاوه، چې د نوې پرمختګ پالیسي (New Forward Policy)له مخې یادې سیمې تر خپل بشپړ واک او کنټرول لاندې راولي. د نوې پالیسي اصلي تمرکز پر وزیرستان او خیبر و، ځکه دغه دوه سیمې په ټولو قبایلي سیمو کې د پاڅونونو سرچینې وې.



د سرحد ایالت نوي قوماندان جنرال میغي په ۱۹۲۱ کال د وزیرو او مسیدو او نورو قبایلي سیمو د پاڅونونو د ځپنې په موخه د خیبر او وزیرستان د نیولو او هلته د خپلو ځواکونو د میشتونې یو نوی پلان طرح کړ، چې د انګریزانو د نوې پرمختګ پالیسۍ ښکارندوی و. په دغه پلان او وړاندیز کې د هغه لومړی کار په قبایلي سیمو کې د انګریز واکمنۍ ټینګښت او د یرغلونو د مخنیوي په هدف په رزمک او د مسیدو د کنټرول په خاطر په وانه کې د سترو پوځي مرکزونو جوړول وو. په دې توګه انګریزانو ټولې ستراتیژیکې سیمې تر څار لاندې راوستې شوای او بل پلو یې د ځنځیري سړکونو په غځولو سره د مرستې رسونې چارې او د بیړني وضعیت کنټرول تنظیمولای شوای.[۱۰۰]

د میغي پلان وړاندیز کاوه، چې:

- *په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د بریدونود مخنیوي په خاطر یو ستر خوځند ځواک ځای پرځای شي.*
- *د سرتېرو د مانورو او عملیاتو د توان لوړاوي په هدف د لارو شبکه پراخه شي.*
- *له سرتېرو سره په تعامل، د پولیسو شمېر ډېر شي.*
- *د قبایلو یرغمل استازي د شرطونو تر پلې کېدو پورې په هندي زندانونو کې وساتل شي.*
- *قبایل په هند کې د هغوی د ګټو له لارې تر کنټرول لاندې راشي. سوداګریزې چارې، کاروانونه او په بنو او نورو سیمو کې د هغوی ځمکې پر هغوی د فشار په توګه وکارېږي.*
- *د ډیورنډ کرښې او اداري پولو په امنیت کې ډېر رول هوایي ځواک ته ورکړل شي.*
- *او یو شمېر سرکښو او بانفوذه کسانو ته امتیازونه ورکړل شي او له کورنیو سره یې یوځای له وزیرستان نه بهر په ځمکو ونازوي.*

د جنرال میغي په پلان کې وړاندیز شوی و، چې د وزیرستان او قبایلي سیمو د

خلکو د کنټرول لپاره ډېرې الوتکې او زغره وال ګاډي ورکړل شي او هغوی تر سختې محاصرې او لوږې لاندې د انګریز حکومت منلو ته اړ اېستل شي. په مرګ د محکومیت، محاصرې او لوږې تاکتیک دوی له دې مخکې هم په وار وار کارولی او د سختې کاختې په مقابل کې هغوی اړ شوي، چې خپلې وسلې ښکیلاکي حکومت ته وسپاري او بندیزونه پرې لرې کړي.

د ۱۹۲۲ کال په لومړیو کې ددغه وړاندیز په تصویب سره د افغانستان او برېتانیایي هند د نوې پولې د ټینګښت عملي چارې پیل شوې. انګریزانو د نیو فارورډ پالیسۍ له مخې د ډیورنډ تر کرښې پورې په ټولو سیمو ( وانه، رزمک، میرانشاه او خیبر) کې د پرمختګ او ځان ټینګونې پراخې هڅې پیل کړې. د رزمک پوځي کمپ جوړونې او په هغه کې د ۱۰ زره سرتېرو ځای پرځای کولو یوځل بیا مسید را وپارول. د ۱۹۲۳ کال له جنوري نه تر مارچ میاشتې پورې د انګریزانو او مسیدو او وزیرو ترمنځ ګڼې شخې وشوې. هغوی په مکین او ورځېرمه نورو سیمو کې سختې بمبارۍ وکړې، خو د خلکو مبارزې په ټپه ونه درېدې. هغوی په وزیرستان کې د ۷۲ چورلکو تر چتر لاندې د بنو- میرانشاه او رزمک- چنډولي لارو د جوړونې چارې پیل او د ۱۹۲۳ کال تر پایه یې بشپړې کړې. په دې موده کې دوی په وانه، رزمک او میرانشاه کې هم د خپلو پوځي مرکزونو ودانیزې چارې سرته ورسولې. د وانه، میرانشاه او رزمک کمپونه یې خورا ټینګ او په امنیتي لحاظ داسې خوندي کړل، چې مسید او وزیر مبارزان د کمپونو داخل ته لاره ونه کړای شي. د رزمک او وانه دواړو کمپونو هوایي ملاتړ له ټانک او میرانشاه هوایي ډګرونو تنظیم شو. انګریزانو له اداري حوزو نه د بریدونو د مخنیوي په هدف د انګریز افسرانو تر مشرۍ لاندې د سیمه ییزو خلکو له جلب او جذب نه د سکاوټونو او خاصه دارو په نامه نوي مرستندویه پوځي تشکیلات اعلان کړل. ددوی ټول شمېر ۷۲۸۵ تنه و، چې ډېری یې په وزیرستان کې ځای پرځای شول. انګریزانو نویو تشکیلاتو ته مسید او اپریدي ونه نیول، ځکه دوی په ډېرو پېښو کې خپل افسران وژلي وو او د افغان- انګریز درېیمې جګړې په ترڅ کې یې د ټوپک میلې پر انګریز پلوه ځواکونو ور اړولې وې. انګریز ځواکونو په قبایلي



سیمو کې د خپلو پښو د ټینګولو لپاره ملکانو ته خورا ډېرې پیسې ورکړې او په دې توګه یې په بېلابېلو قبیلو کې پلویان او د پر وخت اطلاعاتو د انتقال کانالونه وموندل.

د انګریزانو نوې فارورډ پالیسۍ د افغانستان او برېتانیا ترمنځ اړیکې ترینګلې کړل او د ۱۹۲۳ کال د جنوري پر ۱۳مه افغان حکومت په وزیرستان کې د انګریزانو پر نوي سیاست نیوکې وکړې او دلته یې د بمباریو د ژر بندیدلو غوښتنې وکړې. امان الله خان د انګریز ددغه سیاست پر وړاندې په متقابل عمل لاس پورې کړ او قبایلي وګړو ته یې د جلال اباد په جرګه کې د انګریز خلاف د مرستې ژمنې ورکړې. پر دې سربېره هغه په وزیرستان کې د خاصه دارو ځانګړې ډلې جوړې کړې.

د افغانستان او برېتانیا د اړیکو له ترینګلتیا سره سره، انګریزانو په وزیرستان کې خپلې چارې جاري وساتلې او د مسیدو کلي یې له خاورو سره برابر کړل. د انګریز هوایي ځواک ۷۲ الوتکو د ۱۹۲۵ کال د اپریل په وروستیو کې د ۵۷ ورځو لپاره مسید میشتې سیمې بمبارولې.

هغوی د سیمې د کرارولو لپاره ډېر خلک د وزیرستان او قبایلي سیمو له حوزې بهر واېستل او په نورو سیمو کې یې د ناقلانو په توګه ځمکې ورکړې، هغه سیاست، چې د پاکستان حکومت یې یوه پېړۍ وروسته هم تجربه کوي، خو دغه سیاست هغه وخت هم ناکام و، ځکه په خلکو کې د خپلوۍ او قوم او قبیلې رشتې همغسې قوي وې او نن هم ناکام دی، ځکه له وزیرستان نه د مسیدو په جبري مهاجرت سره نه یوازې دا، چې ټوله پښتونخوا ناامنه شوې، بلکې دغه نارامي د پاکستان سترو سوداګریزو ښارونو کراچۍ، اسلام اباد او لاهور ته هم رسېدلې ده.

انګریزانو د خپل ستراتیژیک پلان له مخې د وزیرستان لرې پرتو سیمو ته د ۱۰۰ کیلومټري سړکونو پر جوړونې کار کاوه او هوډ یې درلود، چې د وزیرستان له لارې افغانستان ته د اورګاډي پټلۍ وغځوي. هغوی نړیوال اقتصادي ناورین لیده او په سیمه کې یې د خپل واک د ټینګښت لپاره د خلکو بې وسلې کول او د مالیې اخستل حتمي ګڼل. برېتانیایي ځواکونو په دې پالیسۍ سره په لنډمهالې توګه په وزیرستان کې نسبي

ارامي راوستله، خو وروسته په قبایلي سیمو کې د میشتو وګړو او د هغوی د ناقلو ملکانو ترمنځ اړیکي دومره کمزوري شول، چې د قبیلو په کنټرول کې یې خپل رول له لاسه ورکړ. نن هم، چې له وزیرستان نه کومې کورنۍ ناقلې شوې، ملکانو یې په وزیرستان کې له میشتو خلکو سره اړیکي له لاسه ورکړي او په خپل قوم او قبیله کې پخوانی نفوذ ور پاتې نه دی.

شپږم څپرکی

# د سیاسي قبلې بدلون

د لومړۍ هجري پېړۍ په وروستیو او د دویمې هغې په لومړیو کې په هند کې ګڼ پښتانه میشت وو. هند ته د پښتنو د تګ اصلي لاملونه تر اوسه نه دي په ډاګه شوي، خو د کرلاڼیو پښتنو سیمې (توچي، ګومل او دغه راز خیبر ) هغه لارې وې، چې د هند پر لور په ډېرې لښکرکشیو کې «د بریالیتوب کلي»په توګه کارېدلې دي.

د لودي پښتنو له وخت نه تر مغولو، غزتوي او دراني واکمنو پورې په ډېرې لښکرو کې د جګړې اصلي ځواک د اوسنیو قبایلي سیمو له کرلاڼي او غلجي پښتنو جوړېده. د پښتنو یوه ستره برخه په همدې لښکرکشیو کې د هند په بېلابېلو سیمو کې پاتې شوه او یو شمېر کسان یې د خپل زړورتوب او جنګاورتوب له امله په هند کې د بېلابېلو واکمنو له خوا د نوابانو او جاګیردارانو په توګه وګومارل شول. وروسته د پښتنو دغه خورې ورې کتلې سره یوځای شوې او په هند کې یې د حکومت واګې ترلاسه کړې.

*تاریخ مرصع په هند کې د ستر پښتون واکمن بهلول لودي له خولې وایي:*

*«په خپل ملک کنبې عمر په حسرت او فقر تیروي، غواړم چې دوی له وطن را طلب کړم او منصب جاګیر په هندوستان کې ورکړم چه له تنګي او له تنګ خرڅي خلاص*

*شي او زه هم به په قوت او په مدد د دوی په خپلو غلیمانو غالب دست شم،واړو په فکر د بهلول افرین ووې... بېشماره پښتانه له کوهستانه د روه په ملازمت د سلطان راغلل».*

د هند پر لور د پښتنو د کډوالۍ څو لاملونه کېدای شي :

- *په هند کې د واکمنو پښتنو د سیاست او جګړې اړتیاوې*
- *په هند کې د پښتنو پراخه واکمني، چې د قبایلي سیمو او پښتونخوا ظرفیتونه یې ور جذب کړل.*
- *په قبایلي او غرنیو سیمو کې د خلکو کمزوری او په کورنیو دودیزو سرچینو تړلی اقتصاد او د کرکیلې لپاره د ځمکې او لازمو اوبو نشتوالی*
- *په قبایلي سیمو کې د نفوس چاودون او قبیلوي پراختیا غوښتنې.* (ډېرې قبیلې، چې پراخې او زورورې شوې د نورو وړو قبیلو ځمکې یې ونیولې. د بېلګې په توګه په وزیرستان کې وزیرو د بنو پر لور مخه وکړه او مسیدو ورمړ او بېټني دې ته اړ کړل، چې له خپلو سیمو پر شا لاړ شي).

پښتنو په هند کې د مغولو تر واکمنېدو پورې د ډیلي پر لور د سیاسي-اقتصادي نقل مکان پر بنسټ ډېر تمایل درلود، خو کله، چې د مغولي نظام په پیاوړتیا سره هلته پښتانه واکمن کمزوري شول، ددوی اړیکي د اقتصادي نقل مکان (Economic Relocation) پر ځای د صادراتو او وارداتو پر اصل ولاړې سوداګرۍ ته واوښتل. د سیاسي او پوځي اړتیاوو پر بنسټ د اقتصادي نقل مکان مساله د بهلول لودي له نقل قول نه ښه را برسېره کېږي.

د غزنوي محمود او احمدشاه بابا په مهالپېرونو کې یوځل بیا په هند کې د پښتنو واکمنۍ راڅوندۍ شوې، خو دا، چې داخل د واک او ټولواک مرکز غزني او کندهار وو، دغه اړیکي او په اقتصادي او پوځي شرایطو ولاړ «نقل مکان» ورو ورو کمزوری شو او د انګریزانو په واکمنۍ او د پاکستان په رامنځته کېدو سره د لاهور او کراچۍ پر لور لاړ. د پاکستان د جوړېدو له وخته تر اوسه د ستراتیژیکو او جیوپولیټیکي اړتیاوو له مخې اقتصادي نقل مکان څه باندې څلور میلیونه پښتانه د کراچۍ پر لور



لېږدولي دي. دغه نقل مکان د قومي جوړښتونو او سیاسي ملاتړي پوتانسیل له پلوه په سند کې د مهاجر قومي غورځنګ (MQM) د بېلتونپالنې د ټولو هڅو مخه ډب کړې ده. لکه څنګه، چې پښتانه په تېرو پېړیو کې په شعوري یا غیر شعوري ډول د بېلابېلو امپراتوریو د سیاستونو او قدرت ملاتړي او دفاعي ځواک ګرځېدلي، په اوس مهال کې هم ترې د همغه ځواک په توګه کاراخستل کېږي.

هند ته د پښتنو له نقل مکان سره سره، د هغوی دودیزه سیاسي قبله کندهار او کابل وو، خو په ۱۹مه او شلمه پېړۍ کې انګریزانو په شعوري ډول په دې کار وکړ، چې د پښتنو مخه د دودیزې سیاسي قبلې « کابل» پرځای د پېښور محوره سیاسي- وګړني پوتانسیل په مرسته د نوې قبلې لاهور( په اوس وخت کې اسلام اباد) پر لور واړوي.

په افغانستان کې تېر ډېری حکومتونه له پېښوره اغېزمن دي. له شاه شجاع نه نیولې تر ، نادرخان (یحی خېلو کورنۍ) مجاهدینو او طالبانو پورې ډېری افغان واکمنان د پېښور محوره سیاسي- وګړني پوتانسیل په مرسته واک ته رسېدلي دي. دغه سیاسي- تاریخي شالید ته په پام سره، پاکستان تل دا جرات کړی، چې په افغانستان کې د اسلام اباد تر اغیز لاندې څوک واک ته ورسوي.

انګریزانو د تاریخ خلاف عمل وکړ، ځکه پښتانه په تاریخي لحاظ د هندوانو تر واکمنۍ لاندې نه دي راغلي، بلکې هند تل د پښتنو تر واک لاندې راغلی دی. هغوی په شعوري ډول کوښښ وکړ، چې د پښتنو تاریخي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکي په ډیلي او پنجاب پورې وتړي. په سیاسي او اقتصادي لحاظ له پنجاب (اوسمهال لاهور او اسلام اباد) سره د پښتنو د وصل اصلي هدف دا و، چې د کابل او سرحدي پښتنو ترمنځ تاریخي- سیاسي رېښې وشلېږي او خلک په نوې جغرافیا کې یو نوی هویت ومومي. په وروستیو کلونو کې، چې پاکستان منځ ته راغی، یوه نوې سیاسي تیوري هم منځ ته راغله، چې که د قومي نفوذ او اغیز مساله را پورته کېږي بر اقلیت پښتون باید د لر اکثریت پښتون تر واک لاندې وي، خو دا، چې دغه تیوري د پښتنو د یوه بېل هېواد د رامنځته کېدو او د پاکستان د ټوټه کېدو لامل ګرځي، پاکستاني

ستراتیژیستان به یې د پلیتابه هڅې ونه کړي.

برېټانیا د پښتنو ترمنځ د بېلتون په سیاست کې تر ډېره بریالۍ وه، ځکه په پښتنو سیمو کې د کانګرس او مسلملیګ نفوذ د سیاست او واک محور پر لاهور او ډیلي را وڅرخاوه. پیښور محوره پښتنو (باچاخان) او د افغانستان پاچا امان الله خان له انګریزانو نه د خپلواکۍ اخستنې په هڅو کې د سیاست او جغرافیا اصلي تستې له لاسه ورکړې او د خپلواکۍ اخستنې د ناسم تعریف له مخې مو د خپلو نیمګړتیاوو پایلې د هند نیمې لویې وچې د وېش په وخت کې ولیدې. د امان الله خان د خپلواکۍ اخستنې نیمګړي اقدام او په هند پورې د پښتنو د سیاسي برخلیک تړنې هڅو پښتانه په څلورو بېلو ټوټو (افغانستان، بلوچستان، سرحد او قبایلو) کې بې برخلیکه پرېښودل.

وزیرستان دغه مهال د ټول برېټانیایي هند د مبارزو د ثقل مرکز و. څومره، چې وزیرستان او قبایلي سیمې تر کندهار وروسته د افغانستان د سیاست او جغرافیا په جګړو کې د ثقل دویم مرکز و، د هغه دوه برابره یې دا توان درلود، چې د پنجاب، لاهور او نوي ډیلي د ولسي مقاومت سرې سپرغۍ په اور بدلې کړي. وزیرستان خپل دغه ځواک په اوسمهالي پېر کې هم ثابت کړی، ځکه لا هم له کابل نه تر لاهور او کراچۍ پورې د یوویشتمې پېړۍ د پښتون مقاومت د ثقل مرکز دی.

انګریزانو د شلمې پېړۍ په دویمه او دریېمه لسیزه کې خپل ټول پوځي امکانات پر وزیرستان او قبایلي سیمو متمرکز کړي وو، ځکه یو خوا دا سیمه د برېټانیایي هند او افغانستان، روسیې او محور هېوادونو ( ایټالیا، جرمني او ...) ترمنځ له خورا سخت مقاومت سره مل حایل و، له بله اړخه په دې سیمه کې د وخت درې مهمو استخباراتي شبکو ( کمینټرن، ابویر او ایټالیایي څارګرو) پراخ فعالیت درلود. دغه مسایل ددې لامل ګرځېدلي وو، چې برېټانیا خپل ډېری اقتصادي او پوځي سرچینې (په میلیونونو پونډه، وسلې او جګړه بیز ځواک) پر وزیرستان او نورو قبایلي سیمو ولګوي، په داسې حال کې، چې ددې سیمو له نشتمنو خلکو د مالیې اخستل هم په لوی لاس ځان ته غم کټل و.

انګریزانو د نن په څېر دې ټولو مسالو ته په پام سره، په سرحد کې د پښتون



نشنلیزم د بیدارۍ سیاسي مبارزې او د پوهې او پرمختګ فردي فعالیتونه تر سخت څار او کنټرول لاندې راوستي وو.

په پښتنو کې د یووالي ستر محرکات اسلام، پښتو، پښتونولي، پښتني جغرافیا او پښتون نشنلیزم دی. څومره، چې پښتانه له خپلې جغرافیا، قومي جوړښتونو، ژبې او ټولنیزو ارونو او معیارونو لرې پاتې شوي، پرمختګ یې کړی، خو له خپلو همژبو سره یې د پیوستون روحیه کمزورې شوې او په نهایت کې یې د پردیو پر وړاندې د مقاومت زور هم اوبه شوی دی. د انګریزانو سیاست د پښتنو پر یوه مخلوط فرهنګ او د قبیلوي جوړښتونو ترمنځ په تفریق او تربګنۍ ولاړ و. هغوی قبیلوي جوړښتونه له اختلافاتو سره مل ژوندي ساتل.

د الفنستون او اولف کارو په تاریخ سپړنه کې ټول کوښښ په دې دی، چې د درانیو او غلجیو، د سلیمان د غرو او اباسین د غرو ترمنځ اختلاف او بېلتون ثابت کړي. هغوی په خپل شاوخوا سلن کلن حکومت کې دا هڅه کوله، چې د پښتون او افغان، پښتون او پټان، پشتو ،پختو- پښتو، لویدیزو او ختیزو افغانانو، کرلاڼي او نورو پښتنو په نومونو په پښتني نفوس او جغرافیا کې یو داسې بېلتون راولي، چې پښتون د کابل او لاهور له ګټو سره سم په دوو بېلو محورونو ووېشي.

د ۱۹۱۹ز کال په فبروري کې د امير حبيب الله خان له وژل کېدو وروسته، د هغه زوی امان الله خان د پاچاهی، خپلواکۍ او په مې میاشت کې له انگریزانو سره د دریمې افغان- انگریز جگړې اعلان وکړ. افغان ځواکونو د پکتیا، چترال، خیبر او کندهار له استقامتونو پر انگریزانو بریدونه پیل کړل.

انگریزانو د ۱۹۱۹ز کال په مې کې د افغانستان سیاسي وضع او د پوځ تحرکات له نږدې څارل. دغه مهال د دیره جاتو، بنو او سویلي او شمالي وزیرستان د انگریزي ځواکونو عمومي قوماندان تورن جنرال ووډیاټ و. د مې پر ۲۱مه جنرال نادرخان له خپلو ځواکونو سره یوځای د خوست له لارې د توچي او وانه پر لور د بریدونو تیاری نیوه. د وانه او توچي ملېشاوو د سیاسي او اداري پولو پر خوندي کولو او ټینگښت کار کاوه، خو وضعیت دومره ژر تغییر وکړ، چې له بنو نه یې د جنرال ووډیاټ د ځواکونو مرستې ترلاسه نه کړای شوې. د جنرال ووډیاټ ځواکونو یو خوا د افغان او مسیدو او وزیرو د لښکرو پر وړاندې د مقاومت توان نه درلود او بل خوا په توچي او وانه کې وزیر او مسید له افغان ځواکونو سره د مخکینۍ همغږۍ پر بنسټ، د ډېرو پوستو پر نیولو بریالي شوي وو. انگریزانو، چې کله په گومل، توچي او وانه کې د مسیدو او وزیرو قومونو مقاومت او په انگریز ملېشه وو کې د پښتنو سرتېرو له خوا د افغان ځواکونو د هرکلي پیښې ولیدې، د برېټانیایي هند د نورو سیمو پر لور یې پیښې سپکې کړې.

نادرخان د مې پر ۲۳مه د متون له لارې له درې زرو کسانو سره په کیتو او توچي شمالي وزیرستان ته راغی. د مې پر ۲۴مه د بنو د ۶۵مې لوا قوماندان ډگر جنرال لوکاس غوښتل، چې د برتوچي د ملېشو گاریزیون او سیمه ییزې قبیلې دردونې ته د ورتلونکو سرتېرو تر ورتگ پورې دفاع ته وهڅوي. په همدې وخت کې دوی ته خبر ورسېد، چې جنرال نادرخان د تل او میرانشاه پر لور پرمختگ کوي. د شمال لویدیز ایالت د سرحدي ځواکونو عمومي قوماندان امر وکړ، چې ځواکونه زر دردونې ته وگرځي او دلته د افغان ځواکونو د پرمختگ مخه ونیسي. له دغه حکم وروسته ډگر جنرال لوکاس د برتوچي پوستو د تخلیې امر وکړ. دوی د مې پر ۲۵مه خپلې پوستې تخلیه کړې. د انگریز د

اووم څپرکی

# د «تخت گټنې» جگړې

د افغانستان د خپلواکۍ له جگړې او د جهاد تر اعلان وروسته، د برېټانیایي هند مسلمانانو، د اسلامي خلافت پلویانو، خدایي خدمتگارانو، د وزیرستان او نورو قبایلي سیمو خلکو امان الله خان ته د ناجي او د اسلام د بادشاه په سترگه کتل.

کله، چې امان الله خان د سقاوي اړودوړ په پایله کې له واک نه لرې شو، د هند پر مسلمانانو او د وزیرستان او قبایلي سیمو پر خلکو یې خورا بدې اغیزې وکړې. په لاهور، کراچۍ او نورو سیمو کې خلکو د امان الله خان د بېرته راتگ غوښتنې کولې او په وزیرستان کې عملاً د هغه د مرستې لپاره خلکو بسپنې راټولولې.

## د زلمي پاچا په ننگه

په اروپا کې د لومړۍ نړیوالې جگړې له پیلېدو سره سم په افغانستان کې د انگریز ضد جگړې پلویان موندل. په جگړه کې د برېټانیا پر ضد د ترکیې گډون په کابل او برېټانیایي هند کې د اسلامي خلافت او له برېټانیا سره په جگړه کې ښکیلې ډلې او مبارزان هم د خپلواکۍ ساتنې جگړې ته وهڅول. امان الله خان او د امیر حبیب الله خان ورور نایب السلطنه نصرالله خان د هغو کسانو په ډله کې وو، چې د لومړۍ نړیوالې جگړې په درشل کې یې د انگریزانو پر ضد د جگړې پلویتوب کاوه.

منظمو ځواکونو وړې ډلې دته خېلو، توت نري او شپانه خیساره ته لاړې. د ټبنټې په ترخ کې یې ګرانبیه توکي له ځانونو سره واخستل او پاتې څیزونو ته یې اور واچاوه. د ملېشو ګاریزیونونه او نور ځواکونه محمد خېلو ته وتښتېدل. دوی خپل پوځیان له بویه پوستې هم و اېستل او پوسته یې یوه سیمه ییز داوړ قومي مشر ته وسپارله. د پوستو د سوځونې او تخلیې خبر د اور په څېر په وزیرو کې په خپرېدو و. وزیرو د غچ اخستنې ښه موقع وموندله او په بویه او محمد خېلو کې تر راغونډېدو وروسته یې بویه پوسته ونیوله. په محمد خېلو کې راغونډې شوې ملېشې د دردونې پر لور وخوځېدې، خو په ملېشو کې اکثریت کسان له افغان ځواکونو سره د جګړې پلویان نه وو او د شپې په اوږدو کې تړې شاوخوا ۱۵۰ تنه له وسلو سره یوځای لاړل.

د مې پر ۲۴مه د نادرخان ځواکونه د کیتو له سپینکي لښتي واوښتل او د سپین وام مخه یې ونیوله. په شمالي وزیرستان کې د مې پر ۲۵مه انګریزانو خپل پوځیان او تجهیزات د بر توچي له پوستې، شیوې کلا او سپین وام نه و اېستل او د ټبنټې پرمهال یې سپین وام کلا ته اور واچاوه، وروسته کلا د جګړن دادمحمد اورکزي او جګړن عبدالقیوم ځواکونو تر خپل واک لاندې راوسته.[۱۰۱]

انګریز پوځیان شیره تله او د مې پر ۲۵مه ایدکو ته وتښتېدل، خو سپاره سرتېري یې د خجوري پر لور لاړل. د انګریزانو شاوخوا ۱۸ ملېشه سرتېري او د هغوی منصبوال ایدکو ته پر لار له افغان ځواکونو سره یوځای شول او د دته خېلو، توت نري، شپانه خیساره کلاوې هم افغان او سیمه ییزو مبارزانو ونیولې. ملېشه یوه ورځ وروسته په میرانشاه کې خپل مرکز ته لاړه. د بنو د ۶۷مې لوا قوماندان تصمیم ونیوه، چې د برتوچي پوستې نه خپل پوځیان وباسي، خو پوستې د تخلیې پرځای افغان ځواکونو او قبایلي لښکرو ته تسلیم شوې.

د سپین وام او شیوې پوستې په تخلیه کولو انګریز افسران پښېمان وو، ځکه دا له ایدکو نه په ۲۱ او ۲۹ میله واټن نږدې پرتې وې. دلته پر دې لار د اوبو هیڅ سرچینه او داسې پټنځای یا مرستندویه پوسته نه وه، چې ملیشه ځواکونه تړې د شانګ او ماتې، یا



له سپین وام نه د تعقیب په صورت کې مرسته واخلي. دوی په سختو حالاتو کې د ملېشو د مرستې لپاره له خجوري کڅ نه د کیتو پر لور د ډګروال بي بي الیووډ تر مشرۍ لاندې ځواک واستاوه. د برتوچي له نیولو وروسته مداخېل، منظرخېل او خدرخېل وزیر، بر داوړ او د مسیدو یو ستر لښکر د میرانشاه په شاوخوا کې د ملېشو پر مرکز د برید په موخه سره راغونډ شول. د قبایلي لښکرو او افغان ځواکونو یووالي په میرانشاه کې د انګریزانو او د هغوی د هندي او ځایي ملېشو وضعیت کړکېچن کړ. د شمالي وزیرستان په ملېشو کې شاملو قوماندانانو او سرتېرو ته له خوست نه داسې لیکونه راغلل، چې د انګریز ځواکونو لیکې پرېږدي او له افغان ځواکونو سره یوځای له وزیرستان نه د برېتانیایي ځواکونو د اېستلو په جګړه کې برخه واخلي. د اړیکو د پراختیا په پایله کې شاوخوا ۶۰۰ وزیر له ملېشو نه د جلا کېدو په لټه کې شول، خو خټک سرتېري انګریزانو ته وفاداره پاتې شول. ددوی ترمنځ په کلا کې شخړې وشوې او د جمعه دار غیور ترین په مشرۍ وزیرو د شپې په اوږدو کې د کلا په قراولخانه کې سوري وکړل او له وسلو او مهماتو سره یوځای د افغان ځواکونو لیکو ته ورغلل. د اپرېدیو سرتېري هم له افغان ځواکونو سره یوځای شول او د مې پر ۲۶مه انګریزانو خپل پوځیان میرانشاه ته سره ور غونډ کړل. د شمالي وزیرستان سیاسي استازي تورن ارګریټ په خپلو ځواکونو کې د وزیرستان سرتېري وړ ونه ګڼل، ځکه هره شیبه یې د انګریزانو خلاف کرکې ډېرېدې. ارګریټ وزیر له کلا نه و اېستل او ددفاع چارې یې هندي ځواکونو ته وسپارلې.[۱۰۲]

د میرانشاه کلا محاصرې پنځه ورځې وخت واخست.

مبارزانو شاوخوا ټولې پوستې ونیولې. د مې پر ۲۶مه او ۲۷مه شپه د لر توچي پوستې او سیدګي پوسته تر بریدونو لاندې راغلې او د ټل، سور کمر، ایشه( اوښه)، خجوري او شینکي پوستې له مهماتو سره یوځای په کنډوالو بدلې شوې. د مې پر ۲۷مه د انګریزانو یوه څارونکې الوتکه، چې له کوهاټ نه د دردونې پر لور د لښکرو د څارګرۍ لپاره را الوتې وه، مبارزانو وغورځوله. انګریزانو د خپل هوایي ځواک د اعتبار خوندي کولو په موخه د جون پر دویمه په توچي کې پر کلیو بمبارۍ وکړې.[۱۰۳]

په جنوبي وزیرستان کې تورن جنرال ایس ایچ کلایمو هم له ورته وضعیت سره مخ و. دلته ۱۶زره مسیدو او اووه زره وزیرو د نادرخان له ورتګ مخکې خپلې سوبې پیل کړې وې. د مسیدو مبارزانو د انګریزانو ټولې مخابراتي لارې وشلولې او ګڼې چاونۍ او پوستې یې ونیولې.

د وانه کمپ په ۱۸سوه کسیزه ملېشه کې دغه وخت د اتو انګریز او ۳۷ پښتنو افسرانو تر قوماندې لاندې ۲۳۰ وزیر، ۳۵۰ خټک، ۹۰ یوسفزي، ۶۰ بېټني، ۷۸۰ اپریدي، ۱۳۰ اورکزي، ۹۰ ګدون او ۹۰ شیراني سرتېري په دنده بوخت وو، خو د شمالي وزیرستان ملېشو ته په پام سره، پر دوی د انګریزانو پوره باور نه و.

د مې پر ۲۱مه افغان ځواکونه د موسی نیکه له لارې د وانه پر لور د پرمختګ په حال کې وو. دغه وخت د جنوبي وزیرستان د ملېشو قوماندان تورن جي ایچ روسېل و. سیاسي استازی تورن سي جي کروستوایټ په سرویکي کې د مسیدو یو شمېر ملکانو ته د لونګۍ او امتیازاتو پر وېش بوخت و. چیف کمشنر، سیاسي استازي او د ملېشو قوماندان ته سپارښتنې کړې وې، چې د پیسو په زور قومي مشران د افغان ځواکونو له ملاتړه را وګرځوي. د مې پر ۲۵مه د جنوبي وزیرستان سیاسي استازی او پوځي جنرالان د توچي له تخلیې خبر شوي وو او د افغان ځواکونو او مسیدو او وزیرو د ډېرېدونکو بریدونو پر وړاندې یې د مقاومت تاب نه درلود.

د مې پر ۲۶مه مسیدو او وزیرو د وانه پر کمپ برید وکړ. انګریزانو خپل یو شمېر ځواکونه ماښام شپږ بجې د تیارې په خپرېدو سره د خجوري کڅ او ژوب پر لوري واېستل او پاتې نور یې پر مرتضی متمرکز کړل. کپتان ایچ ار ټریل، او بریدمن ار اي هونټ، اي ار بارکر، په همدې ماښام له خپلو اویا سرتېرو سره له وانه کمپ نه د تورې تیرې پر لار کرب کوټ ته ووتل. کپتان ټریل او بریدمن هونټ غوښتل، چې ګاریزیون پرېږدي او تنایي ته ځان ورسوي. بریدمن بارکر د خجوري کڅ، مغلکوټ او ژوب پر لور لاړ. د شپې اووه نیمې بجې تورن روسېل د کمپ پښتنو افسرانو ته خبر ورکړ، چې یو یو له کمپ نه ووځي. دوی بیګاه پاوکم لس بجې د تورن جنرال ایچ روسېل، کپتان سي تي برن هورداک،



بریدمن سي اېس لیز، تورن اون او بریدمن اي جي مککورستې تر مشرۍ لاندې د توی خولې پوستې پر لور ووتل، خو د توی خوله په غاښي کې انګریز افسرانو ولیدل، چې یو اپریدی او وزیر نشته او ټول ترې پر لاره بېل شوي دي. له دوی سره یوازې سل تنه هندي پوځیان پاتې وو، خو دوی خپل مزل جاري وساته او د مې پر ۲۷مه سهار اووه بجې د توی خولې پوستې ته ورسېدل. دلته پر دوی له ختیزې خوا مبارزانو ډزې وکړې، ځکه ددوی د ملاتړ لپاره په پوسته کې هیڅوک هم نه و. روسېل پرېکړه وکړه، چې د مغل کوټ پر لور خپل مزل جاري وساتي. دوی له سختې ګرمۍ او د وزیرو د بېلابېلو مبارزو ډلو له بریدونو سره مخ وو. پرلاره ددوی ډېر ملګري په جګړه کې ووژل شول او ډار، لوږې او تندې یې روحیې ځپلې وې. روسېل او تر قوماندې لاندې سرتېرو یې مغلکوټ پوسته د سیاسي استازي په لارښوونه پرېښوده او د مې پر ۳۰مه د میرعلي خېلو پر لور وخوځېدل. په مغولکوټ کې د مبارزانو د سختو او پرله پسې بریدونو په پایله کې کپتان سي تي برن هورداک، کپتان ایچ ار ټریل، کپتان اي ایف ریلي، بریدمن سي اېس لیز او بریدمن اي جي مککروستي ووژل شول او تورن روسېل او بریدمن ار اي هونټ ټپیان شول. کپتان ریلي او ځانګړی مرستیال کمشنر خان بهادرمحمدیارخان مغل کوټ ته تر رسېدو مخکې وژل شوي وو. د دوی مرګ ژوبله ۴۰ تنو ته ورسېده او یوه برخه یې د منې خوا، سنډیمن کمپ او شیرانیو پر لور وتښتېده.[۱۰۴]

د جنوبي وزیرستان له ملېشو نه یوازې ۶۰۰ تنه پاتې وو، چې هغوی هم ځانونه مرتضی او ټانک ته رسولي وو. له دوی نه ۱۱۰۰ تنه بېل شوي وو . ۱۱۹۰ رایفل ټوپک، ۵۰ مسکیټ او د ۳۰۳ ټوپکو ۷۰۰ زره کارتوس یې له ځانونو سره وړي وو. ځینې رپوټونه وایي، چې د مې پر ۲۶مه مسیدو او وزیرو د وانه پر کمپ له برید وروسته د شپږو توپونو په ګډون ۱۱۹۰ مارټیني هنري۳۰۳ ټوپک، یو میلیون کارتوس، دوربینونه او نور توکي ترلاسه کړل، خو دا روښانه نه ده، چې دغه وسلې له لومړنیو هغو بېلې وې او که همغه د غنیمت په توګه شمېرل شوي دي.

د ملا فضل دین مبارزانو ګرنۍ او خیرګي کلاوې محاصره کړې او د ارتباطي مزو

تر غوڅولو وروسته یې د ۶۰۰۰ مبارزانو په ملاتړ د چنړولي کلا تر محاصرې لاندې راوسته. انګریزانو په سیدګي او چنړولي کې خپل ځواکونه تقویه کړل. د مې پر ۲۹مه د ډګر جنرال پي جي میلز په مشرۍ انګریز ځواکونو په خیرګي کې خپلې پښې ټینګې کړې او د چنړولي، ګرنۍ ، مانجي او نورو سیمو محاصرې یې ماتې کړې. مسیدو او شیرانیو سرتېرو د مرتضی، ګومل، مانجي او زرکاني پوستې تر پرله پسې بریدونو لاندې راوستې.[105] د اګست پر اتمه د موسی خان مسید تر مشرۍ لاندې ۲۰۰ عبدلیو سرتېرو د سیدګي او شینکۍ ترمنځ د پنجاب د ۸۴کنډک پر سرتېرو مرګونی برید وکړ او د یوه افسر په ګډون یې شل تنه ترې ووژل.

د انګریزانو خلاف دغه جګړې د ملا فضل دین، ملک موسی خان مسید، رمضان خان مسید، جنرېل ملک بهادردین لنګرخېل، حمزالله احمدزي وزیر، زرخان او زرین وزیر په مشرۍ ترسره کېدې.

افغان او قبایلي سرتېري د مې پر ۲۸مه له سپین وام نه د ټل پر لور وخوځېدل. د مې پر ۳۱مه نادرخان د ټل کلا ونیوله او له کوهاټ نه، چې د کلا د بېرته نیولو په هوډ د ډګر جنرال ار ایچ ډایر په مشرۍ کوم پوځ راخوځېدلی و، پر لاره د ببرک خان ځدراڼ له څلور زره کسیز ځواک سره مخ شو.[106]

وزیرستاني مبارزان او افغان ځواکونه او قومي لښکرې د پرمختګ په حال کې وو، خو د جون پر دریيمه د دواړو خواوو ترمنځ اوربند وشو او جګړه ودرېده. له اوربند تړون لاسلیکولو وروسته انګریزانو یو شمېر کلاوې بېرته ونیولې او په دته خېلو، میرانشاه، ټل، توچي، انغر کلي، تېوغري کلي، کجوري او اپيي کلیو کې یې ګڼ کورونه وسوځول او پر قبیلو او پرګنو یې د افغان ځواکونو د ملاتړ له امله درندې ناغې کېښودې.

مسیدو او وزیرو د انګریز خلاف د بنو په هوایي ډګر، کجوري ، شینکي تنګي، سیدګي، ګمبیلې تنګي، مانجي، ګرنۍ او نورو سیمو کې تر اوږدې مودې پورې شخړې شولانګې وکړې. د وانه کلا د اګست میاشتې تر اتمې نېټې پورې د مسیدو او وزیرو په لاس کې وه. افغان مبارزان لالا پیر، عبدالرزاق، شاه دوله خان له مسیدو سره یوځای د



انګریز پر خلاف په جګړو بوخت ول. له شاه دوله خان سره ۳۰۰ تنه مبارزان او څو توپونه وو او په وانه، سرویکي، کانیګروم(شوره)، ګومل او نورو سیمو کې یې مسید د انګریزانو پر ضد مبارزې ته هڅول. په نومبر میاشت کې انګریزانو پر مسیدو مرګونې میاشتنۍ بمبارۍ وکړې او په زرګونو پونډه بمونه یې پر کلیو او جبهو را وغورځول.

نادرخان په اکتوبر کې د وزیرو او مسیدو مشران متون ته وغوښتل او بیا یې په کابل کې له افغان پاچا امان الله خان سره وکتل. امان الله خان د انګریز خلاف د وزیرو او مسیدو د سرښندنو ستاینې وکړې او هر مشر ته یې ۳۰۰ روپۍ، اعزازي رتبې او ځمکې ورکړې او سرتېرو ته یې سرې ۱۰۰ روپۍ ورکړې. دوی د نومبر په لومړیو کې بېرته وزیرستان ته راغلل ، خو یو شمېر یې په افغانستان کې پاتې شول. د افغان انګریز په دریيمه جګړه کې مسیدو پر انګریزانو سل ستر او په لسګونو واړه بریدونه کړي وو، چې د سر او مال دروند زیان یې ور اړولی و. د شمالي وزیرستان وزیرو ۵۰ ستر او په لسګونو واړه او د وانه وزیرو ۳۲ ستر او ګڼ واړه بریدونه کړي وو.[107]

## سقاو ضد پاڅون

د حبیب الله کلکاني په لاس د امان الله خان د واکمنۍ تر نسکورېدو وروسته، تر ډېر وخت پورې د پخواني پاچا هڅې پر دې متمرکزې وې، چې د کندهار او شاوخوا سیمو جنګیالي د تخت ګټنې جګړې ته وهڅوي.

امان الله خان د خپل وخت د کورنیو چارو وزیر عبدالاحد مایار ، شاه دوله خان او ملا عبدالرزاق او ده جنرېل یارمحمد مریاني ته دنده سپارلې وه، چې د مسیدو او وزیرو سیمو ته د جهاد فرمانونه ورسوي. امان الله خان د۱۹۲۹ کال په اپرېل (د ۱۳۰۸ز کال د غويي میاشتې په پیل) کې له کندهاره د غزني پر لور حرکت کاوه او د مسیدو او وزیرو لښکرې هم باید په همدې وخت کې غزني ته رسېدلې وای. د ۱۳۰۸ کال د حمل پر ۲۸مه (د اپریل ۱۶مه) دغه فرمانونه دوزیرستان غړوبه، وانه او شکي سیمو ته ورسېدل. د غويي پر لومړۍ (اپریل۲۰مه) نېټه د مسیدو او وزیرو شاوخوا ۶۵۰۰ تنه مبارزان له

وسلو سره یوځای د واڼه د خوجلخېلو په جومات کې د ملا فضل دین او ملا حمزاللّٰه احمدزي وزیر تر مشرۍ لاندې سره راغونډ شول او تر پرېکړو وروسته د خپلو ځانګړو مشرانو تر مشرۍ لاندې د غزني پر لور روان شول. دغه لښکر د غویي پر دریمه د ارګون کلا د محاصرې په موخه ارګون ته ورسېد. غونډ مشر عبدالغیاث کوهدامنی دا مهال د ارګون پوځي کلا قوماندان و.[۱۰۸]

د مسیدو او وزیرو لښکرو قوماندانانو پر دې پوځي کلا د برید پلان طرح کړ، خو مخکې له دې، چې دوی پر کلا برید وکړي، لښکریان خبر شول، چې د امان اللّٰه خان لښکرو ماته کړې او بېرته کندهار ته ستون شوی دی. وزیر او مسید د امان اللّٰه خان د لښکرو له ماتې وروسته، بېرته وزیرستان ته وګرځېدل.

امان اللّٰه خان هومره مالي امکانات نه درلودل، چې د خپلو مبارزانو او جګړې لګښتونه ترې وکړي، خو د هغه تر تګ وروسته، نادرخان په دې بریالی شو، چې د امان اللّٰه خان له پلویانو نه ګټې مرستې ترلاسه کړي.

نادرخان د ۱۹۲۹ ز کال د مې پر ۲۳مه له فرانسې نه پېښور ته راغی او په قبایلو او وزیرستان کې یې د اماني تخت ګټنې تر شعار لاندې د غفارخان په مشرۍ د خدایي خدمتګارانو او د ملا فضل دین په مشرۍ د ملا پیونده د غورځنګ او نورو خلکو د ملاتړ ترلاسه کولو هڅې پیل کړې. نادر په مارچ میاشت کې جنوبي ته لاړ او په خلکو کې یې د سقاوي اړودوړ خلاف د راپورته کېدو هلې ځلې پیل کړې.

د کابل یا پښتون واک د ژغورنې په جګړه بېز پلان کې نادرخان د جګړې اصلي رول مسیدو او وزیرو ته ورکړی و، ځکه هغوی هم ښې وسلې درلودې او هم یې له انګریزانو سره په پرله پسې جګړه کې پوځي تاکتیکونه بریالي وو.

مسیدو او وزیرو ته ددې رول سپارنې یو لامل دا هم و، چې د لښکر غوځ اکثریت دوی و او ټول په خپلو وسلو او تجهیزاتو سمبال وو. هغوی له خپلو ۹۰ زرو جنګیالیو څخه شاوخوا ۴۵۰۰ جنګیالي راغونډ کړل، چې د کابل د تخت ګټنې لپاره یې کفایت کاوه. د مسیدو او وزیرو لښکر د ۱۹۲۹ز کال په مې او د ۱۳۰۸ل کال د غویي په



وروستیو کې[۹] له وزیرستان نه وخوځېد او د جوزا پر لومړۍ نېټه یې د ارګون پوځي کلا، چې قوماندانې یې د غونډمشر عبدالغیاث خان او کنډکمشر سید حسن خان په لاسونو کې وه، محاصره کړه. دغه مهال پر دې کلا د سقاو د زوی بیرغ ځړېده. غونډمشر د وزیرو او مسیدو خبرداري ته پام ونه کړ او سرتېرو هم سهار پنځه بجې پر کلا بریدونه پیل کړل. ۱۹ ورځې وروسته کلا مسیدو او وزیرو ته ونیوله او ټولې وسلې او مهمات هم ددوی لاسونو ته ورغلل. د مسیدو او وزیرو لښکرمشرانو نادرخان ته د ارګون د کلا خبر ورکړ. دغه لښکر پر لاره د کوچیانو او د سقاو د ملاتړو د شته والي له امله د هغوی تر کوچېدو پورې وځنډېد، ځکه نه یې غوښتل، چې په خپل منځ کې یې وینې سره توی شي. د ۱۹۲۹ کال د اګست پر ۱۸مه دوی په ماما زیارت کې د یوې غونډې په ترڅ کې پرېکړه وکړه، چې د ارګون کلا وسلې به له ځان سره اخلي. د خوست په ختیز کې د مسیدو او وزیرو له مبارزانو سره د ټنیو مبارزان هم یوځای شول. دلته د سقاو یو شمېر پلویانو ددوی پر وړاندې ستونزې پیښولې، خو ۱۲ ورځې وروسته ۷۱ منګل او د زمرک ځدراڼ په مشرۍ اتیا ځدراڼ هم له دوی سره ملګري شول. وزیرستاني لښکر د خوست ښار ونیو او د خوست د چاونۍ وسلې یې ترلاسه کړې. په بنګي باغ کې د غونډمشر قاضي عبداللّٰه شمل په مشرۍ شاوخوا ۳۰۰۰ جنګیالیو ددوی پر لښکر ډزې وکړې او په دې توګه د دواړو اړخونو ترمنځ درې ورځې جګړه روانه وه، خو په پای کې د سقاو پلویانو ماته وکړه او لښکرې یې خورې شوې. نادرخان او وروڼه یې د علیخیلو په سفري کې میشت ول او په څمکنیو کې یې د سقاو پلویانو پوره څلور میاشتې د پرمختګ مخه ډب کړې وه. د مسیدو، داوړو، ټنیو او وزیرو لښکرو دغه خنډ له مخې لرې کړ او په علي خېلو کې له نادرخان سره یوځای شول. د ۱۹۲۹ز کال د سپټمبر پر ۲۵مه نادرخان او د

---

*[۹]ـ د دوی د سترو او ورو ډلو مشران شهزاده ملا فضل دین، ملک موسی خان مسید، جنرېل یارمحمد مریاڼي، ملک ډانډي مداخېل وزیر، فرقه مشر انګورخان وزیر، فرقه مشر دلبازخان وزیر، فرقه مشر ملک شودي خېل داوړ، فرقه مشر امیرخان نازي خېل، جنرېل علي بات خان، مزرکی (دادک) لنګرخېل او کرنېل سادي خان وو.*

وزیرستان مشرانو سره وکتل. د همدې میاشتې پر ۲۸مه په جرگه کې پرېکړه وشوه، چې د ځدرانو، منگلو او ځاځیو لښکر به بېل، د مسیدو، وزیرو، داوړو او تنیو به بېل وي او نادرخان به د کابل تر نیولو پورې په ځاځیو کې وي او شاه ولي خان به له دوی سره ملگری وي. د سپټمبر پر لومړۍ نېټه وزیرستاني مبارزان د دوبندي او کابل پر لور لاړل. په دوبندي کې شاه ولیخان ددوی هرکلی ووایه او بیا د شترگردن له لارې خوشي ته لاړل. د ۱۳۰۸ کال د تلې پر اتمه (د ۱۹۲۹کال د سپټمبر پر ۲۹مه) د وزیرو او مسیدو ۱۲۰۰ تنه مبارزان د لوگر د واغجان تنگي پر لور وخوځېدل. په دغه لښکر کې د وزیرو او مسیدو شمېر ۴۵۰۰ تنه ، د تنیو ۹۰ تنه، د داوړو جنگیالي ۲۰۰ تنه، د منگلو ۷۰، د ځدراڼو۸۰، د ځاځیو او گردیز ۴۰۰ او د سلیمانخېلو۳۰۰ تنه جنگیالي وو.[109]

یوه ورځ وروسته د محمدعمرخان ناصري (سورجرنېل) او پردل خان سقاو پلوه ځواکونو سره ونښتل. په دې جگړه کې واغجان تنگی او۵۰۰ سقاویان ونیول شول او گڼ نور یې مړه او ټپیان شول. له وزیرو او مسیدو نه دلته ۲۰ تنه ووژل شول. هغوی وروسته د زرغون ښار پر لور لاړل، خو په همدې وخت کې سقاویان بېرته واغجان تنگي ته ورغلي وو. وزیرو او مسیدو د تلې پر ۱۱مه نېټه د محمد اغې ولسوالۍ له نیولو وروسته واغجان تنگی بېرته ونیو او په زرغون ښار کې محمدگل خان مومند هم له دوی سره یوځای شو. پر ۱۴مه نېټه احمدزي کوچیان د محمدگل خان مومند تر مشرۍ لاندې د موسهي له لارې او وزیر، مسید، داوړ او تنې د چار اسیاب له لارې د کابل خولې ته ورسېدل او د سقاوي ځواکونو او دوی ترمنځ سختې جگړې پیل شوې. شاه ولیخان له خپلو ملگرو سره چهلستون ته رسېدلی و. وزیرستاني مبارزانو بیني حصار، لاهورۍ دروازه، بالاحصار او شاوخوا سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او د میزان پر ۱۷مه (اکتوبر اتمه) یې پر ارگ د برید لپاره ځانونه چمتو کول. شاه ولیخان د شیر دروازې د غره د نیولو پر سر یو میلیون افغانۍ او د ارگ نیونې لپاره ۷۰۰ میلیونه افغانۍ جایزې ټاکلې وې. وزیرو او مسیدو پر دې غره دوه ورځې جگړې وکړې او بالاخره د اکتوبر پر اتمه نېټه ددوی لاس ته ورغی.



حبیب الله کلکاني پر همدې ورځ خپلو جنگیالیو ته د ښار پرېښودو اعلان وکړ او ۴۰۰ ځانگړو ساتونکو ته یې د ارگ د دفاع مسوولیت وسپاره. وزیرو او مسیدو سهار وختي د ارگ دیوالونو ته ځانونه رسولي وو. د سقاو شاهي ځواک هم سخت مقاومت کاوه او د خیرخانې له خوا پردل له شپږو زرو جنگیالیو سره د ارگ پر لور رهي و. ۱۲۰۰ مسید او وزیر د هغوی پر وړاندې ودرېدل او له کابل نه بې د پردل خان له مړي سره یوځای وتلو ته اړ کړل.

د میزان پر ۱۹مه (د اکتوبر پر ۱۰مه) د نورالمشایخ مجددي ورور اغاگل مجددي له خپلو نورو ملگرو سره یوځای د سقاو د زوی د تسلیمۍ او امن غوښتنې پیغام راوړ. شاه ولیخان او شاه محمودخان اود هغوی نورو ملگرو ددغه پیغام منلو ته غاړه کېښوده، خو مسیدو او وزیرو د کلکاني د اعدام غوښتنه کوله. وروسته دوی هم په ارگ کې د هغوی د ایسارو ښځینه او نارینه بندیانو د خلاصون په موخه خپله غوښتنه بېرته واخسته. حبیب الله کلکانی د ارگ د شمالي دروازې له لارې د کوهدامن پر لور وتښتېد او ارگ ته د وزیرو او مسیدو لښکرې ننوتې. د ارگ ساتنې مسوولان سلطان خان او امین خان وزیر وو. [10]د کابل په جگړه کې د مسیدو او وزیرو ۲۰۰ مبارزان ووژل شول او پنځوس نور ټپیان شول. د ۱۳۰۸ز کال د میزان پر شلمه د شپې ناوخته کابل په بشپړه توگه د مسیدو او وزیرو لاس ته ورغی. درې ورځې وروسته نادرخان هم چهلستون ماڼۍ ته ورسېد. وزیرستانیان د ښار په ساتنه لگیا وو او نادرخان او وروڼو یې په خپلو منځونو کې د حکومت تشکیلات جوړول. وزیرستانیان په دې تمه وو، چې نادرخان به پاچاهي د امان الله خان او د هغه د ورور په نامه اعلانوي، خو نادرخان پاچاهي د ځان په گټه اعلان کړه. هغه وزیرو او مسیدو ته پر ورکړو ژمنو عمل ونه کړ، یو شمېر هغو یې

---

*۱۰ - د مسیدو او وزیرو مشران وایي، چې په همدې شپه څو وزیر او مسید پورته شول او پر نورو یې غږ وکړ، چې د پاچا په توگه یې اعلان کړي. یو شمېر تاریخ لیکونکي پر قبایلي سرتېرو د لوټ او تالان تور لگوي، خو دا کار څو محدودو کسانو کړی و.*

په خوست، لوګر، وردګو او غزني کې ځمکې ترلاسه کړې، خو ډېری هغه یې بېرته وزیرستان ته لاړل.

## نادرشاه ضد لومړی پاڅون

له پاچا کېدو وروسته د نادرخان انګریز پلوه سیاستونو او د امان الله خان د پلویانو ځینې د هغه پر وړاندې په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د خلکو کرکې راوپارولې. نوي پاچا انګریزانو ته دا فرصت ورکړ، چې په وزیرستان کې د پوځي عملیاتو او استحکاماتو د رغونې له لارې د نیوفارورډ پالیسۍ پاتې چارې بشپړې کړي.

نادرخان تر ټولو ډېر له مسیدو او وزیرو وېرېده، ځکه هغه لښکر، چې نوموړي ته یې د سقاو له زوی نه واک او تخت ګټلی و، په خورا خواشینۍ بېرته وزیرستان ته را ګرځېدلی و. نادرخان لومړی له هغوی سره پر کړو ژمنو عمل ونه کړ او وروسته یې د امان الله خان پرځای ځان د پاچا په توګه اعلان کړ. په دریېم ګام کې هغه د امان الله خان په پلویانو پسې راواخسته او په څلورم ګام کې یې له برېټانیا سره د پټ جوړجاړي له لارې هغوی ته دا فرصت ورکړ، چې په وزیرستان کې میشت مبارزان او د امان الله خان پلویان وځپي.

> *نادرخان د ۱۹۳۰ کال د سپټمبر پر لومړۍ نېټه د برېټانیا استازي ریچارډ مک اوناکي ته وویل: « قبایلي وګړي، په تېره د وزیرستان مسید او وزیر د امان الله خان سرسخته پلویان دي او که هغه د جهاد اعلان وکړي، نه به زه یم او نه به برېټانیا په سرحدي ایالت کې د پښې د ټینګولو ځای ولري».*

د نادر له دغه خبرداري وروسته انګریزانو په وزیرستان کې د مبارزانو د ځینې چارې لا ګړندۍ کړې. د ۱۹۳۲ز کال په وروستیو کې د امان الله پلویانو، لیوني فقیر او په ځانګړې توګه غلام نبي خرخي د نادرخان پر وړاندې کودتايي چارې پیل کړې.



هغوی په اکتوبر میاشت کې د وزیرستان له مبارزانو سره د نادرخان پر ضد یوې ګډې هوکړې ته ورسېدل. د امان الله د پلویانو اصلي مرکز په مداخېلو وزیرو کې و. د وزیرستان له مبارزانو سره د اتو سوو زرو افغانیو او غنیمت د مالونو پر سر هوکړه شوې وه او د پکتیا قومونه هم چمتو وو، چې له دوی سره په دې جګړه کې شریک شي، خو د نومبر پر اتمه د هغوی پلان شنډ شو، ځکه نادرخان د غلام نبي خرخي په ګډون، د امان الله خان ټول مهم پلویان ونیول او د هغوی کودتايي شبکې یې شنډې کړې.

د لېوني فقیر پلویان او د یو شمېر نورو قبیلو مشران، چې د نادرخان پر ضد یې د لښکرکشۍ هوډ کړی و، شمالي وزیرستان ته لاړل. په وزیرستان کې وزیرو او مسیدو اعلان وکړ، چې دوی یوازې د امان الله خان لپاره د سقاو لښکرې ماتې کړې او اوس، چې د هغه تخت یوه انګریز پلوه کس نیولی، دوی یې پر وړاندې جګړې ته تیاری لري.

نادرخان او انګریزانو د لیوني فقیر او د امان الله خان د څلورو نورو پلویانو د نیولو لپاره ګډې هلې ځلې پیل کړې. انګریزانو د ۱۹۳۳ کال د جنوري پر لسمه په خوست کې افغان چارواکي ډګروال ګل میر ته خبر ورکړ، چې ددوی خاصه دار ځواکونو په مداخېلو کې د امان الله د پلویانو خلاف عملیات کړي، خو مداخېلو وزیرو او تیپو بېرته پر شا تمبولي دي. انګریزانو کوښښ کاوه، چې د وزیرو مشران په پیسو واخلي او د امان الله خان پنځه واړه ملاتړي ور وسپاري، خو وزیرو غاړه ورته کېښنبوده. د ۱۹۳۳زکال د فبروري په لومړیو کې په کابل کې نادرخان ته داسې اطلاعات ورسېدل، چې مسید او وزیر د جنوبي سمت د قبیلو او مومندو، شینوارو او خوګیانیو په ملاتړ پر کابل د برید لپاره تیاری نیسي. نادرخان ژر خوست ته خپل وسله وال ځواکونه واستول او انګریزانو هم له رزمک او میرانشاه نه سرحدي سیمو ته پوځیان واستول. وزیرو او مسیدو انګریزانو ته ګواښ وکړ، چې که ددوی د مخنیوي هڅه وکړي، په وزیرستان کې به یې پر وړاندې پاځیږي. انګریزانو په ښکاره دوی پرېښودل، چې افغانستان ته لاړ شي، خو د ځینې لپاره یې بشپړ پلان چمتو کړی و. د فبروري تر ۲۱مې پورې له وزیرستان نه خوست ته ۱۱ زره جنګیالي لاړل. د فبروري پر ۲۲مه یې پر متون برید وکړ او یو شمېر سیمې یې ونیولې. د

سیمې ګڼ نور خلک هم له وزیرو او مسیدو سره یوځای شول او ددوی شمېر ۲۱ زرو تنو ته ورسېد. هغوی د مارچ په لومړیو کې د ارګون ښار په شاوخوا کې ګڼې سیمې ونیولې او ځینې پوځي کنډکونه هم ورسره یوځای شول.[۱۱۰]

نادرخان دغه وضعیت اندېښمن کړ او خوست ته یې له کابل نه د شاهي ګارډ په ګډون اضافی سرتېري واستول. دغو ځواکونو د وزیرستان جنګیالي او د هغوی ملاتړي دې ته اړ کړل، چې د فبروري پر ۲۶مه شاتګ وکړي. د ۱۹۳۳ کال د مارچ په لومړیو کې د لیوني فقیر په مشرۍ یو شمېر نور جنګیالي خوست ته لاړل او د متون پر لور یې پرمختګ پیل کړ. نادرخان، چې د وزیرستان او فقیر لیوني لښکرو وارخطا کړی و، د امان الله خان په څېر یې( چې روسي او جرمني پیلوټان یې راغوښتي وو) له انګریزانو پر دغو لښکرو د بمبارۍ مرسته وغوښته او برېتانیایي ځواکونو هم د مارچ پر اتمه د وزیرو او مسیدو پر وړاندې د ځمکې او هوا له لارې عملیات وکړل. وروسته انګریزانو د خوست او وزیرستان ترمنځ لاره وتړله او په دې توګه متون او د ارګون په شاوخوا کې میشتو ځواکونو ته له وزیرستان نه د مرستې رسېدو لارې بندې شوې.

د مارچ پر نهمه د سرحد ایالت ( اوسنی پښتونخوا) والي جورج کنینګهم د ۱۶ الوتکو په بدرګې سره وانه ته لاړ او وزیرو او مسیدو ته یې په جرګه کې اعلان وکړ، چې تر ځلورو ورځو پورې خپل جنګیالي بېرته را وغواړي. هغه دغه راز ګواښ وکړ، چې که دغه جنګیالي را ونه غوښتل شي پر وړاندې به یې جدي ګامونه واخلي. انګریزانو د مسیدو او وزیرو په سلګونو مشران خوست ته په موټرو کې یووړل، چې هلته تللې لښکرې بېرته راستنې کړي. لیوني فقیر د متون پر فرقه د برید لپاره تیاری نیوه، چې مسیدو او وزیرو خپلو جنګیالیو ته د کنینګهم د ګواښ خبر ور ورساوه. د مسیدو او وزیرو پر کورونو د بمبارۍ ګواښ ډېر وزیرستاني جنګیالي دې ته اړ کړل، چې بېرته وزیرستان ته وګرځي.

انګریزانو او افغان حکومت په ګډه د مارچ تر شلمې پورې پر خوست بریدکوونکي وځپل او په دې توګه پر کابل د برید او د نادرخان د راپرځولو پلان ناکامه شو. د مارچ تر پایه پورې د وزیرستان ټول جنګیالي بېرته خپلو کورونو ته را وګرځېدل.



## نادر ضد دویم پاڅون

نادرشاه د پکتیانۍ قبیلو او وزیرستانیانو تر لومړي پاڅون وروسته، د اپریل پر لومړۍ نېټه د الله نوازخان او شاه محمودخان په کوښښ د وزیرو او مسیدو جرګه راوغوښته او کوښښ یې وکړ، چې په بېلابېلو امتیازونو یې بېرته خوشاله کړي. دا، چې په دې جرګه کې د مسیدو او وزیرو ډېرو کمو مشرانو ګډون کړی و او د لېوني فقیر په اړه یې د کابل غوښتنې ونه منلې، افغان چارواکي د مسیدو او وزیرو په خپلولو کې پاتې راغلل.

له جرګې څو ورځې تېرې نه وې، چې د وزیرو او مسیدو وسله والو یوځل بیا په خوست کې پر افغان ځواکونو خپل بریدونه پیل کړل او هلته میشت منګل او نورې پښتنې قبیلې هم ورسره یوځای شوې. د اپریل پر ۱۷مه لیونی فقیر هم ور ورسېد او پر متون یې له سره جګړې پیل کړې. د متون فرقې قوماندان په یوه تاکتیکي عمل کې پر فرقه د تسلیمۍ په دود سپین بیرغ ودرواه، خو کله، چې وزیر او مسید جنګیالي ورنږدې شول، تر خورا سختو ډزو لاندې راغلل او ګڼ کسان یې ترې ووژل. پاتې نور جنګیالي بېرته وزیرستان ته لاړل، خو له هغوی هم پر لاره برېتانیایي ځواکونو ۴۵۰۰ میله وسلې واخستې او ډېر کسان یې ترې بندیان کړل.[۱۱۱] د ۱۹۳۳ کال په نومبر کې د نادر له وژل کېدو وروسته جنوبي ولایتونه د وزیرو او مسیدو له بریدونو په امن کې وو، خو په ۱۹۳۷ز کال په وزیرستان کې د ایپي فقیر او د وزیرو او مسیدو مبارزو د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې یوځل بیا د جګړې زنګونه وکړنګول. افغان حکومت د ایپي فقیر پر وړاندې د انګریزانو له نېغې مرستې ډډه کوله، خو د پکتیا پښتنې قبیلې یې هم د مسیدو او وزیرو مرستې ته نه پرېښودې. د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د ۱۹۳۷ز کال د جون پر اتمه پر برېتانیایي ځواکونو تور ولګاوه، چې خلک د کابل پر وړاندې پاڅون ته هڅوي. وزیر او مسید د نادري کورنۍ له سیاستونو خورا ناراضه وو، ځکه دغو سیاستونو د انګریز پر وړاندې له دوی نه د خوست میشتو قبیلو د همکارۍ جذبولو فرصت اخستی و. وزیرو او مسیدو افغان حکومت ته ګواښ وکړ، چې په راتلونکي فرصت کې به یې بې

ځوابه پرې نه ږدي.

کله، چې پر برېټانیایي هند د روسیې او جرمني د برېدونو اوازو زور واخست، افغان چارواکي او انګرېزان پوترېله لا سره نږدې شول او په قبایلي سیمو کې یې د جنګیالیو او قومي مشرانو د ور خپلولو هڅې پیل کړې. شاه محمودخان ډېرې هڅې وکړې، چې وزیر او مسید له انګرېزانو سره له جګړې را وګرځوي، خو هغوی یې خبرې ونه منلې او د انګرېز پر وړاندې یې خپله مبارزه جاري وساتله. وروسته شاه محمودخان د الله نوازخان په هڅو سره، چې په مسیدو او وزیرو کې یې ځانګړی نوم درلود، په دې بریالی شو، چې د ۱۹۴۰ کال د جولای پر ۱۲مه په خوست کې د وزیرستان له خلکو سره په ګډه جرګه کې کښېني.[۱۱۲] قبایلي وګړو هغه ته د شوروي یرغل په صورت کې د ۷۰ زره سرتېرو ورکولو ژمنې وکړې. وروسته د اګست پر ۱۷مه، چې په کابل کې د افغانستان د خپلواکۍ جشن جوړېده، د ایپي فقیر په ګډون د قبایلي سیمو او وزیرستان ۵۶ مشهور مشران کابل ته لاړل او د ۵۰ زره سرتېرو د ورکولو ژمنې یې وکړې. د دواړو اړخونو ترمنځ پر دې توافق وشو، چې د اوربند په وخت کې به افغان حکومت هغوی ته د میاشتې ۲۰ افغانۍ او نور لګښت ورکوي او که جګړه نښلي معاش به یې ۵۰ افغانیو ته لوړېږي. پر دې سربېره د ټیپانو لپاره پر ۵۰۰ افغانیو او د وژل کېدونکو لپاره پر ۱۰۰۰ افغانیو هوکړه وشوه، خو فقیر ایپي او د هغه نورو مبارزانو له کابل نه په ستنېدو سره په وزیرستان کې د انګرېز پر ضد خپلې مبارزې بېرته پیل کړې.

د ۱۹۴۱ کال په جنوري کې هاشم خان د ملایانو د یوې ډلې له لارې له فقیر ایپي سره خبرې پیل کړې. فقیر ایپي له کابل سره د خپلو ستراتیژیکو اړیکو د خوندیتابه په موخه تر مشخص وخت پورې عملیات کمول، خو وروسته به یې بېرته خپل برېدونه ډېر کړل.

## په وزیرو کې د افغان حکومت مخالفان

دا خبره پرځای ده، چې تاریخ تکرارېږي. لکه نن، چې د ځدراڼو «حقانیان» په



شمالي وزیرستان کې د افغان حکومت پر ضد جنګېږي، په پروني افغانستان کې یې سلف د نادري کورنۍ پر ضد جنګېدل.

د ملي مبارز ببرک خان ځدراڼ زوی زمرک خان په مشرۍ ګڼ ځدراڼ او سلیمانخېل په وزیرستان کې د لښکرو پر راغونډولو بوخت وو. د مسیدو جرګې پرېکړه وکړه، چې دوی له زمرک خان سره مرسته نه شي کولای، خو مداخېلو وزیرو یې ننګه کوله. شاه محمود خان خپل یو جنرال پیرمحمد خان وزیرستان ته ولیږه، چې د پیسو له لارې خلک د زمرک او نورو ځدراڼو له ملګرتیا راوګرځوي. هغه زنګي خان ته د زمرک خان د شړلو په بدل کې د یو میلیون افغانیو د ورکړې وړاندیز وکړ، وروسته یې دوه میلیونه کړې، خو زنګي خان اعلان وکړ، چې دوی خپل غیرت او عزت په پیسو نه خرڅوي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت خپل استازي ایپي فقیر ته واستول، خو هغه د زمرک خان د زامنو په نیولو کې د کابل له همکارۍ ډډه وکړه. هاشم خان په دې برخه کې د انګرېز له حکومت نه مرسته وغوښته او انګرېزانو هم د وزیرو مشران بنو ته ور غونډ کړل، چې د ځدراڼو ملاتړ پرېږدي، خو هغوی د زمرک خان زامن او ملګري چاته ونه سپارل. زمرک خان د ۱۹۴۴ز کال په اپریل کې جګړې پرېښودې او د ځدراڼو پاڅون پای ته ورسېد. په جون میاشت کې هاشم خان د وزیرو د بیا راپورته کېدو وېرې واخست او انګرېزانو یې په ملاتړ په وزیرستان کې د وزیرو ټول هغه کلي بمبار کړل، چې ځدراڼو ته یې پناه ورکوله.

په ۱۹۴۵ کال کې د امان الله پلویانو یوځل بیا په مسیدو او وزیرو کې د پخواني پاچا په پلوي تبلیغات پیل کړل او جنوبي ولایتونو ته لاړل، خو افغان ځواکونو شاته وتمبول او ددوی هڅې ناکامې شوې.

*له چاړواکو سره د اړیکو له لارې اصلاحاتو ته د حاکم ځواک ترغیبول*

*او اقتصاد بیاورې کول او پراخ اړیکې( رسنی او ډیپلوماسي).*

په پښتنو کې له باچاخان وړاندې بایزید روښان په خپل طریقت بنسټه سیاست کې، چې ډېرځله له عدم تشدد سره پرتله کیږي، همدغه ستراتیژي د خپل اعتراض، له چاړواکو سره د مکاتباتي اړیکو، منبر او کتابونو په اډانه کې کاروله.

په پښتنو کې د تشدد او تاوتریخوالي عوامل او د نړۍ په عامه ذهنیت کې د هغو راټوکېدلی تصور له ځېلمې بهرنی دی. د غچ، وینې، بدل او نورو پښتني دودیزو ارزښتونو تعریف د پښتون تاریخ په څېر تر ډېره ناپښتنو کړی او کوښښ شوی، چې د « وینه په وینه نه مینځل کیږي» پښتو متل برعکس، پښتانه د «وینه په وینه مینځونکي» په توګه را وپېژني.

د قدرت او سیاست اهرمونو په هر دور کې د پښتني جغرافیا پر وړاندې د همدغه تعریف له مخې د سخت چلند (Hard Conduct) پالیسي خپله کړې او دغه چلند پښتانه هم د خشونت پر وړاندې خشونت ته اړ ایستي دي. له امو نه تر اباسین پورې پرته سیمه په هر دور کې د یرغلګرو د بریدونو اصلي لاره پاتې شوې او هر امپراتور او بریدګر، چې د هند پر لور تېر شوی، لومړنی وار یې پر پښتنو کړی دی. په دغو تاړاکونو کې پښتانه په لوی لاس جګړې ته اړ شوي او خپلې ټولې ښیرازې یې پکې له لاسه ورکړې دي. په هغو دورو کې، چې پښتانه د بهرنیو له تاړاکه په امن کې پاتې شوي، له کابل او کندهار نه یې تر پېښور او ډیلي پورې مدنیتونه جوړ کړي، خو هرځل، چې د بهرني یرغل هدف ګرځېدلي، د «دولت او قدرت» په نشتوالي کې یې د تاوتریخوالي پر وړاندې تاوتریخوالي ته مخه کړې ده. بهرنیو تاړاکونو په پښتنو کې د تشدد پر وړاندې د تشدد فصلي خوی را ټوکولی او دغه خوی په هر فصل کې د هرچا د تېشې لاستی ګرځولی دی.

**«باچاخان» او «ایپي فقیر»**

اتم څپرکی

# د «خولې» او «وسلې» ستراتیژي

**(د باچا خان او ایپي فقیر مبارزاتي تګلارې)**

عدم تشدد د قابیل پر وړاندې د هابیل له سوله ییز دریځه پیلیږي.

عدم تشدد سیاست د ټولنیزو او سیاسي بدلونونو لپاره د انسان له سوله ییز چلنده سرچینه اخلي او د هدف تر حصول او تعقیب پورې دوام کوي. د تاو تریخوالي له لارې ترلاسه کېدونکې پایلې (سیاست او قدرت) له تاوتریخوالي پرته پایښت نه لري. په خشونت کې حاکمیت او قدرت د جبر له لارې ترلاسه کیږي او د قدرت او ایډیولوژي د خوندیتوب لپاره په جبر او زور غځیږي.

عدم تشدد د ځینو تعریفونو برعکس، د «عدم جهاد»، «تسلیمی» او «بلواکی» په معنا نه دی. د عدم تشدد سیاست هدف د ظلم پر وړاندې سر ټیټول نه دي، بلکې دا ښودل دي، چې له ښکنځلو، جګړې، وژلو او وینې تویولو پرته هم انسان کولای شي په سوله ییزو، مدني او ولسواکو لارو خپل هدف ته ورسیږي. دمګړۍ د خشونت د مخنیوي لپاره څلور ډیموکراټیکې ستراتیژۍ کاریږي.

*پر شفافو ټاکنو ټینګار*

*سوله ییز لاریونونه او احتجاج*

د هند په نيمه لويه وچه کې د انګرېزانو پر وړاندې هممهاله څو ډوله مبارزې روانې وې. په يوه اړخ کې د مهاتماګاندي او باچاخان تر مشرۍ لاندې د هند او پښتنو په مرکزيت د عدم تشدد مبارزې وې، خو په بل اړخ کې د اسلامي خلافت يو شمېر پلويان او په وزيرستان او قبايلو کې ملا پيونده، ايپي فقير، د ترنګزو حاجي صېب او يو شمېر نور ملي مبارزان له شعوري او غير شعوري پښتون نشنليزم سره مل په جهاد او وسله واله مبارزه بوخت وو. قبايلي سيمې او د انګريز تر اداري لاندې بندوبستي سيمې د دوو بېلو قطبونو تر نفوذ لاندې وې. په قبايلي سيمو کې د پاکستان تر جوړېدو پورې کابل برلاسی و، خو بندوبستې سيمې، چې مرکز يې پېښور و، تر ډېره د انګريز تر نفوذ لاندې وې. د عدم تشدد په سياست ولاړ د باچاخان د خدايي خدمتګارانو غورځنګ تر ډېره په هندمحوره کانګرس متکي و، خو ايپي فقير او نورو مبارزانو د کابل د واکمنو تر متزلزل ملاتړ لاندې مبارزې کولې.

د « پښتونستان» يا د پښتنو د بېل وطن په تړاو د باچاخان او ايپي فقير مبارزې تر ډېره پر يوه هدف راڅرخېدې، خو د مبارزې د څرنګتيا او لومړيتوبونو په تړاو د دواړو انتخابونه بېل وو. ايپي فقير خپلې مبارزې د دين ساتنې په شعار متمرکزې کړې وې او باچاخان د خپل ايډيال پښتون وطن لپاره د يوموټي هند تر شعار لاندې خپلې هيلې په کانګرس پورې تړلې وې. د دواړو شعارونه سپېڅلي وو او دواړو ګډ اهداف درلودل، خو اهدافو ته د رسېدو لارې يې متفاوتې او په ځينو مواردو کې سره په ټکر کې وې.

باچاخان له تنخوا او جګړې پرته په پښتونخوا کې شاوخوا ۱۲۰ زره ملګري پيدا کړي وو او غوښتل يې وزيرستان او قبايلي سيمې هم د انګريزانو پر وړاندې د چره يې ټوپکو پرځای د قلم، اعتراض او لاريون مبارزې «عدم تشدد» ته وهڅوي. هغه د قبايلي سيمو د مبارزانو وسله والې جګړې له دې امله نيمګړې ګڼلې، چې ترمنځ يې همغږي او يووالی نه و، ځکه دلته مبارزې تر ډېره په قبيلوي ډولو کې محدودې وې.

*باچاخان وايي: «کله ناکله د پرنګيانو او ازادو قبايلو ترمنځ جګړې کېدې، خو ټول قبايل په يوه سلا او يوه خوله نه وو، نو ځکه*



*انګرېزانو ته څه زيان نه رسيده. مومندو به، چې بريد وکړ، وزير، مسود او اپريدي به کرار ناست وو او که به د اپريدو او انګريزانو جګړه وه، مومند، وزير او مسود به نه وو خبر، هر يوه به ويل، چې دا د هغه جنګ دی، موږ يې څه کوو. په کار و، چې ټول قبايل په يوه غورځنګ کې راټول شوي وای، نبه روزل شوي او ټول يوځل راپورته شوي وای».*

د ايپي فقير په باور، د هغه وخت عيني شرايطو دا غوښتنه کوله، چې له انګريزانو سره جهاد او وسله واله مبارزه وشي، ځکه انګريزانو ددوی پر خاوره يرغل کړی و او کوم سياسي جريان نه و، چې په هغه کې د عدم تشدد سياست پرمخ يووړل شي. بل دليل يې دا و، چې د خلکو سياسي شعور او د پوهې کچه دومره نه وه، چې هغوی د عدم تشدد او سياسي سوله ييزې مبارزې اصل درک کړای شي. په ټولنه کې عمومي باور دا و، چې انګريزانو د پښتنو خاوره په زور نيولې او ديني او ټولنيزې ازادۍ يې سلبوي او د د غسې ښکيلاکي عمل پر وړاندې د پښتون ميشتو سيمو د نفوس لومړنی او دوديز غبرګون وسلې ته لاس اچول دي. له ټولو مهم دا، چې دغه غبرګون د دين ساتنې او پښتونولۍ له ترکيبي شعار سره مل و او مشري يې هم په وزيرستان او قبايلو کې تر ډېره د ملا او پير په لاس کې وه.

د کانګرس پر لور د باچاخان له بريده زيات تمايل دده او ايپي فقير ترمنځ د نظر او مبارزې دواړو له مخې واټن پيدا کړی و؛ هغه قبايل، چې پوره يوه پېړۍ يې د خپلې عقيدې او ټولنيز واکمن فرهنګ د خونديتابه لپاره وسله والې مبارزې کړې وې او قربانۍ يې يوې حتمي پايلې ته د رسېدو پر درشل وې، ناشونې وه، چې د هندوانو تر اغيز او نفوذ لاندې راشي. تر ټولو حساسه مساله دا، چې د وزيرستان او قبايلي سيمو مبارزانو خپل ټول عمر د انګريزانو له هندي اجيرو ځواکونو سره ډغرې وهلې او ددوی د يو شمېر هغو په ذهن او فکر کې د انګريز او هندو دواړو يو ډول تصوير و.

فقير ايپي په دې باور و، چې د يرغل پر وړاندې وسله والې مبارزې ته اړتيا ده او

عدم تشدد باید د سیاست او ټولنیز ژوندانه برخه وګرځول شي. مهاتماګاندي تل باچاخان ته ډاډ ورکاوه، چې عدم تشدد په یوه نامتمدنه ټولنه کې هم وده کولای شي، اما هغه د پښتنو له خوی او مذهبي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي وضعیت سره نابلده و. په پښتنو کې د عام ولس واک د حاکمې طبقې (ملا او پیر) په لاس کې و او هغوی عدم تشدد له جهاد سره په ټکر کې باله، خو برعکس په هند کې د عدم تشدد د بریالیتوب یو مهم لامل په هندي ټولنه، دود او ګروهه کې له تشدده د اجتناب تلقین و. دغه مذهب د ځمکې پرمخ د موجوداتو د اعدام او عدم مخالف دی. ګاندي په داسې ټولنه کې دعدم تشدد چارې پیل کړې، چې واردمخه له دودیز او مذهبي اړخه د تاوتریخوالي پرېښودو ته چمتو وه. په بل اړخ کې هغه د برېتانیا د ټولنپوهنې د مطالعې په رڼا کې پر دې مساله هم تمرکز درلود، چې د لیبرال انګریز کلونیالیزم پر وړاندې د جګړې او تاوتریخوالي پرځای عدم تشدد ښه کار ورکوي.

د ګاندي شعار د ټولې نیمې وچې د ولسونو پر مبارزه ولاړ و، خو د وېش په بهیر کې د کانګرس دوه مخیو او په معامله ولاړو پرېکړو او د مولانا ازاد، لال نهرو او پخپله ګاندي هوکړو او همغږۍ ښوده، چې پښتانه د هغوی د « محکومو ټبرونو د حقوقو شعار» اصلي برخه نه جوړوي او د هدف پر لور د نږدې کېدو او پر انګریزانو د فشار لپاره یې د یوې وسیلې په توګه ترې کار اخستی دی.

باچاخان سره له دې چې په کابل هم متکي و، د هغه وخت د سیاسي فضا تر اغیز لاندې د سرحد او قبایلي سیمو د دودیز سیاسي او ټولنیز تمایل د اړخ « سیاسي قبلې» د تغییر جریان ژوندی وساته. هغه په پښتنو کې د سیاسي هستې «رهبرۍ» د پیاوړتیا او د پښتونخوا په محور د عدم تشدد او وسله وال مقاومت د همغږۍ پرځای غوښتل وزیرستان او نورې قبایلي سیمې له یو موټي هند سره ونښلوي. په دې چاره کې قبایلو او د ایپي فقیر په څېر مشرانو خپله روښانه راتلونکې نه لیده، ځکه قبایلي سیمې د عقیدې، توکم، ژبې، فرهنګ او اقتصاد له اړخه تر نن ورځې په افغانستان پورې تړلې او ددغه تړاو سملاسي له منځه وړل ورته له ځان وژنې پرته بل څه نه و. د ډیلي پر لور د



باچاخان د تمایل هم خپل عوامل وو، چې یو یې د افغان امیرانو د سیاسي او تاریخي تېروتنو له امله په انګریز پورې د پښتني سیمو تړلی برخلیک و. انګریزانو له ۱۸۴۶ز کال نه تر ۱۹۴۷ کال پورې پر دې کار کاوه، چې د لاندې پښتنو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي قبله د کابل پرځای د پنجاب پر لور وګرځوي او په دې چاره کې بریالی شوی هم دی. بل لامل، د لاندې پښتنو د سیاسي برخلیک او جغرافیا په تړاو د افغانستان د حکومت کمزوری دریځ و. له امان الله خان پرته، چې وخت ناوخت یې د لاندې پښتنو دفاع کوله، د افغانستان ډېری واکمنو له ډیورنډ مسالې سره د ځمکنۍ بشپړتیا او د پښتون ولس د برخلیک ټاکونکې مسالې پرځای، د شخصي، سیاسي او سلیقوي مسالې په توګه چلند کړی دی.

باچاخان د عدم تشدد تګلارو ته خورا ژمن رهبر و، خو سیاسي تحولاتو او شرایطو تقاضا کوله، چې دی او کابل پر یوې دریمې لارې غور وکړي او هغه د قبایلي سیمو له مبارزانو سره په همغږۍ د یوه نوي قوت جوړول و، چې د هند د وېش تر وخت پورې عام ذهنیت د پښتنو د یوه ازاد هېواد داعیې ته چمتو کړي. په وزیرستان او قبایلو کې تر ۱۹۵۴ز کال پورې ددغسې داعیې پوره رجحان او قوت محسوس و. ددغه دریم ځواک تشه د هند او پاکستان د وېش پر وخت انګیرل کېږي، ځکه دغه وخت د پښتنو د حقونو، یا بېل ازاد ایالت په تړاو د باچاخان خبرې نه کانګرس واورېدې او نه هم انګریز.

پخپله باچاخان د سرحد ایالت د هغه وخت د والي اولف کارو له خولې، چې د ټولپوښتنې په ورځو کې تقاعد شوی و، وایي، کارو او برېتانیا په دغه وېش سره له پښتنو نه د هغوی د مبارزو غچ واخست. د وېش په وخت کې د پښتنو او خدایي خدمتګارانو لپاره د ( پاکستان یا هند) ټولپوښتنې ښه د نه منلو وړ وه، ځکه هند د وېش په پرېکړې سره ددوی پر حقونو پښې کېښودې او په پاکستان کې یې ادغام د هغې مبارزې بر عکس مسیر و، چې دوی د یوه خپلواک پښتون ایالت\هېواد لپاره کوله. د ۱۹۴۷ز کال په مارچ کې د هند د نوي وایسرای لویې مونټباټن اصلي دنده د هند د وېش نقشې پلي کول او د شمال لویدیز سرحدي ایالت د خپلواکۍ معامله کول و.

په سرحد ایالت کې د باچاخان او د هغه د ورور ډاکټر خان د پښتونستان شعار او پښتون حکومت د څپلو لپاره انګریز والي اولف کارو ګومارل شوی و. هغه په سرحد ایالت ( اوسنی پښتونخوا) کې د خدایي خدمتګارانو پر ضد خلک راپارول او د اپریل پر ۲۸مه او ۲۹مه، چې مونټباټن پېښور ته راغی، له ۵۰ زره ډېر پلویان یې د «پاکستان زنده باد» تر شعار لاندې ورته را اېستلي وو.[۱۱۳] د ۱۹۴۷ ز کال د جون پر ۲۷مه د باچاخان د پښتونستان جوړولو اعلان او د هند په کاري کمېټه کې د لومړي ځل لپاره د پښتونستان مطرح کېدل له وخت وروسته کار و، ځکه د کانګرس اصلي لوبغاړو له انګریز انو سره د پښتنو پر حقوقو واردمخه معامله کړې وه. که باچاخان له کانګرس او یوموټي هند سره د خپلو هېلو د ترلو پرځای د مبارزې په لومړیو کې خلک او ملي مبارزان پر یوه دغسې شعار راغونډ کړي وای، د هند د وېش په وخت کې انګریزان، د هند مقننه جرګه او د پاکستان د موسسانو جرګه مجبور وو، چې غاړه یې ورته اېښې وای. د هند په کاري کمېټه ( Working Committee) کې سردار پټېل، راج ګوپال اچاریه او جواهر لال نهرو د وېش ملاتړي وو، خو د وېش په تړاو د باچاخان په ګډون په لومړی ناسته کې ګاندي هم ددوی ملا وتړله.

د هند وایسرای مونټباټن د وېش اعلامیې له خپراوي مخکې په پېښور کې له اولف کارو سره پر دې توافق کړی و، چې د سرحد ایالت برخلیک به مسلملیګ ته سپاري. مونټباټن له کانګرس سره دې هوکړې ته رسېدلی و، چې انګریز به د بنګال او پنجاب وېش ته غاړه ږدي او کانګرس به په سرحد ایالت کې ټولپوښتنه کوي.

باچاخان وایي، د انګریز هدف دا و، چې له پښتنو غچ واخلي، ځکه د هند د ازادۍ یو ستر عامل د پښتنو مبارزې او قربانۍ وې، چې په اقتصادي او پوځي دواړو اړخونو کې یې برېټانیا ته سختې ضربې ورکړې. د باچاخان په وینا، کانګرس ۶۰ کاله له انګریزانو سره د ازادۍ اخستنې مبارزې وکړې، خو انګریزانو پرې غوږ نه ګراوه او کله، چې په پښتني سیمو کې د پښتنو سربښندنو انګریز ان تر فشار لاندې راوستل، د ازادۍ بېرته ورکولو ته یې غاړه کېښوده.[۱۱۴]



له هغه څه نه، چې ایپي فقیر وېرېده، خدایي خدمتګاران او باچاخان د هند د وېش یا سیاسي اوج په پړاو کې ورسره مخ شول.

### قبایلستان او یاغیستان

د پښتنو د ازاد هېواد د داعیې لپاره په برېټانیایي هند او قبایلي سیمو کې عام ذهنیت چمتو و. افغانستان له انګریزانو سره د نږدې اړیکو او د نادري کورنۍ پر وړاندې د قبایلي سیمو د خلکو د ممکنه پاڅونونو له امله په سیاسي لحاظ د پښتونستان د الحاق شعار نه پورته کاوه او په عقیدوي، ټولنیز او فرهنګي لحاظ قبایل له برېټانیا او هند سره د جوړجاړي په دریځ کې نه وو. د هغوی لپاره درېیمه لار د یوه بېل هېواد شته والی و، چې د خپلې عقیدې، ژبې او فرهنګ په اډانه کې پکې سره یوځای شي.

کله، چې پر ۱۹۴۰ز کال په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې انګریزانو د دویمې نړیوالې جګړې تر نښلېدو مخکې خپلې بمبارۍ او د مسیدو او نورو قبیلو د پاڅون مخنیوي هڅې چټکې کړې، د هند یو شمېر مسلمانو سیاستوالو د انګریزانو پر دغه نوي یرغلیز سیاست (New Forward Policy) سختې نیوکې وکړې.

د هند د قانون جوړونې جرګې غړي مولانا ظفر علي د هند په پارلمان کې د وزیرستان د عملیاتو مساله راپورته کړه او په ډاګه یې کړه، چې د وزیرستان خلک او قبایل د خپلو طبیعي حقونو او ازادۍ د حصول لپاره جنګیږي، خو که د پوځي لګښتونو یوه پر لسمه برخه د سیمې پر رغونه او ټولنیزو خدمتونو لګېدلې وای، انګریزان به له دغسې وضعیت سره نه مخ کېدل. مولانا ظفرعلي انګریزانو ته وړاندیز وکړ، چې په قبایلی سیمو کې د درې میلیونه نفوس په درلودو سره یو نوی حایل هېواد (قبایلستان) رامنځته کړي، خپل ځواکونه له وزیرستان او قبایلي سیمو وباسي او ایپي فقیر ته ډاډ ورکړي، چې انګریزان به د هغوی له عقیدوي ګروهو سره سر او کار نه لري.

په ښکاره د مولانا ظفرعلي او هندي مسلمانو سیاستوالو د دغې طرحې هدف په سرحد ایالت او قبایلي سیمو کې د جګړې او تاوتریخوالي بندول او د

افغانستان او برېټانیایي هند ترمنځ د انګریزانو د سیاستونو په رڼا کې د یوه حایل رامنځته کول و، خو که تاریخي بهیر وکتل شي، دا په قبایلي سیمو کې د پښتنو د یوه ځانګړي هېواد د جوړولو لومړنۍ نظریه ده، چې یوه هندي مسلمان سیاستوال ورکړې ده. هغه نظریه، چې تر ډېره بریده د ایپي فقیر په مبارزو او دریځونو کې ترې ځرک لګېدای شي. د ازاد قبایلستان او «یاغیستان» په نامه له دې مخکې د ډیورنډ په دواړو غاړو کې د پاځون کوونکو او د هغوی د یو شمېر سیمه ییزو مشرانو په کچه او د ۱۹۲۸ او ۲۹ کلونو د جګړو په وخت کې خبرې کېدې، خو مهمو سیاستوالو د «احتیاط» له مخې په دې اړه ډېر لږ خبرې کولې.

د مولانا ظفر علي دغه وړاندیز ته چا پام ونه کړ، ځکه انګریزانو په قبایلي سیمو کې جګړې او حضور د ټول هند د ژغورنې سیاست باله. په دغو کلونو کې وزیرستان د جرمني او ایټالیایي ځارګرو ادارو د فعالیتونو منځی و او د افغانستان له لارې برېټانیایي هند ته د روسي او جرمني ځواکونو د راتګ له وېرې هغوی د افغانستان په پولو کې په سلګونو زره سرتېري ځای پرځای کړي وو. هغوی پر هند د روسیې او نورو ځواکونو د واک د مخنیوي په خاطر د قبایلي سیمو د حایل ساتنې سیاست د پاکستان تر وېش پورې په خپل حال وساته او دغه حایل (Buffer Zone) پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل په کلونو کې د انګریزانو د سیاست پوخوالی ثابت کړ، ځکه روسان له همدې ملاتړو جبهو مات شول او هند (اوسنی پاکستان او هند) یوځل بیا قبایلي حایل سیمو له یرغل او نیواکه وژغوره. د پښتونستان او قبایلستان په نومونو د یو یا دوو بېلو هېوادونو منځته راتګ د انګریزانو لپاره بې ګټې و، ځکه د یوه خپلواک هېواد په رامنځته کېدو سره هغوی پر بفر زون خپل اغېز له لاسه ور کاوه او دغه زون په نهایت کې د هغوی د دښمنانو (شوروي اتحاد، جرمني او ایټالیا، په وروستي ګام کې د افغانستان) لاسونو ته لوېده. دا تر ډېره د هند له ویش مخکې سیاست و، خو په وروستیو کې د خپلواکۍ مبارزانو عملا د پښتنو د یوه خپلواک هیواد «پښتونستان» لپاره مبارزه کوله.



## کانګرس په وزیرستان کې

وزیرستان او قبایلي سیمو ته د کانګرس د مشر جواهر لال نهرو راتګ او په شاوخوا دېرشو غونډو کې ویناوې نه یوازې دا، چې د کانګرس او خدایي خدمتګارانو لپاره ګټور نه وو، بلکې خلک، مسلملیګ او انګریزان یې لاهم حساس کړل.

د نهرو لپاره په شمالي وزیرستان کې سیمه ییز پولیټیکل بینجي بروم هیډ په خپل باغ کې د وزیرو یوه دوه زره کسیزه جرګه را وغوښته، چې لال نهرو خپلې خبرې ورته پکې وکړې. په وینا کې د هغه ځینې تېروتنې ددې لامل شوې، چې د وزیرو مشران یې په غبرګون کې وپاریږي: « یوازې ځواک د ځواک زور ویلای شي، یوازې بم اچوونکې الوتکه د بم اچوونکې الوتکې ځواب ویلای شي، نه توري، غشي او ټوپک، چې دا هم زړه او له کاره وتې وسله ده». په واقعیت سره دا د وزیرستان د ملي مبارزانو او غازیانو د څو پېړیو مبارزو ننګول او په یو نه یو ډول سپکاوی و، ځکه د وزیرستان او قبایلي سیمو خلکو په همدې له کاره لویدلې او دوديزې وسلې له پېړیو پېړیو راهیسې د خپلې سیمې دفاع کړې ده. بل څه، چې مسید یې په رزمک کې را وپارول د کانګرس له خوا له انګریز مرېي توب نه د وزیرو او مسیدو د خلاصون شعار و. دې خبرې ټوله جرګه وپاروله او د مسیدو یوه ملک مهردل خان کاکا له امسا سره یوځای نهرو ته مخامخ ورغی او ورته وې ویل: «تا موږ ته سپکه راواړوله، چې موږ دې د انګریزانو مریان وګڼلو، موږ د هیچا مریتوب نه دی کړی او نه به ستاسې مریېتوب وکړو...».

نهرو په دې غونډه کې ځینې مهمې خبرې هم وکړې، چې په هغو کې یوه د انګریزانو د پرمختګ پر پالیسۍ Forward Policy نیوکې وې. نهرو وویل، چې د هندی ښځو او وګړو برمته کول د انګریز ستونزه نه ده، بلکې له دې مسالې هغوی په سیمه کې د خپلو ښکیلاکي اهدافو او امپریالیستي نقشې د ټینګښت په برخه کې ګټه اخلي. په دې ناستو کې لال نهرو د ایپي فقیر د هغه لیک یادونه هم وکړه، چې د کانګرس مشر ته یې په وزیرستان کې د هندي وګړو د برمتې او د انګریزانو د تورونو د توضیح په موخه استولی و. ایپي فقیر په دغه لیک کې کانګرس ته بلنه ورکړې وه، چې د

وضعیت څیړنې لپاره سیمې ته خپل پلاوی ور واستوي او هرڅه له نږدې وڅیړي. هغه په لیک کې له انګریزانو سره د وسله والې مبارزې پر دوام ټینګار کړی و : « د ازادۍ یوه لنډه شیبه د زرو کلونو د مریتوب له ژونده غوره ده. د برمته نیونې تور د اسلام او قبایلو بدنامه کول دي».[۱۱۵]

د مسیدو مشرانو نه غوښتل، چې له نهرو سره وګوري، خو د انګریز ځایناستي پولیټیکل (سیاسي استازي) هیډسن له پرله پسې غوښتنو وروسته سره جرګه شول. د لال نهرو دغه سفر پر وزیرستان سربېره په ملاکنډ، خیبر او باجوړ کې هم له هرکلي او مخالفتونو دواړو سره مل و، خو هغه څه، چې کانګرس او خدايي خدمتګارانو غوښتل، په قبایلو کې یې ونه موندل. په دې کې شک نشته، چې د لال نهرو پر وړاندې ګڼ شمېر قومي مشران مسلملیګ او انګریزانو را پارولي وو، خو له قبایلو د کانګرس او هندو مشرۍ په تړاو دا ډول غوښتنې د وخت په شرایطو برابرې نه وې.

ولي خان په خپل کتاب ربښتیا ربښتیا دي (Facts Are Facts) کې لیکي، چې د لال نهرو پر سفر د سرحد والي اولف کارو خوښ نه و او د مانکي شریف پیر هم په ملاکنډ، خیبر، باجوړ او پېښور کې د مسلملیګ په ملاتړ تبلیغ کاوه او یو شمېر کسانو او ملکانو ته پیسې وېشل کېدې.

نهم څپرکی

# ډیورنډ د غومبسو په ځاله کې

- د اعلیحضرتې د دولت په نظر د وزیرستان مساله پوځي ده... د عالیجنابې دولت ژر ستاسې له هېواد سره د یوې ثابتې او دوامدارې پولې راکاږل غواړي!
- وزیرستان! دا د غومبسو ځاله ده، دا به ښه وي، چې هغوی په خپل حال پرېږدئ
- جغرافیايي حقایقو ناشونې کړې ده. د نړۍ د غوره پوځ په استعمال سره به یې په ګونډو کړو
-له وزیرو پرته، هرڅه....
- هغوی له خپلې یوې ټوټې ځمکې سره اوسیږي. له همدې امله هغوی د نه کنټرول وړ ګڼل کیږي. موږ به دغه وضعیت بدلوو
- تاسې به دیوال جوړوئ، چې وزیر په دوه برخو ووېشئ؟
- اړتیا یې نشته، موږ به په پولو کې داسې څلي جوړ کړو، چې هرڅوک وپوهیږي دا (سیمه) چیرې پرته ده.

- له وزیرو سره معامله نه شي کېدای....

دا د هغې مذاکرې سناریويي ډیالوګ دی، چې ویل کېږي امیر عبدالرحمان خان د ډیورنډ تړون له لاسلیکولو مخکې له مورتیمر ډیورنډ سره درلود. امیر وزیرستان د غومبسو ځاله ګڼله او دې ځالې ته، چې له کوم وخته لاس ور اچول شوی، ارامه نه ده پاتې شوې.

انګریزان د ۱۹مې پېړۍ تر نیمایي پورې تر ډېره په پوځي عملیاتو کې بوخت وو، خو کله، چې په ۱۸۸۴ز کال د افغانستان امیر کوښښ وکړ وزیر او د واڼه کمپ تر خپل واک او اغېز لاندې راولي، پر وړاندې یې غبرګون وښود.

په ۱۸۸۸ز کال کې افغان امیر انګریزانو ته ډاډ ورکړ، چې دده هدف د واڼه نیول نه و، خو امیر تر ۱۸۹۲ز کال او بیا د ډیورنډ تړون د لاسلیک کېدو تر وخته له وزیرستان نه زړه نه سړاوه. ددې یو لامل دا و، چې انګریزانو په ۱۸۸۶، ۸۷ او ۱۸۹۱کلونو کې پشین، چمن، کویټه، اټک، جترال او یوسفزي نیولي وو او امیر له سویل او سوېل ختیزو اړخونو کلابند شوی و. امیر عبدالرحمان خان غوښتل، چې د وزیرو او مسیدو خپلواکي خوندي او په سیاسي او اداري لحاظ له افغانستان سره پاتې شي، خو دده دا هیلې انګریزانو پرځای نه کړې، ځکه هغوی وزیرستان ته ننوتل او دلته یې د چاونیو او پوځي کلاګانو د رغونې چارې پیل کړې.

د افغان امیرانو د سیاست ضعف په دې کې و، چې هغوی یې یوازې د فشار د یوې وسیلې په توګه خپلواک پرېښي وو، خو کله یې هم د رعیت په توګه د هغوی د ټولنیز پرمختګ او ژوند ښه والي فکر نه درلود. دې مسالې انګریزانو ته دا فرصت ورکړی و، چې د وزیرستان او قبایلو سیمې بې څښتنه وګڼي او هلته د نیزې او ټوپک په زور خپل واک وغځوي. لارډ لنډسن دا نه خوښوله، چې په یوه سیمه کې دې دوه دولتونه واکمن وي، په همدې لامل افغان امیران په قبایلي سیمو کې د لاسوهنې له امله ګواښل کېدل. په لومړي سر کې پر یوې داسې طرحې فکر کېده، چې درویش خېل وزیر د بېرمل په ګډون په افغانستان پورې وتړي، خو د پلې کېدو لپاره یې عملي ګامونه اوچت نه



شول. انګریزانو په وزیرستان او د قبایلو په قومي او کورنیو چارو کې د مداخلې یو دلیل په وزیرستان کې د افغان امیرانو لاسوهنې ګڼلې. ددوی په وینا، د افغان امیرانو د سیاستونو له امله دوی اړ وو، چې په قبایلي سیمو کې د میشتو ټبرونو چارې او فعالیتونه له نږدې وڅاري او په ځینو مواردو کې یې په زور تر خپل واک لاندې راولي.

د ۱۸۹۲ز کال په فبروري کې امیر عبدالرحمن خان یوځل بیا په وزیرستان کې خپل فعالیتونه پیل کړل. په مې میاشت کې د سردار ګل محمد خان په مشرۍ د سپاره او پلي نظام دوه کنډکونه وزیرستان ته راغلل. د سردار سرتېرو له مسیدو او درویش خېلو وزیرو غوښتل، چې له انګریزانو سره ټولې هوکړې لغو کړي او د امیر تر امارت لاندې راشي، خو انګریزانو خپلو وفادارو ملکانو ته ویلي و، چې د امیر د سرتېرو پر وړاندې مقاومت وکړي: « د امیر استازو ته ووایاست، چې موږ له انګریزانو سره ښه اړیکي لرو او د یوه اړخ پلویتوب هم نه کوو».

برېټانيايي هند په جولای میاشت کې افغان امیر ته د لیک له لارې خبرداری ورکړ، چې د هند حکومت د وزیرستان له قبایلو سره له پخوا اړیکي لري او د وزیرو په سیمه کې یې مداخله نه شي زغملای.[116] برېټانيايي حکومت وزیرو او مسیدو ته هم اعلان وکړ، چې لندن په نږدې ورځو کې له افغان حکومت سره خپلې پولې ټاکي او د امیر د خبرداریو تر اغېز لاندې رانه شي. په بلوچستان کې هم هغوی جنرال ګورنر وپوهاوه، چې سردار ګل محمدخان د امیر په نامه د هند د وایسرای د لیک له محتوا خبر کړي. د مسیدو مهمو مشرانو بادشاه خان، بدرالدین، غازي خان، مشک عالم خان، مظهرخان، جمعه خان او افضل خان له سردار ګل محمد سره مرسته کوله او په وزیرستان کې یې د هغه د فعالیتونو لپاره زمینې برابرولې. د دوی د فعالیتونو په پایله کې د ۱۸۹۲ز کال د جولای پر ۱۵مه په مغلکوټ او میرعلي خېلو کې د انګریزانو پر دریو پوځي سپرو او د ژوب پر لیوي مرګوني بریدونه وشول. د جولای پر شلمه د کجوري کڅ او مغلکوټ په سیمه کې د بلوچستان لیوي څلور پوځیان ووژل شول. د اګست پر دویمه د میرعلي خېلو او ګلکڅ ترمنځ له پنځو انګریز سپرو څخه درې تنه ووژل شول او د

بلوچستان د جنرال ګورنر پر هغو استازو هم برید وشو، چې سردار ګل محمد ته یې د هغه لیک ووړ. دغه بریدونه د ګل محمد په لاربنوونه د زري بند وزیر، جمعه خان، ستارخان او عیدمحمدخان مسید سرتېرو کول. سردار د انګریزانو پر وړاندې د مسیدو او بېټنیو د پارونې په موخه کانیګروم او چنډولي ته خپل استازی خلیفه نورمحمد مسید ولیږه. د بېټنیو سیمه دا وخت د انګریزانو تر واک لاندې وه او نورمحمد ته یې له سیمې د وتلو خبرداری ورکړ. هغوی په ټانک کې د مسیدو د فراري ملکانو په مشوره د ګل محمد د فعالیتونو د مخنیوي لپاره د کرنېل ډیویډسون تر مشرۍ لاندې کجوري کڅ ته وسله وال کنډک واستاوه او وروسته یې د اګست پر ۱۳مه چنډولي ته هم د سرتېرو یوه ډلګۍ ولیږله.

د اګست پر ۲۹مه د برېټانیایي هند وایسرای افغان امیر ته لیک واستاوه، چې سردارګل محمد او د هغه سرتېري له وانه او ګل کڅ نه بېرته کابل ته وغواړي او که داسې ونه شي انګریزان به یې پر وړاندې له زوره کار واخلي. د سپټمبر پر ۲۲مه افغان امیر سردارګل محمد خان ته امر وکړ، چې له وانه او ګل کڅ نه ووځي او د ۱۸۹۳ز کال د اکتوبر پر ۱۲مه یې له انګریزانو سره یو داسې کرغېړن تړون لاسلیک کړ، چې د وزیرستان په ګډون یې ګڼې پښتني سیمې پکې برېټانیایي هند ته ورکړې. کابل ته د وزیرو او مسیدو تللی ګډ پلاوی د امیر د مرستې او ملاتړ له حصول پرته بېرته وزیرستان ته راغی او دې چارې د هغو ملکانو په رګونو کې یوځل بیا وینې په حرکت راوستې، چې د انګریزانو په ملاتړ یې کار کاوه.[۱۱۷]

د ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان تر منځ د اکتوبر میاشتې پر ۱۲مه نېټه، چې کومې خبرې شوې، ویل کیږي اکثریت یې پر وزیرستان راڅرخېدې. دا خبره د رون هوچینسن(۱۲) له تیاتري سناریو ښکاري، چې ویل کیږي د برېټانیا د ارشیفي اسنادو پر بنسټ یې لیکلې ده. برېټانیا د وزیرستان مسالې د حل لپاره پوځي لاره غوره ګڼله، خو امیر غوښتل، چې وزیرستان که دده تر واک لاندې نه وي، د یوې ازادې سیمې په توګه په



خپل شته وضعیت پاتې شي. هغه وزیرستان د غومبسو ځاله بلله او کوښښ یې کاوه، چې انګریزان په دې سیمه کې له لاسوهنې را وګرځوي. انګریزانو ټینګار درلود، چې دوی کولای شي ددې سیمې خلک تر حکومتي کنټرول لاندې راولي، خو د خپل واک تر پایه په دغه هدف کې بریالي نه شول.

## د افغانستان «ښې مټ» غوڅېږي!

په ۱۸۹۳ز کال د امیر عبدالرحمن خان او انګریزانو ترمنځ د کابل کنوانسیون په پایله کې د ډیورنډ کرښې تشخیص په وزیرستان کې دوه ډوله غبرګونونه را وپارول. یو اړخ ته، د ۱۸۹۴ کال په اکتوبر کې د احمدزي وزیرو او کابل خېلو یو شمېر ملکانو، چې د انګریزانو معاش یې خوړ، د دیره جاتو کمشنر او په وزیرستان کې د پولې د په نښه کولو مسوول ډګروال سي اي بروس او ګرانټ انګریز چارواکو ته د جنوبي وزیرستان د مرکز وانه د اشغال بلنې ورکړې. د احمدزي وزیرو د مشخصو ملکانو له خوا، چې د بروس په نامه د اکتوبر پر ۱۸مه کوم لیک لیکل شوی و، په هغه کې انګریز چارواکو ته ویل شوي و، چې امیر عبدالرحمن خان د وزیرستان خلکو ته خبر ورکړی، چې وزیرستان به د افغانستان په خاوره پورې تړلې پاتې کیږي.[۱۱۸]

د وزیرستان په تړاو د امیر عبدالرحمن خان دوه ډوله دریځ لیدل کیږي:

**لومړی**: د شمالي وزیرستان په (Indo-Afghan Boundary) دوسیه کې د احمدزي وزیرو د ملکانو لیک او انګریزانو ته د غومبسو له ځالې سره د وزیرستان تشبیه کول ښیي، چې امیر کوښښ کاوه وزیرستان له ده سره پاتې شي.

**دویم**: د امیر د خپلو یادښتونو له مخې، د وزیرستان له خلکو دده سترګه سوځېده او په دې باور و، چې مسید او وزیر تر کنټرول لاندې نه شي راوستلای او هره شیبه دده پاچاهۍ ته ګواښ پیښولای شي.

د ډیورنډ او امیر ترمنځ تړون په وزیرستان کې خلک د امیر پر وړاندې کرکجن کړل، ځکه هغوی خبر شوي وو، چې امیر عبدالرحمن خان د شپږ سوه زره روپیو په بدل کې پر

انګریزانو پلورلي دي. انګریزانو په وار وار د هغوی دا شکایتونه اوریدل، چې «نه ربښتیا موږ امیر د کال په شپږ لکه پلورلي یو؟!»، «هغه ته دا حق چا ور کړی، چې زموږ پر سر داسې معامله وکړي؟». د هند په ملي ارشیف کې د پنجاب د چیف سکرټري او د هند د ګورنر ترمنځ د ۱۸۹۳ کال د جنوري میاشتې تبادله شوي لیکونه ښیي، چې وزیرستانیان د انګریزانو او امیر ترمنځ پر تړون او په دې بشپړ نه وو خبر، چې څومره د انګریز او څومره د امیر تر ولکې لاندې راغلي دي. په هغه محرم لیک کې، چې د هند حکومت ګورنر د پنجاب حکومت چیف سکرټري ته لیږلی، په دې اعتراف شوی، چې امیر او انګرایزانو د ډیورنډ په معامله کې وزیرستانیان او قبایل بشپړ له پامه غورځولي دي. ډي.(۱۳) فیتزپټریک وایي: « کېدای شي، دا خبره له هرچا سره ونه ویل شي، خو زما په نظر له امیر سره د خبرو لپاره باید د وزیرو یوه شورا جوړه شوې وای، په دې توګه به هرڅه پخپله په دوی پورې اړوند وو، هرتصمیم به د دوی له خوا نیول کېده او دا به تر ټولو ښه او هراړخیز تصمیم هم وای. زما هدف دادی یو شمېر هغه وزیر چې له موږ سره موافق نه دي، د هغوی نظریات هم باید موږ او هم امیر په تړون کې په پام کې نیولی وای، اوس موږ باید دا هم خلکو ته په ډاګه نه کړو، چې ګواکې د وزیرستان زیاته برخه د امیر په انډول زموږ په واک کې ده».[۱۱۹]

په بل اړخ کې، ملا پیونده مسید، ملا حمزالله احمدزی وزیر او د هغوی نور ملګري د ډیورنډ په تړاو د امیر احمقانه پرېکړې سخت پارولي وو. په اکتوبر کې ډګروال سي اي بروس د پولې د نښې اېښودنې لپاره د ډګر جنرال اې ایچ ټرنر د ځواک په ملتیا له دیره اسماعیل خان او ټانک نه د وانه پر لور راغی. د وزیرستان په ځمکه کې د ډیورنډ کرښې د غځولو پر وړاندې لومړنی غبرګون د ملا پیونده مسید و، چې له امیر سره یې هم نږدې اړیکي درلودل. پیونده په کرب کوټ سیمه کې د خپلو استازو په لاس بروس ته یو ګواښونکی لیک واستاوه، خو د انګریزانو دلیل دا و، چې دوی د وزیرو د ملکانو په بلنه وانه ته ځي او ملا که څه ویل غواړي د ملکانو له لارې دې یې وواېي.[۱۲۰] د نومبر پر دویمه ملا پیونده ډګروال بروس ته یو بل لیک واستاوه، خو د لومړني هغه په پرتله نرم و، ځکه په



دغه لیک کې یې انګریز افسرانو ته سپارښتنه کړې وه، چې د پولې له تشخیص وروسته له وانه نه ووځي. د ملا دغه نرمښت په غالب ګومان د امیر ددریځ په رڼا کې و، ځکه امیر عبدالرحمن خان له انګریزانو سره کړي تړون ته ژمن و.

پر وانه کمپ له برید وروسته د ډیورنډ کرښې د په ښنه کولو چارې وځنډېدې. د ۱۸۹۵ز کال په جنوري کې د مسیدو په سیمو کې د ملا پیونده پر ضد له عملیاتو وروسته، چې نوموړی ترې مداخېلو وزیرو ته لاړ، د وزیرستان په سیمه کې د ډیورنډ کرښې د غځولو چارې یوځل بیا پیل شوې.[۱۲۱]

د افغانستان له اړخه د امیر په فرمان د پکتیا (ارګون) والي ګل محمد خان د خپلې سیمې او د شیریندل خان سیمې ملکانو ( ملک اکرم یحی خېل، سلطان خان، کټي خان او امیر حذر) او انګریزانو (ډګروال سي اي بروس، تورن واب، تورن پالک، کپتان میکسویني، بریدمن شپرډ او اېل.ډبلیو کنګ) د کرښې معلوملو رسمي چارې پیل کړې. دغه چارې د همدغه کال د فبروري پر ۱۲مه سرته ورسېدې او په ښکاره، د ولس د خوښې خلاف د سویلي وزیرستان او افغانستان پولې سره جلا شوې.

انګریزانو له سویلي وزیرستان وروسته د ۱۸۹۵ز کال په فبروري میاشت کې په شمالي وزیرستان کې د ډیورنډ کرښې د اېستلو پر سر په بنو کې د وزیرو او داوړو قبیلو له ملکانو سره خبرې پیل کړې. دا وخت ملا پیونده مسید په داوړو او مداخېلو کې اوسېده. هغه داوړو مشرانو ته سپارښتنه وکړه، چې له انګریزانو سره د ډیورنډ کرښې په اېستلو کې همکاري ونه کړي، خو هغوی د ملا پر خبرو غوږ ونه ګراوه او د فبروري پر ۱۸مه یې د بنو له مرستیال کمشنر ایچ.اې انډرسن سره پر ډیورنډ کرښه خبرې وکړې. د انګریزانو پر وړاندې په شمالي وزیرستان کې هم د ډیورنډ کرښې ستر مخالف ملا پیونده مسید و. پیونده د ۱۸۹۵ز کال له جنوري راهیسې په مداخېلو، کابل خېلو او داوړو کې د انګریزانو او ډیورنډ کرښې خلاف تبلیغات کول.

ایچ.اې انډرسن له خان سره د جنرال لوکهارټ تر مشرۍ لاندې ګڼ پوځیان توچي ته بوتلل او په عیدک کې یې د ملا پیونده کور ونړاوه. د دته خېلو په شیرنه کې د

افغان ملک شیرېندل خان استازي( ملک عبدالوحید زرمت خېل، ملک میر اکبرخان خوستوال، غلام رسول) او د شمالي وزیرستان ملکان ( شادم خان مداخېل، نبي خان مداخېل، سیدخان خدرخېل، پیاوخان حسن خېل، اکبر توري خېل، ګلیم توري خېل او خان محمدخان محمد خېل) وو. د مارچ میاشتې پر اتمه د کرښې معلومولو چارې پیل شوې او د اپریل تر ۱۵مې پورې بشپړې شوې.

انګریزانو په سویلي وزیرستان کې د ډیورنډ کرغیړنې کرښې له په نښه کولو سره په وانه کې پوځي کمپ جوړ کړ او په شمالي وزیرستان کې یې هم، چې د کرښې لپاره سیمه معلوموله، په توچي کې یې د خپلو ځیره خورو ملکانو په مرسته کمپ ورغاوه. وروسته ددغه کمپ په غبرګون کې په توچي، درپه خېلو، میرانشاه، ممي راغه او یو شمېر نورو سیمو کې پر انګریز منصبوالو مرګوني بریدونه وشول او ګڼ منصبوال او پوځیان یې ور ووژل.

لسم څپرکی

# د مقاومت وروستی تمځای

وزیرستان د خپل تاریخ په ټولو دورو کې د افغانستان ملاتړې جبهه پاتې شوې او همدا لامل دی، چې د لر او بر پښتون د هر مقاومت وروستی تمځای هم ګڼل کیږي. په تاریخي لحاظ د افغانستان له هرې جګړې وروسته وزیرستان نارامه شوی او، چې افغانستان د ارامۍ ساه هم اخستې وزیرستان په مقاومت کې پاتې شوی دی.

دغه تاریخي واقعیت له انګریزانو سره د افغانستان له دریو جګړو، د خپلواکۍ جګړې، سقاوي اړودوړ، روسي یرغل، طالبانو او د امریکا له یرغل او حضور نه ترا جوتیږي. وزیرستان د کوشانیانو، هپتالیانو، غزنویانو او درانیانو په دورو کې د افغانستان تر اغیز لاندې و، خو په افغانستان کې د روسیې او انګریز د پراختیا غوښتنې سیاستونه ددې لامل شول، چې افغان امیران د خپل نږدې دښمن انګریز پر وړاندې، چې د افغانستان په خوله کې پروت و، د وزیرستان جبهه د رعیت پرځای یوازې د فشار، مقاومت او ملاتړ د جبهې په توګه وکاروي.

په ۱۸۳٦ز کال د بارکزیو له واکمنۍ مخکې او د امیر شیرعلي خان تر واک ته

رسېدو پورې، چې ډېری شخړې یکې د بارکزیو وروڼو ترمنځ وې، وزیرستان د افغانستان د کورني سیاست له محوره وتلی و. په دغو وختونو کې ډېر رول د پېښور د سردارانو پر شاوخوا ملاتړو قبیلو متمرکز و.

کله، چې په ۱۸۶۸ز کال کې امیر شیرعلي خان د دویم ځل لپاره د افغانستان د واک پر گدۍ کښېناست، افغانستان د تزاري روسیې او انگریزانو د پراختیا غوښتنې د سیاستونو له گواښ سره مخ و. امیر شیرعلي خان، چې د برېټانیا پر وړاندې د روسیې د مرستو او انگریز پراختیا غوښتنې د مخنیوي په هڅه کې و، په وزیرستان کې یې وخت ناوخت د ملي مبارزانو او هغو ډلو وسله وال او مالي ملاتړ کاوه، چې د انگریزانو پر وړاندې په جگړه بوخت وو. د افغان- انگریز له دویمې جگړې څو میاشتې مخکې په جنوري کې په ټانک کې مسیدو د عمرخان او حمزاللّٰه تر مشرۍ لاندې د انگریزانو د کرسمس پر مراسمو برید وکړ او ۶۵۳ تنه یې ترې ووژل. د عمرخان پلار جنگي خان د اتلسمې پېړۍ په شپیتمو کلونو ( ۱۸۶۰ز) کې د افغانستان له امیر دوست محمدخان سره نږدې اړیکي درلودل او د عمر خان زوی بادشاه خان هم دغه اړیکي وساتل او دده زوی او د جنگي خان کړوسي قطب خان، چې وروسته منزي مسیدو خپل مشر وټاکه، په ۱۹۱۹ ز کلونو کې د افغانستان د خپلواکۍ د جگړو پرمهال په افغانستان کې له خپل تره سره د انگریز خلاف په جهادي فعالیتونو بوخت و.

په کابل کې د امیر محمد یعقوب خان واک ته رسېدل د ډیورنډ کرښې پورې غاړې پښتنو لپاره بد پیغام درلود، ځکه دغه بې تجربې او خام مغزه امیر د گندمک په تړون سره گنې پښتني سیمې انگریزانو ته ورکړې او خلکو هم د انگریزانو گوډاگی وباله. په تاریخي لحاظ د یعقوب خان او د وزیرستان د مبارزانو ترمنځ هیڅ اړیکي نشته، خو د انگریزانو په مرسته د امیر عبدالرحمن خان له واکمنېدو سره هممهاله یوځل بیا د وزیرستان د مبارزانو او افغان امیر ترمنځ اړیکي ټینگ شول.

د اتلسمې پېړۍ په نویمو کلونو کې ملا پیونده مسید د بېرمل له خلیفه او د پکتیا ( ارگون) له والي سردار گل محمد سره نږدې اړیکي درلودل. له همدې اړیکو نه د



وزیرو او مسیدو یو شمېر ملکان په وېره کې وو، ځکه ملا په سیمه کې خورا نفوذ پیدا کړی و. ملکان د انگریزانو پیسو ته د ټینگې نه وو او کابل یې پر وړاندې تر ټولو ښه وسله ملایان او طالبان گڼل. هغه څه، چې نن یې د کابل پر وړاندې پاکستان کوي.

د ۱۸۹۶ ز کال د جولای پر۱۵مه د مسیدو ۵۰ ملکانو انگریز حکومت ته د ملا پیونده له مخ پر ډېرېدو نفوذ نه وېره وښوده، ځکه ملا په مسیدو کې هغه کسان نه پرېښودل، چې د انگریزانو معاش یې اخست او یا یې له هغوی سره کار او پروژې پرمخ وړې. ملا پیونده د ۱۸۹۶ ز کال د جولای پر ۲۲مه بېرمل ته لاړ او پنځه ورځې وروسته له هغه ځایه کابل ته وخوځېد. ویل کیږي له پیونده سره په دغه سفر کې څلور زره تنه وزیر، مسید او داوړ ملگري وو. په دې کې ډېری کسانو خپلې کورنۍ هم له ځانونو سره بوولې وې. په کابل کې د امیر عبدالرحمان خان له حکم سره سم هر محمدزي امیر ۲۰۰ تنه مېلمانه کړل او وروسته یې استوگنځي او د خوراک او څښاک اسانتیاوې ورکړې. د اگست میاشتې پر اتمه نېټه ملا له امیر عبدالرحمن خان سره په کتنه کې پر ډیورنډ تړون ناخوښي وښوده، ځکه په دغه تړون کې د لرو او برو پښتنو نظر نه و اخستل شوی او امیر په ظالمانه ډول د لاندې پښتنو برخلیک انگریز ته ورکړی و. د ملا پیونده دریځ دا و، چې دوی د انگریزانو تر واک لاندې اوسېدل نه غواړي او کابل ته یې د تگ هدف دادی، چې امیر د ډیورنډ او وزیرستان په تړاو خپله پرېکړه بېرته واخلي. د ملا پر وړاندې د امیر ځواب ستغ و او ټینگار یې کاوه، چې له انگریزانو سره شوی تړون بېرته نه شي ملغی کېدای.

د شمالي او جنوبي وزیرستان د ایجنسیو د ریکارډ ارشیف د ادعاوو برعکس، چې امیر ملا پیونده له مرستې او ښه چلند پرته بېرته وزیرستان ته لیږلی و، عبدالرحمن خان او د هغه دربار د مسیدو او وزیرو له مشرانو سره خورا ښه چلند کړی و او د هغه ټولو هغو مسیدو او وزیرو ملگرو ته یې ځمکې ورکړې، چې افغانستان ته یې هجرت کړی و. بل پلو کابل ته له وزیرستان نه د څلور زره کسانو راتگ او په ارگون کې د هغوی پراخ هرکلی د امیر له اجازې پرته ناشونی و. عبدالرحمن خان په دغه سفر کې ملا پیونده مسید ته ۱۲۰۰ کابلۍ روپۍ(افغانۍ)، یو ټوپک او یو اس ورکړل او ملا حمزاللّٰه ته یې

۸۰۰ افغانۍ او یو اوس ورکړل. نورو ملایانو ته یې سرې سر لس افغانۍ او لونګۍ ورکړې. پیونده، چې له کابل نه وزیرستان ته ستنېده، په ارګون کې یې هرکلي ته ۷۰۰۰ کسان راوتلي وو. ملا د ۱۸۹۶ز کال د اکتوبر پر اوومه مروبي ته له رسېدو سره سم د مسیدو، وزیرو او داوړو مشران ور وغوښتل او د وانه سیاسي افسر ګرانټ ته یې خبرداری ورکړ، چې په سیمه کې له پراختیا غوښتنې ډډه وکړي. دغه خبرداری ښیي، چې ملا پیونده له کابل نه د امیر له پوره ډاډ سره راستون شوی و. سره له دې، چې امیر د ډیورنډ کرښې په ترون او غځولو سره لاندې پښتانه عملاً پر انګرېزانو خرڅ کړي وو، له دې سره سره ملا پیونده او په وزیرستان کې نورو جنګېدونکو مبارزانو امیر عبدالرحمن خان د اسلام بادشاه باله. ملا پیونده ته د هغه له مړینې یو کال مخکې هم د ۱۹۱۲ز کال په جنوري کې د جنوبي سمت نایب الحکومه شاغاسي محمد اکبرخان بلنه ورکړې وه، چې متون ته لاړ شي.

په ۱۹۱۳ز کال د ملا پیونده له مرګ وروسته د هغه مبارزه او لاره د ده زوی ملا فضل دین جاري وساتله. له ملا پیونده او ملا فضل دین سره امیر عبدالرحمن خان او حبیب الله خان دومره مرستې نه کولې، ځکه دوی له انګرېزانو سره په دوستۍ قایل وو، خو د جنوبي سمت نایب الحکومه او د امیر حبیب الله خان ورور نصرالله خان د هغه مرسته جاري ساتله. د وزیرستان پر لور د نصرالله خان د پاملرنې یو لامل د انګرېزانو پر وړاندې د جرمني او ترکیې د اتحاد هڅې وې. ملا فضل دین د پلار له مړینې وروسته د ۱۹۱۴ کال په اکتوبر کې کابل ته لاړ او له سردار نصرالله خان سره یې وکتل. د کابل سردار هغه ته اته زره کابلۍ روپۍ کلنۍ بودجه وټاکله . پر ملا فضل دین سربېره افغان سردار د وزیرستان د عبدلي او عبدالرحمن خېلو مسیدو مشرانو ته ځانګړي امتیازات ورکول. امیر حبیب الله خان په ۱۹۱۷ کال کې ملا فضل دین ته خبرداری ورکړ، چې د انګرېزانو خلاف له جګړو لاس واخلي، خو د امیر ورور نصرالله خان د هغه مرسته جاري ساتله او ټوپک او مالي مرستې یې ورکولې.

په ۱۹۱۹ ز کال کې د امان الله خان له واکمنېدو سره سم، د انګرېز خلاف د



جهاد اعلان له وزیرستان سره د نوي افغان امیر اړیکي مضبوط کړل. امان الله خان د جهاد او خپلواکۍ له اعلان نه د کورني سیاست د ټینګښت او اړودوړ د مخنیوي په برخه کې پوره ګټه واخسته او د وزیرستان او نورو قبایلي سیمو خلک یې ور جذب کړل.

امان الله خان د وزیرستان له خلکو سره د اړیکو لپاره ملا عبدالرزاق او شاه دوله خان وګومارل او د لومړي ځل لپاره یې د خپلو ځانګړو فرمانونو له مخې د مسیدو او وزیرو له مشهورو مشرانو ملا فضل دین، ملک موسی خان، ملا حمزالله، د شکي له قاضي، جرنیل مشرف خان او د جنګي خان له کړوسي قطب خان سره اړیکې ټینګې شوې. امان الله خان د نورو امیرانو په څېر وزیرستان نه هېراوه او پر ۱۹۲۰ز کال د مسوري په کنفرانس کې د هغه پلاوي انګرېزانو ته په ډاګه وویل، چې وزیرستان د افغان خاورې نه بېلېدونکې برخه ده.

په شمالي وزیرستان کې د ایپي فقیر په را څرګندېدو سره له ۱۹۲۹ ز کال نه تر ۱۹۳۶ کال پورې د ملا فضل دین فعالیتونه ساړه وو. د انګرېزانو خلاف د ملا فضل دین د جګړو د سرښت ستر لامل د ۱۹۲۹زکال د اکتوبر پر شپږمه په کابل کې د ژمنې خلاف د یوه انګرېز پلوه پاچا محمد نادرخان واک ته رسېدل و. نادرخان په وزیرستان کې میشت مسید او وزیر د انګرېزانو خلاف له جګړې منع کول او کومې مرستې، چې د امیر عبدالرحمن له وخت نه د امان الله خان تر وخته پورې د وزیرستان مبارزانو ته ورکول کېدې، د نادرخان د واکمنۍ په اوږدو کې کمې او وروسته بېخي بندې شوې. د نادرخان له وژل کېدو وروسته، د هغه زوی محمد ظاهرشاه هم د خپل پلار سیاستونه تعقیب کړل، خو د افغانستان او روسیې ترمنځ پر یو او بل د نه برید تړون د ظاهرشاه پر وړاندې هم خلک را وپارول. ایپي فقیر له ۱۹۳۵ز کال نه د پاکستان تر جوړېدو پورې د افغانستان له واکمنانو سره اړیکي درلودل او یوځل د ۱۹۴۰ ز کال د اګست پر ۱۷مه د افغانستان د خپلواکۍ په جشن کې د ګډون لپاره کابل ته لاړ، خو د ژوند په وروستیو کې افغان حکومت یوازې پرېښود.

د نادري کورنۍ په واک ته رسېدو سره د افغانستان او برېټانیایي هند ترمنځ

اړیکي دوستانه پاتې شول، خو د ۱۹۴۲ز کال په مني کې لومړي وزیر هاشم خان وېتپیله، چې له انګریزانو څخه له ډیورنډ پورې غاړه پښتني سیمې بېرته واخلي. د دویمې نړیوالې جګړې په اوږدو کې هند ته د ار. کرېپس د سفر پر مهال افغان حکومت له لندن نه په لیکلي ډول وغوښتل، چې له ډیورنډ پورې غاړه سیمې بېرته ور وسپاري. برېتانیا افغان حکومت ته ګونګ ځواب ورکړ، چې د پښتنو پر سیمه د کابل د ادعاوو مساله به جدي وڅېړل شي. د پښتونستان په تړاو د افغانستان حکومتونو ثابت دریځ نه درلود. کله له افغانستان سره د پښتونستان د یوځای کېدو سیاست پرمخ وړل کېده او کله د ازاد پښتونستان هېواد او په ځینو مواردو کې یې دپښتونستان شعار یوازې سمندر ته د لارې موندلو او قبیلوي سوداګریزو ګټو لپاره کاراوه. دغه متزلزل دریځ انګریزان، را وروسته پاکستان او نور ستر ځواکونه دې ته ځیر کړل، چې افغان حکومت په خپله ادعا کې جدي نه دی.

پر ۱۹۴۹ز کال د افغان حکومت له خوا د لویې جرګې راغوښتل کېدو د پښتونستان مساله خپل اوج ته ورسوله، ځکه دې جرګې له برېتانیایي هند سره کړې معاهدې لغو کړې او ډیورنډ کرښه یې د نړیوالو حقوقو له اړخه بې اعتباره وګڼله.

د بنګله دېش له جلا کېدو او په افغانستان کې د پښتونستان پلوه داودخان له واکمنېدو سره جوخت په پاکستان کې دا اندېښنې ډېرې شوې، چې کابل د شوروي اتحاد په مرسته د پښتونستان غورځنګ ته عملي اړخ ورکوي. هغه وېره، چې برېتانیایانو له بلشویکي روسیې درلوده، له سیمې نه د انګریزانو په وتلو سره د پاکستان سر ته وخته.

په ۱۹۵۴ او ۵۵ کلونو کې د سیټو او سینټو تړونونو پرمهال امریکا کوښښ کاوه، چې افغانستان او پاکستان دواړه له دغسې دفاعي چتر لاندې راشي. د امریکا ولسمشر ریچارډ نیکسن په همدې تړاو کابل ته سفر درلود، خو واشنګټن په خپل هدف کې پاتې راغی. پټاګون دا وخت پاکستان د سیمې مهم هېواد باله او افغانستان ته له ستراتیژیک اړخه په کم نظر کتل کېدل. د پاکستان د غوښتنې پر بنسټ امریکا تر نن ورځې هم افغانستان ته وسلې نه ورکوي. امریکا په دې وختونو کې د پاکستان د داعیې



ملاتړ کاوه او افغانستان اړ وت، چې شوروي اتحاد ته ور وګرځي. د پښتونستان داعیې د شوروي اتحاد او امریکا په دخالت سره نړیوال اړخ وموند او دواړو هېوادونو په سیمه کې خپلې مداخلې پیل کړې.

د داودخان له کودتا سره سم پاکستان په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د پرمختګ چارې پیل کړې. له قبایلي سیمو د محمد علي جناح په پرېکړه اېستل شوي ځواکونه ورو ورو بېرته خپلو پخوانیو چاونیو ته ولېږل شول. په ۱۹۵۱ز کال مومند ایجنسۍ منځ ته راغله او قرارګاه یې غلنۍ ته ولېږدوله .د رزمک کمپ، چې په ۱۹۴۷ز کال کې تخلیه شوی و، د ذوالفقار علي بوټو په وخت کې بېرته ځواکونه ورغلل. بوټو پر ۱۹۷۳کال د باجوړ او اورکزیو په نامه دوه نوې ایجنسۍ جوړې کړې.

پر همدغه کال د پاکستان د اساسي قانون له مخې قبایلي سیمې د (FATA)په نامه له اسلام اباد سره وتړل شوې او له افغانستان سره د قبایلو د راښکون او یوځای کېدو ټولې لارې او زمینې له منځه یوړل شوې. په افغانستان کې، چې څومره سیاسي بدلونونه او د پاکستان پر وړاندې دریځونه بدلېدل، په همغه کچه د پاکستان حکومت په قبایلي سیمو کې سیاسي، اقتصادي او پوځي- استخباراتي رېښې ځغلولې. لکه څنګه، چې د دویمې نړیوالې جګړې په درشل کې جرمني په افغانستان کې د لویو لارو، پلونو او هوایي ډګرونو چارې ګړندۍ کړې وې او برېتانیا په سرحد ایالت کې د هغو پر وړاندې د پرمختګ پالیسۍ ته زور ورکاوه، په ۱۹۶۳ز کال کې د سالنګ لارې او له ترکستان نه تر کندهاره لارې غځېدو پاکستان دې ته وهڅاوه، چې په قبایلي سیمو او وزیرستان کې د شوروي اتحاد د احتمالي یرغل پر وړاندې خپلې پولې ټینګې کړي. په دې چاره کې له پاکستان سره د امریکا په مشرۍ نړیواله ټولنه هم ملګرې وه او هغه رول، چې پخوا برېتانیا لوباوه، په وروستیو کلونو کې یې لوبغاړې واشنګټن و. د داودخان له کودتا سره یوځای په وزیرستان او قبایلو کې د سړکونو د غځونې چارې ګړندۍ شوې. اورکزي له کلات سره، کورمه د تیرا له اپریدیو سره او تیرا له سدې سره ونښلول شول. په تیارزه، لادا، دته خېلو او رزمک کې د انګریز د وخت چاونۍ او قشلې

بیا فعالې شوې. له ۱۹۷۱ز کال نه تر ۱۹۷۶ز کال پورې د پاکستان مرکزي حکومت په وزیرستان او قبایلي سیمو کې پر سړکونو خورا زیاتې پیسې ولګولې. د لومړي ځل لپاره له بېل او لګښت پرته د برېښنا ستنې او مزي وغځول شول، د کرنې ځمکې شپېته په سلو کې پراخې شوې او قبایلو ته د کرنې په برخه کې مرستې لس سلنه لوړې شوې.

د پښتونستان په تړاو، چې روسانو کومې ژمنې کړې وې، داودخان په عملي ډګر کې د پلې کېدو وړ ونه لیدې، ځکه روسیې د پښتونستان مساله د افغانستان د نیولو او وریسې د هند تودو اوبو ته د ځان رسونې لپاره کاروله. په ۱۹۷۱ز کال له پاکستان نه د بنګله دېش تر جلا کېدو وروسته، اسلام اباد کوښښ کاوه، چې د پاکستان په کورني سیاست، پوځ، څارګرو او نورو ادارو کې پښتنو ته ونډې ورکړي او په قبایلي سیمو کې د اقتصادي او نورو اصلاحاتو له لارې د پښتون بېلتونپالنې مخه ونیسي.

پر افغانستان د شوروي اتحاد د ځواکونو له یرغل سره جوخت، په وزیرستان کې د افغان حکومتونو رول او نفوذ صفر ته ټیټ شو او اسلام اباد په پاکستان او افغانستان کې د مذهبي ګوندونو په پیاوړتیا او ملاتړ سره په دې بریالی شو، چې په لاندې پښتنو کې پاکستانی نشنلیزم پیاوړی کړي او بیا د افغان جهاد په پیر کې د اسلام تر شعار لاندې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته په عامه ذهنیتونو کې د پښتونستان او ډیورنډ مساله حد اقل کچې ته ورسوي.

له ۱۹۷۹ز کال وروسته پاکستان په افغانستان کې د ستراتیژیک عمق په لټه کې دی او د پښتونستان مساله نوره ددغه هېواد لپاره بالقوه ګواښ نه ګڼل کیږي. پاکستان په کابل کې د یوه داسې حکومت د واکمنېدو په لټه کې دی، چې د اسلام اباد د سیمه ییزو سیاستونو ملاتړی او د پخوانۍ «مخالفې جبهې» برعکس یوه «ملاتړې جبهه» واوسي. له ۱۹۷۹ز کال وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسي لوبه یوه بل پړاو ته لاړه او دغه پړاو تر ډېره د پاکستان په لاس کې دی. اوس په وزیرستان او قبایلو کې د افغان واکمنو رول صفر ته ټیټ شوی، خو برعکس د افغانستان په قبایلو کې د پاکستاني څارګرو رول پیاوړی دی.



په پاکستان او قبایلي سیمو کې د مذهبي ډلو رول د ضیاالحق په واکمنېدو سره لا پیاوړی شو، ځکه هغه د کشمیر او افغانستان دواړو جبهو لپاره تر ټولو اغیزناک ځواک مذهبي ډلې ګڼلې. پاکستاني څارګرو ادارو په ۱۹۸۰یمو کلونو کې یوازې په پښتونخوا ایالت کې د دیني مدرسو شمېر ۱۳۰۰ ته ورساوه او دې چارې د پاکستان په مخالف او مختلف نفوس کې د «پاکستانیت» او «پاکستاني یووالي» په برخه کې مهم رول ولوباوه. افغان جهاد تر لنډې مودې پورې د ډیورنډ کرښې قومي او ناسیونالستي رنګ له منځه یووړ او نور دې کرښې ته د یوې ایډیالوژیکي کرښې په توګه کتل کېدل. په دې معنا، چې د کرښې په یوه خوا کې کفر او په بله کې اسلام دی او دغه توپیر نور ټول قومي\ژبني امتیازات نفی کول. د افغان جهاد له بري وروسته ډیورنډ کرښې د اسلام او کفر د کرښې رنګ له لاسه ورکړی و، خو د اسلام اباد سیاست پر همدې متمرکز و، چې دغه کرښه باید خپل ایډیالوژیک رنګ له لاسه ورنه کړي. د طالبانو او القاعدې راتګ او په سیمه کې د یوه بل بهرني ځواک «امریکا » حضور یوځل بیا پاکستان ته دا فرصت ورکړی، چې د افغانستان او ډیورنډ په تړاو خپل دغه سیاست وغځوي.

وزیرستان سره له دې، چې د شوروي اتحاد د یرغل او د مجاهدینو د خپلمنځي جګړو پر وخت له کابل سره خپل دودیز- تاریخي نږدیتوب له لاسه ورکړی و، خو د طالبانو په راتګ سره یې یوځل بیا پخوانی، اما څو اړخیز «کنټرولېدونکی» رول وموند.

د پېښور د ملاتړي جبهې او دويمه برخه يې وزيرستان ميشتي پخواني مجاهدين او جهاد ته لېواله کسان وو.

په ۱۹۷۵ او ۷۶ کلونو کې د واڼه د مقتدر مولوي «نورمحمد وزير» له پاڅونونو پرته، د وزيرستان څه باندې څلور لسيزې امن د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۴ز کال کې د همدغه وزير په سيمه کې ونګېد. پر ۲۰۰۱ز کال په کابل کې د طالبانو تر ماتې وروسته، امريکايي ځواکونو په توره بوړه کې د القاعدې جنګيالي او د هغوی مشر اسامه بن لادن محاصره کړي وو، خو هغوی له سختو بمباريو او د امريکا د ځانګړو ځواکونو له عملياتو سره سره، له سيمې په وتلو بريالي شوي وو. مولوي نورمحمد وزير هغه کس ګڼل کيږي، چې د پاکستان د پوځ او خپلې پنځوس کسيزې ډلې په مرسته يې بن لادن او ايمن الظواهري له توري بوړې نه د وزيرستان پر لور اېستلي وو.

وزيرستان ته د اسامه بن لادن او القاعدې له راتګ سره سم، د ازبکستان اسلامي غورځنګ، ليبيا اسلامي غورځنګ، ختيځ ترکستان غورځنګ او اسلامي جهاد شاوخوا اته زره جنګيالي لاړل او دې مسالې د امريکا او نړۍ پام د وزيرستان پر لور واړاوه. له دغو جنګياليو سره پريمانه پيسې وې او يو شمېر خلکو د پيسو لپاره هم د هغوی همکاري کوله.

د ۲۰۰۲ز کال په جون کې د پاکستاني پوځيانو او چيچن جنګياليو ترمنځ لومړنۍ جګړه ونښته او اسلام اباد په وزيرستان کې د عملياتو په موخه سيمې ته د خپلو پوځيانو د استولو پرېکړه وکړه. دوی د ۲۰۰۲ز کال په جولای کې د لومړي ځل لپاره خيبر ايجنسۍ او وريسې جنوبي وزيرستان ته پوځي جوپې واستولې. څومره، چې پاکستاني پوځ د سيمه ييزو او بهرنيو جنګياليو پر وړاندې د عملياتو دايره پراخوله او د سرتېرو شمېر يې ډېرېده، په خلکو کې د پوځيانو پر ضد د کرکې څپې هم لوړېدې.

د ۲۰۰۲ ز کال په مئ کې امريکايي کوماندوېانو په وزيرستان کې خپل پټ عمليات پيل کړي وو. دې مسالې په خلکو کې د پاکستان د پوځ پر وړاندې کرکې لا ډېرې کړې. د مئ پر دريبمه داسې اطلاعات خپاره شول، چې د امريکايي کوماندوېانو

يوولسم څپرکی

## د امارت راستنېدل

وزيرستان تر ۱۹۹۴ز کال پورې د يوې سياحتي سيمې په توګه پېژندل کېده.

ښکلي او ازاد طبيعت، له پښتون طبيعته زيربدلې منځلارۍ او له قبيلوي ژونده د نويو ارزښتونو پر لور متمايل يون د يوې ښې ګاندې زيرې ورکاوه. يونيم ځل د قبيلو ترمنځ خال خال شخړو د وزيرستان ارامۍ ته ټکان ور کاوه، خو د قبيلوي جوړښتونو ناليکلي قانون «نرخ» د سيمې ثبات ژوندی ساته.

په ۱۹۹۴زکال کې د افغانستان د طالبانو غورځنګ په جوړېدو سره وزيرستان د خپل تاريخي شالید پر بنسټ، ورو ورو د کابل د امارت تر اغيز لاندې راتله او تر ۱۹۹۶ز کال پورې، چې هغوی په کابل کې واکمنېدل، په وزيرستان کې د اسلامي شريعت او وريسې امارت او امارتي نظام او جبهې د ټينګښت هڅې په پيلېدو وې.

عبدالله مسيد، بيت الله مسيد، نيک محمد وزير، حاجي عمر، مولوي عباس، حاجي شريف او ګڼ نور هغه کسان، چې له ۲۰۰۱ز کال وروسته په وزيرستان کې د واک او ځواک څښتنان شول، د طالبانو د اسلامي غورځنګ مخکښ غړي وو. په دوی کې يوه ډله، چې د عبدالله مسيد په ګډون غوڅ اکثريت يې *طالبان* او *طلبه*[11] وو،

[11] *د اسلامي ګوندونو د پوهنتون او کالج د دورو محصلان*

یوه ډله د شمالي وزیرستان په مرکز میرانشاه کې اوسېږي او یوه بله ډله یې د ټانک له لارې وانه ته تللې ده.[۱۲۲]

نېک محمد وزیر، عبدالله مسید، بیت الله مسید، حاجي شریف او حاجي عمر، چې په افغانستان کې د افغان طالبانو د جګړه پېزو لیکو ملګري وو، په وزیرستان کې د طالبانو تیت او پرک ډلې سره یوځای کړې. نیک محمد وزیر ۱۸ کلن و، چې له افغان طالبانو سره ملګری شوی و. هغه، چې په پروان او بګرام کې یې د پخوانۍ شمالي ټلوالې پر وړاندې جګړې کړې وې، په وزیرستان کې د طالبانو د لومړني مشر په توګه وځلېد. ده په وانه کې پرځان د سپیرکي وزیرو څو سوه تنه را ټول کړل او په ۲۰۰۳ ز کال کې یې د پخوانیو مجاهدینو د مشرانو حاجي شریف، حاجي عمر او مولوي عباس په مرسته پر ناټو او امریکایي ځواکونو بریدونه پیل کړل. نیک محمد په وزیرستان کې د طاهر یولداش په مشرۍ ازبک جنګیالیو ته د استوګنې سیمې ورکړې. په دې چاره کې بیت الله او عبدالله مسید د نومړي ملاتړ کاوه.

پاکستان د امریکا د پرله پسې فشارونو په پایله کې د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۴ ز کال په مارچ کې د طالبانو خلاف عملیات وکړل. دغه عملیات د سویلي وزیرستان په مرکز وانه کې وشول، چې خلکو او بازار ته یې سخت زیان واړاوه. پاکستاني ځواکونو په دې جګړه کې ماته وخوړه او په شکي کې له نیک محمد وزیر سره روغې جوړې ته کښېناستل. پاکستان د سولې په تړون کې طالب مشرانو ته ژمنه ورکړه، چې د القاعدې او ازبک جنګیالیو د پورونو د پرې کولو په موخه به شاوخوا درې میلیونه روپۍ ور کوي، خو د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د نیک محمد وزیر له وژل کېدو سره د سولې تړون هم له منځه لاړ.

حاجي عمر، د نیک محمد وزیر تر مرګ وروسته، د هغه ځای ونیو. ده د ازبک او نورو بهرنیو جنګیالیو ملاتړ جاري وساته، خو دا، چې ازبک جنګیالیو د ناټو، امریکا او افغان حکومت پرځای د پاکستان د پوځ خلاف جګړې ته لومړیتوب ورکړی و، د سیمې د یوه بانفوذه حکومت پلوه طالب قوماندان مولوي نذیر مخالفت یې وپاراوه. مولوی



نذیر هغوی ته د ۲۰۰۷ز کال تر اپریل پورې ضرب الاجل ورکړ، چې د وزیرو سیمه پرېږدي. همدا ضرب الاجل له وزیرو نه د مسیدو پر لور د طالباني رجحان، جګړې او مشرۍ د انتقال پیل و. عبدالله مسید او بیت الله مسید هغوی ته پناه ورکړه او پر افغان، ناټو او امریکایي اهدافو یې له وزیرستان نه خپل بریدونه چټک کړل. په هلمند کې د عبدالله مسید له بوختېدو او د وزیرستان له صحنې نه تر څو میاشتني غیابت وروسته د طالبانو مشري د بیت الله مسید لاس ته ورغله. هغه د طالبانو وړې ډلې د ۲۰۰۷ ز کال په ډسمبر کې تر یوې مشرۍ لاندې راوستې او د پاکستان د طالبانو غورځنګ یې اعلان کړ. دغه غورځنګ د شمالي وزیرستان ځواکمن طالب مشر حافظ ګل بهادر د خپلې سیمې امیر وټاکه او په سوات کې یې مولانا فضل الله او په باجوړ کې مولانا فقیرمحمد سیمه ییز امیران وګومارل. د پاکستان حکومت په ۲۰۰۸ز کال کې د مسیدو او وزیرو قبیلوي جوړښتونو او خپلمنځي سیالیو ته په پام، حافظ ګل بهادر د پاکستان د طالبانو غورځنګ پرېښودو ته وهڅاوه او په دې توګه د طالبانو غورځنګ په مسیدو پورې منحصر پاتې شو. د ۲۰۰۹ ز کال په مارچ کې ملا نذیر په یوه ویډیویي وینا کې د پاکستان پر ځارګرو ادارو تور ولګاوه، چې په جوماتونو او عامه ځایونو کې بریدونه کوي، خو تور یې په دوی لګوي، هغه څه، چې نن یې افغان ولسمشر حامد کرزی د خپل متحد امریکا په اړه انګیري. ملا نذیر د ګل بهادر او بیت الله مسید ترمنځ د درز رامنځته کېدو عامل آی اېس آی وباله.

حافظ ګل بهادر په پاکستان کې د جګړې پلوی نه و، خو د بیت الله او القاعدې پلان پر پاکستان د جګړې متمرکزول و. په ۲۰۰۹ ز کال کې بیت الله مسید، ګل بهادر او مولوي نذیر د مجاهدینو په شورا کې سره راټول شول، خو دې شورا هم ډېر دوام ونه کړ. په ژوب کې د عبدالله مسید له مرګ وروسته دده د ملګرو او بیت الله د کسانو ترمنځ اختلاف منځ ته راغی، خو بیت الله هغوی سر پورته کولو ته پرېنښودل.

دمګړۍ د پاکستاني طالبانو په غورځنګ کې شاوخوا ۴۰ وړې او غټې ډلې شاملې دي، چې د میرانشاه میشتې مرکزي شورا له خوا یې مشري کېږي. بنو، کرک،

هنگو، کلاچي، ډېره اسماعیل خان، لکي مروت، دوابه، کوهاټ، دیر، بونیر، مردان، سوات، شانګله، پېښور، کراچۍ او قبايلي سيمې ددغه غورځنګ د فعالیتونو اصلي سيمې دي. دوی وخت ناوخت په افغانستان کې هم د ناټو او افغان ځواکونو پر وړاندې ځانمرګي او ډله ییز وسله وال بریدونه کوي.[۱۲۲]

## د تګلارې بدلون او غبرګون

مسیدو ته د طالبانو د مشرۍ په انتقال سره دې ډلې خپله پوځي تګلاره د پاکستاني ګټو پر هدف ګرځولو متمرکزه کړه. دې چارې پاکستاني جنرالان دې ته اړ ابستل، چې د مسیدو په سيمو کې پراخ پوځي عملیات وکړي. د ژغورنې لار او زلزلې په عملیاتو کې د مسیدو اکثریت استوګنځي له منځه لاړل او په ډله ییزه توګه له وزیرستان نه کډه کولو ته اړ کړای شول. وسله والو طالبانو هم د پوځي عملیاتو او د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د پرله پسې بریدونو له امله خپلې مورچلې پرېښودې او د شمالي وزیرستان په میرانشاه، میرعلۍ، دته خېلو، سپلګه او دیګان سيمو کې یې پټنې ټینګې کړې.

د ۲۰۰۹ز کال د اکتوبر میاشتې پر ۱۷مه په ژغورنې لار عملیاتو کې د پاکستان ۲۸ زره پوځیانو ونډه درلوده. دوی له دريو خواوو پر جنوبي وزیرستان عملیات وکړل. لومړنی برید د حکیم الله مسید او قاري حسین پر پلرني ټاټوبي کوټکي و، چې د بیت الله د جنګیالیو مرکز و. وروسته کانیګروم په نښه شو، چې د ازبک جنګیالیو په واک کې و. د نومبر میاشتې پر لومړۍ یې ساره راغه او مکین سيمې تصفیه کړې. د ساره راغه پر کنټرول د نومبر تر ۱۷مې پورې جګړې وشوې او وروسته یې د لادا ګنې سيمې تر کنټرول لاندې راوستې. پاکستاني ځواکونو د ۲۰۰۹ ز کال د ډسمبر پر ۱۲مه د طالبانو پر ضد په جنوبي وزیرستان کې خپل عملیات پای ته ورسول، خو د عملیاتو په ترځ کې مسیدو خپلې شتې او د استوګنې سيمې له لاسه ورکړې او شاوخوا یو میلیون تنه نفوس یې ټانک، ډېره اسماعیل خان او نورو سيمو ته په کډه لاړ. پاکستان له پوځي عملیاتو سره مل، د طالبانو پر ضد د قومي لښکرو جوړولو پروژې هم پرمخ وړلې.



په لومړیو کې هغوی قومي مشران له طالبانو سره مبارزې او د هغوی د فعالیتونو مخنیوي ته وهڅول، چې په پایله کې یې په سلګونو قومي مشران په طالبانو ووژل. په وزیرستان کې سوچه قومي لښکرو کار نه ورکاوه، ځکه ملکانو او قومي مشرانو په ولس کې د طالبانو د نفوذ په خپرېدو سره خپل اغیز له لاسه ورکړی و. حکومت وروسته خپل تاکتیک بدل کړ او د طالبانو پر وړاندې یې هغه قومي مشران رامخکې کړل، چې د مولوي نذیر، حافظ ګل بهادر او یو شمېر نورو په څېر یې مشري له قومي او مذهبي دواړو بڼو رغېدلې وه. په وزیر میشتو سيمو کې حکومت په دې پروژه کې بریالی دی، خو په مسیدو کې یې دغه مشري په مخالف قطب کې ده. بل پلو د ملا پیونده لمسی«همایون خان» او نور قومي مشران هغسې نفوذ نه لري، چې د بیت الله مسید او حکیم الله مسید د ځواکمنو ډلو پر وړاندې ودریږي.

پاکستان د ۲۰۰۴ز کال په اپریل، د ۲۰۰۵ کال په فبروري او د ۲۰۰۶ز کال په سپټمبر کې له نیک محمد، بیت الله مسید او مولوي نذیر او حافظ ګل بهادر ډلې سره د سولې جلا جلا تړونونه وکړل، خو له وروستي هغه پرته نور تړونونه بېرته لغو شول او طالبانو هم له وزیرستان نه د پاکستان د پخوانۍ لومړۍ وزیرې بې نظیر بوټو د وژنې په ګډون، په دغه هېواد کې ګڼ مرګوني بریدونه او چاودنې پلان کړل. په ۲۰۰۹ز کال کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د بیت الله له وژل کېدو وروسته، حکیم الله مسید د یوې نوې جنګي ستراتیژۍ له مخې، د طالبانو جګړه له پښتونخوا نه لاهور او کراچۍ ته وغځوله او په دې توګه یې د پاکستان درې ایالتونه (*پښتونخوا، پنجاب او سند*) له ناکراریو سره مخ کړل. په خوست کې د سي آی اې پر مرکز، د پاکستان د استخباراتو او پوځ پر مرکزونو او هوایي ډګرونو پېچلو بریدونو، اسلام اباد دې ته اړ کړ، چې له امریکا سره د جوړجاړي له لارې دغه جنګیالی قوماندان هم له منځه یوسي.

د حکیم الله مسید له وژنې وروسته په وزیرستان او قبايلي سيمو کې د طالبانو مشري د پاکستان یوه سرسخته مخالف ملا فضل الله ته په لاس ورغله. هغه له دې مخکې د پاکستان له پوځ سره په سوات او شاوخوا سيمو کې ډغرې وهلې دي، خو له

۱۲کلنې جګړې وروسته، پاکستان لا هم د ۲۰۰۲ز کال په څېر اړ دی، چې په وزیرستان او قبایلو کې خلک ووژني، پوځي عملیات وکړي، اما دغه عملیات او وژنې د جمعیت العلماء او جماعت اسلامي په څېر مذهبي ګوندونو له ملاتړ او ۱۲کلنو سیاسي هڅو سره سره، کومه پایله نه ور کوي.

## سخت دریځي او طالبان

د پښتنو تاریخ ښيي، چې مذهب او فرهنګ پکې موازي پرمخ تللي او په نهایت کې دواړه سره غاړه او غړې شوي دي.

دوی هر هغه مذهبي، نظریاتي او ټولنیز تغییر ژر منلی دی، چې ددوی د فرهنګ او ژونددود خیال پکې ساتل شوی دی. تصوف څو پېړۍ په دې سیمه کې کار وکړ او د رهبرۍ کدر تر روزنې او بنسټي کېدو وروسته یې په خلکو کې د مشرتابه ربښې وځغلولې. د نورو پښتني سیمو برعکس، په وزیرستان کې د سلفي افکارو غیر تدریجي نفوذ ته عام ذهنیت جوړ نه و، خو سملاسي پلیتابه یې په خلکو کې دوه ډوله چلندونه را وټوکول. په لومړي چلند کې یې یوې طبقې پر وړاندې حساسیت وښود، خو په دویم چلند کې یې خلک تر ژور اغیز لاندې راغلل او له پراخ مذهبي لید، درک، تحلیل او د خپل او بل له ذهنیت جوړونې پرته یې پر ځان او نورو د پلي کولو هڅې پیل کړې. له دین او شریعت نه په بې خبرۍ ولاړ دغه دوه ګوني چلند په خلکو کې تشدد، تاوتریخوالی او د لومړي ځل لپاره د وزیرستان په شاوخوا او قبایلو کې مذهبي شخړې راوټوکولې.

په پښتون میشتو سیمو کې د اوسنۍ سخت دریځۍ[12] د خپرېدو لامل په دې سیمه کې د القاعدې شبکې لپاره هغه مساعد چاپېریال هم ګڼل کېږي، چې د افغان جهاد په کلونو کې مجاهدینو جوړ کړی؛ په ځانګړې توګه د مولوي جلال الدین حقاني شبکې، چې دمګړۍ د شمالي وزیرستان په دروازه (د کورمې ایجنسۍ په خوله) کې پرته

[12] یو شمېر کسان سخت دریځي او ترهګري سره ګډوي، په داسې حال کې، چې سخت دریځي بیل څیز دی.



ده او د پکتیا، پکتیکا، خوست او ننګرهار په ګډون د افغانستان ګڼ سرحدي ولایتونه کنټرولوي.

پر دې سربېره، د وزیرستان او ډیورنډ کرښې پر دواړو غاړو د پرتو پښتني قبیلو اکثریت وګړي په عربي هېوادونو کې په کار بوخت دي. په عربو هېوادونو پورې د قبایلي سیمو او وزیرستان تړلی اقتصاد او رالیږدیدلی فکر، ژونددود او انددود هم داسې فاکتور دی، چې په قبایلي سیمو کې یې د القاعدې له تشکیلاتو او د سخت دریځۍ له ودې سره محیطي همغږي رامنځته کړې ده.

## «مدرسه»، که نور عوامل؟

له ۱۹۷۹ز کال نه تر ۱۹۹۶ز کال پورې د افغان جګړې په کلونو کې د پاکستان مدرسې او مذهبي چارې په پرېکنده ډول د جماعت اسلامي او جمعیت العلماء دیوبندي فکره ډلو په لاس کې وې. دغو دوو ډلو د پاکستان له پوځ او څارګرو ادارو سره ژور اړیکي لرل او د حکومت لپاره د مدرسو او د مذهبي ډلو د فعالیتونو کنټرول اسانه و.

په ۱۹۴۷ز کال کې د پاکستان له رامنځته کېدو سره سم د مدرسو شمېر د مذهبي ډلو له تنوع سره مل پرمخ لاړ. د پوځ، څارګرو ادارو او ایالتي سیاستوالو تر اغیز لاندې جماعت اسلامي، جمعیت العلماء او سمیع الحق ډلې په خپلو ځانګړو کړیو (پښتونخوا او بلوچستان) کې، بریلویانو او اهل حدیث ډلې په پنجاب او شیعه ډلو په خپلو مذهبي جغرافیاوو کې سیاسي، مذهبي او پوځي درې ډوله هلې ځلې پیل کړې. هرې ډلې مدرسې او جوماتونه جوړ کړل او هرې ډلې وسلې او وسله والې ډلې تنظیم کړې. د افغان جهاد په وختونو کې دوی د پاکستان له لارې د امریکا، برېټانیا، قطر، عرب اماراتو او سعودي عرب بې کچې مرستې ترلاسه کړې او د طالبانو د جذب او جګړه ییزو لیکو ته د هغوی د استولو، اکمال، روغتیایي خدماتو او بسپنې راټولولو په چاره کې یې رقابتي عمل کاوه. په ۱۹۸۹ کال کې د کراچۍ په بنوریه مدرسه کې د طالبانو د روحاني مشر ملامحمد عمر او د القاعدې شبکې د پخواني مشر اسامه بن لادن له لیدنې

وروسته د دیوبندي او سلفي ډلو ترمنځ یو نوی یووالی منځ ته راغی او د طالبانو په پیاوړتیا سره جمعیت العلماء خپلې ریښې لا ټینګې کړې. دوی له ۱۹۹۴ز کال نه تر ۱۹۹۹کال پورې د ۸۰ زرو په شاوخوا کې طالبان ورزول، چې۴۰ په سلو کې (۲۸زرو تنو) یې د افغانستان په جګړو کې وند‌ه درلوده. د طالبانو د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د شمالي ټلوالې پر وړاندې د جمعیت العلماء شاوخوا اته زره طالبان او د القاعدې دوه-درې زره سرتېري جنګېدل، خو په ۲۰۰۴ز کال کې پر پاکستان د جګړې له متمرکز کېدو او د لال جومات او سوات عملیاتو له ترسره کېدو سره یوځای، د پاکستان د برخې اړوند دغه دیوبندي- سلفي ایتلاف وشړېد، ځکه جماعت اسلامي او جمعیت العلماء ډلو جګړې یوازې په افغانستان کې غوښتې، په داسې حال کې، چې القاعدې او له هغې اغیزمنو پاکستاني طالبانو د کابل او اسلام اباد پر وړاندې پر یو ډول دریځ ټینګار درلود.

د افغان جهاد کلونه او د طالبانو پنځه کلن دور د جماعت اسلامي او جمعیت العلماء د نفوذ او واک «طلایي دور» ګڼل کیږي، خو په وروستیو کلونو کې د «دیوبندي مکتب» پر وړاندې د «سلفیانو» پراخې او له شتمنیو مالامال ځپې نه یوازې دا، چې د دیوبندیانو د نفوذ سیمې محدودې کړې، بلکې د القاعدې تر اغیز لاندې نوي «طالباني غورځنګ» له هغوی نه د ملاتړ ولسي سرچینې او د مذهبي تقدس پانې هم واخستې. لکه افغان طالبان، چې حزب اسلامي په حکومت پلوۍ تورنوي، د پاکستان د طالبانو غورځنګ ټولو مهمو مشرانو نیک محمد، بیت الله، حکیم الله او مولانا فضل الله د جماعت اسلامي او جمعیت علماء ضد دریځونه غوره کړل او هغوی یې د حکومت د ملاتړ او «دین پلورنې» په نامه تکفیر کړل. دغه درز نه یوازې دا، چې په پاکستان کې د مذهبي ډلو ترمنځ یووالی او همغږي له منځه یووړه، بلکې په افغانستان او کشمیر کې د جګړو لپاره د لرو پښتنو طالبانو روزل شوی غوښ جګړه ییز ځواک د پاکستان د څارګرو ادارو له لاسه هم ووت.

ډېری لویدیزوال او یو شمېر افغان او پاکستاني شنونکي په وزیرستان او قبایلي سیمو کې ترهګري له دیني مدرسوسره تړي، په داسې حال کې، چې د دیني مدرسو په



تړاو دغسې قضاوت منطقي نه دی. مدرسه زموږ سپیڅلی مذهبي روزنځای دی. په پښتني جغرافیا کې شته ناکرارۍ او ترهګري له مذهب او مدرسې سرچینه نه اخلي، بلکې دلته شته ناکرارۍ او ترهګري تر ډېره په سیمه ییزو او نړیوالو سیاستونو او دولتي تروریزم کې تعریفیږي، چې د تعمیل لپاره یې افرادي قوت وخت ناوخته له «ځانګړو مدرسو» او قبایلي سیمو راغونډ شوی.

تر ۲۰۰۱ز کال پورې په شمالي او جنوبي وزیرستان کې مدرسې ډېری د سیمه ییزو متنفذو مولویانو په لاس کې وې، چې په فکري لحاظ له جمعیت العلماء او جماعت اسلامي سره تړلي وو، خو جنګي لیکې یې ډېرې کمې پیاوړې کولې. دوی د جهاد په کلونو کې له وزیرستان نه د بهر بوختېدو لیوالتیا نه درلوده، خو یو شمېر کم مسید او وزیر طالبان، چې په بنو، ټانک، ډېره اسماعیل خان، پېښور، لاهور، پنجاب او کراچۍ کې یې زده کړې کولې، وخت ناوخت د جګړو له لیکو سره یوځای کېدل. د بنو حسینیه نورک او معراج العلوم او په شمالي او جنوبي وزیرستان کې د مولوي حقاني منبع العلوم، د وانه د زیړي نور ضیاالمدارس او د مولوي نورمحمد مدرسه هغه مدرسې وې، چې د بیت الله مسید په ګډون د طالبانو یو شمېر کسان ترې جګړه ییزو لیکو ته جذب شوي، خو غوڅ اکثریت یې بر افغانان وو. د مولانا حسن جان په څېر ستر مذهبي مشر هم په ۱۹۶۲ز کال کې په حسینیه نورک کې پاتې شوی، خو په ټوله کې دغو مدرسو جګړه ییز مراکز او روزنځي نه درلودل. دلته د جګړه ییز ځواک د روزنې بهیر د اتحاد اسلامي، حزب اسلامي او حقاني شبکې له فعالیت سره مل و، چې له ۱۹۸۰ ز کال نه یې تر ۱۹۹۰یمو کلونو پورې پر ډېورنډ کرښه د جنوبي وزیرستان، شمالي وزیرستان او کورمې ایجنسۍ پر دواړو غاړو د بغر، سپینې شګې او تري منګل په څېر سیمو کې اکمالاتي جبهې درلودې. اتحاد اسلامي د افغان جهاد له پای ته رسیدو سره سم خپلې جبهې وتړلې، خو حزب اسلامي د عبدالله مسید په کمزوري کېدو سره په وزیرستان کې خپل نفوذ بایلود او په راوروسته کلونو کې د ملانذیر په څېر نسبي نرم دریځه قوماندان هم د فعالیت اجازه نه ور کوله.

بل پلو هغه وزیر او مسید، چې د بېلابېلو جهادي ډلو په لیکو کې افغانستان ته راتلل، یو شمېر یې د روسي کلاشنیکوفونو په لټه کې وو.

کلاشنیکوف د هغه وخت مډرنه وسله وه او قبایل په وسلې تر هرڅه ډېر مین دي. په دغو کلونو کې د قبیلو ترمنځ خپلمنځي شخړې ډېرې وې او د وسلو پر سر د قبیلو او افرادو ترمنځ سیالۍ هم پراخې وې. په دغه منځ کې ډېر داسې کسان هم وو، چې د جهاد په موخه افغانستان ته تلل، خو د مدرسو طالبان پکې په نشت برابر وو.

له افغان طالبانو بېل، د وزیرستان د طالبانو په لومړني تشکیل کې د مدرسو طالبان خورا کم وو، خو د امارت اغیز د هغه د تاریخي تسلسل له مخې پر وزیرستان محسوس و. په وزیرستان کې د طالبانو لومړنۍ فعال داسې څوک نه و، چې مذهبي مخینه او زده کړې ولري. د نېک محمد وزیر پر شاوخوا ډېری راغونډ شوي کسان هغه خلک وو، چې له نوموړي سره یې د قبیلوي نږدېتوب، ملګرۍ او اسلام پالنې تر شعار لاندې وسله اخستې وه، خو په بل اړخ کې له افغانستان نه اکثریت تللي طالبان د اسلامي امارت د بیا احیاء له فکر سره یوځای په دیني مدرسو، د افغان کډوالو په کمپونو او کورونو کې میشت شول. په هغوی کې بهرني جنګیالي هم وو، چې د وسلو، بمب جوړونې او جګړې په نویو تکتیکونو بلد وو. د امریکا پر ضد د جهاد روحیې او د صلیبي جګړو شعار کورني او بهرني طالبان همفکرۍ او همغږۍ ته اړ اېستل او هغه افرادي څواک، چې یوازې په نامه طالبان وو، په وروستیو کې د خپلو مشرانو له چلند، کړنو او فکر نه په اغیز د هغوی د لیکو تر ټولو سخت دریځي جنګیالي\مشران ثابت شول.

پاکستان، چې په ۲۰۰۲ز کال کې د نیک محمد وزیر او د هغه د ملګرو له منځه وړو لپاره کومه جګړه پیل کړې وه، په ۲۰۱۴ کال کې دغه جګړه له اعظم ورسک او کلوشې سیمې نه تر پېښور، لاهور او کراچۍ پورې غځېدلې ده. د سوات د تصفیوي عملیاتو تجربو په وزیرستان کې پایلې ور نه کړې، ځکه د سوات او وزیرستان ترمنځ د خلکو د سیاسي شعور د کچې او ذهنیت، ټولنیزو او قبیلوي ارزښتونو، خویونو او



جغرافیا له مخې ښکاره توپیرونه دي. دا حقیقت اوس ورو ورو جوتیږي، چې طالبان او د مدرسو له منځه وړل حل لاره نه ده. څومره، چې د مدرسې د منزوي کېدو او د وژنې او تصفیې پر ستراتیژۍ تمرکز ډېریږي، هومره د بې ثباتۍ ګراف او جغرافیا ورسره پراخیږي.

د حل لارې یو مهم اړخ په جګړه او سخت دریځۍ د متکي طالباني توب د عواملو او هڅوونکو سیاستونو تغییر دی.

د لویدیز او امریکا د ګټو په رڼا کې د سخت دریځۍ او ترهګرۍ تعریف او تر همدغه نامه لاندې د امریکا، پاکستان او سعودي عرب د مثلث مداخلوي هڅې په سیمه او نړۍ کې د ترهګرۍ او سخت دریځۍ د ودې ستر عامل دی.

پاکستان، چې ترڅو په افغانستان او هند کې له ترهګرۍ محوره سیاستونو او د «قایم مقام» له لارې د جګړې او سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ له ستراتیژۍ لاس وانخلي او امریکا له خپلو ترهګرۍ زېږوونکو سیاستونو سره له دې سیمې ونه وځي، له وزیرستان نه به تر کراچۍ او کابل او په عکس العملي بڼه له کابل نه تر وزیرستان او کراچۍ پورې د ناوتریخوالي او ناامنیو دغه سره کرښه ټینګه وي. په بل اړخ کې د پاکستان کورنۍ سیاست په خلکو کې د دښمنانه ذهنیت پر رامنځته کولو متمرکز دی او دغه ذهنیت د نورو هېوادونو پر ضد، چې اسلام اباد یې په عامه افکارو کې دیني او مذهبي دښمنان معرفي کوي، د وسلې په توګه کاروي.

پاکستان په مذهبي ګوندونو کې د هند او افغان حکومتونو پر وړاندې دومره سخت دښمنانه ذهنیت جوړ شوی، چې د نوي ډیلي او اسلام اباد او افغان حکومت او طالبانو د نږدې کېدو هڅې وخت ناوخت شنډوي.

### مبهمه راتلونکې

په وزیرستان او قبایلي سیمو کې هر وسله وال کس طالب او جنګیالی نه دی او هر طالب هم جنګیالی نه دی. د قانون او حکومتولۍ په نشتوالي کې هغوی د شخصي امنیت لپاره ټوپک ساتل خپله اړتیا بولي، خو په حقیقت کې دې چارې وسله

وال کېدو او طالباني توب ته زمينه برابره کړې ده.

پر ۲۰۰۴ز کال په وزیرستان کې د القاعدې او نورو بهرنیو جنګیالیو شمېر اته زره تنه اټکل کېده، خو په ۲۰۱۱ کال کې په وزیرستان کې د طالبانو د ټولو سرتېرو شمېر ۱۰ زره تنه ګڼل شوی، چې نیمايي يې د حقاني شبکې غړي دي. دلته له درې زرو تر پنځو زرو پورې داسې طالبان هم شته، چې له پنجاب ایالت او ددغه ایالت له مذهبي او وسله والو ډلو سره تړاو لري. دغه طالبان د پنجابي طالبانو په نامه مشهور دي، چې ویل کیږي د پاکستان پوځ او څارګرې ادارې يې کنټرولوي.

په عربو هېوادونو کې د عرب پسرلي او په عراق او سوریه کې د القاعدې نفوذ او پر یو شمېر سیمو کنټرول د وزیرستان پر لور د القاعدې د جنګیالیو بهیر ودراوه او یو شمېر يې د عربو هېوادونو پر لور تګ ته وهڅول، خو ازبک، چیچنيايي او د ایغور سیمې جنګیالي لا هم په سیمه کې فعال دي. امریکا د ملا نذیر په وژنې سره د ازبک جنګیالیو پر وړاندې سیمه ییز خنډ له منځه یووړ او د لطیف الله مسید نیونې او وروسته د حکیم الله مسید وژنې د سولې او وزیرستان او افغانستان اړیکي هم تر یوه بریده وشلول. په سوریه کې د امریکا، ترکیې او سعودي عرب د پلان تر ناکامېدو وروسته، یوځل بیا د وزیرستان پر لور د بهرنیو جنګیالیو د راماتېدو احتمال دی. د بهرنیو جنګیالیو، په ځانګړې توګه د منځنۍ اسیا د جنګیالیو د حضور لپاره اوس تر ټولو مساعده سیمه جنوبي وزیرستان دی، ځکه په غوښ ډول د پوځ تر لاس لاندې دی او هغه قبیله (مسید) هم له وزیرستان نه شړل شوې، چې د تاریخ په اوږدو کې تل د پوځي زور پر وړاندې درېدلې او د افغانستان خوا يې نیولې ده. یانې اوس که بهرني جنګیالي وزیرستان ته راځي، فعالیتونه به يې پر سیمه د حاکمو پوځي ستراتیژیو په اډانه کې تر څار او کنټرول لاندې وي.

د وزیرستان وضعیت اوس په یوه ګونګ حالت کې دی. طالبان به د شریعت له نفاذ پرته بشپړې سولې ته غاړه کینږدي او پاکستانی حکومت هم د مالاکنډ د نفاذ شریعت محمدي تجربې ته په پام سره ټول پاکستان ته د شرعي نظام او د طالبانو د غورځنګ له خپرېدو په ویره کې دی. که داسې څه کیږي هم دا به د یوې سترې معاملې



په ترخ کې کیږي. اوسنۍ وضع په سیمه کې د یوه داسې راتلونکي احتمال ډېروي، چې منځنۍ اسیا، روسیې، چین، منځني ختیځ او نورو سیمو ته به ترې جګړې سرایت کوي. دا هغه وخت دی، چې د سترې لوبې لوبغاړي به له وزیرستان او پښتني جغرافیا نه د منځنۍ اسیا او منځني ختیځ پر لور د ټوپ اچونې د تختې په توګه کار اخلي. په دې توګه وزیرستان او قبایلي سیمې یوځل بیا د انګریزانو د یاغیستان تجربې ته ور ګرځي او که د افغانستان، پاکستان او طالبانو او نورو وسله والو ډلو په ګډې همکارۍ د سولې د ټینګښت، د طبیعي سرچینو پر سر د سترو قدرتونو د جوړجاړي او د وزیرستان کړکیچ د حل معقولې هڅې ونه شي، دا سیمه به په نږدې راتلونکي کې یوځل بیا د سترې لوبې مرکز وي.

ښنو لاندې کول دي، ځکه د قبايلي سيمو وګړي، نور له قبيلوي جوړښتونو وتلي او له سيمه ييز او نړيوال مخ پر ودې بهير سره همګامه تګ غواړي.

په نولسمه او د شلمې پیړۍ تر نيمايي پورې د قبايلي سيمو له ازاد او ياغي وضعيت نه د انګريزانو هدف خپل پراختيا غوښتونکي اهداف او د نورو د هغو پر وړاندې د يوه بفر زون رامنځته کول و. له انګريزي ښکيلاک وروسته، دغه سيمه د افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسيا او په دې وروستيو کې د منځني ختيځ د نارامیو لپاره کارول شوې او شته وضعې ته په پام، د راتلونکو نړيوالو سترو لوبو احتمالي مرکز به هم وي. په نولسمه او شلمه پیړۍ کې انګريزانو د هند پر لور د ناپليون او شوروي اتحاد د لشکرکشيو د مخنيوي په موخه قبايلي سيمې د يوه پوخ کمربند په توګه وکارولې، وروسته دغه کمربند امريکا پر افغانستان د شوروي اتحاد د يرغل پر وخت وکاراوه. د اخ اوډب اوسنی مديريتي مثلث (پاکستان، امريکا او متحدين يې)، د کورمې ايجنسۍ حالاتو او د سعودي عرب سياستونو ته په پام مربع (ايران، هند، امريکا او پاکستان)، مخمس (پاکستان، امريکا، هند، ايران او سعودي عرب) او په عکس العملي چلند کې مسدس(پاکستان، امريکا، هند، ايران، سعودي عرب او افغانستان) هم د خپلو سيمه ييزو او کورنيو سياستونو د تعميل او ټينګښت په موخه  له دغه کمربنده ګټه پورته کوي. د شلمې پیړۍ په نويمو کلونو کې د وزيرستان او قبايلي سيمو ازاد تشکيلات او قوانين ددې لامل وګرځېدل، چې دغه سيمه د القاعدې او منځنۍ اسيا د اسلامي غورځنګونو په څېر د نړيوالو جنګياليو مرکز وګرځي او امريکا يې هم د خپل پراختيا غوښتونکي سياست لپاره د يوې ستراتيژيکې نقطې په توګه وکاروي.

### زاړه او غير مدني قوانين

د انګريزانو قانون او حکومتولي د سيمه ييزو وګړو او حکومت ترمنځ پر يوه انفرادي منتظم راڅرخېده، چې وروسته يې حکومتي نفوذ ته لاره اواروله. انګريزانو په هره سيمه کې د موروثي ځواک حدود تشخيصول او عامه ذهنيت او اړتياو ته په بې پامۍ

دوولسم څپرکی

## تحميلي «ځنګلي» ژوند

د قبايلي سيمو او وزيرستان اوسنی وضعيت او په هر دور او زمان کې د سرخوړ جوړېدو لامل له ډيورنډ تړون، بې برخليکه توب او لا قانونيت نه سرچينه اخلي. انګريزانو دغه سيمه د برېټانيايي هند پر لور د شوروي اتحاد او ناپليون د راتګ د مخنيوي لپاره د يوې حايل سيمې په توګه رامنځته کړه او وروسته، چې پاکستان د نړۍ نقشې ته راغی، وزيرستان او قبايلي سيمې د انګريزانو له سياستونو، قانون او جوړښت سره مل پاتې شوې.

د عام تحليل برعکس، د قبايلي سيمو ټولې ستونزې د افغان جهاد او طالبانو د دور محصول نه دي، بلکې دا له سياسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنيز مخ پر ودې بهير نه جلا د «ازاد قبايل» په نامه د هغه سياست او قوانينو زېږنده دي، چې له نولسمې پیړۍ او ۱۹۰۱ز کال راهيسې پر دې خلکو تپل شوي دي. دغه سياست او غير انساني قوانينو قبايلي وګړي له مدني او سياسي حقونو بې برخې کړي او قبايلي پټاره يې په يوې بې برخليکې سيمې او د جرايمو په نړيوال مرکز بدله کړې ده. پر قبايلي سيمو د ۱۹مې او شلمې پیړۍ د قوانينو جبري تنفيذ هغوی د ۲۱مې پیړۍ له سياسي، ټولنيزو او ټکنالوژيکو پرمختګونو، نړيوالتوب او  وګړنيو حقونو د حصول له حقه لرې په يوه دايره کې ايسار ساتلي دي. په حقيقت کې دا د ۲۱مې پیړۍ انسان د وګړنيو او بشري حقونو تر

يې شخص محوره سياست پر مخ وړ. تامس منرو په ۱۸۲۴ کال په دې باور و، چې اقتصادي نظرېې او اروپايي معيارونه په دې سيمو کې د پلي کېدا وړ نه دي او لومړی بايد حالات داسې برابر شي، چې خلک مالیې ورکولو ته چمتو شي. منرو د منځګړې حکومتي پالیسۍ مخالف و، خو ځينې نور د منځګړې پالیسۍ پلويان وو. د قبايلو لپاره په شته قانون (FCR) کې دوی پر ملکانو تکيه وکړه او قومي مشران يې د قبايلي چارو د انتظام لپاره د منځګړو په توګه رامخکې کړل.

په ۱۹۴۷ز کال د برېتانيايي هند له وېش وروسته، د انګريزانو د ايف سي ار په ګډون ټول ناقص قوانين پاکستان ته په ميراث پاتې شول او دغه هېواد له ناځيزه او غير موثرو تعديلاتو او بدلونونو سره سره لا هم همغه زاړه قوانين پلي کوي. ايف سي ار او د ملکی يا جوړجاړي سيستم دوه مختلفې او ناوړه لاريحې دي، ځکه دا دواړې د حکومت د نااندېوله شخصيت پالنې تيوری پر بنسټ ولاړې دي. په دواړو نظامونو کې شخصي اثر لوړ دی. انګريزانو په دا ډول حکومتولۍ او قانون جوړونې سره غوښتل، چې د واک د دوديزو بنسټونو په ملاتړ او مشروط خونديتابه سره، ټولې قبايلي سيمې په خپل واک کې واخلي او د دريېم قوت پر وړاندې يې د خنډ او بفر زون په توګه وکاروي.[۱۲۴]

د ايف سي ار په مخکينيو او تعديل شويو دواړو قوانينو کې يوازې د جرايمو او سزاوو وړاندوينې شوې دي. دلته، چې د جرګې په تړاو کوم شرايط وضع شوي، د جرګې اصلي ماهيت له منځه وړي او قومي مشران د ځانګړو امتيازونو له مخې د حکومت او چارواکو د لاس الې ګرځوي. مرستيال کمشنر واک لري، چې د جرګې پرېکړې د دويمې جرګې په راغوښتلو سره مستردې کړي او يا تورن کس بري کړي. تر ۲۰۱۱ز کال پورې د سزا وړ ګڼل شوې قبيلې پر تګ راتګ، سوداګرۍ، حمل او نقل او نورو ټولو اقتصادي او ټولنيزو فعاليتونو بنديز و. ددغه قانون له مخې، که د قبيلې کوم فرد په جرم کې له چا سره مرسته کړې وي، يا د مجرم په نيولو کې ناکامه شوې، يا يې د مشکوکو افرادو پالنه او ملګرتيا کړې وي، مرستيال کمشنر کولای شي د کلي پر يوې برخې، يا ټول کلي ناغه کيږدي. په تعديل شوې بڼه کې هم د ټولنيز مسوولیت اصطلاح



په همدې معنا کارېدلې، خو په دومره توپير، چې اوس به په تدريج سره له خپل، نه قبيلې او بيا قوم ته مسووليت راجع کيږي. په ۲۹مه ماده کې ټول هغه کسان مجرم ګڼل کيږي، چې د کوم جرم د ارتکاب شک پرې کيږي، يا پوځي مراکزو ته نږدې له وسلې سره يوځای نيول کيږي. په نويو تعديلاتو کې تورن\مجرم ته د غړ پورته کولو حق ورکړل شوی دی. تر ۲۰۱۱ز کال پورې پوځيانو کولای شوای هغه کسان ووژني، چې د تېښتې هڅې به يې کولې، يا د وسلې د استعمال شک پرې کېده. هغوی د هر ډول وژنې او تاوتريخوالي پر وړاندې له قضايي مصوونيت نه برخمن وو. د ايف سي ار په تعديل شوې بڼه کې د تورن کس ضمانت شونی دی او له نيول کېدو ۲۴ساعته وروسته به د اړوندو چارواکو پر وړاندې حاضريږي. دغه راز له ۱۶کاله د کم عمر او له ۶۵ کلونو د ستر عمر بنځې او نران نه شي زنداني کېدای. په ۲۰۱۱ز کال کې د مدني قدرت ملاتړی قانون منځ ته راغی، چې د محکمې له حکم پرته وژنو مخنيوی کوي. ددغه قانون له مخې د پاکستان پر امنيتي ځواکونو بريد کوونکي له حتمي مرګه ژغورل کيږي، خو تر اوږده وخت پورې په زندانونو کې ساتل کيږي. پر دغه قانون د بشري حقونو د ټولنو نيوکې دادي، چې د پوځيانو ټولو ناوړه کړنو ته قانوني لارې چارې لټوي او خلک په ناثابتو جرمونو تر اوږدې مودې پورې په زندانونو کې ساتي. د ۲۰۱۱ز کال د اګست مياشتې له تعديلاتو مخکې پخواني ولسمشر اصف علي زرداري غوښتل ايف سي ار قانون له منځه يوسي، خو وروسته يې خپله پرېکړه بېرته واخسته، ځکه د ايف سي ار قانون په لغو کېدو سره قبايلي سيمې له پاکستان نه رسماً جلا کيږي.[۱۲۵]

په قبايلي سيمو کې د پوليټيکلي او ډپټي کمشنرۍ نظام د انګريز ميراث دی.

په ۲۰۰۱ ز کال کې يو لړ اصلاحات پکې راغلل او په حکومتي چارو کې يې خلکو ته ونډې ورکړې، خو پامور پايلې يې نه درلودې. د سيمه ييزې حکومتولۍ نظام په پلي کېدو سره په سيمه ييزو حکومتي نظامونو کې دوه مسالې راپورته شوې، يو د اساسي خدماتو له مخې حکومت ولسي بنې ته رانغی او ناامنۍ ورسره ډېرې شوې. بل خوا خلکو شکايت درلود، چې د ناظمانو د واکونو په زياتېدو سره بيروکراسي لا ډېره

شوې ده.

اسلام اباد او پېښور له ۲۰۰۲ز کال نه تر ۲۰۱۱ز کال پورې د سیمه ییزې حکومتولۍ په نظام کې وخت ناوخت تغییرات راوړل او په ۲۰۰۸ ز کال کې د پښتونخوا والي د سیمه ییزې همغږۍ د افسرانو (RCOs) مرکز جوړ کړ، چې مسوولیت یې په قبایلي او مستقرو (Settled areas) سیمو کې ددولت د واک او اقتدار او سولې شوني کول و. دوه میاشتې وروسته یې د جنایي اجرااتو قانون[۱۳] وړاندې کړ، چې له ناظمانو یې یو شمېر واکونه بېرته مرستیال کمشنرانو ته ورکړل. په مالاکنډ کې تر ډېره وخته د ایف سي ار قانون پلی کېده، خو په ۱۹۷۰کې د محکمو له نوي نظام سره یوځای له فدرالي مدیریته[۱۴]د پښتونخوا تر ایالتي[۱۵]واک او مدیریت لاندې راغی. په ۱۹۹۴ز کال کې د پاکستان د سترې محکمې د پرېکړې له مخې نور بدلونونه هم پکې راغلل، چې وروسته یې د نفاذ شریعت په څېر غورځنګونو په ټول مالاکنډ کې د اسلامي شریعت پر نفاذ ټینګار درلود. [۱۲۶]

په ۲۰۰۱ز کال کې نویو اصلاحاتو دلته د قبایلي سیمو په څېر له مذهبي ډلو سره تړلې سیمه ییز استازي پیاوړي کړل. د مالاکنډ د قانوني حیثیت بدلول د پاکستان د حکومت ازموینېتې کار و، خو دغه بدلونونه او په قبایلي سیمو کې وروستي تحولات ددې لامل شول، چې د پاکستان حکومت په قبایلي سیمو کې د ایف سي ار او نورو قوانینو اصلاح کولو ته زړه ښه نه کړي. هغوی د مالاکنډ د اسلامي شریعت غورځنګ تجربې، چې سوات او تیرا یې هم د طالبانو تر واک لاندې راوستل، په قبایلي سیمو کې له اضافي اصلاحاتو ویرولې او پر دې سیمو د مرکزي کنټرول شته والی مهم ګڼي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د پلویانو دلیل دادی، چې تر څو د سیمې خلک په حکومت کې شامل نه شي او هغوی په خپله سیمه کې خپل واک او نفوذ ونهویني، تر هغه به د

---

13 *(CCP- Code of Criminal Procedure)*

14 *(Federally Administered Tribal Areas)*

15 *(Provincially Administered Tribal Areas)*



حکومت په مخالفه جبهه (طالبانو) کې وي. په قبایلي سیمو کې د حکومت اصلاحي او د پرمختګ پالیسۍ په موازي بڼه پرمخ نه ځي. حکومت د بیا رغونې چارې له زور سره مل پرمخ وړي، خو ترڅو، چې دلته د حکومتولۍ بڼه او شکل بدل نه شي، تر هغه د پرمختګ د پالیسیو تطبیق ناشونی دی. سره له دې، چې په دې سیمو کې د حکومتي اصلاحاتو په برخه کې هیڅ ګام نه دی پورته شوی، د پرمختګ او بیا رغونې چارې هم ټکنۍ دي.

په اوسنیو حالاتو کې په قبایلي سیمو کې د پرمختګ او ودې پروګرامونو پلي کول ستونزمن هم دي، ځکه دا چارې په مستقیمه توګه له سولې او امنیت سره اړه لري. سوله او امنیت د پوځ په زور نه راځي، بلکې خلک اقتصادجوړونې او د اداري، قضایي او سیاسي نظام اصلاح کولو ته اړتیا لري. په وروستیو تطمیعي سیاستونو او عملیاتو سره په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د پاکستان پوځ او سیاسي استازو خپل ارزښت له لاسه ورکړی او خلک یې ملاتړ نه کوي. پوځ د قبایلي دودونو او له قبایلو سره د پاکستان د بنسټګر محمد علي جناح د ژمنې خلاف دې سیمې ته راغلی دی. د ملکانو رول د پوځ د حضور له امله د «حکومتي خواخوږۍ» په تېس کې خورا کمزوری شوی او طالبان هم له همدې امله هره ورځ ملکان په نښه کوي. دلته د ملک او ملا ترمنځ د جګړې تاریخ یوځل بیا تکرارېږي، ځکه د انګریز په وخت کې هم ملک ته حکومت پیسې ورکولې او ملایانو یې پر وړاندې توري پرکولې. سره له دې، چې د ایف سي ار قانون د بشري حقونو نړیوالو سازمانونو، د پاکستان سترې محکمې او شریعت محکمې د اسلامي او انساني حقونو خلاف بللی، خو د پاکستان حکومت لا هم پر قبایلي سیمو همدغه قانون پلی کوي. دغه تبعیضي قانون د قبایلي سیمو وګړي د پاکستان د اساسي قانون له ټولو امتیازونو او وګړنیو حقونو بې برخې کړي دي. د ایف سي ار قانون په حقیقت کې د پاکستان د اساسي قانون او د بشري حقونو د نړیوال منشور له موادو سره په بشپړ ټکر کې دی او قبایلي وګړي یې د « دویم» او « دریم انسان» په درجو سره وېشلي دي. په نړۍ کې له څو ګوتشمېر قبیلو پرته، چې په خپلو قبایلي دودونو پایېږي، په هیڅ متمدنه

ټولنه کې له قانون، نظام، محکمې او سیاسي، اداري او ټولنیزو اصلاحاتو پرته ژوند شونی نه دی. په قبایلي سیمو کې دمګړۍ دودیزه قبایلي ازادي، د ولسواکۍ ارزښتونه، ايف سي ار او پولیټیکلي نظام ټول یوځای پلي کیږي، خو دې ګډولې نه یوازې دا، چې هلته د خلکو ژوند او نظام جوړ نه کړای شو، بلکې له ۲۰۰۲ز کال نه تر ۲۰۱۴ز کال پورې یې وضعیت لا کړکېچن کړی او پر خلکو یې یوځ او تشدد مسلط کړي دي.

## ټاکنې او سیاسي ازادي

پاکستان په تېرو څو کلونو کې د قبایلي سیمو وګړو ته په ټاکنو کې د برخې اخستنې حق ورکړی او پارلمان ته یې استازي ځي، خو هغوی د رایې له اصلي حق نه تراوسه ګټه نه ده پورته کړې، ځکه پارلمان د قبایلي سیمو په تړاو د قانون جوړونې واک نه لري او دا صلاحیت یوازې له ولسمشر سره دی. په دې توګه د ولسواکۍ د ارزښتونو له مخې، د ټاکنو اصلي هدف، ارزښت او ماهیت له منځه ځي.

په قبایلي سیمو کې د سیاسي ډلو ټپلو په اوسنۍ بڼه فعالیتونه ددغو سیمو په شته وضعیت کې بنسټیز بدلون نه شي راوستلای، ځکه دوی په پارلمان او مشرانو جرګه کې د قبایلي سیمو د وضعیت، قانون جوړونې او د بیا رغونې او حکومتولۍ په برخه کې له پرېکړې او تصمیم نیونې بې برخې دي. د شاوخوا درې نیم میلیونو وګړو له منځه په ولسي جرګه (قومي اسامبلۍ) کې ۱۲ او په مشرانو جرګه (سنا) کې اته استازي لري. سناتوران د قومي اسامبلۍ د قبایلي سیمو د غړو له خوا ټاکل کیږي. دا خلک د پارلمان په داخل کې د قانون جوړونې په چاره کې برخه نه لري، خو د نورو سیمو د قانون جوړونې په برخه کې خپل غږ پورته کولای شي. په دې توګه دلته سیاست او سیاسي ګوندونه د ولس او خلکو پر وړاندې خپل سیاسي او ټولنیز مسوولیت پر مخ نه شي وړلای او یوازې د شخصي او ګوندي ګټو په برخه کې عمل کیږي. کله، چې استازي په قانون جوړولو او د خپلې سیمې او حلقې په تړاو پرېکړو کې حق نه لري، هغوی د ټولنې او ولس پر وړاندې خپل مسوولیت نه شي درک کولای او عمل یې ټول پر شخصي ګټو



راڅرخي. په دې صورت کې سیاسي ډلې په دغو سیمو کې د خدمت پرځای پر ګوندي منفعت کار کوي او پارلمان ته تلونکي استازي هم د ګوندونو د انتخاب او پرېښودو لپاره خپلې شخصي ګټې معیار ټاکي. دغه سیاست ددې لامل ګرځېدلی، چې د وزیرستان په ګډون ډېری قبایلي سیمې د پرمختګ له بهیره شاته پاتې شي او د سیاسي ډلو د نفوذ پرځای، هلته سخت دریځي او د ځارګرو ادارو او پوځ تر اغیز لاندې ډلې نفوذ وکړي.

په واقعیت کې اوس د ملک، جرګې، والي او سیاسي استازي پرځای په قبایلي سیمو کې امیر، تورن، جګړن او کور کمانډر واک چلوي. د ايف سي ار قانون په ملتیا سره دغه تشکل عملا د یوه پوځي حکومت په معنا دی.

## د قبایلي سیمو حقوقي حیثیت

په پاکستان کې حاکم ځواک له پښتونخوا سره د قبایلي سیمو یوځای کېدل له ستراتیژیکي او سیاسي لحاظه د پاکستان ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ بولي.

د انګریز له وخت راهیسې داسې ویره شته، چې که په پښتونخوا، بلوچستان او قبایلو کې تیت او پرک ولس یا «پښتون مثلث» پر یوه مرکز راغونډ شي، دا احتمال شته، چې د مرکزي حکومت پر وړاندې سرخوږ وګرځي او په پاکستان کې د پنجاب د قدرت او واک یو قطبي توب به یوځل بیا د بنګله دېش په څېر په دوه قطبي توب واوړي او دا چاره بالاخره ددې لامل هم ګرځېدای شي، چې د پښتونخوا خلک د یوه بېل هېواد لپاره مبارزې پیل کړي. په عملي ډول، چې له بنګله دېش سره کوم چلند کېده، همدا اوس پښتونخوا او بلوچستان هم ددغسې یوه چلند قربانیان دي.

د قبایلي سیمو په تړاو د افغانستان دریځ پر هېواد د واکمن وضعیت له امله محتاطانه دی، خو د ۲۰۱۰ز کال د مارچ پر ۱۱مه ولسمشر حامد کرزي په اسلام اباد کې یوې خبري ناستې ته په وینا کې ووېل، چې په قبایلي سیمو کې د ايف سي ار نافذ قانون له بشري حقونو سره په ټکر کې دی او افغان حکومت یې د له منځه وړو غوښتنه

کوي. دا په غیر مستقیم ډول پاکستان ته دا تفهیمول و، چې د پخوانیو هوکړو مطابق په قبایلي سیمو کې د بدلون او تغییر په تړاو له افغانستان سره همغږي لازمه ده. پخپله په قبایلو کې هم ددې سیمو د اداري او سیاسي برخلیک په تړاو بېل بېل دریځونه دي. یو شمېر ملکان دې سیمو ته له پښتونخوا نه جلا د شمالي سیمو په څېر حیثیت غواړي، خو یو شمېر نور یې له پښتونخوا سره پر یوځای کولو ټینګار کوي.

ټینګارکوونکی اړخ ډېری د نشنل عوامي ګوند سیاستوال دي، چې د پښتنو د یوه پیاوړي ایالت فکر پرمخ وړي، خو سیاسي مذهبي ګوندونه او هغه سیاسي ډلې، چې د پاکستان د پوځ تر اغیز لاندې دي، د قبایلي سیمو د اوسني حیثیت د خوندي کولو پلویتوب کوي. د یوه بېل ایالت په توګه د قبایلي سیمو را برسېره کېدل، د پاکستان اوسني کمزوري اقتصادي، سیاسي او اداري وضعیت ته په پام سره ستونزمن دي، ځکه دلته بېله قضا، پولیس او اداره په کار ده، چې په میلیاردونو لګښت غواړي، خو له پښتونخوا ایالت سره یې یوځای کېدل د اداري، قضایي، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، قومي او هر بل عامل له مخې منطقي دي. دغه سیمې که له خپل اوسني منزوي حالته ووځي، دا احتمال ډېر دی، چې له اوسني قبایلي او محصور حالت نه هم ووځي. په وروستي ګام کې د خلکو د اګاهۍ کچې او سیاسي شعور په لوړېدو سره سیاسي او جغرافیایي خپلواکي هم ترلاسه کولای شي.

## د قبایلي ټولنې مډرنایزیشن

د قبایلي سیمو وګړي تر ډېره بریده د خپل ځانګړي ټولنیز نظام څښتن دي.

په ټولنیزه راشه درشه او د وګړو ترمنځ د اړیکو په ټینګښت کې دغه نظام بریالی دی، خو د نویو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام له غوښتنو سره ډېر کم اړخ لګوي. له ښاري ټولنو سره د قبایلي ټولنې نږدېتوب دوه پایلې پرځای پرېښې دي، چې یوه د سوله ییز چاپیریال او سوله ییزو اړیکو په ترخ کې له ښاري ښېګړو د هغوی برخمنېدل دي، خو په دویمه هغه کې د ناهمغږۍ او تاوتریخوالي په چاپیریال کې یو دبل پر وړاندې



درېدلي او دولتونو هم د «یاغیانو» په نامه دوی ټکولي دي.

د ډېرو نورو قبیلوي ټولنو برعکس، وزیرستان او نورې پښتني قبایلي سیمې له ښاري او مخ پر وده سیمو سره په موازي کرښه پرتې دي. دې نږدېتوب او موازي جغرافیایي جوړښت له نورو قبایلي ټولنو سره د دې سیمو د پرتلنې معیار هم بدل کړی دی. څومره، چې ښاري سیمو د انسان د فردي ژوندانه د پرمختګ له مخې وده کړې ده، په همغه کچه دغه فردمحوره پرمختګ پر قبایلي سیمو هم اغیز کړی، خو برعکس له حکومتي او سازماني خدماتو یې په سیمه کې د دا ډول خدماتو د جذب د مراکزو، اصلاحي خوځښتونو او د نویو افکارو د منلو او له هغو سره د یوه ټولنیز تعامل له مخې د چلند د قوې د نشتوالي له امله، ډېره کمه ګټه پورته کړې ده.

په دې کې شک نشته، چې قبیلوي ټولنې د یوه ملت، هېواد او مډرنې ټولنې د رامنځته کېدو پر وړاندې ستر خنډ دی. په قبیله او قبیلوي نظامونو کې وګړي د ملت پرځای، قبیلې، د سیاست او قانون پرځای خپلو شرایطو، دود او نرخونو او د واکمن پرځای، د قبیلې مشر او ملک ته ژمن وي. د افغانستان، برېټانیایي هند او پاکستان حکومتونو په تېرو څو پېړیو او لسیزو کې خپل ټول ځواک او بودجه د قبیلو پر ایل کولو او د هغوی د مشرانو پر خپلولو لګولې. دغې تګلارې تر یوه بریده د هغوی د بغاوت او یاغیګرۍ مخه نیولې، خو د پرمختګ او ودې ټول فرصتونه یې د همدې یاغیګرۍ په بدل کې له لاسه ورکړي دي.

چېرته، چې نظام او قانون واکمن نه وي، هلته د ودې فرصتونه کم وي. په تېره یوه پېړۍ او اوسمهالي پېر کې له قبایلي سیمو سره د حکومتونو چلند د پراختیا پرځای پر سیاست راڅرخي. په سیمه کې هر سیاسي بدلون ددې سیمې د پراختیا او ودې مخه نیولې او برعکس، سیمه د سیاستونو د تعمیل او پوځي ستراتیژیو د اجرایي ځواک او قوماندې د مرکز، او یا هم د هېوادونو د ساتنې په موخه د بفر زون په توګه کارېدلې ده.

په وروستیو پنځوسو کلونو کې د افغانستان او پاکستان په دواړو خواوو کې د سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او نړیوالو شرایطو په بدلون سره په قبایلي سیمو کې د مډرنې

ټولنې ډېرو ځانګړنو نفوذ کړی، خو د قبایلو «بې برخلیکه جغرافیا» د دغه نفوذ د دوام او بنسټیز کېدو مخه ډب کړې ده. د نورو قبایلي ټولنو د دوامدار تغییر یا د تغییر د لومړنیو پړاوونو د تکامل لامل په یوه مشخص ملت او هېواد کې د هغوی فعال حضور دی، خو په پښتونخوا کې پرتې قبایلي سیمې له خپل تاریخي ملت او هویت سره سره، لا هم د مشخص ملت او هېواد له ستونزې سره لاس او ګریوان دي.

په هر اوښتون کې د ټولنې د تغییر لپاره د تغییر اوزار موجود وي. د هندي، امریکایي او سورپوستانو قبیلوي جوړښت د تغییر لپاره هغوی متبادل معیارونه، قوانین او اجرایي وړتیاوې درلودې. په قبایلي سیمو کې تغییرات له متبادل لټونې پرته پلي شوي او دي چارې د قبیلوي ټولنې د بدلون او مډرنایز کولو ټولې هڅې په اوبو لاهو کړې دي.

په افغانستان کې د غویي اوښتون له فیوډالیزم[16] سره د مبارزې په شعار ولاړ و، خو دا، چې د ځایناستي په توګه یې د هغوی بدیل نه درلود، د *ملک* او *خان* تشې چا ډکې نه کړای شوې. دغه کار د پاکستان په رامنځته کېدو سره هم وشو او د ملک او خان د رول په له منځه تګ سره قبیلو خپل دودیز بنسټونه او د بهرنیو عواملو پر وړاندې د مقاومت اهرمونه له لاسه ورکړل او قبایلي سیمې په عملي ډول د بهرنیو جنګیالیو ډلو او ځارګرو ادارو لاسونو ته ولوېدې. د واردمخه بدیل له شته والي او سیستماتیک کار پرته د هر بدلون، اوښتون یا په مجموع کې د اصلاحاتو د بهیر مخه پر یوه دغسې نااټکلېدونکي لور حتمي ده.

که د قبایلي سیمو تاریخي شالید ته وکتل شي، دې سیمو په هره نیمه پېړۍ کې د مشرۍ او سیاسي، ټولنیزو او مذهبي چلندونو یو نوی بدلون تجربه کړی دی. په حقیقت کې دا مساله په پښتنو قبایلو کې د تغییر او بدلون منلو د ځواک ښکارندویي کوي، خو د هر بدلون د اساسي بنسټ د نشتوالي له امله نه یوازې دا، چې دغه بدلونونه ددې سیمو په ګټه نه دي تمام شوي، بلکې د بهرنیو عواملو په دخالت سره له

[16]ـ دلته له فیوډال نه هدف یوازې یو ارخ (ملکي او خاني) ده، چې معمولا ځمکوال وو.



خپل اصلي مسیره اوښتي دي. له ۱۹۵۰ ز کال نه د همدې پېړۍ تر اتیایمې لسیزې پورې په قبایلي سیمو کې په ملک محورۍ یو نسبي سیاسي او ټولنیز ثبات ټینګ و او خلکو د بدلون پر لور حرکت کاوه، خو د شوروي اتحاد د پراختیا غوښتنې له سیاست سره مل، دغه بدلون په ټپه ودرېد او د ملک محورۍ کورني قبایلي سیاست پرځای ټولنې ته په سخت دریځۍ ولاړ سیاست راغی. دغه سیاست د شوروي اتحاد د پراختیا غوښتنې پر وړاندې د سترو او په لوبه کې ښکیلو هېوادونو د لنډمهالې پروژې برخه و، خو په قبایلي ټولنه کې د ټولنې جوړښت ته په پام دې پروژې دوام وکړ او وروسته، چې متحده ایالاتو په سیمه کې د پخوانۍ برېټانیا رول پرغاړه واخست او د پاکستان سیاستونه هم په افغانستان کې پر ستراتیژیک عمق متمرکز شول، دې پروژې قبایلي سیمې، افغانستان او پاکستان یوه خورا پېچلي وضعیت ته داخل کړل.

## ایا د قبایلو مډرنایز کول شوني دي؟

د نویتوب[17] پر لور د یوې ټولنې د حرکت تر ټولو ستر خنډ کوچیګري ده.

په دغسې ټولنو کې د دولتونو لومړنۍ هدف د هغوی ځایي کول او پر هغوی د ځمکې او نورو امتیازاتو وېش وي. د ځایي کولو چاره او پر کوچیانو د نوي ژوند منل یوځه اوږد او تدریجي کار غواړي، خو له خیبر تر وزیرستان پورې میشت ولس د قبیلوي ټولنې له دغو لومړنیو پړاوونو تېر دی او په یوه نوي دور کې واقع دی، چې بشپړ د یوه مډرن انسان او مډرنې ټولنې پړاو دی.

انساني خوی او ځانګړنو او نړیوالتوب، یا ګلوبلایزېشن ته په پام، هیڅ انساني ټولنه د ټولنې په قصدي رول او یوازې داخلي لاملونو د ودې او پرمختګ له بهیره شاته نه پاتې کیږي. په قبیلوي جوړښتونو کې د یوې ټولنې د پاتې کېدو علت باید ډېری د هغې ټولنې د شاوخوا او خلور ګوټه راتاوو هېوادونو او ټولنو په سیاستونو کې ولټول شي. تر ۱۹۷۰ یمو کلونو پورې مالاکنډ، سوات، بونیر او دې ته ورته نورې سیمې هم بشپړې

[17] *Modernization*

د ښه هغه په لټه کې وي. یانې کوښښ کوي، چې د هغوی نقل مکان له اقتصادي عواملو\امتیازاتو سره مل وي، خو په دویم هغه کې ډېری تمرکز د عام قبیلوي ذهنیت پر تغییر وي، اما اقتصادي اړخ یې په پام کې کم نیول کیږي.

د ناقلي سیاست لومړنی ډول په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې پلی شوی دی. له جنوبي ولایتونو نه د شمالي ولایتونو پر لور د پښتني قبیلو نقل مکان د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا تضمین کړې ده. هغوی ته د دغه نقل مکان په بدل کې په شمالي ولایتونو کې د کرکیلي پراخې ځمکې ورکړل شوې دي. له اقتصاد سره د مل ناقلي سیاست څرک په پاکستان کې هم لګېدای شي. یوازې په کراچۍ کې شاوخوا څلور میلیونه پښتانه د ښار د ټرانسپورټي سیستم له کنټرول سره یوځای اوسیږي، چې غوڅ اکثریت یې د قبایلي سیمو وګړي دي او دا ټول د کراچۍ ددفاع د سیاست تر چتر لاندې پر عوامي نشنل ګوند راغونډ دي. سره له دې، چې پاکستان له پښتون ملتپالنې او په وروستیو کې له پښتنو مذهبي ډلو په ویره کې دی او په کراچۍ، قبایلو او پښتونخوا کې یې د اسلامي نظریاتو د پالنې په موخه د پښتني مذهبي ګوندونو پرځای، په پاکستاني نشنلیزم متکي لبرال پاکستانی پښتون (عمران خان) رامخکې کړی، خو د اسلام اباد وروستیو ټاکنو ته په پام سره، د ناقلي سیاست اصلي محور یې لا هم په خپل واک کې دی. برعکس د پاکستان د ثبات او قبایلي سیمو د اصلاح او له پاکستانۍ ټولنې سره د هغوی د ادغام په تړاو د اسلام اباد سیاست تر دې دمه ناکام دی.

په ۲۰۰۴ ز کال په وزیرستان کې د طالبانو د غورځنګ له ودې سره یوځای، چې د دې ډلې مشري د مسیدو سیمې ته تللې ده، پاکستاني پوځ د انګریزانو ناقلي سیاست خپل کړی دی. انګریزانو په خپل وخت کې د «مجرمو قبیلو» پر وړاندې پوځي عملیات کول او هغوی یې افغانستان او یا هم د برېټانیایي هند نورو سیمو ته په کډوالۍ مجبورولې. دغه سیاست د دولت او هېواد د ثبات د ستراتیژۍ او اصلاحاتو دواړو له مخې ناکام و. هغه پښتنې قبیلې، چې د انګریزانو په وخت کې له وزیرستان او



قبایلي سیمې وې، خو له ۲۰۰۴ز کال مخکې وختونو پورې دا سیمې د پښتونخوا تر ټولو مډرنې او د نویو بدلونونو پر وړاندې غیر مقاومې او بدلون منونکې سیمې وې. وروسته، چې پر پاکستان او سیمه واکمن سیاست پر دې سیمه د سخت دریځۍ نسخه پلې کوله، د سخت دریځۍ او قبایلي ټولنو خاصیت تر اسلام اباد، پنجاب او کراچۍ پورې هم وغځېد.

د انسان خوی او روان او انساني پرمختګ قبایلي ټولنې هم د بدلون پر لور سوق کوي.

په نړۍ کې هیڅ داسې انسان او ټولنه نشته، چې د پرمختګ مخالف جهت ونیسي، خو پر انسان او ټولنه حاکم سیاست ددې لامل کېدای شي، چې د هغوی د پرمختګ پر وړاندې خنډ واقع شي، یا لږ ترلږه هغوی له فکري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز اړخه په یوه راکد او جامد حالت کې وساتي. د هرچا دا خوښیږي، چې د ځراغ پرځای برېښنا ولري، د راډیو پرځای ټلویزیون وګوري، د مخبر پرځای له ټیلیفون کار واخلي او د خره او اس سپرلۍ پرځای په موټر کې لاړ شي!. کله، چې د انسانانو ترمنځ د سهولت خوښونې خوی دومره مشترک وي، د پرمختګ او بدلون منلو غوښتنه هم پکې شریکه ده.

په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د قبیلوي نظامونو د اصلاح لپاره انګریزانو په خپل وخت کې ډېرې کمې هڅې کړې دي. د هغوی یو ګام، چې وروسته له ناکامۍ سره مخ شو، د قبایلو په تړاو ناقلي سیاست و، چې له ۲۰۰۱ز کال راهیسې پاکستان هم دغه سیاست تعقیبوي.

دولتونه له ناقلي سیاست نه په دوو برخو کې کار اخلي:

**لومړی**: د هېواد د پولو او ځمکنۍ بشپړتیا د ټینګښت په موخه

**دویم**: د ثبات او قبیلوي نظامونو د اصلاح او بالاخره له ملي ټولنې سره د قبیلوي جوړښتونو د اغام په موخه

په لومړني مورد کې دولتونه د انتقالېدونکو کورنیو او قبیلو لپاره تر شته وضعیت

قبایلي سیمو اېستل کېدې، د بلوڅو، هندي او نورو قبیلو برعکس په نورو سیمو کې په کتلوي ډول سره یوځای کېدې. دغه یوځای کېدو یو خوا د قبیلو قبیلوي ارزښتونه خوندي کول او له بلې خوا یې د دښمن پر وړاندې د هغوی یووالی ساته. دوی د بنو د وزیرو په څېر د اوړي او ژمي د کډوالۍ پر بنسټ، په ژمي کې د انګریزانو تر قانون لاندې ارام ژوند کاوه، خو په اوړي کې به، چې بېرته خپلو غرنیو سیمو ته ستنېدل، د قبیلوي جوړښتونو له مخې به یې عمل کاوه. هغوی په بنو کې انګریزانو ته د ځمکې مالیې ور کولې، خو، چې غرونو ته به وختل، یا خپلو اصلي مېنو ته به ستانه شول، د انګریز قانون له منلو او مالیې ورکولو به یې ډډه کوله.

د قبیلوي پاڅونونو د مخنیوي په موخه دولتونو په بېلابېلو دورو کې قبیلې پر مختلفو سیمو وېشلې او د هغوی واک او ځواک یې کمزوری کړی، خو په پښتنو کې هره کډوالي او هر ناقل سیاست په یوه خاصه محدوده کې د قبیلې یو ډول خلک سره را غونډ کړي دي. د افغانستان د جهاد په وختونو کې وزیر او مسید ټول وزیرستان او خپلو پخوانیو مېنو ته لاړل، خو د ختیزو ولایتونو (ننګرهار، لغمان او کونړ) خلکو د پېښور مخه ونیوله او هغوی، چې په کابل کې اوسېدل، په کډوالۍ کې اسلام اباد او کراچۍ ته لاړل.

په وزیرستان کې د پاکستان د اوسني ناقلي سیاست تعمیل په ښکاره له ترهګرۍ ضد جګړې سره تړل کیږي. دلته د څارګرو ادارو او په افغانستان کې د امریکا حضور د ډیورنډ کرښې ټینګښت او نور ستراتیژیک پوځي اهداف ددغه نقل مکان بنسټ جوړوي، خو په څنګ کې پاکستاني ستراتیژیستان له دغه ناقلي سیاست نه په پاکستانۍ ټولنه کې د قبایلو د ادغام هڅه هم کوي. له وزیرستان نه تر ټانک، ډېره اسماعیل خان، پېښور، پنډۍ، لاهور او کراچۍ پورې د مسیدو د کډوالۍ بهیر هغوی د ژوند او اقتصاد جوړونې له یوه نوي پړاو سره روبرو کړل، د هغوی فکر او ذهنیت بدل شوی او د نورو په څېر په خپله اقتصاد جوړونه بوخت دي.

دا د پښتنو ځانګړنه ده، چې په خپله ټولنه کې یې په کار سر نه ټیټیږي، کار له



خپلې سوبې او قبیلوي غیرت ټیټ ګڼي، یا یې نور نه پرېږدي او یا هم له نورو پکې شرم کوي. همدا علت دی، چې ډېری نارینه مو په عربو او له قبایلي سیمو بهر تر کراچۍ پورې مساپر دي. په هند کې د پښتنو د شهکاریو او واکمنیو راز هم په همدې کې دی. له نوي مهاجرت او ناقلي سیاست سره د دوی فکر او ذهنیت د قبیلوي شخړو پرځای، د خپل ژوند پر جوړولو متمرکز شوی دی.

د نولسمې پیړۍ په نیمایي کې د وزیرو بېلابېلو ښاخونو ددوی پر ځمکو د مسیدو له بریدونو او پرمختګ ویره درلوده، ځکه د دوی اکثریت ځوانان، چې د بنو په څېر نیمه ښاري سیمو ته تلل، خپلو سیمو ته یې د بېرته تګ او جګړو شوق نه کاوه، خو وزیرستان ته ستنېدونکې قبیلې به په لږ وخت کې بېرته له خپلو قبیلوي جوړښتونو او خویونو سره یوځای کېدې. دغه مساله د پاکستان د اوسني ناقلي سیاست په اوج او پای کې محسوسه ده. هغه قبیلې، چې په ښاري سیمو کې پاتې شوې فکر او ذهنیت یې بدل شوی، خو ستنې شوې او ستنېدونکې هغه له لازمو اصلاحاتو پرته بېرته له خپل قبایلي ذهنیت سره یوځای ټولنه تشکیلوي.

### اصلي مساله چېرې ده؟

ناقلي سیاستونه ډېری وخت د ستونزې لنډمهالې حل لارې دي او تل په ستراتیژیک او دایمي حل نه منتج کیږي.

د وزیرستان او قبایلي سیمو وضعیت د افغانستان د تېرو حکومتونو له ناقلي سیاست او د کراچۍ له وضعې سره توپیر کوي. دلته د ټولو خلکو نقل مکان ستونزمن دی، خو لږ هغه یې یوازې په دویم مکان کې اغېزناک تمامیږي. د وزیرستان د خلکو نقل مکان نه یوازې دا، چې لومړی مکان امن نه کړای شو، بلکې دویم مکان یې تر کراچۍ پورې د بې ثباتۍ او ناامنیو له بهیر سره لاس او ګریوان کړ. د پاکستاني پوځ دغه سیاست ددې لامل شو، چې د ناکراریو څپې د سوات، اسلام اباد، لاهور او کراچۍ په څېر کرارو سیمو ته وغځوي او ټول هېواد له بې ثباتۍ سره مخامخ کړي.

د پاکستان د کډوالو د بېرته ستنولو په پروګرام کې دغه نقل مکان ګټور نه تمامیږي. وزیرستان ته له مدني حقونو بې برخې شوي او زیانمن خلک بېرته را ستنیږي. دوی له اداري او قضايي اصلاحاتو، سیاسي او مدني ازادیو، بیا رغونې، اقتصادي بېخبنايي چارو او قانوني خوندیتوب پرته بېرته خپلو قبیلوي جوړښتونو ته مخه کوي. تر څو، چې هغوی ته بشپړې مدني ازادی، ثبات او انساني او وګړنې حقوق( Citizen rights) ورنه کړل شي، تر هغه په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د اصلاحاتو بدلون راوستل اغیزتاک نه دي.

په اوسمهالي پېر کې قبیلوي جوړښتونو د قبیلو د پرمختګ او پراختیا پوټانسیل له لاسه ورکړی او نه یوازې دا، چې د پراختیا لامل یې نه ګرځي، بلکې پر وړاندې یې خنډ ګرځي.

قبایلي سیمې په تېره یوه نیمه پېړۍ کې له کوچیګري پړاوه تېرې شوې، خو د ځايي کېدو په پړاو کې د پراختیا او ودې پرځای په یوه ثابت حالت کې پاتې دي. دا ایډیال حالت نه دی، ځکه په ځايي کېدو پسې د پراختیا، پرمختګ، اقتصادي، فکري او سیاسي ودې پړاو راځي، چې د انساني پرمختګ او ودې مهم هدف جوړوي. څومره، چې د کوچیانو په ځايي کولو او د قبیلوي جوړښتونو په ماتولو کې ځنډ کیږي، په همغه کچه د ستونزې ابعاد ډیریږي. ۱۰۰ کاله مخکې ممکن د کوچیانو او قبایلو شمېر تر اوسني دغه خورا کم و، خو اوس یې شمېر میلیونونو ته رسیږي او نورو سیمو ته نفوذ کوي. انسانان په طبیعي ډول په ځان کې پخپله تغییر راولي، یانې د تغییر اصلي محرک پخپله دوی دي، خو که دغه محرک بهرنی وي، پر وړاندې یې مقاومت او غبرګون ښیي. څومره، چې د تغییر داخلي او بهرني عوامل سره نږدې او همغږي وي، په یوه فرد، قبیله او ټولنه کې د تغییراتو بهیر اسانه کیږي.

په قبیلوي ژوند کې لا هم افراد او شخصیتي نظام اصلي رول لوبوي، خو د مسیدو او وزیرو سایکالوژي او ټولنیز شخصیت تل ددې لامل ګرځېدلی، چې فردي او شخصیتي نظام پکې د قبیلې د ټولنیز شخصیت تر اغیز لاندې وي. په وزیرستان او



قبایلي سیمو کې د انګریزانو له پېره تر دې وخته پورې د دولتونو او قبیلو ترمنځ د اړیکو اصلي محور «ملک» او «ملا» پاتې شوی او دې چارې په ۲۱مه پېړۍ کې هم د شخصیتي نظام تیوري ژوندۍ ساتلې ده.

شخصیتي نظام او ملک محوري ډېرځله له قبایلو سره د دولتونو د اړیکو انډول له منځه وړی او دوه قبیلې یې د یوبل پر وړاندې په دوو مخالفو جبهو کې ساتلې دي. ددې تر ټولو ستر لامل له شخصیتي نظام نه د حکومتي نظام او نیواک د سیاست د تعمیل په برخه کې ګټه اخستل دي. حکومت، چې وزیرو ته ډېره پاملرنه کړې، مسید یې په مخالف قطب کې واقع شوي او، چې دا پاملرنه مسیدو ته شوې، وزیر یې په مخالف قطب کې ولاړ دي. دې چارې نه یوازې دا، چې په قبایلي سیمو کې خپلمنځي شخړو او د قبیلوي نظام ټینګښت ته لاره اواره کړې، بلکې په سیمه کې یې د پراختیا او پرمختګ مخه هم ډب کړې ده.

څومره، چې په یوه ټولنه کې دودیزې لارې له منځه ځي او د هغو لپاره واردمخه موډل او متبادل موجود وي، ټولنه ژر د پرمختګ له بهیر سره یوځای کیږي. د پاکستان دولت که په قبایلو کې سیاسي او ستراتیژیک اهداف یوې خوا کړي، له دریو لارو کولای شي، چې د قبایلي وګړو ژوند بدل کړي: لومړی د قبایلي وګړو شته وضعیت وڅیړي او د مطلوب حالت پر لور ګټ یې و ارزوي. په دویم ګام کې دوی له نوي سیاسي، قضايي، اقتصادي او ټولنیز نظام او اصلاحاتو سره بلد شي، نیم پرې عملي شي او د قبایلي ژوند د یو شمېر ارزښتونو د پالنې فرصت هم ورکړل شي. په دریم پړاو کې له هراړخیزو اصلاحاتو او ټولنیز مشارکت سره مل د هغوی د بشپړ وضعیت د بدلون هڅه وشي او په ټولنه کې مدغم شي. په لومړنیو دوو پړاوونو کې به هغوی دې ته چمتو شي، چې ټولنه دوی او دوی ټولنه ومني او په دریم پړاو کې باید په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې د هغوی د مرستې، څار او مدیریت په موخه ستراتیژیک سیاستونه و اوډل شي.

## دیارلسم څپرکی

# روزي په ټوپک کې

وزیرستان او قبایلي سیمې په اوسمهالي پېر کې د وسلو د صنعت او قاچاق سیمه ییز مرکزونه دي.

دلته له پاکستان، افغانستان، ایران، چین او نورو هېوادونو نه وسلې قاچاق کیږي او په ازادو بازارونو کې پلورل کیږي. د وسلو دغه ازاد بازار خلکو ته دا فرصت ورکړی، چې د وسلې صنعت پرمخ بوځي. دغه وسلې بېرته افغانستان، منځنۍ اسیا، کشمیر او د پاکستان اداري واحدونو ته قاچاق کیږي او ځومره، چې په سیمه کې ناکرارۍ ډېرېږي، دلته د وسلو صنعت او بازار ورسره وده کوي.

د دویمې نړیوالې جګړې تر پیل کېدو مخکې، چې په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د انګریزانو پر وړاندې مبارزې خپل اوج ته رسېدلې وې، په قبایلي سیمو کې د وسلو فابریکې مخ پر ډېرېدو وې. له دې مخکې سیمه ییزو خلکو دودیزې وسلې درلودې او د نویو وسلو لپاره د قاچاق، غنیمت او ولجې لارې کارېدې.

په ۱۸۹۷ او ۹۸ کلونو کې په تیرا او وزیرستان کې د جزایل په نامه زاړه کورني ټوپک په ډېرو کورونو کې موندل کېدل. څومره، چې انګریزانو په قبایلي سیمو کې د عملیاتو چارې ډېرولې او د پرمختګ پالیسي یې پرمخ وړله، هومره د قبایلي سیمو وګړو ته وسلې رسېدې او په ځینو مواردو کې یې ددوی د پوځیانو وسلې په غنیمت نیولې.[۱۲۷]



پښتنو ډېری هغه وسلې کارولې، چې د غلچکیو بریدونو لپاره د کار وړ وې، ځکه دوی تل جبهه یي جګړه نشوای کولای. انګریزانو په مقابل کې د وخت پرمختللې وسله کاروله. په لومړنیو کې وزیرو او مسیدو توپ او نورې درندې وسلې نه درلودې، خو ورو ورو یې درندې وسلې هم ترلاسه کړې.

په ۱۸۹۷ او ۹۸ کلونو کې په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د جګړې له شدت سره مل د پرمختللو اروپایي او انګریزي وسلو اړتیا ډېره شوه . د لوړې بیې او شدیدې اړتیا له مخې له هند، افغانستان او فارس خلیج نه د وسلو د قاچاق شبکې د قبایلي سیمو پرلور راماتې شوې او پخپله په قبایلي سیمو کې د وسلو د صنعت ګڼې فابریکې فعالې شوې.[۱۲۸]

د شلمې پېړۍ په لومړیو کې قبایلي سیمو ته د وسلو د قاچاق سوداګري چټکه شوه او څومره، چې دا وسلې ډېرېدې او نوې کېدې، په وزیرستان او قبایلو کې یې د انګریزانو اندېښنې ډېرولې، ځکه هغوی د جګړې د نسبي تسلیحاتي انډول په رامنځته کېدو سره د پولو پر لور پرمختګ نه شوای کولای. له روسیې، جرمني، ایران او فارس خلیج نه ډېری وسلې د افغانستان له لارې راوړل کېدې. انګریزان ددې ستونزې د مخنیوي لپاره تل په دې لټه کې وو، چې له افغانستان سره خپل اړیکي نږدې وساتي او کله، چې به دغه اړیکي ترینګلي کېدل، قبایلي سیمو ته به د افغانستان لارې د وسلو د قاچاق پرمخ پرانستې وې، یا لږ ترلږه افغان حکومت به یې پر وړاندې جدي خنډ نه و.

په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د لومړي ځل لپاره انګریزي او پرمختللي ټوپک په ۱۸۹۰ یمو کلونو کې هغه وخت زیات شول، چې انګریزانو د پرمختګ پالیسي له مخې غوښتل د وزیرو او مسیدو سیمو ته سرکونه وغځوي. د برېټانیا د څارګرو ادارو د ریپوټونو له مخې، په ۱۸۹۴ کال کې له مسیدو او وزیرو سره ټولټال ۲۵۰۰ مچکلاک لنډې ټوپک، تورې، زغرې، چړې او غشي او نیزې وې. په مقابل کې په شلمه پېړۍ کې انګریزانو ډېری سنایډر، مارټیني هنرایز او لي میټفورډ ټوپک کارول، چې نښه یې دقیقه او مرمۍ یې تر ۱۲ سوه مترو پورې هدف ویشت. وروسته هغوی په ۳۰۳ لي میټفورډ

سمبال شول، چې تر۲۰۰۰ مترو پورې یې هدف په نښه کاوه. دغو وسلو انګریزانو ته پر پښتنو یو جګړه ییز تفوق ورکړی و، خو د قبایلي سیمو وګړي هم په دې لټه کې وو، چې نوې وسلې ومومي. په ۱۸۹۵کال کې انګریزانو ته پته ولګېده، چې د قبایلي سیمو وګړو ګڼ سنایډر او اینفیلډ ټوپک او د هغو کارتوس ترلاسه کړي دي.

په دغو وختونو کې په اپریدیو کې د مارټیني هنري ټوپکو بیه ۴۵۰ هندي روپۍ وه، چې ۲۷ سټرلېنګ پونډه کېدل. پخپله اپریدیو هم ټوپک جوړول. دا، چې انګریزي ټوپک تر نورو هغو لرې نښه ویشتونکي او بریالي وو، بیه یې تر ډېره لوړه وه او هرچا یې د پیرنې وس نه درلود. په ۱۸۹۷ او ۹۸ کلونو کې، چې په تیرا کې د انګریزانو ۲۸۷پوځیان ووژل شول او ۸۵۳ نور یې مرګوني ټپیان شول، هغوی داسې اټکل کاوه، چې شل سلنه اپریدیو لي میټفورډ، سنایډر او مارټیني هنري ټوپک ترلاسه کړي دي. دا هغه کلونه وو، چې په قبایلي سیمو کې انګریزان په سیمه کې په انډولیزه وسله له مجهزو مبارزانو سره مخ کېدل. انګریزان ددغو وسلو له امله سخت اندېښمن ول، ځکه هغه پښتانه، چې له دوی سره یې په توره او ډال جګړه کوله، اوس یې داسې وسلې پیدا کړې وې، چې له دوی سره یې پرې متناسبې ډغرې وهلای شوای. هغوی فکر کاوه، چې دغه وسلې له بیرمنګهم نه بلجیم او له هغه ځایه د فارس خلیج له لارې برېټانیایي هند او قبایلي سیمو ته رسېدلې دي. ځینو فکر کاوه، چې دغه وسلې د افغانستان د امیر له کارخونو راغلې او ځینې یې په دې فکر ول، چې یادې وسلې له هند نه غلا شوې او دلته پر خلکو پلورل شوې دي. دا احتمال هم و، چې پخپله د برېټانیایي هند زیرمه تونونو او فابریکو په پټه پر قاچاق وړونکو پلورلې وي.[۱۲۹]

برېټانیایي جنرالانو له دې پېښې وورسته شاوخوا هغه ۱۳۷۹ټوپک وشېړل، چې په څو کلونو کې یې له خلکو نیولي وو او دوی په راولپنډۍ کې زېرمه کړي وو. ددوی د څېړنو په پایله کې څرګنده شوه، چې ۳۴۰ ټوپک ترې غلا شوي، ۱۰۱۹ یې رغول شوي او په غنیمت نیول شوي او ۷۹ نور له افغانستان نه راغلي دي. په دې وسلو کې داسې وسلې هم وې، چې له ډز سره به وچاودېدې او دا ښیي، چې یادې وسلې پخپله اپریدیو



جوړولې.

د هند نایب السلطنه په ۱۸۹۸ ز کال کې د وسلو د قاچاق او ډول د څېړنې او د هغو د تولید او سوداګرۍ د قانوني کولو لپاره د تورن جنرال ایل ایچ اي ټوکر او ډګروال ډبلیو هیل تر مشرۍ لاندې یوه کمېټه وګومارله. د شمال غربي سرحدي ایالت د وسلو څېړنې دې کمېټې اعلان وکړ، چې قبایلي سیمو ته له ګڼو ځایونو او سرچینو وسلې رسیږي. تورن جنرال ټوکر په خپل رپوټ کې وویل، چې په قبایلي سیمو کې ۴۸ زره اوږدې یا ګرمې وسلې (Fire guns) او ۳۰ زره کوږنۍ دودیزې ( جزایل) وسلې دي. ددغه انګریز جنرال په وینا، په دې کلونو کې د قبایلي سیمو په ۲۵۰ او ۲۶۰ زرو جنګیالیو کې له هرو پنځو کسانو یو هغه په پرمختللې وسله سمبال و. ددوی د څېړنو له مخې، دټوپکو اکثریت انتقال او قاچاق له برېټانیایي هند نه و. ۱۴۰۰ میله وسلې د برېټانیایي هند له دولت نه په غنیمت وړل شوې وې، ۳۰۰۰ میله وسلې په فابریکو کې له غیر قانوني توکو جوړې وې، ۲۵۰۰ میله نورې هغوی خپلو ملاتړو قبیلو او ملکانو ته ورکړې وې او ۴۰۰ میله نورې وسلې له افغانستان، روسیې او فارس خلیج نه قاچاق شوې وې.

د افغان- انګریز دویمې جګړې په ترڅ کې د قبایلي سیمو ډېرو مبارزانو ته افغان امیر وسلې ورکړې او په ډېرو مواردو کې یې په غنیمت ونیولې.

په ۱۸۹۷ کې داسې نښې نښانې ترلاسه شوې، چې ډېری هغه وسلې او توکي، چې د ورزش او ښکار په نامه برېټانیایي هند ته راوړل شوي، په قبایلي سیمو کې پلورل شوي دي. انګریزانو د وسلو د قاچاق لپاره په سرحدي پولیسو کې ځانګړې څانګې جوړې کړې او په ټولو قبایلي سیمو او سرحد ایالت کې یې د وسلو پر قاچاق او خرڅلاو څار او کنټرول ټینګ کړ. له دې پرته هغوی د خپلو هندي سرتېرو کړه وړه هم څارل او په هند او نورو ځایونو کې د وسلو زیرمتونونه او فابریکې تر څار لاندې راغلې. په ۱۸۹۹ او ۱۹۰۰ کلونو کې د برېټانیا بهرنیو چارو وزارت په قبایلي سیمو کې د خپلو پوځیانو د مرګ ژوبلې د مخنیوي په موخه د وسلو د قاچاق، وېش او سوداګرۍ په تړاو نوي قوانین وضع کړل او ملکانو او قومي مشرانو ته یې د وسلو ورکول منع کړل. د ټوپکو د صدور، ثبت او

راجسټر لایحې جوړې شوې او په سرحدي سیمو کې د وسلو د خرڅلاو د مخنیوي هڅې وشوې.

وزیرستان ته غلجي کوچیانو له افغانستان نه بېلابېلې وسلې راوړلې او پر خلکو یې پلورلې. د فارس خلیج او عمان (مسقط) له لارې د وسلو په قاچاق سره په وزیرستان او نورو قبایلي سیمو کې د وسلو بیې ولوېدې او نور هرچا په کور کې یو د ورځې دود ټوپک درلود.

په ۱۹۰۷ ز کال کې قبایلي سیمو ته ۹۴ زره میله مارټیني هنري ټوپک او د هغو مرمۍ رسېدلې وې او دا شمېر ورځ تر بلې مخ په ډېرېدو و. دغه وسلې په کابل، غزني او ننګرهار کې پټې پر قبایلي وګړو پلورل کېدې. په دې وخت کې د افغانستان د امیر او انګریزانو ترمنځ اړیکي ښه وو، خو انګریزان وایي، چې دغه وسلې د افغانستان د امیر په اجازه قاچاق کېدې.[۱۸] په ۱۹۰۹ او راوورسته کلونو کې قبایلي سیمو او هند ته د وسلو د قاچاق، په تېره کرابین او نورو پرمختللو وسلو راتګ انګریزان دې ته اړ کړل، چې له سیاسي او ډیپلوماتیکو لارو فرانسې ته په دې اړه خپل احتجاج وکړي او د مسقط له لارې د وسلو پر سوداګرۍ او قاچاق بندیز ولګوي. انګریزانو په همدې کال په فارس خلیج او عربو سمندرګي کې د وسلو د قاچاق پر وړاندې پراخ سمندري عملیات وکړل. له دې سره هممهال اپریدي او غلجي کوچیان، چې له هند او نورو سیمو یې د وسلو سوداګري او قاچاق کاوه، د انګریزانو تر بندیزونو لاندې راغلل او تر یو څه وخته هغوی په زیان کې ول. په فارس خلیج کې د سمندري محاصرې او د قاچاق مخنیوي په موخه یو شمېر تدابیرو قبایلي سیمو ته د وسلو د قاچاق پېښې کمې کړې. [۱۲۰]

په وروستیو کلونو کې په ادم خېلو، د وزیرستان په مکین او کاڼیګروم، تیرا او نورو سیمو کې قبایلي وګړو پخپله د وسلو او ان توپونو کارخونې پرانېستې. رمضان خان مسید، چې د افغانستان په پوځ کې یې وخت تېر کړی و، په سرویکي کې د انګریزانو پر

*[۱۸] هغه سیاست، چې پرون افغان امیرانو د انګریزانو پر وړاندې خپل کړی و، نن یې پاکستان او برتانیایي چارواکي د افغانستان پر وړاندې عملي کوي.*



پوستې په هغه توپ ډزې کولې، چې ده په خپل لګښت جوړ کړی و. دا وسلې که څه هم ژر تودېدې او په پرله پسې ډزو چاودېدې، خو په وزیرستان کې یې د وسلو د قاچاق د مخنیوي پرمهال مبارزانو ته ډېر کار ورکاوه. ملا پیونده مسید په اپریدیو کې خورا نفوذ درلود او په یوه لیک کې یې د کربوغې ملا ته ویلي و، چې کاڼیګروم ته د توپونو د جوړولو ماهر کسان ور واستوي. دوی دا وخت د انګریزانو د ثقیله وسلو پر وړاندې د تخریبوونکو وسلو ترلاسه کولو ته اړتیا درلوده. اپریدیو، مسیدو او وزیرو د وسلو پرزې په هند کې د وسلې جوړونې له کمپنیو پټې پېرلې. د استخباراتي رپوټونو له مخې، د دویمې نړیوالې جګړې په کلونو کې په سرحد ایالت او قبایلي سیمو کې د وسلې جوړونې ۳۰۰۰ فابریکې فعالې وې، چې ډېرې هغو یې انګریزي ټوپک جوړول.

د برتانیایي هند پر لور د شوروي راتګ د وسلو د قاچاق او وېش چارې ګړندۍ کړې او کله، چې په ۱۹۱۹ کال د افغانستان د خپلواکۍ جګړه ونښته، د وزیرستان او نورو قبایلي سیمو خلکو ګڼې وسلې ترلاسه کړې. په کابل کې د سقاو پر ضد د وزیرستان د جنګیالیو لشکرکشیو هم وزیرستان او قبایلي سیمو ته د وسلو زیرمې را خلاصې کړې او جنګیالیو د وخت دود هر ډول وسلې وموندې. د شوروي اتحاد له راتګ نه د انګریزانو او نادري کورنۍ ګډې ویرې هم هغوی دې ته اړ کړل، چې د وزیرستان او نورو قبایلي سیمو او جنوبي سمت قبیلې په وسلو مجهزې کړي.

د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې په وختونو کې وزیرستان او قبایلي سیمې د شوروي او محور هېوادونو ( ایټالیا او جرمني) د ځارګرو ادارو د فعالیتونو مرکز و، ځکه خو دې سیمې ته د وسلو د قاچاق لارې هم پرانېستې وې. که څه هم دغه مهال افغان حکومت له انګریزانو سره خورا نږدې اړیکي درلودل او قبایلي سیمو او جنوبي ولایتونو ته یې د وسلو د انتقال او قاچاق مخنیوی کاوه، خود جرمني مشهور وسله لېږدوونکی اېف وینګر او یو شمېر شرکتونه په دې بریالي شوي وو، چې افغانستان او له دغه ځایه قبایلي سیمو ته وسلې ولېږدوي. وینګر په افغانستان کې د جرمني د بیا رغونې موسسې (تودتا) رییس و. هغه د ۱۹۴۰ کال په جون کې د نویو موټرو د ازموینې د سیالۍ په کتار

کې افغانستان ته ګنې وسلې او مهمات را ولېږدول. په اپریل میاشت کې په افغانستان کې د جرمني د راین متل شرکت استازي سکار مارلوک افغانستان ته دوه ټنه (۳۰ صندوقه) وسلې را ولېږدولې، چې په دې کې یوه برخه (نیم ټن) د افغانستان د دفاع وزارت وسلې هم وې. دغه وسلې ډېری د جرمني له صنعتي تجهیزاتو سره مل د (تودتا او شینکر) ساختماني او باروړنې شرکتونو له خوا افغانستان ته راولېږدول کېدې.[۱۳۱]

د پاکستان رامنځته کېدو هم دلته د وسلو پر صنعت او بازار منفي اغېزې ونه کړې. پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل په کلونو کې روسي کلاشنیکوف په وزیرستان او قبایلي سیمو کې خورا محبوبیت درلود. له دې مخکې اکثریت بوړې ټوپک کارېدل، خو دمګړۍ د وزیرستان له نارینه نفوس (میړونو) سره سم کلاشنیکوف موندل کیږي. ډېری وزیر، مسید او داوړ د افغان جهاد پر مهال خوست، لوګر، پکتیکا او پکتیا ولایتونو ته تلل او له هغه ځایه به له کلاشنیکوفونو سره یوځای راستنېدل. په اعظم ورسک او نورو سیمو کې د افغان جهاد پر مهال د نویو وسلو پوره مارکېټونه وو، چې اکثریت چارې یې افغانانو پر مخ وړې.

یوازې په ادم خېلو دره او باړه کې د میاشتې ۶۰۰۰ میله وسلې جوړیږي، چې په کال کې یې شمېر ۷۳ زره میلو ته رسیږي. د شمالي وزیرستان په میرانشاه او د مالاکنډ په سخاکوټ کې هم د میاشتې ۴۵۰۰ ټوپک او تومانچې جوړیږي. څومره، چې جګړه او ناامنۍ پراخیږي د وسلو د جوړونې صنعت هم ورسره وده کوي. د پاکستان د ښکاري او ورزشي وسلو د پراختیا کمپنۍ د څېړنو له مخې، په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د تومانچې او ټوپکو د خرڅلاو له لارې ۱۶ میلیونه ډالره عاید ترلاسه شوی دی. د پاکستان د ښکار او لوبو د وزارت په وینا، یوازې په باړه او ادم خېلو دره کې د وسلې جوړونې ۲۵۰ وړې فابریکې دي او ۲۲۰۰ کورنۍ د وسلو په سوداګرۍ کې بوختې دي.

که څه هم د پاکستان د ورزشي او ښکاري وسلو پراختیا شرکت کوښښ وکړ، چې دغو وسلو ته قانوني بڼه ورکړي او په نړیوالو بازارونو کې ځای ورته وموومي، خو سیمه



ییز خلک یې په دودیز ډول د پرمخ وړلو پلویان دي. د افغان جهاد او کورنیو جګړو پر مهال د قبایلي سیمو په مارکیټونو کې وسلې په ارزانه پلورل کېدې او د جوړونې صنعت یې هومره چټک نه و، خو له ۲۰۰۱ کال راهیسې په قبایلي سیمو کې د وسلې پیرنې چارې ګړندۍ شوې، ځکه دغو سیمو ته له بهره د وسلو قاچاق کم شوی او د ناکراریو په خورېدو سره په قبایلي سیمو، افغانستان او د پاکستان د حکومت تر واک او قانون لاندې سیمو کې د وسلو اړتیا ډېره شوې ده.

## د وسلو د صنعت او قاچاق عوامل

په وزیرستان او قبایلي سیمو کې د وسلو د صنعت د ودې او قاچاق بېلابېل عوامل دي. د انګریزانو او له هغوی وروسته د پاکستان د رامنځته کېدو په دور کې دغه سیمې تر ډېره بې برخلیکه او بې قانونه پاتې دي. په نورو سیمو کې د جرم له ارتکاب وروسته، د جرم د عواملو ځای قبایلي سیمې دي او څومره، چې په دې سیمو کې د مجرمانو شمېر او نفوذ ډېرېږي، ناامنۍ او جرمي پېښې ورسره وده کوي او پایله یې د وسلو د صنعت او بازار پراخېدل دي.

پر دې سربېره، قبایلي سیمې په تېرو څو پېړیو کې د حکومتونو تر مستقیم واک او ملاتړ لاندې نه دي پاتې شوې او دا چاره ددې سبب شوې، چې د یرغلګرو پر وړاندې د ځاني خوندیتابه او عقیدې او خپلواکۍ ساتنې په موخه پخپله وجنګیږي. د ځاني دفاع (Self Defence) له مخې هغوی اړ دي، چې د ځان ساتنې په موخه وسلې ترلاسه کړي. څومره، چې ستر هېوادونه د خپلو ګټو او ځمکنۍ بشپړتیا د خوندیتابه لپاره په وسله والو سیالیو کې ښکیل دي، د وزیرستان او نورو قبایلي سیمو خلک هم په تېرو څو پېړیو کې دې ته اړ شوي، چې د خپلو امکاناتو ډېره برخه د وسلو په پیرنې ولګوي.

په تېرو دوو پېړیو او وروستیو څو لسیزو کې د وزیرستان او قبایلي سیمو هر ټبر خپل مشخص شمېر جنګیالي، جبهه او تجهیزات درلودل او د هغو د استعمال لپاره یې کارپوهې ډلې په کار ګومارلې. د افغانستان د جهاد په کلونو کې هغوی دا فرصت

وموند، چې توپونه، هاوان، زیره کی، پیکا او نورې درندې او پرمختللې وسلې وپیري. د طالبانو له راتګ مخکې په وزیرستان کې هرې قبیلې خپلې مشخصې سپکې او درندې وسلې درلودې او د هغو د استعمال لپاره یې هم ډېری هغه کسان ګومارل، چې په وسلو بلد وو.

د وسلو دغه سوداګري تر یوه بریده پر دغو سیمو د غوړېدلو سیاستونو پایله هم ده، ځکه څومره، چې د سیاست او جغرافیا په جګړو کې وزیرستان او قبایلي سیمې د یوې حربې په توګه کارېدلې، په همغه کچه یې اقتصادي بنسټونه زیانمن شوي او پرځای یې د وسلې صنعت وده کړې ده. دغه سیمې د افغانستان له هر سیاسي او پوځي بدلون نه په مستقیمه توګه اغیزمنې شوې او په پوځي برخه کې د کابل د تخت ګټنې او یا تخت پرځونې د جبهې په توګه پاتې شوې دي. په دې صورت کې دلته د وسلو تولید، قاچاق او پیر او پلور یا په ټولیزه توګه د وسلو فرهنګ دود کېدل غیر عادي مساله نه ده.

انګرېزانو او له هغه را وروسته د پاکستان حکومت په قبایلي سیمو کې د وسلو د ازاد کاروبار اجازه ورکړې، ځکه په قبایلي سیمو کې د هغوی سیاست پر دوه اړخیز جوړجاړي راڅرخي او د وسلو ټولول د وګړو د غبرګون او مالي لګښتونو دواړو له اړخه هم انګریز ته ستونزمن و او هم یې پاکستان پر وړاندې عاجز دی. پخپله انګرېزانو هم په وسله واله سیالي کې رول لوبولی، ځکه دوی، چې خلکو ته کومې سبسایډۍ ورکولې د قبیلو مشرانو پرې په جګړه کې بوختو مبارزانو ته وسلې پېرلې.

پر دې سربېره، وزیرستان په وروستۍ یوه لسیزه کې د اقتصاد او معیشت له مخې یوه کلابنده شوې سیمه ده. په سیمه کې اقتصادي وده په ټیټ حد کې ده، اکثریت نفوس له زده کړو بې برخې او ټوپک د هرڅا د اوږې ګاڼه ده. په هرو سلو کورونو کې د شاوخوا اتیا هغو د کورنۍ یو غړی په عربو او کراچۍ کې اوسي او پاتې نور د کور د کفیل او کاري فرصتونو په نشتوالي کې له عقدې او تحمیلي جهالت سره یوځای ستریږي. دلته د ژوند دودیز سیستم فلج شوی او د جګړو، عملیاتو او د جنایتکارو ډلو فعالیتونو د اقتصاد او معیشت بنسټونه ځپلي دي. پوځ د خلکو کورونه نړولي او ډېره کې



نفوس له خپلو سیمو بې ځایه شوی دی.

په مسیدمیشتو سیمو کې، چې ډېری د جګړې مرکز پاتې شوی، د برېتانیایي هند له وخته تر اوسني پاکستان پورې یوازې د خلکو پر کنټرول کار شوی، خو د هغوی د ژوندجوړونې او په سیمه کې د جګړې او یاغیګرۍ د عواملو پر له منځه وړو فکر نه دی شوی. له څو محدودو ډاګونو او سیمو پرته، د کرنې وړ ځمکې نشته او هلته، چې د کر امکانات دي، د اوبونې او کانالونو پر سیستم یې کار نه دی شوی. له افغانستان او نورو سیمو سره اقتصادي لارې او سوداګري تر ځار او محدودیت لاندې ده. حکومتونو د بیا رغونې پروژې یوازې د خپلو پوځي چاونیو تر جوړاوي محدودې کړې، مرستې د پوځ او واکمنو جیبونو ته تللې او د سترو پروژو نشتوالي خلک د وسلو د صنعت او قاچاق پر لور متمایل کړي دي. دغه تحمیلي وضعیت او محکومیت یو شمېر خلک اړ کړي، چې خپله روزي په کلاشنیکوف، قاچاق او جګړه کې ولټوي.

(پای)

# ضميمي

# Appendices



*د کتاب په متن کې له (۱) تر (۱۳) مې ورکړل شویو شمېرو توضيح*

**(۱) مياجي مسيد**

مياجي مسيد په وزيرستان کې د ملا پيونده د نظامي ليکو مهم عملياتي قوماندان و. هغه په غلچکيو بريدونو او هدفي وژنو کې خورا ماهر طراح و. ډېری انګريز افسرانو دده زړورتيا او جګړه ييز جرات ستايل. پر انګريزانو د مياجي رعب خورا زيات و او، چې کله به له غزني نه وزيرستان ته لاړ، انګريزي چاونيو به خپلې امنيتي چارې تر پخوا زياتې ټينګولې. هغه له ۱۹۰۰ زېږدي کال نه تر ۱۹۰۷ز کال پورې پر انګريزي ځواکونو، کاروانونو، اکمالاتو او نورو اهدافو ګڼ بريدونه وکړل. انګريزانو دده پر قبيلې خورا فشار راوست او دی هم اړ وت، چې سرويکي ته څېرمه سرپلې سيمې ته لاړ شي.

د مياجي د عملياتو او بريدونو له ډېرېدو سره سم، انګريزانو پر ملکانو د هغه د نيولو لپاره فشارونه ډېر کړل، هغوی هم په تګ او برګی سره ونيو. کله، چې ملکانو مياجي د انګريزي کلا پر لور ليږداوه، پر لاره يې د ګلداد په نامه يو ملک په چره يې ټوپک وواژه. نور ملکان د ځان په خوندي کولو شول او دی هم د هغوی له منګولو وتښتېد. مياجي د انګريزانو د حکومت او خپلې قبيلې د فشارونو له امله د غزني د جغتو ولسوالی غوزبې سيمې ته لاړ. هغه د غوزبې سيمه ځکه خوښه کړه، چې له وزيرستان نه پرې د پيونده وو د کاروانونو تګ راتګ و او ده له کوچيانو نه د سيمې ژر احوال اخستلای شوای. مياجي په ۱۹۰۸ز کال د جنوبي وزيرستان د تيارزې په جګړه کې په شهادت ورسېد او هډوکي يې تر مرګ شپږ مياشتې وروسته کوچيانو د غزني غوزبې ته وليږدول. دده خاورين قبر اوس هم په غوزبه کې دی. لمسيان او پاتې قبيله يې هم همدلته اوسيږي.

ملا پيونده مسيد د مياجي عبدالرحمن خېل پر مرګ خورا خواشينی و، ځکه هغه خپل زړور پوځي قوماندان له لاسه ورکړی و. انګريز چارواکي هاويل به ويل، چې که ملا پيونده له اسلامي تاريخ نه خبر وای، مياجي ته به يې د سيف الحق « دويم خالد بن وليد» نوم ورکړی وای.

**(۲)- ځګړ مسید**

ځګړ مسید له عبدالرحمن خېل قبیلې ځخه و. دی هم د ملا پیونده مسید ښی لاس او مهم عملیاتي قوماندان و. ځګړ پر ۱۸۹۴ز کال پر وانه کمپ د برید پر وخت د ۵۰۰ سرتېرو قوماندان و او په دې جګړه کې ټپي شوی هم و. هغه په ۱۸۹۳ز کال کې د کیلي انګریز افسر او یو شمېر مسیدو ملکانو په وژنه کې لاس درلود. په۱۸۹۴او ۹۵ز کلونو کې، چې انګریز ځواکونو پر مسیدو پوځي عملیات وکړل، په یرغمل شویو قومي مشرانو کې یې دی هم له ځان سره یووړ. جګړ یوه ورځ د ډېره اسماعیل خان له زندان نه د تېښتې هڅه کړې وه، چې وروسته څلور کاله له ربړونو ډک بند ورته واوړول شو. هغه له زندان نه تر خلاصون وروسته په ګومل او ژوب کې یوځل بیا د انګریز خلاف خپل غلچکي بریدونه پیل کړل.

د وانه سیاسي استازي هاویل غوښتل، چې ځګړ ته نوابي ورکړي، خو ده ورته ویلي و، چې « یوه پرېکړه کېدای شي، یا مو د جګړې ډګر ته پرېږدئ او ټول په توپونو وولئ او یا مو ټول مسید نوابان کړئ». ځګړ په دې باور و، چې د وزیرستان ستونزه په نوابۍ او ملکۍ نه اوارېږي، بلکې د خپلواکۍ جګړه به روانه وي.

ویل کیږي ځګړ له امیر عبدالرحمن خان سره د ملا پیونده د لیده کاته په سفر کې هم ملګری و. هغه ته افغان حکومت ځمکې ورکړې او وروسته د میدان وردګو بکسمند ته لاړ. هغه پر ۱۹۲۸ز کال په حق ورسېد او په بکسمند کې خاورو ته وسپارل شو. اولاده یې اوس هم په بکسمند کې اوسیږي.

(۳)-د څرخ سپین ږیري وایي، چې غلام نبي خان څرخی وروسته له مسیدو ډېر په عذاب و، ځکه ټول وسله وال وو. ویل کیږي یوه ورځ نوموړي له مسیدو نه د وسلې اخستو په نیت ، ټول مسید نارینه په خپل کور کې ډوډۍ ته مېلمانه کړي وو، خو مسیدو خپل ټوپک له ځانونو سره داخل ته یووړل او دی یې په بې وسلې کولو کې بریالی نه شو.



**(۴)-موسی خان مسید**

موسی خان د مکین د مندیچ سیمې عبدلی مسید و.

دغه ملي مبارز له ۱۹۱۹ز کال نه تر ۱۹۲۵ز کال پورې په وزیرستان کې د انګریزانو خلاف د مبارزو مخکښ و. ده د افغانستان له حکومت، په ځانګړې توګه امان الله خان او نادرخان سره نږدې اړیکي لرل او له کابل نه د وسلو، جامو او نورو توکو مرستې په مکین کې دده تر لارښوونې لاندې وېشل کېدې.

دده پر خلاف انګریزانو په خپلو څو عملیاتو کې پر مکین سختې بمبارۍ وکړې. په مکین، لادا، تیارزه، کانیګروم، پیاڅه، ساړه راغه، سرویکي، چنډولي، مرتضی، ټانک او نورو سیمو کې یې د انګریزانو خلاف سختې جګړې وکړې. پر ۱۹۲۲ز کال په خوست کې د امان الله خان پر وړاندې د بغاوتونو په کرارولو کې موسی خان مسید د خپلو دوه زره مسیدو او ۱۵سوه وزیرو سرتېرو په ملاتړ رغنده رول ولوباوه. هغه ته امیر ۱۰۰ زره روپۍ د جایزې په توګه ورکړې او د انګریز خلاف د بریدونو لپاره بېرته وزیرستان ته راغی. موسی خان د افغانستان د امیر باوري پوځي قوماندان و او د پراخو تورو او سرښندنو په بدل کې یې د اعزازي نایب سالارۍ په لقب وویاړه. نادرخان په لوګر ولایت کې ښکار کلا تاریخي ودانۍ او ځمکې ورکړې او، چې کله به کابل ته تله، امان الله خان او نادرخان یې خورا درناوی کاوه.

*انګریز افسر بروس وایي: « که هغه ( موسی خان) تسلیم شوی وای، په خپله قبیله ( مسیدو) کې به یې ډېر نفوذ کړی وای. ما څوځله سیاسي استازي ته په ډاګه کړې، چې تر څو موسی خان له افغانستان نه ستر ستر امتیازات اخلي، تر هغه به په وزیرستان کې اوږدمهالی ثبات رانه شي».*

موسی خان مسید، چې په لوګر کې خلکو د میسی بابا په نامه یاداوه، پر ۱۹۵۶ز کال په حق ورسېد او د مکین په مندیچ سیمه کې خاورو ته وسپارل شو. د موسی خان تر مړینې وروسته دده زوی خیرمحمد مسید دده ځایناستی شو.

**(۵)-شاه دوله خان**

شاه دوله خان او ملا عبدالرازق په وزیرستان کې د انگریزانو خلاف د مسیدو او وزیرو د هڅونې دندې پرمخ وړې. دوی له ځانونو سره د امان الله خان فرمانونه گرځول او د وزیرستان خلک یې د خپلواکۍ جگړې ته هڅول. د ملا عبدالرازق دنده خلکو ته د انگریزانو خلاف تبلیغ کول و او شاه دوله خان په وزیرستان کې د مبارزانو پر سمبالښت کار کاوه.

شاه دوله خان لومړی د لوگر په پادخواب کې اوسېده، خو وروسته یې په محمد اغې ولسوالۍ کې مجید خان کلا وپېرله.

**(۶)-رمضان خان مسید**

رمضان خان مسید له شمن خېل قبیلې سره تړاو درلود.

رمضان تر یوه وخته په خاسه دارو کې سوبیدار و او انگریز سرکار په ټانک کې کور ورکړی و، خو کله یې، چې د انگریزانو وحشت ولید، د هغوی پر ضد د وسله وال جهاد له لیکو سره یوځای شو. په ۱۹۳۰ او ۳۱ز کالونو کې دده تر مشرۍ لاندې مسیدو سرتېرو د امو سیند په شاوخوا کې د ابراهیم بیگ پر وړاندې په جگړه کې ونډه واخسته. نادرخان د همدې جگړو او تورو په بدل کې رمضان خان مسید ته نایب سالاري او د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ او سرای خواجه کې ځمکې ورکړې. دده نور وروڼه سادې خان، عزیزخان او فرمان الله خان هم د زړورتیا له مخې خورا مشهور وو. رمضان په ۱۹۳۰ ز کال د ساړه راغه پر انگریزي کلا د برید او په سویلي وزیرستان کې د کانگرس د هلوځلو مشري کوله. ده پخپله وړې توپې جوړولې او د انگریز پر وړاندې یې کارولې. دغه مبارز مشر پر ۱۹۵۹ز کال په خوست کې په حق ورسېد او مړی یې په لادا کې خاورو ته وسپارل شو.

د رمضان خان مسید زامنو ظهور الدین او اورنگزیب خان هم د انگریزانو خلاف په جهاد او مبارزه کې ونډه درلوده. ظهور الدین د پښتنو د یووالي لپاره له گورویک مرکز



نه په ۱۹۴۹ز کال کې په پښتو ژبه د «ازاد پښتونستان» په نامه اوونیزه خپروله. دغه اوونیزه پخپله د گورویک په چاپخونه کې چاپ کېده.

**(۷)-ملا حمزالله وزیر :**

ملا حمزالله، احمدزی وزیر و، چې له انگریزانو سره د مخالفت په لړ کې له بنو نه شکي ته لاړ.

هغه د ملا پیونده استاد او تر ټولو ستر ملاتړی و. پر حمزالله وزیر افغان حکومت خورا باور درلود. له ۱۹۱۹ز کال نه تر ۱۹۲۰ز کال پورې د وزیرستان په انگریز ضد مبارزو کې ده پراخه ونډه درلوده. د ملا پیونده تر مرگ وروسته حمزالله د هغه د زوی ملا فضل دین ملاتړ کاوه. ملا حمزالله پر ۱۹۲۴ز کال په حق ورسېد او په شکي کې خاورو ته وسپارل شو.

**(۸)-مولانا شیرعلي خان مسید**

مولانا شیرعلي خان د ایپي فقیر خورا نږدې ملگری او زړور قوماندان و.

دی په جنگي ملا مشهور و او د ملگرو په مرسته یې په خېل مرکز کې توپونه جوړول. جنگي ملا د نانو خېل ښاخ له ورمړخېل قبیلې سره تړاو درلود. پلار یې تورخان نومېده. په وزیرستان، په ځانگړې توگه مسید میشتو سیمو کې د ایپي فقیر د گردو فعالیتونو مخکښ و. د ایپي فقیر د ډېری بریدونو او عملیاتو پلانول دده او یو بل تن مبارز خونیاخېل پر غاړه وو.

ایپي فقیر له اوږدو مبارزو وروسته، د ۱۹۳۷ز کال په ډسمبر کې ده ته د خلیفه توب ویاړ ور وباښه او په لسوندي کې یې لنگر واچاوه. جنگي ملا په خلکو او سرتېرو کې خورا نفوذ درلود او په عامیانه ډول داسې باور و، چې پر ده او ایپي فقیر دواړو د انگریزانو مرمۍ نه لگېږي. د جنگي ملا د مبارزو کیسې اوس هم د مسیدو او وزیرو د هر نر او ښځې په ژبه گرځي. مولوي شیرعلي خان له افغان حکومت سره خورا نږدې اړیکي ساتل او د ۱۹۷۸ز کال د مارچ پر ۲۷مه په حق ورسېد.

**(۹)- خونیاخېل مسید**

خونیاخېل مسید د ایپي فقیر بل مهم عملیاتي قوماندان و، چې پر انګریزانو یې ځمکه سره تبې کړې وه.

دی یو له هغو کسانو څخه و، چې ایپي فقیر یې د مبارزو په لومړیو کې د انګریز خلاف وسله وال جهاد ته هڅاوه. دغه مبارز د ځلال خېل مسیدو له ښاخ سره تړاو درلود. د شهیر تنګي جګړې خونیاخېل په ټول وزیرستان او پښتونخوا کې د شهرت څوکو ته ورساوه.

**(۱۰)- خلیفه تحویلدار وزیر**

خلیفه تحویلدار د مرغې کابل خېل وزیر و. اصلي نوم یې عبدالحبیب و، خو په تحویلدار مشهور و. دی ډېر زړور او سرتېرې سړی و. تحویلدار د ایپي فقیر له مهمو او رازدارو کسانو څخه و. ده په بنو کې له مهردل خټک سره په ګڼو مبارزو کې ونډه درلوده. د ګمبیتي مرکز همدوی نیولی و او د خپل مرکز په توګه یې کاروه. له همدغه ځایه یې په کوهاټ، لتمبر، بنو، پیزو او نورو سیمو کې د انګریزانو خلاف مبارزې کولې.

د خوني زاوې په مشهوره جګړه کې تحویلدار له انګریز افسر سره لاس په لاس وجنګېد او په پای کې یې هغه له پښو وغورځاوه. وروسته دی هم په مرمۍ ولګېد او څو ورځې وروسته له ټپونو په شهادت ورسېد. له ده وروسته یې ورور ګل حبیب ځایناستی او خلیفه وټاکل شو. ګل حبیب د ایپي فقیر د سفیر په توګه دنده ترسره کوله. د ایپي فقیر او په افغانستان کې د جرمني او ایټالیا د سفارتونو ترمنځ اړیکي ده ټینګول. دی له ایټالیایي خارګر سره مزدک غره ( ګورویک) ته تللی و.

**(۱۱)-ګورویک**

ګورویک مرکز له دته خېلو ۲۵میله لرې لویدیز پلو ډیورنډ کرغېړنې کرښې ته څېرمه پرته سیمه ده. په ختیز کې یې دته خېل، شمال پلو درې خیله، او ورسره خوست، سویل لویدیز اړخ ته برمل او سویل خوا یې شوال او وانه پراته دي. ګورویک د مداخېلو



وزیرو ملکیت و، خو هغوی په وروستیو کې ایپي فقیر ته وقف کړی و. ګورویک د وچو غرونو یوه لړۍ ده، چې په منځ کې یې لګډ پروت دی. شمال اړخ ته یې سختې غونډۍ دي، چې د ایپي فقیر سمڅې پکې اوس هم ترسترګو کیږي.

فقیر په ګورویک کې د سرتېرو، خلوت، جومات، وسلې جوړونې او بیت المال لپاره بېلابېلې سمڅې جوړې وې. د لنګر، ځانګړو ناستو او دده د شخصي استوګنې ځایونه هم پکې وو. شاوخوا یې د نورو خلیفه ګانو او سرتېرو خلوتکدې او استوګنځایونه وو. په وسله تون کې یې توپې، د هغو مرمۍ او نور کارتوس جوړېدل. دلته هندوانو څو دوکانونه هم جوړ کړي وو، چې پر غازیانو یې سوداوې پلورلې. ګورویک د ایپي فقیر د امارت مرکز و او له دې ځایه یې ټولو قبایلي سیمو ته د جګړې، اکمالاتو، تبلیغ او اړیکو په تړاو لارښوونې کولې. د ایپي فقیر په وسله تون کې د وارث پنجابي، میادها او کریم بخش په نومونو کسانو کار کاوه. هغوی له کوهاټ نه سپین وام او بیا ګورویک ته راغلي وو. وروسته ګل شاه منظرخېل او ګلبت خان مداخېل هم د وسلې جوړونې هنر زده کړ. د ګورویک مرکز لپاره مالي مرستې د ایپي فقیر خلیفه ګانو راټولولې. دغه خلیفه ګان په ټولو قبایلي سیمو او افغانستان کې پر فعالیت بوخت وو.

هغه د خپلو اړیکو لپاره له درې کټګوریو کسانو کار اخست :

۱ -خلیفه ګان ۲ -جنرالان ۳ -دیني عالمان

په شمالي وزیرستان کې غازي مرجان توري خېل، جنت میر توري خېل، ګلاخان مداخېل، عبدالرحمن، ګلجان او مولانا ظاهرشاه خلیفه ګان او ازل میر توري خېل، شودي خان، ربنواز، شیرباز، بسرمانی، مشک عالم، شادي خان، امان الله او فقیر پنجابی دده جنرالان (پوځي قوماندانان) وو. په جنوبي وزیرستان کې مولوي شیرعلي (جنګي ملا)، خونیاخېل، پیرملاخان وزیر، مولوي نجیب الله لسوندي، جمعه خان، جمعه ګل، عجم ګل خلیفه ګان او ملک حیات بابا، پیرملاخان غونډی، فقیر سخي مرجان، میر اعظم سرنګ خېل، جلات خان وزیر او ټاپس خان عبدلی دده ځانګړي استازي وو. په بېټنیو کې فقیر دین محمد خلیفه او روغان خان دده پوځي

قوماندان و. په بنو کې ګل نواز، احمدګل بنوخی، محمد علي شاه او ګلاب شاه خليفه ګان او بهادرخان بنوخي، شرابت خان وزير، ميرصاحب خان او ماسټر افسر علي خان دده استازي وو. په برمل کې نظام خان، عارف خان او ګل حبيب دده استازي وو. ميرخان له سيدګي قبيلې سره د ايپي فقير د اړيکو مسوول او تحويلدار عبدالحبيب او د هغه ورور ګل حبيب په مرغه کې دده خليفه ګان وو. په خټکو کې د ايپي فقير خليفه مهردل خان و، چې وروسته د پيرۍ په خيال کې له ده جلا او له مسلمليګ سره يوځای شو. په مروتو کې د ايپي فقير خليفه ګان سردار خان او ميراحمد خان وو. په دغو ټولو سيمو کې ده ديني عالمان هم ګومارلي وو، چې د جهاد او مقاومت تبليغ يې کاوه.[۱۳۲]

**په ګورويک کې د پښتونستان جرګې پرېکړه ليک**

*(پرېکړه ليک له ګوتوهنې پرته کټ مټ راخستل شوی دی)*

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم!

نن د روژې مبارکې مياشتې په پنځمه او د جوزا د مياشتې په اتمه ورځ کال ۱۳۳۱مونږ د منځني پښتونستان د ايالتي موقتي حکومت رييس حاجي ميرزا علي خان او د شورا رييس ظهورالدين خان رمضانی، د جنوبي پښتونستان د ايالتي موقتي حکومت رييس محمد ايوب خان او د شمالي پښتونستان د تيرا څانګې د ملي محلي شورا رييس او د اپريدي لوی قام ستر مشر حاجي نوردل خان او ملک ولي خان کوکي خېل اپريدی، د مومندو د څانګې د ملي محلي شورا رييس محمد شعيب خان، د اورکزو څانګې د ملي محلي شورا رييس زرغون شاه خان، د چترال شهزاده ابحيات خان او د چترال د موجوده صدراعظم دل ارام خان زوی محمد عثمان خان، د منځني پښتونستان په مرکز ګورويک کې په داسې حال کې، چې د پاکستان تجاوزکار امپرياليسټ او ظالم حکومت الوتکې پرله پسې د ګورويک په ازاده فضا کې پر مونږ باندې د تجاوز په غرض ګرزي را ګرزي او مونږ او د منځني پښتونستان زرګونو توريالي



خلک تهديدوي، سره غونډ شوي يو او دا لاندې مواد چه د خپل ګران ملک پښتونستان د آزادۍ د تکميل په لاره کې يې ضروري ګڼو، په پوره اتفاق فيصله کوو:

**اول:**

استعماري قوتونو د هميشه دپاره د پښتونستان په خاوره کښې د خپلو استعماري ناپاکو مقاصدو د وړاندې بيولو دپاره په پښتنو کښې د اختلافاتو د اچولو او تفرقه اندازۍ نه استفاده کړې ده او چه کوم وخت يې په پښتنو کښې په يوه او بل نامه بيلتون اچولی دی، ځمونږ په خاوره کښې په لږ ډير راوړاندې کېدلو موفق شوی دی. لکه چه اوس هم د پاکستان حکومت په مختلفو دسيسو او وسيلو کوشش کوي چه ځمونږ ترمنځ اختلاف پيدا کړي او په دې وسيله ځمونږ په ملک کښې خپل ناروا استعماري مقاصد په مخ بوزي. ددې دپاره مونږ فيصله کوو چه که آينده د پښتونستان د آزادو علاقو په هره برخه د پاکستان يا کوم بل خارجي طاقت له خوا هر قسم تېری او تجاوز وشو، د شمالي، منځني او جنوبي پښتونستان ملي مرکزونه او خلک به په يوه اتفاق د هغه تجاوز مقابلې ته درېږي او په خپلو ټولو مادي او معنوي قواوو به د هغه مقابله کوي. همدارنګه به د شمالي پښتونستان او جنوبي پښتونستان ټول ملي مرکزونه او خلک په يوه اتفاق د پښتونستان د محکومو او هغو علاقو د آزادولو او نجات دپاره چه د پاکستان د استعماري حکومت دلاندې د مرګ او ژوند په مجادله اخته دي، په يوه اتفاق مجاهده کوي او په دې مقدسه لاره کښې به د ټولو ممکنو وسيلو څخه کار اخلي.

**دوهمه ماده:**

مونږ د پاکستان د حکومت نه په ټينګه تقاضا کوو چه د پښتونستان ازادي او د خاورې تماميت فوري او د روغې او امن په دايره کښې ومني او د پښتونستان ټول هغه کسان چه د پاکستان په جيلخانو کښې پراته دي او يايې تر نظارت لاندې نيولي دي، سملاسي او بې له شرطه خوشي کړي او مونږ مجبور نه کړي، چه په دې کار کښې خپل طاقت او قوت استعمال کړو.

**دریمه ماده:**

ددې دپاره چه د ټول پښتونستان د ټولو قواوو او ملي منابعو تمرکز او یووالی تکمیل شي( چه دا کار د ملي ازادۍ د ګټلو او ساتلو دپاره د هرڅه نه ډیر لازم او ضروري دی) نو مونږ فیصله کوو چه ددې ملي مقصد د ګټلو په لاره کښې به کوښښ کوو او زیار به وباسو چه زر تر زره خپل دغه لوی مقصد ته ورسیږو.

**څلورمه ماده:**

ددې دپاره چه د شمالي، منځني او جنوبي پښتونستان د ملي مرکزونو او خلکو ترمنځ د یووالي او وحدت مزي پوره ټینګ شي او د نژدې نژدې دایمي ارتباط سره وساتلی شي، مونږ د جنوبي، منځني او شمالي پښتونستان ترمنځ د داراز جرګو تګ او راتګ لکه چه نن مونږ دلته راغلي یو، لازمي ګڼو. په دې واسطه فیصله کوو چه آینده به وخت پر وخت د شمالي، منځني او جنوبي پښتونستان ترمنځ د نماینده جرګو لیږلو او رالیږلو ته دوام ورکوو.

**پنځمه ماده:**

د افغانستان ملت او ملي حکومت چه د پښتونستان د ازادۍ د ګټلو په لاره کښې کوم اخلاقي کومکونه او معاونتونه ځمونږ سره تر اوسه کړي او کوي یې، هغه ددیني او نژادي یووالي او ورورولۍ حقوق دي چه د پښتونستان ملت یې په خپلو افغاني ورونړو لري او ددې لامله مونږ اعلام کوو چه ځمونږ او د افغانستان غم او ښادي سره شریک دي. د افغانستان دوستان د پښتونستان دوستان او دښمنان یې د پښتونستان دښمنان دي او همدا ډول د پښتونستان دوستان د افغانستان دوستان او دښمنان یې د افغانستان دښمنان دي.

**شپږمه ماده:**

د جرګې په پای کښې مونږ خپل وجداني او ملي فرض ګڼو چه ځمونږ د افغانستان د ورور او ډیر همدرد او خواخوږي ملت او ملي حکومت د هغو صمیمانه او لوړو اخلاقي معاونتونو او مرستو نه د پښتونستان د ملت په نماینده ګۍ د زړه د کومې



شکریه ادا کړو چه د پښتونستان د آزادۍ د مجاهدو په سلسله کښې یې د پښتونستان د ملت سره کړې او کوي یې. مونږ د ګران افغانستان د محبوب او قام پرور پادشاه اعلیحضرت المتوکل علی الله محمد ظاهرشاه (سلمه الله تعالی) نه خواهش کوو چه ځمونږ او د پښتونستان د ملت د شکرانې مراتب خپل ګران افغاني ملت ته ورسوي او ډاډ ورکړي چه د پښتونستاني ملت اوسني افراد او راتلونکي نسلونه به هیڅکله ددوی دغه لوړ اخلاقي معاونتونه هېر نه کړي او ددې دپاره چه ځمونږ د ازادۍ په لاره کښې دغه مجاهدې او قربانۍ او د افغاني ملت او حکومت دغه اخلاقي مرستې زر تر زره خپلې مطلوبې نتیجې ته ورسیږي، هیله کوو چه ځمونږ سره خپل دغه مشروع اخلاقي معاونتونه د اوس نه نور هم ډیر زیات وکړي. یقین ولری چه دوی ځمونږ سره ددغو اخلاقي مرستو په وسیله نه یواځې ځمونږ د ګران پښتونستان د آزادۍ او تمامیت د ګټلو په لاره کښې مرسته کوي، بلکه د منځنۍ ایشیا او بالنتیجه ددنیا د امنیت او روغې د ساتلو په لاره کښې هم لویه مرسته او د بشریت دپاره لوی خدمت کوي.

**اوومه ماده:**

په پای کښې د امریکې، یورپ، هند او نورې دنیا د اوسیدونکو او د هغو د کوښښونو او مجاهدو نه هم تشکر کوو چه د خپل ګران ملک پښتونستان د ازادۍ د ګټلو په لاره کښې یې کړې او کوي او ډاډ ورکوو چه پښتانه به ددوی دغه معاونتونه چه د پردیسۍ په حال کښې یې د خپل ملک دپاره کړي او کوي، هیڅ وخت هېر نه کړي.

ومن الله التوفیق و علیه التکلان

د منځني پښتونستان د حکومت رییس

د منځني پښتونستان د حکومت د شورا رییس

د جنوبي پښتونستان د حکومت رییس

د شمالي پښتونستان د تیرا د ځانګې رییس

د شمالي پښتونستان د باجوړ د ځانګې رییس

د شمالي پښتونستان د صافو خانزادګانو رییس

د چترال شهزاده

د چترال د صدراعظم زوی

د شمالي پښتونستان د اورکزو د څانګې رییس

(لاسلیکونه)[۱۳۳]





په ګورویک کې د پښتونستان هېواد لومړنۍ جرګه، چې د اپي فقیر تر مشرۍ لاندې د منځني، جنوبي او شمالي پښتونستان ټولو استازو او چارواکو پکې ګډون کړی و.



۱۲- رون هوچینتن، چې د ډيورنډ کرښې (Durand's Line) په نامه کومه سناريو ليکلې، تر ډېره يکې تاريخي پېښې ثبت دي. د دې سناريو په يوه برخه کې امير د ډيورنډ د پلار هنري مارين ډيورنډ د مرگ په اړه خبره کوي، چې څنگه د وزيرستان په خوله (ټانک) کې له فيل نه وغورځېد او يوه ورځ وروسته ومړ. ډيورنډ پخپله د ۱۸۹۳ز کال د اکتوبر پر ۲۶مه په خپل جورنال کې ليکلي، چې: « نن مې له امير سره ډېره اوږده مرکه درلوده. لومړی هغه ډېر خوشاله و، خو د وزيرستان پر سر ډېر خواشينی او غوسه شو... په هر حال هغه به اخر غاړه کېږدي....». ډيورنډ وايي، امير عبدالرحمان خان د وزيرستان پر يوه برخه د واک درلودو غوښتنه درلوده. ويل کيږي رون هوچينتن د ډيورنډ او امير عبدالرحمان خان لاندې تياتري ډيالوگ، چې په ۳۴مخونو کې ليکل شوی او دلته يې زه يوازې د وزيرستان د برخې خبرې راوړم، د تاريخي اسنادو پر بنسټ ليکلی دی. ددغه ډيالوگ تاريخي کره توب چا نه دی ثابت کړی، خو تاريخي پېښې او د اختلاف وړ ټکي پکې داسې راوړل شوي، چې ښيي له تاريخي اسنادو پکې گټه اخستل شوې ده. ممکن د امير د سپکاوي او د حقايقو د تحريف هڅه هم پکې شوې وي.

« ډيورنډ په کابل کې له امير عبدالرحمن خان سره په يوه داسې کوټه کې مخامخ شو، چې په نقشو، چاړتونو او په هره کچه د سروې په وسايلو پوښلې وه. هغوی په يوه کور کې وو، چې د ډيورنډ لپاره په کابل کې چمتو شوی و او يو شمېر ساده انگليسي توکي لکه پيانو، جدولونه او چای او کېک پکې ترسترگو کېدل....

ډيورنډ: په ځينو وختونو کې يو گام پرمختگ سړی له نويو گواښونو سره مخامخوي، چې سړی بايد غاړه ورته ټيټه کړي. اميره، دا کار (کرښه) زما خوښيږي، چې ويې کړم. موږ د پولې پر دغو او متقابلو نقشو له ډېر وخته خبرې کوو. اوس د معاملې وخت دی. د اعليحضرتې د دولت په نظر د وزيرستان مساله پوځي ده او يوازې په سياست پورې اړه نه لري. د برېټانيايي هند ددفاع لپاره د عاليجنابې دولت ژر ستاسې له هېواد سره د يوې ثابتې او دوامدارې پولې راکاږل غواړي.

گوته يې پر يوه نقشه را تېره کړه او زياته يې کړه:



تاسې به زموږ وراندېزونه وگورئ، زموږ نهايي طرحې. د هغو د وضعيت په تړاو. يو داسې وضعيت، چې روسانو ته به روښانه کړي، چې دوی تر هغه ځايه تللي، چې په توان کې يې و، دوی بايد د هند پر لور له هغه ځايه، چې اوس هلته دي، نور را نږدې نه شي.

رحمان هيڅ نقشې ته ونه کتل، هغه يو مطلق حاکم دی، امر کوي، تر دې، چې د مخامخ کس خبرې واوري.

رحمان: وزيريان ( وزيرستان)! په حيرانتيا يې وپوښتل. دا يوه ستونزه ده. د غومبسو ځاله ده. دا به ښه وي، چې هغوی په خپل حال پرېږدئ

ډيورنډ: جغرافيايي حقايقو ناشونې کړې ده. دا زموږ اړتيا ده، چې راضي يې کړو، حکومت پرې وکړو او موږ به دا کار وکړو.

رحمان: ښې هغوی ماته راکړئ.

ډيورنډ: تاسې به بريالي شئ؟

رحمان: خوشبينه نه يم ورته

نيشدار وموسېد: خو پر دې پاڼه دا يوازې خيالي کرښې دي

ډيورنډ: نه کله، چې د نړۍ د يوه غوره پوځ د عملياتو ملاتړ ورسره وي. ( په بله نسخه کې: د نړۍ د غوره پوځ په استعمال سره به هغوی (وزيرستانيان) په گونډو کړو).

رحمان: ښاغلی مورتيمور، د څومره جگړو نيت لرئ، چې وجنگېږئ؟

ډيورنډ: اميره، زه نه غواړم چې له تاسې سره تل د پيشو او موږک (لوبه) وکړم

رحمان: څومره سړي به تاسې له لاسه ورکوئ؟

ډيورنډ: تر کومه، چې ممکن وي (دويمه نسخه: څومره، چې راځخه اخلي او موږ به په پای کې بريالي کيږو). موږ سړي، ټوپک او افراد لرو. موږ کولای شو هرځای مو، چې زړه وي هلته ځواک وليږو .

رحمان: ايا زه داسې څوک يم، چې ټکان به وخوري؟

ډيورنډ: امير، زه او ته د عمل کسان يو. تاسې دلته روسان نور نه غواړئ، هغه

څه، چې موږ یې کوو. دوی زموږ په څېر تاسې ته ګواښ دي

رحمان: زه پوهېږم، چې تاسې د برېټانیایي هند د غرونو پرځای هلته ښه جګړه ورسره کولای شئ.( او تاسې دلته له هغوی سره جګړې ته ترجیح ورکوئ...).

ډیورنډ: که موږ دا غلي کړای شو موږ به اړ نه وو، چې له هغوی سره جګړه وکړو

ډیورنډ: زموږ او هغوی ترمنځ باید یو خوندي افغانستان وي

رحمان: دا به له موږ څه جوړ کړي؟ د میچنې د دوو تیږو ترمنځ (د غنمو) یو وړی

ډیورنډ: وزیرستان (دویمه نسخه: او پښتانه) په ناسم موقعیت کې دي. موږ ټول دا لیدلی شو. په ځینو مواردو کې ستاسې ټول هېواد وګوره، چې ستاسې پر نورو خواوو څه دي .

رحمان: څنګه (د مشیت الهي په اړه) داسې فکر وشي، چې موږ په ناسم موقعیت کې یو

ډیورنډ پر نقشه ګوته را کش کړه :

د وزیرستان د سولې داستان، چې د افغانستان پر لور کلي ده، هم دلته ویل شوی، دلته ، دلته او دلته....

رحمان: له وزیرو پرته، هرڅه....

ډیورنډ: هغوی له خپلې یوې ټوټې ځمکې سره اوسیږي. له همدې امله هغوی د نه کنټرول وړ ګڼل کیږي. موږ به دغه وضعیت بدلوو

رحمان: په رنګ؟

ډیورنډ: رنګ و، چې څنګه د هند ستر حصار پیل شو....

رحمان: تاسې به دیوال جوړوئ، چې وزیر په دوه برخو ووېشئ؟

ډیورنډ: اړتیا یې نشته، موږ به په پولو کې داسې ځلي جوړوو، چې هرڅوک وپوهیږي، چې دا (سیمه) چیرې پرته ده.

رحمان: اه، ته به داسې وکړې او داسې ( هغه د کیک ټوټې یو پربل کېښودې)

رحمان: خو که هغوی پښې پرې کیږدي، بیا نو څه؟



ډیورنډ: دا اسانه ده، چې خلک ملنډه شي او په تېروتنو پسې سر وګرځوي، دا له هغه څه اسانه دي، چې موږ یې کوو

امیر عبدالرحمان خان د لومړي ځل لپاره نقشې ته وکتل. هغه په نقشه کې خپله ګوته یوې برخې ته یووړه: ستاسې کرښه د یوې قبیلې نیمه برخه تاسې ته در کوي او نیمه نوره موږ ته پرېږدي. دا ستونزمنه ده، چې یوه برخه به یې ستاسې تر قوانینو لاندې وي او بله زموږ. هغه هم یوه وړه برخه. حقیقت دادی، چې وزیریان قانون بیخي نه پېژني، یوازې خپل هغه....

ډیورنډ: دا یوازې یوه اداري ستونزه ده.

رحمان: تاسې په نړیواله کچه ښه مدیر یئ، خو داسې هرکار به حالات لا کړکیچن کړي.

ډیورنډ: دغه ستونزه د یوه غرني ځواک او پنځو توپونو په وسیله حل کولای شو.

رحمان: تاسې ډاډه یاست؟

ډیورنډ: هو زه ډاډه یم. دا مه راته وایه، چې ستر الکساندر دغه خلک تر خپلې ولکې لاندې رانه وستلای شول. هغه د برېټانیا په څېر ځواک او توپک نه درلودل .

رحمان: او دا یوه بله ستونزه ده ( هغه په نقشه کې یوې بلې کرښې ته وکتل): هغوی په ژمي کې خپلې کډې کلیو (اوارو) ته را کوزوي او په پسرلي کې بېرته غرونو ته خیږي. که دلته یوه کرښه وي، دوی به څنګه دا کار کوي؟ هرې وزې او پسه ته به د اجازې (Permission) اړتیا وي؟

ډیورنډ: امیره زه په دې خبرو دومره اندېښمن نه یم. دا یو مقصد دی، چې بالاخره باید پرې برلاسي شو

رحمان: نقشې ته ځیر و: دا د رسامۍ یوه ښه طرح ده، خو زه ټولې کرښې او شمېرې پکې وینم، زه خو خلک پکې نه وینم.

ډیورنډ: که تاسې غواړئ سمه ده. دا د سیمې فزیکي جغرافیا ده، بل څه نه دي.... زه له دغه واردمخه جوړښت سره موافق نه یم ( د امیر نقشو ته اشاره کوي)، که

دا دلته نه وي، وزیر به چېرې وي؟

رحمان: له وزیرو سره معامله نه شي کېدای....

د خبرو په دې برخه کې د امیر د پوځي چارو سلاکار توماس سلټر پیني هم حاضر وي.

رحمان: ښاغلی موریتمور باوري دی، چې دوی ( وزیر او مسید) به په ګونډو کوي. دده نقشې ښیي، چې دوی دا کار کولای شي.

پیني: وزیریان ډېر بد دي....ډېر ژر به جګړه درسره وکړي...

ډیورنډ: دا کار زموږ هر غرنی ځواک کولای شي

پیني: خو وزیریان په خپلو باغچو کې دي

رحمان: داسې کومه لاره نشته، چې وزیریان موږ خپلې خوښې ته پرېږدو؟

ډیورنډ: که موږ یې خپلې خوښې ته پرېږدو، دوی به موږ پرېږدي؟

رحمان: په وخت

ډیورنډ: موږ وخت نه لرو

رحمان: ته نظم غواړې، خو په څه، چې لګیا یې برعکس یې دي

ډیورنډ: سر مې بیخي ګنګس دی....

رحمان: نو کرښې باید په دې پاڼو کې ولې وي.؟....

ډیورنډ: پر کاغذ باید کرښې وي، ځکه دلته هیڅ دولت هم له نقشې پرته نشته تاسې یې باید لاسلیک کړئ....

رحمان: ته که خپلو چارواکو ته زما سر د سوبې په توګه وړې ( په خدمت کې دې دی...).

ډیورنډ: زه ستاسې سر نه غواړم، زه نه پوهیږم، چې ستا په سر څه وکړم....

رحمان: جنابه، زه لاسلیک کوم، ځکه زه مجبور یم... خو زه فکر کوم، چې دا کار ته غواړې. کېدای شي ستا او زما خدای موږ دواړه وبښي.





**ټلګرام**

**نېټه، ۱۳ جنوري ۱۸۹۳**

**استوونکی: فارن سکرټري، کلکته**

**اخستونکی: چیف سکرټري ګورنمنټ اف پنجاب، لاهور**

**د سند ځای: د هند ملي ارشیف، شمېره (٦٥)، د۱۸۹۴جنوري**

د جنوري پر لسمه تاسې ته (٦٥) شمېره لیک د هغه تړون له کاپي سره، چې ډیورنډ د هند- افغان پولې په اړه نهایي کړی، دراستول شوی. په لیک کې پر تاسې ستاسې د ځرګندونو لپاره چې کوم ګامونه باید د دغه تړون د پایلي په اړه پورته شي، غږ شوی دی. وایسرای په دې اند دی، چې امیر ته هم یو لیک ولیکل شي او له هغه باید وپوښتل شي، چې د ده لپاره کوم وخت مناسب دی، چې باید دنښې لګولو لپاره یوګام پورته کړل شي. په ورته وخت کې دا خبره هم باید ورسره وشي، چې د دغه کار لپاره د یوه کمیسیون پر ځای د زیاتو کمیسیونو دعملي کېدو لاره چاره برابره شي. وایسرای دا هم وایي، چې سیمه ییز مامورین باید د تړون د محتویاتو د عملي کېدو لپاره وهڅول شي او هم قبایلو ته دا وویل شي، چې نور به په راتلونکي کې د دوی یرغلونه او حملي بندې وي، که چیرې دوی تردې وروسته په یرغل او تعرض باندې لاس پورې کړ، دوی به جدي توګه یا زموږ او یا هم د امیر له خوا چې له موږ سره په دې برخه کې همکاردی سزا ووینې. کېدای شي، چې د یوه دربار تابیا وشي او په هغه کې باید وزیري ملکانو ته بلنه ورکړل شي او دغه موضوع ورته تشریح او په ډاګه شي. د مهربانۍ له مخې زموږ تلګرام او (٦٥) شمېرې لیک را ځواب کړئ، هیله ده، چې د نوموړو ټکو په اړه مو خپل نظر هم موږ ته راولېږئ.

**د پورتني لیک په ځواب کې:**

**د هند د حکومت د لفټینینټ ګورنر ځوابي یادښت**

**د فارن ډیپارټمنټ (٦٥)شمېره لیک**

## ۱۸۹۴کال، د جنوري لسمه

## (محرم)

۱ :زه هغه جزئیات چې د کرمې د درې د پولې د ټاکلو او په نښه کولو لپاره په بیړنی توگه په پام کې نیول شوي تاییدوم او په دې اند یم، چې باید ژر ترژره عملي بڼه ومومي. پر دې برسیره زه داهم منم، چې د دغه کار د عملي کېدو او تطبیق پر دنده باید ښاغلي میرک وټاکل شي.

په دې اړه له موږ سره څه اندېښنې هم شته، چې هغه باید د پېښور او دیره جاتو له کمشنرانو سره په لیکلي ډول شریکې کړم او مشورې باید سره وکړو، ځو په ډاگه شي، چې په دغه اړه څه باید وشي او کوم گامونه باید واخستل شي .

۲ :موږ باید دا انتظارهم ونه لرو، چې کوم تړون او معامله چې موږ له امیر سره ترسره کړې، د هغو مانا به داوي، چې گواکې هغه څه موږ په کټ مټ ډول له قبایلو سره هم ترسره کړي دي. ربښتیا دا ده، چې د هغو کړنو یوشمېر په خپل ذات کې هغه څه هم دي، چې هغه زموږ د ډاډ او باور له کچې د باندې دي. په دغه اړه موږ هم باید دا انتظار ونه لرو، چې زموږ دغه چلند به ان د وزیرو لپاره هم د منلو وړ وي. د هغه لوی ځواک او برخې لپاره چې هغوی زیات تر امیر هم له موږ سره خوښ او زموږ پر خوا دي. منی خان ماته وړم کال په ډاگه وویل، چې دوی کله هم په دې خوشاله نه دي، چې باید زموږ تابع دار او زموږ رعیت وي، لکه چې کټ مټ خبره د مسودو او درویش خېلو ترمنځ د خپل منځي دښمنۍ. او جگړو په ترځ کې کلونه مخکې رامنځته شوه او بیا د سولمن د جوړې د تړون پربنسټ سره آرام شول، دوی سره کیناستل او خپله ستونزه یې داسې سره حل کړه، چې نه له موږ سره په تماس کې شول او نه هم له امیر سره. له همدغې ستونزې وروسته بیا د دوی یوشمېر بی شکه دې ته لېوال شول، چې زموږ پرخوا دی خپل تمایل پیل کړي، خو په دې هم باید پوه وو، چې دا هغه وخت و، چې ښکارېده، دوی د امیر ترولکه لاندې خپله خپلواکي له لاسه ورکوي، ځکه یې تیاری وښود، چې زموږ په لور دی رامخه کړي. اوس هم که چیرې زموږ له مامورینو څخه هم



کټ مټ حالات ووینی، دوی به له موږ سره هم خپل شرایط زموږ د کنترول په اړه په ډاگه کړي .

بر سېره پردې له اوږدې مودې راپه دېخوا دوی ته تل دا ویل شوې، چې دا د دوی خپله خوښه ده، چې وواېي، له موږ سره راځی او که له هغه سره، په دغه اړه زه په زړه نازړه توگه دا وایم، چې له دوی سره باید اوږدې خبرې، هغه هم د جرگو مرکو له لارې چې دوی باید خپله برخه په کې ولري، پر دوی باید پیسې او لونگۍ وویشل شي، ځو په پای کې وکولای شي، په یوډول نه یو ډول خپله پرېکړه او شرطونه د خپل ځان په باره کې په ډاگه کړي. داخو پخوانی دود و خو اوس دوی په یو ناڅاپه توگه دا واورېده، چې د ډیورنډ ماهرانه مذاکراتو او د قلم ځو کرښو دغې مسالې ته د پای ټکی کیښود، داسې چې د هغو خبرو پربنسټ د برمل وزیر د امیر ترواک لاندې پاتې شول او دا نور بیا زموږ .

زه له اوږدې مودې راپه دېخوا په همدې سوچ کې وم، چې دابه د دوی لپاره د منلو وړنه وي، چې دوی باید خپل قومي جوړښت د خپلو سترگو پر وړاندې مات ووینی، هغه چې په تلپاتې توگه د دوی ملي پیوستون او یوالی په ډاگه کوي. زه فکرکوم، چې سرموتمرډیورنډ په دغه اړه سم فکر کړې او دغه ټکي ته ځیر وو، چې دا په خپل ذات کې زموږ لپاره دبیداری یوه نښه هم ده. زه په دغه ټکي هم پوره باوري یم، چې دا به د دوی لپاره ډېره گرانه او خواشینونکي وي، چې امیر او یا موږ پرته له دې، چې نور نو دوی ته ووایو، چې « ستاسې په اجازه» او پرته د دوی له شرطونو دوی په خپل کنترول او ولکه کې راونیسو. له بلې خوا دا خبره هم شته، چې نور نو د دوی لپاره دا چانس هم د تل لپاره نشته، چې په یوه او بله پلمه به وکولای شي، زموږ او امیر ترمنځ د دښمنۍ را پارولو په برخه کې څه رول ولوبولای شي.

۳ :دازما خپل اټکل دی، چې کېدای شي، ډېر به دقیق نه وي، باید چې ترهرڅه دمخه په دغه برخه کې د خلکو احساسات هغه چې له شکه خالي نه دي، هم په جدي توگه په پام کې ونیسو، ځکه چې په تېرو ځو وروستیو اوونیو کې وزیر له هغه څه څخه چې دلته ترسره شوي راضي نه دي، موږ ته راپورونه رارسیدلي، چې د دوی یوشمېر هغوی

چې زموږ تر ولکې لاندې دي داخبره کوي، چې: « آيا دا رښتيا ده، چې موږ امير د کال په شپږ لکه پلورلي يو؟ هغه ته دا حق چا ورکړی، چې بايد زموږ په باره کې دا معامله وکړي؟ موږ په عين حال کې د هغو وزيرو په اړه هم راپورونه ترلاسه کړي، چې د امير تر واک لاندې دي، هغوی هم شکايت کوي، چې دوی ولې زموږ تر ولکې لاندې رانه غلل، چې دغه دواړه ډوله شکايتونه او سرټکونې په خپل ذات کې له يوه بل سره په مغايرت کې ښکاري او دا ترې په ښه توګه پوهېدلی شي، چې دغه دواړه ډوله شکايتونه د دوی نا خوښي څرګندوي او دواړه دا په ډاګه کوي، چې دوی نوره خپله آزادي چې تراوسه يې درلوده له لاسه ورکړې، هغه چې د دوی خبرې ته به اهميت ورکول کېده او د دوی شرطونه به په پام کې نيول کېدل .

۴ :کېدای شي، داخبره له هرچاسره ونه ويله شي، زما په نظر د وزيرو يوه شورا بايد له امير سره د خبرو په موخه جوړه شوې وای، په دغه ترڅ کې به هرڅه په خپله په دوی پورې اړوند وو، هرتصميم به د دوی له خوا نيول کېده او دا به تر ټولو ښه او هراړخيز تصميم هم وای. کوم څه چې په دغه اړه زما مطلب دی، هغه دا چې يو شمېر وزير چې زموږ سره موافق نه دي، د هغوی نظريات هم بايد موږ او هم امير په ټرون کې په پام کې نيولی وای، اوس موږ بايد داهم خلکو ته په ډاګه نه کړو، چې ګواکې د وزيرستان زياته برخه د امير په انډول زموږ په واک کې ده، خو رښتيا داده، چې د وزيرستان زياته برخه زموږ په ولکه کې ده، ځکه نو د هغو په چارو کې زموږ ونډه هم زياته ده. په دې کې شک نشته، چې د ښه لګولو په عملي کېدو سره به طبيعي پايله دا روښانه کړي، چې دوزيرو زياته برخه به د زمان په تېرېدو سره زموږ په واک کې راشي او د هغوی په نورو چارو کې به د لاسوهنې نوره موقع هم زموږ لپاره برابره شي او موږ به تر تصور زيات په دغه برخه کې د بريو پر لور وړاندې لاړشو، خو دا خبره هم شته، چې موږ لا په دې باوري نه يو، چې په دغه لاره تګ به زموږ لپاره ځومره ګټور وي او څنګه به پر دغه لاره پرمختګ وکړو، دا مساله تر اوسه هم يو څه بحث ته اړتيا لري، خو زه په خپل نميګړي فکر سره په دې باوري يم، چې موږ به په دې برخه کې پرمختګ ته ملاترلې، خو په دې لا سم باوري نه



يو، چې په خپله دغه تګلاره به پرمخ ولاړشو او که نه .

۵ :زه د هغه څه په باب چې فارن سکرتري په تلګرام کې په ۱۲مه نېټه د يوې اعلاميې او يا دربار په اړه ليکلي جدي شکمن يم، ځکه هغه دا وړانديزکړی، چې کوم څه دلته ترسره کېږي، بايد ټول يوموټی او حسابي وي، څو دهغو په رڼاکې هغه څه ترسره شي، چې وښيي موږ په بشپړه توګه په دې اړه په يوه نوې کرښه روانيږو او نوې تګلاره وړاندې کوو. دا به د وزيرو او نورو قبايلو لپاره چې په دې برخه کې ځانګړې اندېښنې لري، ډېره مهمه وي، ځکه نو دوی ته بايد په ليکنی او ژبنی ښه دغه ټول څه پرته له هر ډول درغلی او غولونې په ډاګه او بې پردې وويل شي. لکه: «په راتلونکي کې به مو د يرغل لپاره ځای نه وي، که تاسې دا کار تر سره کړ، زموږ او امير له خوا هغه چې له موږ سره د قانون د پلي کولو په چاره کې مرسته کوي، درنه سزا ووينی».

زه فکرکوم، چې که دغه پيغام دغو خلکو (قام ) ته په ډاګه ورسول شي، هغوی به په ټوليزه توګه په خپل جوړښت کې دغه بدلون وستايي، په تېره بيا هغه مهال چې د پولې د ښه کولو سمه تګلاره زموږ او امير د ښو اړيکو په پايله کې رامنځته اوعملي کيږي. زه تر دې زيات نور څه په دغه باره کې نه شم ويلای او که څېرې نور څه په دې اړه وايم، فکر کوم، چې هغه به رغوونکي نه بلکې نيمګړي او ترموضوع ورهغه خواڅه وي، خو څه چې بايد وويل شي، هغه بايد له زمان او حالاتو سره برابر وي. تر اوسه کوم څه چې زما له خوا د تېروتنې اوشک سبب شوي، هغه دا دي، لکه چې ما يوه کمشنر ته دا ځواک او صلاحيت ورکړ او ورته ومې ويل، هغه څه چې په يوه برخه کې ضروري وي، بايد وويل شي، لکه هغه بله ورځ چې کټ مټ موضوع رامنځته شوه اوهلته يو شمېر وزيرو د امير پرعلاقه او قلمرو باندې د يرغل خبره راجګه کړه. ما کمشنر ته دا خبره وکړه، چې که دا څه ستا په نظر ډېر مهم وي، بايد هغوی ته وويل شي، چې دا کار په هغه حال کې شوني دی، چې امير پردغه برخه د خپل قلمرو ادعا وکړي، په هغه حال کی به موږ دوی ته دا اجازه ورکړو، چې امير ته سزا ور کړي.

۶ :پر پوله د ښو لګولو د کاري جزئياتو په اړه د پاملرنې وړ څه دا دي، چې موږ

باید د هغې په اړه په تړون کې یوڅه یاد کړي وای. اوس دا یوه اړتیا ده، چې باید په هغو یو شمېرځایونو کې لکه چې ما لاپخوا هم اشاره ورته کړې، چې کورمه ده، ( یادونه شوې وای)، خو د تړون له مخې بیا دا وړاندوینه شوې، چې باید یوازې په هغو برخو کې « چېرې چې یې د عملي کېدو اولېوالتیا » شونتیا وي، ترسره شي. په عین حال کی دا خبره هم ده، چې موږ هیله لرو او دا مو پټیلې چې د نښې لګولو خبره باید د یوې تګلارې او یوې پالیسۍ په توګه ترلاس لاندې ونیول شي، په داسې حال کې چې زموږ دغه دریځ د هغو قبایلو د دریځ خلاف دی، چې فکرنه کوم دغه کار ته به تر هغه چې په دې اړه دلیل ونهویني، د لېوالتیا او علاقې غاړه کېږدي.

۷ :کېدای شي، له (کومدور دماندي؟ ) څخه په یوڅه واټن د شمال په لور د پولې ټاکل او د هغې جزئیات یوه اړتیا وي، خو دا هم باید په پام کې وي، چې د هغې د عملي کولو لپاره هم بشپړ دلایل په لاس کې وي، چې د هغو هسکو او ټیټو له لیدو او هلته د نه تګ په حال کې له موږ سره یو لامل شي. همداسې دغه ټکي به د وزیرو لپاره څنګه د احتمال له مخې د منلو وړ شي، موږ باید له دغو ټکو سره یوځای زموږ د ځایي مامورینو نظریات هم له پامه ونه غورځوو. کېدای شي، وزیر په رښتیا هم دې ته لېوال وي، چې دغه پوله باید په دې برخه کې په نښنه کړای شي. البته داهم شونې ده، چې دوی په طبیعي توګه داغږ وکړي، چې که دا کار یو ځل او زرعملي شي، دوی به دغه اړه هېڅ اعتراض نه لري. دوزیرو له سیمی د تیریدو او د کورمې ترپولې پورې رسیدل، لکه چې ما مخکې د هغه په باب خپل نظر په ډاګه کړ، موږ باید د پیواړ غاښي په پام کې ونیسو او باید ووایم، چې دابه له منطقه لرې وي، چې د هغه ځای او لنډي کوتل ترمنځ پولې د نښنه لګېدو هڅه دې دم ګړۍ په عملي توګه ترلاس لاندې ونیول شي، ځکه زه باوري یم، چې له لنډي کوتله بیا د کابل ترسیند پورې دغه پوله تراوسه پورې لا شکمنه ده. په دې سیمه باندې نښنه لګېدنه کومه ستونزه نه ده، خو تر هرڅه د مخه باید دغه سیمه په روښانه توګه په نښنه کړای شي .

۸ :د کابل ترسیند هغه خوا پوله د پنجاب له پولې ور هغه خوا ده، چې موږ د



هغې په اړه زیاته اندېښنه نه کوو او نه له هغې سره د ځانګړو معیارونو په پام کې نیولو سره کوم چلند او معامله په پام کې لرو. که چېرې د هند حکومت لېوال وي، چې د پېښور کمشنر او یا هم د هغه له مرستیال سره د معاملې څه ترسره کړي، نو په هغه حالت کې به داسمه وي، چې د باجوړ چارو د مامورینو دندو ته پاملرنه وشي، چې کېدای شي، د هغوی یوشمېر له دندو لرې کړل شي .

۹ :لنډه دا چې زه فکرکوم، په اوس مهال کې به زموږ لپاره تر ټولو ښه خبره دا وي، چې په دې برخه کې هېڅ هم ونه کړو او هرڅه ته ډېر جدي ونه ګورو، ځان باید آرام ونیسو او هغه وخت باید په څه باندې لاس پورې کړو، چې کلک دلیل ورته ولرو. هغه برى چې سر ډیورنډ موږ ته را په برخه کړی، د هغه په اړه باید زیاته خوشالي ونه ښیو. که موږ دغه دریځ د ځان لپاره غوره کړو، دا به د وزیرستان په اړه د حیرانۍ خبره نه وي، چې د دې کار په پایله کې به ترلنډې مودې وروسته درویش خېل او مسود هم زموږ د چوپتیا په ترڅ کې له موږ څخه د پیسو ترلاسه کولو لپاره خپل غږ پورته کړي. که موږ په داسې یو دریځ کې وو چې دوی موږ ته اړ وي، په دغه حال کې موږ کولای شو، دوی ته پیسې ورکړو، چې په هغو سره به زموږ لپاره شونې وي، چې د دغې سیمې په باره کې هرڅه وغواړو، هغه به د ځان کړو. په عین حال کې ما تل دا خبره کړې او یو ځل بیا یې وایم، چې په دې برخه کې موږ باید له یوځې مشرتابه سره هم خپلو مشورو ته دوام ورکړو او له هغوی سره چې د وزیرستان په چارو کې بوخت دي باید تل په تماس کې وو. د هغوی له مشورو وروسته موږ کولای شو، پر دې سیمه د خپل برلاسي په باب تصمیم ونیسو، خو زما دا خبره دا مانا نه لري، چې کوم دریځ موږ په دې سیمه کې ترلاسه کوو، هغه به خامخا بریالی او زموږ له خوښې سره سم، په زړه پورې دریځ وي.

په ورته وخت کې دا هم باید په پام کې ولرو، هغه حالت او دریځ چې موږ فکرکوو هغه به زموږ لپاره تر ټولو ښه او په زړه پورې وي، کېدای شي په دې برخه کې یوبل داسې دریځ هم رامنځته شي، چې تر دغه به ښه او بشپړ وي، خو موږ باید د ځان لپاره په هغه حالت کې مهم او مطلق اهداف ولرو او یوازې په هغو نظریو باندې چې موږ

فکرکوو هغه به زموږ په ګټه وي، خپل پلانونه عیار نه کړو.

۱۰ :هیله من یم، چې د دغه یادښت کاپي به کمشنرانو، فارن سکرټري او نورو مقاماتو ته هم ور واستوئ. ډي. فيتزپتريک[۱۹]

*د افغان حکومت رسمي مکتوب:*

*« ګران نایب سالار صاحب موسی خان، فضیلتماب حاجي صاحب میرزا علي خان او د وزیرستان شهزاده!*

*د ۱۳۱۶ ل کال د اسد پر ۱۶ مه د جمعې تر لمانځه وروسته لومړي وزیر ماته ټیلیفوني لارښوونه وکړه، چې لومړی تاسې ښاغلو ته د والاحضرت سلام ورسوم او بیا دا زیری وکړم، چې د افغانستان مهربان حکومت انګریز سرکار دې ته اړ کړ، چې د پښتونولی له پت او ننګ سره سم له وزیرو او مسعودو سره سوله وکړي. انګریز سرکار د افغانستان له حکومت سره ژمنه کړې، چې خپل ځواکونه د وزیرو او مسعودو له خاورې باسي، خو دا کار هله شونی دی، چې وزیر او مسعود پرې بریدونه ونه کړي. انګریزانو دې ته هم غاړه ایښې، چې د وزیرو او مسعودو په مذهب، پت او ننګ او ناموس به نه لګیږي. اوس تاسې ته په کار ده، چې د سولې شرایطو تر پلې کېدو پورې له جګړې لاس واخلئ. د خدای په لورېینه او د افغانستان د حکومت په هڅو، چې زموږ ورونو نن کوم بری ترلاسه کړی، دا د افغانستان هیله وه او دا یو ستر خدمت دی، چې افغان حکومت تاسې ته وکړ. تاسې ته مې، چې په دې تړاو کوم تفصیل مخکې در استولی و، هغه به پام کې ونیسئ، چې افغانستان انګریزانو ته کم رانه شي».*[۱۳۴]

(ع.ش. پیرمحمد تره خېل، فرقه مشر)

---

[۱۹] *رشید. پروفیسور عبدالخالق. د وزیرستان د ویش د توطیې په اړه یو تاریخي سند، تول افغان، ۱۳۹۴ کال د غبرګولي* ۱۳ مه



## *په کتاب کې په ښمر راغلې سرچینې*


۱) محسود. ډاکټر محمد نواز خان. فرنګي راج اور غیرتمند مسلمان، شمالي وزیرستان: ګورویک مرکز، نومبر ۲۰۰۰ میلادي کال

۲) چند.اتر. ژباړن: زبیر ژمن، پاچاخان او د ازادۍ مبارزه، پېښور: د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه- جرمنی، دانش کتابتون، ۱۳۹۱ل کال

۳) ډوبینز. جیمز. ژباړن: ډاکټر ځلاند. له طالبانو وروسته په افغانستان کې دولت جوړونه، کابل: د زرملوال د تالیف او ژباړې مرکز، النخیل مطبعه، ۱۳۹۲ ل کال.

۴) دریه خېل، لایق شاه. وزیرستان، لاهور: پرانی انار کلی، ۱۹۹۳ز کال

۵) سنګرمل. سردار محمد، حقیقت نه پټیږي، کابل: دانش کتابتون،۱۳۹۰لمریز کال، ۴۱ مخ

۶) څمکنی. انجنیر تور ګل. قبایل تاریخ کے ائینے میں، دویم ټوک، پېښور: پښتو ادبي جرګه، ۲۵مارچ، ۲۰۱۳ز کال

۷) حلیم. صفیه. د هندوستان پښتانه: بهار، کابل: د سالنګ د کتاب خپرولو موسسه، ۲۰۰۸ز او ۱۳۸۶ ل کال، ۷مخ

۸) رشید. عبدالخالق." سلطنت پشتونها در هند" پر دغه ژور تاریخي اثر یوه لنډه لیکنه، تاند، جولای ۲۰۱۳ ل کال

۹) تیخانوف. یوري نیکولایویچ. ژباړن: عزیز اریانفر. نبرد افغانی استالین: اکادمی علوم فدراسیون روسیه، جون ۲۰۱۰ میلادی

۱۰) تیخانوف.یوري نیکولایویچ. ژباړن: محمد طاهر کانی. د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، جرمنی: د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۸۳ل

۱۱) حبیبي.عبدالحی. ژباړن: عبدالودود کرزی. د افغانستان لنډکی تاریخ، کوټه: ۱۳۷۸ ل کال

۱۲) ستانیزی. زمان. د تاریخ ګردجنه پاڼه: د افغان او انګریز د دریمې جګړې د ۹۴یمې کالیزې په یاد: ازاد افغانستان، ۲۹مې، ۲۰۱۳ز کال

۱۳) کرگر. محمد اکبر. په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره، کابل: د علومو اکاډمی، چاپ، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۰ل کال

۱۴) حیات خان. محمد. ژباړونکي: فرهاد ظریفي او عبداللطیف یاد طالبي، حیات افغاني، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۰ ل کال

۱۵) بابر. ظهیر الدین. ژباړن: سید عبدالله پاچا، بابري نظام، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۰ ل کال

۱٦) وزیر. ببري گل. ژباړن : نورالله اتل. اپي فقیر ( PDF نسخه)

۱۷) کارو. اولف. ژباړن: شیرمحمد کریمي، پښتانه (پټانز)، پېښور: دانش خپروندویه ټولنه، دویم چاپ، ۱۳۸۳ل کال

۱۸) زرملوال. غلام محمد. افغانستان تر وروستي افغانه، د لومړي ټوک پاتې برخه، کابل: د زرملوال د تالیف او ژباړې مرکز، ۱۳۹۲ل کال

۱۹) نومیر. فدامحمد. د افغانستان د نجات او خپلواکۍ تاریخ (د جرنېل یار محمد خان وزیري خاطرات)، لاهور: د افغانستان د کولتوري خدمتونو اداره، ۱۳۷۹ل کال

۲۰) وایټ.جوشواني. ترجمه: ملک اشتر. فرنگی راج سے موجودہ جمہوری دور تک صوبہ سرحد میں حکومتی عملداری کے مختلف ادوار اور جہتیں، ماهنامه تجزیات: اسلام اباد، ۵جنوری، ۲۰۰۹ز کال.

۲۱) خټک. افضل خان. مقابله، تصحیح او نوټونه د دوست محمدخان کامل مومند.تاریخ مرصع، پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۷۲ل کال

۲۲) تاربرن. اېس اېس. ژباړن: شېرمحمد کریمي. بنو یا زموږ افغاني سرحد، جرمني: د پښتني فرهنگ د ودې او پراختیا ټولنه، دانش کتابتون، پېښور، ۱۳۷۷ل.

۲۳) ترې. حبیب الله. پښتانه، دویم چاپ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ل کال، ورې، ۱۸۸مخ

۲۴) سیال. میراجان. د پښتونستان شتمني، ۳٦نمبر چاپ شمېره، کابل: د مطبوعاتو مستقل ریاست، د کابل عمومي مطبعه (ملي ارشیف)

۲۵) ترکی. محمد قدیرخان. ریفرندوم پښتونستان محکوم، کابل: د کابل عمومي مطبعه، د پښتونستان د خپرونو لړ، ۱۳۳۱ل کال ( ملي ارشیف)



۲٦) گوربتوال. د پښتونستان د ازادۍ جرگه (د وزیرستان گزارش)، د پښتونستان د خپرونو لړ (۵)، کابل: د مطبوعاتو مستقل ریاست، د کابل عمومي مطبعه (ملي ارشیف)

۲۷) بارتن. سر ویلیم. ژباړن: احمد علي کهزاد. سیاست خارجی پاکستان، کابل: انتشارات پښتونستان، شماره ٦، ( ملي ارشیف)

۲۸) کهزاد. احمد علي او سیدال یوسفزی. اختلاف بین افغانستان و پاکستان از نظر سرجارج کننگهم، کابل: انیس ورځپاڼه، ۲۰ حوت، ۱۳۲۹ل کال، ( ملي ارشیف)

۲۹) کهزاد. احمد علي. امیرعبدالرحمن خان او ډیورنډ خط، کابل: د پښتونستان د خپرونو لړ، د مطبوعاتو د نشریاتو عمومي داخلي مدیریت، دویمه خانگه، عمومي نمبر ۷٦، (ملي ارشیف)

۳۰) داوی. عبدالهادي. سرحد و افغانستان، کابل: انتشارات پښتونستان، شعبه دوم، نشرات داخلی ریاست مطبوعات، ( ملي ارشیف)

۳۱) د پاکستان اساسي قانون او ایف سي آر قانون. سلایډ بڼه، وروستي اصلاحات، ۲۰۱۱ز کال

۳۲) امیر عبدالرحمان. تاج التواریخ. پېښور: میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۳ل کال

۳۳) ظفر کاکاخیل. سید بهادر شاه. پښتانه د تاریخ په رڼا کښې، پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي، اووم چاپ ، ۲۰۰۹ ز کال.

۳۴) محسود. علي خان. باچاخان او عدم تشدد، تاند: جنوري۲۰مه، ۲۰۱۳ ۳۷) محسود. علي خان. د ډیورنډ کرښې تاریخي او حقوقي بهیر ته لنډه کتنه، لر اوبر: نومبر ۱۸، ۲۰۱۲ز کال

۳۵) اعظم. دوکتور فاروق. د بایزید روښان ژوند، کورنۍ او تحریک یې، ۲٤، جولای، ۲۰۰۹، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز

36- Khan.Wali. Translated by: Syeda Saiyidain Hameed. Facts are Facts (The Untold Story of India's Partition), second Edition, November 2004 (PDF).

37- Ahmed, S.Akbar. Religion and Politics in Muslim Society. Cambridge: Cambridge University Press, 1983.

38- General Staff, Army Headquarters India. Operations in Waziristan, 1919-20. Dehli: Government Central Press, 1923.

39- General Staff, Army Headquarters India. Operations in Waziristan 1919-1920, India: Government Printing, Calcutta, 1921

40- General Staff, Army Headquarters India.Military Report on Waziristan, 1935, India: Government of India Press, 1936

41- Bruce. Richard, The Forward Policy and its Results Publisher: Quetta: Gosha-e- Adab: 1900, soft copy, from the collections of University of Michigan.

42- http://waziristanhills.com

43- Bruce, C.E. Waziristan, 1936-1937. Aldershot: Gale & Polden, Ltd., 1938.

44- Operations in Waziristan, 1919-1920, the University of British Columbia, Compiled by the General Staff Army Headquarters India. 1921 ,

45- Military Report on Waziristan 1935

46- Moreman.Dr.Tim, Arms Trade on the N.W.Frontier 1890-1914, www.king-emperor.com

47- Wylly. H.C. Colonel. From the Black Mountains to Waziristan, London: Macmillan and co, Limited, 1912

48- Williams. Matthew W.The British colonial experience in Waziristan and its applicability to current operations,( A Monograph), Kansas: Department of Defense, School of Advanced Military Studies, United States Army Command and General Staff College

49- Jacobsen. Mark. British Retreat from Waziristan,



www.khyber.org

50- Hunter .The Imperial Gazetteer of India. Volume 1, Trubner & Co., London, 1885.

51- Effendi. Yahya .Military Operations in Waziristan

52- From a Historical Perspective (1849-1947), http://spearheadresearch.org

53- Cotton. General sir Sydney. Nine Years on the North-West Frontier of India, from 1854 to 1863, LONDON: Richard Bentley, New Burlington Street, 1868

54- The London Gazette, 12th April, 1918

55- The London Gazette, 27th Feb, 1924

56- The London Gazette, 4th Dec, 1922

57- The London Gazette, 15th Aug, 1939

58- The London Gazette, 15th Feb, 1938

59- The London Gazette, 29th Oct, 1937

60- The London Gazette, 8th Feb, 1938

61- The London Gazette, 14th June, 1895

62- The London Gazette, 18th Aug, 1939

63- The London Gazette, 18th Nov, 1924

64- The London Gazette, 17th Nov, 1925

65- The London Gazette, 2nd Nov, 1937

66- The London Gazette, 14th June, 1938

67- The London Gazette, 27th Nov, 1924

68-fata.gov.pk

69-http://www.slideshare.net/fatanews/frontier-crimes-regulation

70- Rose. David. The Man who Drew the Fatal Durand Line, London: Standpoint, March 2011

71-Hutchinson. Ron, DURAND'S LINE, (Tow different drafts, Print Copy and PDF)

72- Mahsood.Mansur Khan.The Battle for Pakistan (Militancy and Conflict in South Waziristan), New America Foundation, April, 22010

73-http://www.britishbattles.com/north-west-frontier-india/waziristan.htm



Notes

---

[۱]- وزیرستان، ٦٣ او ٦۴مخونه ( لومړی پاراگراف).

[2] - Mahsoud (Program for Culture and conflict studies), PP.6,9,13.

[۳]- *وزیر ډیری د پکتیکا په ببرمل، د لوگر په سیاه بیني، د کندوز په نبار، گورتیپه، کندهار، هلمند، کابل، سمنگان، تخار او د گردیز په ختاوه کې اوسیږي. د لوگر په څرخ کې د مسیدو عباس خېل، کریمدادخېل، گلټ خېل او شمرخېل، په واغجان او سرخ اباد کې عطاگل خېل، گلټ خېل، منزي، یشنگي، ملکشي، کیکړي، لالي خېل، ورمړ، عباس خېل، بودیسیلي، د محمداغې په شاهي کلا، کیشم او سفیدسنگ کې لنگرخېل(گلدادخېل)، برومي خېل، شمن خېل-گلیشي، بودیسیلي، مروت (حبیب خېل)، ملک دیني، په بره کې برک کې شمن خېل (سرمشي، بنگال خېل، قسم خېل او گلیشي)، عبدالرحمن خېل، د وردگو په گوډا، ظریف، بکسمند، بدکول او گډلي کې گلټ خېل، لالي خېل، عباس خېل، شمېرخېل، ولي خېل او کریمداد خېل، د غزني په غوزبه کې نېکزن خېل او رامک کې لالي خېل او د کابل په کلکان او شاوخوا سیمو کې فریدي او یو شمېر نور خېلونه خواره واره اوسیږي.*

[٤]- بېهار ( صفیه حلیم).

[٥]- د افغانستان لنډکی تاریخ ( عبدالحی حبیبي)، ٥٧مخ.

[6] _ http://waziristanhills.com

[7] _ Ibid.

[8] _ Ibid.

[۹]- وزیرستان، ۴۸مخ، وروستی پاراگراف.

[۱۰]- ظهیر الدین بابر، ٧٦مخ.

[۱۱]- ظهیر الدین بابر، ۱۳۳مخ.

[۱۲]- حیات افغاني، ٦٥٥مخ، بنو یا زموږ افغاني سرحد.

[۱۳]- بنو یا زموږ افغاني سرحد، ۴۵مخ ،http://waziristanhills.com

[۱٤]- حیات افغاني، ٦٥٦مخ.

[۱٥]- حیات افغاني، ٦٥٨مخ.

[۱٦]_ د بایزید روښان ژوند، کورنۍ او تحریک یې، ۲۴، جولای، ۲۰۰۹، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

[۱٧]- حیات افغاني، ٦٥۹ مخ، پښتانه (پټانز)، ٥٨٦مخ.

[۱٨]- حیات افغاني، ٦٦۴مخ، بنویا زموږ افغاني سرحد، لومړني مخونه

[۱۹]- وزیرستان ( لایق شاه درپه خېل)، ۱۲٥مخ.http://waziristanhills.com

[۲۰]- بنویا زموږ افغاني سرحد، ۴۳مخ.http://waziristanhills.com

۲۱- حیات افغاني، ٦٦٦مخ. بنویا زموږ افغاني سرحد، بېلابېل مخونه.

22 - From Black Mountains to Waziristan, P.435.

23 - Military Operations in Waziristan from a historical perspective, 1849-1947.

24 - From Black Mountains to Waziristan, PP.439-440.

25 - Frontier and overseas expedetions from India, P.236, Campains on the North West Frontier, PP.43-44.

۲٦- فرنګي راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۲۸ مخ.

27 - From Black Mountains to Waziristan, P.431.

28 - Ibid., From Black Mountains to Waziristan, P.433.

29 - Frontier and overseas expedetions from India, P.236.

۳۰- افغانستان تر وروستي افغانه، ۵۱۲مخ.

۳۱- حیات افغاني، ۳۹۷ مخ.

32 - Ibid., Th e Forward Policy, P.168, From Black Mountains to Waziristan, Waziris Operations, P.446, Campains on the North West Frontier, P.44.pdf.

33 - From Black Mountains to Waziristan, P.447.حیات افغاني، ۳۹۷مخ

۳٤- حیات افغانی، ۳۹۸ مخ، فرنګي راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۸۰ مخ، حیات افغاني دغه شمېر پنځه سوه تنه ښودلی دی، چې د انګرېزانو لپاره خورا بوږنوونکې مرګ ژوبله ګڼل کېږي.

- From Black Mountains to Waziristan, P.449, Frontier and overseas expedetions from India, PP.369-70.

۳۵_ *انګرېزانو د ګورکه، ډوګره او ګایډ پلټنې په نومونو ځانګړې کنډکونه درلودل، چې په همدې نامه د هغه وخت په پرمختللو وسلو سمبال ول. ګورخه او ډوګره ګان د رنجیت سنګ روزل شوي ځواکونه وو، چې د پېر سبق او پېښور په نیولو کې یې ډېر رول لوبولی و.*

36 - From Black Mountains to Waziristan, P.450.

۳۷- حیات افغاني، ۳۹۹- ۴۰۰ او ۴۰۱ مخونه.

۳۸- فرنګي راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۲۲مخ.

39 - Frontier and overseas expedetions from India, P.377.

40 - http://www.britishbattles.com/north-west-frontier-india/ Waziristan .htm.

41 - Th e forward Policy and its Results, P.269..فرنګی راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۳۵ مخ

42 - From Black Mountains to Waziristan, PP.463-64.

43 - Th e forward Policy and its Results, PP.286-87.

44 - From Black Mountains to Waziristan, P.470.



٤٥- پښتانه (پټانز)، ٦٧۳مخ.

٤٦- همدغه کتاب، ٦٧۹ مخ.

47 - Operations in Waziristan 1919-20, PP.33-34.

48 -Waziristan campaign (1919–20), en.wikipedia.org /wiki/ Waziristan _campaign_(1919–20).

49 - Operations in Waziristan, 1919-1920, P.103.

50 - Ibid, 108-109.

51 - Ibid, P.111

52 - Ibid, P.27

53 - Th e London Gazette, 1st of December, 1922, P.2.

54 - Th e London Gazette, 26 February, 1924.

55 - Th e London Gazette, 17 November, 1925.

56 - Th e London Gazette, 2 November, 1937., Th e British colonial experience in Waziristan and its applicability to current operations, P.35., Military Operations In Waziristan From a Historical Perspective (1849-1947), P.12.

- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۷۰مخ، ایپي فقیر، ۳مخ،فرنګي راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۸۳مخ، وزیرستان ( لایق شاه درپه خېل)، ۵۰۲مخ.

٥٧- وزیرستان، ۵۰۷مخ، ایپي فقیر، ۲مخ، فرنګی راج اور غیرتمند مسلمان، د ایپي فقیر مبارزې.

The British colonial experience in Waziristan and its applicability to current operations, P.35, Military Operations in Waziristan from a Historical Perspective (1849-1947), P.12.

٥٨- ایپي فقیر، ۲مخ، وروستی پاراګراف.

59 - Th e London Gazette, 2 November, 1937.

60 - Th e London Gazette, 2 November, 1937.

61 - Waziristan, 1936-1937. ایپي فقیر، ۱۳ او ۱۴ مخ.، فرنګی راج اور غیرتمند مسلمان، ۱۹۷مخ.

62 - Th e London Gazette, June, 1936. ایپي فقیر، ۲۱مخ، , Military Operations In Waziristan From a Historical Perspective (1849-1947), P.13.

63 - Th e London Gazette, 2November, 1937. ایپي فقیر، څلورم څپرکی، ۱۸مخ، وزیرستان (لایق شاه درپه خېل)، ۵۲۸مخ، فرنګي راج او غیرتمند مسلمان، ۱۹۸مخ.

٦٤- وزیرستان (لایق شاه درپه خېل)، ۵۳۳مخ، ایپي فقیر (pdf)، ۱۸مخ.

65 - Th e London Gazette, 14 June, 1938, ایپي فقیر، ۲۲مخ، لومړی پاراګراف.

66 - The London Gazette, 18 February, 1938, Waziristan, 1936- 1937, P.12, ايپي فقير، د شهير تنګي نسخه، ۲۸مخ.

67 - pakhtunghag.weebly.com/uploads/1/2/7/9/12791978/faqeer.pdf.-

- ايپي فقير،د شهور تنګي نسخه، ۲۱مخ ( پي ډي ايف بڼه).

68 - The London Gazette, 18 August, 1939.

69 - The London Gazette, 18 February, 1938, ايپي فقير، په اليګزنډر مورچل باندې بريد، ۲۷ مخ. وزيرستان، مختلف مخونه.

70 - The London Gazette, 14 June, 1938. ايپي فقير، ۳۴مخ. وزيرستان، مختلف مخونه.

71 - The London Gazette, 18 August, 1939. ايپي فقير، ۴۴مخ

72 - The London Gazette, 18 August, 1939.

73 - Ibid.

- ايپي فقير، ۵۱مخ، د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۸۰ مخ.

۷۴- فرنګي راج اور غيرتمند مسلمان، ۲۲۴مخ.

۷۵- د پښتونستان د ازادۍ جرګه (د وزيرستان ګزارش- ملي ارشيف)، ۲۱، ۲۵، ۲۷ مخونه.

76 - British Intelligence on Afghanistan and its Frontiers, 1888-1946, P.2.

۷۷- نبرد افغانی استالين، ۴۵مخ

78- Facts are Facts (The Untold Story of India's Partition), PP.78-79.

79 -Ibid, PP.79-80

۸۰- نبرد افغانی استالين، ۷۵مخ

۸۱- همدغه کتاب، ۱۰۷، ۱۰۸ او ۱۱۳مخونه

۸۲- همدغه، ۱۱۴ مخ

۸۳- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۷۸مخ.

84- The London Gazette, 18 Aug, 1939.

- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۸۳مخ، نبرد افغانی استالين، ۲۸۹- ۲۹۰ مخونه.

۸۵- همدغه کتاب، ۲۹۶مخ.

۸۶- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۱۶۶مخ.

۸۷- همدغه کتاب، ۳۴۴ او ۴۵ مخونه

۸۸- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۱۷۵مخ، حقيقت نه پټيږي، ۴۱مخ، نبرد افغانی استالين، ۳۶۷مخ

۸۹- نبرد افغانی استالين، ۳۶۹مخ

۹۰- د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۱۹۳مخ.

۹۱- همدغه کتاب، ۴۱۹مخ



۹۲- همدغه کتاب، ۴۲۷مخ

۹۳- فقير ايپي، ۶۵-۶۴ مخونه

۹۴- افغانستان تر وروستي افغانه، ۱۳۴- ۳۵ مخونه.

95 - Waziristan, 1936-1937, P.27

۹۶- پښتانه (پټانز)، ۵۹۷مخ.

97 -The forward Policy and its Results, PP.357-58 پښتانه (پټانز)، ۶۰۰مخ.

۹۸- پښتانه (پټانز)، ۶۰۳مخ

۹۹- نبرد افغانی استالين، ۱۵۰ مخ، د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۳۵مخ.

۱۰۰- همدغه کتاب، ۱۵۲مخ\ د جرمني امپراتورۍ افغاني جګړه، ۳۷مخ.

101 - Operations in Waziristan, 1919-1920, PP.64-65.

102 - Operations in Waziristan, 1919-1920, P.67

103 - Ibid, P.73. \British Retreat from Waziristan, Mark Jacobsen (Pdf).

104 - Ibid, PP.73-76.

105 - Ibid, P.74. \British Retreat from Waziristan, Mark Jacobsen.

106 - Operations in Waziristan, 1919-1920, P.74/ British Retreat from Waziristan, Mark Jacobsen (Pdf).

107 - Operations in Waziristan 1919-20, Maliks visit Kabul, PP.84-85.

۱۰۸- د افغانستان د نجات او خپلواکۍ تاريخ، د جرنيل يارمحمد خان وزيري خاطرات

۱۰۹- همدغه کتاب، (pdf)

۱۱۰- نبرد افغاني استالين، ۲۶۲مخ

۱۱۱- همدغه کتاب، ۲۶۶مخ

۱۱۲- همدغه کتاب، ۳۲۸مخ

۱۱۳- افغانستان تر وروستي افغانه، ۵۰۴مخ

۱۱۴- زما ژوند او جدوجهد، ۲۳۲ او ۲۲۳ مخونه

۱۱۵- باچاخان او د ازادۍ مبارزه، ۲۴۲ او ۲۴۳ مخونه

116 - The forward Policy and its Results, P.254

117 - Ibid, PP.219, 246, 249.

118 - Ibid, PP.265-66

۱۱۹، رشيد. پروفيسور عبدالخالق. د وزيرستان د ويش د توطيې په اړه يو تاريخي سند، ټول افغان، ۱۳۹۴کال د غبرګولي ۱۳مه

120 - The forward Policy and its Results.

[121] - Ibid, P.268.

[122]- قبایل تاریخ کے ائینے میں، دویم ټوک.

[123]- The Battle for Pakistan (Militancy and Conflict in South Waziristan), P.4.

[۱۲۴]- فرنگی راج سے موجودہ جمہوری دور تک صوبہ سرحد میں حکومتی عملداری کے مختلف ادوار اور جہتیں، ماهنامه تجزیات: اسلام اباد، ۵جنوری، ۲۰۰۹ز کال.

[125]- http://www.slideshare.net/fatanews/frontier-crimes-regulation.

[۱۲۶]- فرنگی راج سے موجودہ جمہوری دور تک صوبہ سرحد میں حکومتی عملداری کے مختلف ادوار اور جہتیں، ماهنامه تجزیات: اسلام اباد، ۵جنوری، ۲۰۰۹ز کال.

[127] - Arms Trade and the Tribesmen, P.476.

[128]- Arms Trade on the NWF, 1890-1914.

[129] - Arms Trade and the Tribesmen, PP.47-48.

[130] -From Black mountains to Waziristan, P.483.

[۱۳۱]- نبرد افغاني ستالين، ۳۵۲مخ

[۱۳۲]- فرنگي راج اور غیرتمند مسلمان، مختلف مخونه

[۱۳۳]- د پښتونستان د ازادۍ جرگه، د خپرونو لړ(۵)

[۱۳۴]-*وزیرستان- لایق شاه درپه خېل.*